تفسیر

حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابو زہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور

Mob: 0301-8828402



حکمۃ القرآن

۱۳

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزہیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د کتاب نوم ———— تفسیر حکمة القرآن (جلد دیارلسم)

د مؤلف نوم ———— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمعه وترتیب ———— ابوزهیر سیف الله (غفر له)

سنۀ طباعت ———— (۱٤۳۸) هجری رجب ۱۸/موافق (۱۳/٤/۲۰۱۷)

فن ———— تفسیر

ناشر ———— مکتبه محمدیه گنج پېښور

کمپوزنگ ———— الراقم ابوزهیر

د ملاویدو پته

۱- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پېښور پاکستان

ولی الله: 03018828402 ابو سلمان: 03025953513 ابوزهیر: 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پېښور۔

۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پېښور۔

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔

٥- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی: 03002615402

٦- دینی کتب خانه تیمرگره پاکستان۔

۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد خواته دکان نمبر ۲

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٢٥)	(٨٤) سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة الانشقاق مکی دے، په دے کښې پنځیشت آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الانشقاق

نوم : په اولنی آیت کښې [اِنْشَقَّتْ] لفظ راغلے، چه دا د انشقاق فعلِ ماضی ده، دے وجے نه ددے سورت نوم [الانشقاق] کیښودے شو۔

بل نوم [سورت اِنْشَقَّتْ] هم دے۔

د نازلیدو زمانه: دا سورت په اتفاق سره مکی دے۔

ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس او ابن الزبیر رضی الله عنهم نه همدا روایت کړی دی۔

بخاریؒ او مسلمؒ او نورو د ابو رافع ﷺ نه روایت کړے چه ما د ابو هریره ﷺ سره د ماسخوتن مونځ وکړو، هغهٔ ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ اولوست :

[فَسَجَدَ، فَقُلْتُ : مَا هٰذِهٖ ؟ قَالَ : سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ اَبِى الْقَاسِمِ ﷺ فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتّٰى اَلْقَاهُ]

او سجده ئے وکړه، ما ووئیل دا ولے؟ هغه وفرمایل : چه ما د نبی کریم ﷺ پسے روستو سجده کړے ده، دے وجے نه زهٔ به سجده کوم، تردے پورے چه هغهٔ سره مخامخ شم۔

(بخاری فی الاذان باب ١٠٠، ١٠١) رقم : ٧٦٨) والسجود باب ١١ ومسلم فی المساجد حدیث : ١١٠)

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې زجر وو په تطفیف او تکذیب باندې، نو اُوس نیك محنت ته ترغیب ورکوي.

۲- مخکښې سورت کښې دِ مرګ نه روستو د عملنامو ذکر وو، نو دلته د هغې حال ذکر کوي په ورځ د قیامت کښې.

۳- هلته زجر وو په بعض اعمالو د مشرکانو، نو دلته زر دې په نورو بدو اعمالو باندې.

موضوع د سورت

۱- لِقَاءُ الْإِنْسَانِ بِرَبِّهٖ ثُمَّ مُحَاسَبَتُهٗ بِعَمَلِهٖ.

یعنې د انسان د الله تعالیٰ سره ملاویدل، او بیا ددهٔ سره ددهٔ په عمل حساب کول. یعنې داسې به کیږي،

نو ددې موضوع فائده دا راوځي چه هر انسان دِې خپل غم وکړي چه صبا ته الله تعالیٰ ته ورتګ دې، راځئ چه داسې ښکلې عملونه وکړو چه الله تعالیٰ ته ئې پیش کړو.

او د کفر او شرك او ګناهونو نه ځان وساتو چه الله تعالیٰ ته پیشئ کښې ونهٔ شرمیږو. نو ددې نه به خپله دوه ډلې جوړیږي، یو هغه ده چه د هغوی سره آسان حساب کیږي، او بل هغه ده چه سخت حساب به ورسره کیږي.

نو اول کښې د قیامت هیبت، بیا موضوع بیا د لائل په اثبات د آخرت باندې راوړیدي، یو هیبت دې د قیامت، او بل اثبات دې نو فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ کښې اثبات دې،

او په اول کښې هیبت دې، او په مینځ کښې د انسان ملاقات دې د الله تعالیٰ سره، او بیا د هغهٔ سره حساب کتاب دې.

۲- زمونږ شیخ محترم (رستمیؒ) فرمائي: پدې سورت کښې ترغیب دې کدح صالح (نیك عمل) ته دپاره ددې چه آسان حساب ورسره وکړې شي، او اخستل د عملنامو دې په ښي لاس کښې، او تحذیر (یره ورکول) دی د کدح سيء (بد عمل) نه دپاره د بچ کیدو د سخت حساب نه. او اخستل د عملنامې په ګس لاس کښې روستو د شا نه.

إِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾
کله چه آسمان اُوچوی۔ او غوږ ئے ایخے دے حکم د رب خپل ته او لائق دے (ورسره غوږ
وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا
کیخودل) او کله چه زمکه راخکلے شی۔ او راوغورزوی کړی هغه چه په هغے کښ
وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾
دی، او خالی شی۔ او غوږ ئے ایخے دے، حکم د رب خپل ته او لائق دے (ورسره غوږ کیخودل)

تفسیر : په اولنو پنځه آیتونو کښ الله تعالیٰ د قیامت هیبت ذکر کړیدے، او په دے کښ ئے د بعث بعد الموت حقیقت خودلے دے۔

او وئیلی ئے دی چه کله آسمان د خپل رب حکم آوریدو سره سَم اوشلیږی، تکړے تکړے شی، ستوری خوارهٔ وارهٔ شی، او نمر او سپوږمئ غائب شی، او کله چه زمکه تیزئ سره اوخوزیږی، په دے باندے پراتهٔ غرونه، کورونه، او نور تول څیزونه ختم شی، او زمکه یو چټل میدان جوړ شی،

لکه څنګه چه د سورهٔ طٰه په (۱۰۶/۱۰۷) آیتونو کښ راغلی دی :

﴿ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا لَّا تَرٰى فِيهَا عِوَجًا وَّلَا أَمْتًا ﴾

(الله تعالیٰ به زمکه بیخی هواره او صفا میدان جوړ کړی، چه په دے کښ به تهٔ نهٔ موړ اووینے اونهٔ ښکته پورته)۔

وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا : اَیْ اِسْتَمَعَتْ لِاَمْرِ رَبِّهَا۔ اَیْ اَطَاعَتْ لِرَبِّهَا ۔ یعنی د الله تعالیٰ حکم ته ئے غوږ ایخودے دے، حاصل معنیٰ ئے دا ده چه د خپل رب خبره به ومنی۔

وَحُقَّتْ : اَیْ حُقَّ لَهَا الْاِنْشِقَاقُ وَطَاعَةُ رَبِّهَا ۔ یعنی دے لره چاودل او د خپل رب طاعت لائق دے۔ څکه چه د قیامت هیبت زیات دے۔ څکه چه په آسمان کله دومره لوی بوج راځی چه هغه د برداشت نه بهر وی، نو پکار ده چه وچوی۔

او آسمان اګرکه هر څومره غټ دے، لیکن د الله تعالیٰ د قدرت نه وړوکے دے، د هغهٔ

مخلوق دے، نو د خپل رب طاعت ورسره لائق دے۔
وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ: یعنی رابه خکلے شی او خوره به شی لکه څرمنه چه راخکلے کیږی او خوریږی۔ او دا راخکل ددے دپاره دی چه خلق وریاندے د حساب دپاره ودریږی۔ د راخکلو طریقه ئے دا ده چه (زَالَ عَنْهَا الْجِبَالُ) ددے نه به غرونه او ډیرکئ زائل شی هغه به ذره ذره شی۔ هموار به شی۔ او باطن به ئے خالی شی د خزانو او مړونه۔
وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ: یعنی زمکه به خپل تمامے خزانے او مړی بهر را وارتوی، او ددے نه به بیخی خالی شی، په هغے کښ به هیڅ هم باقی پاتے نشی۔
د القاء او تخلیه نسبت ئے زمکے ته په طریقه د توسع کړیدے، ورنه په حقیقت کښ د دغه څیزونو غورزونکے او راویستونکے الله تعالیٰ دے۔ خو دا محل د راوتو دے پدے وجه ئے دے ته نسبت کړیدے۔
وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ: او زمکه به د خپل رب د حکم مخے ته عاجزی اوکړی، او دا به خامخا دا کار کوی، ځکه چه د رب العالمین د حکم نه څوك سرغړونه کولے شی؟!۔
مفسرین لیکی چه ﴿وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ﴾ ئے دویم ځلی ووئیلو، پدے کښ مقصد د انسانانو په زړونو او دماغو کښ دا خبره کینول دی چه زمکه او آسمان دواړه د الله رب العزت د قدرت او مشیت او د هغهٔ د قهر او جلال د دائرے نه د یوے لمحے دپاره هم نهٔ بهر کیږی۔
که په مذکوره مقاماتو کښ اِذَا شرطیه شی نو بیا ددے شرطونو جزاء پټه ده۔
(١) یعنی په کومه ورځ چه د زمکے او آسمان دا حالت شی، په دے ورځ به د انسانانو څهٔ حال وی، دا د بیان نه بهر دے۔اَیْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ مَا یَعْجِزُ الْبَیَانُ عَنْهُ۔
یعنی په انسان باندے به داسے حالات راشی چه د هغے نه بیان عاجز دے۔
(٢) یا جزاء داسے ده: (لَقِیَ الْاِنْسَانُ رَبَّهٗ) انسان به په دغه ورځ د خپل رب سره ملاؤ شی۔ لکه دلیل پدے باندے روستو (فَمُلَاقِیْهِ) دے۔
(٣) یا (عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا اَحْضَرَتْ) په دغهٔ ورځ به هریو انسان ته په یقینی توګه معلومه شی چه دهٔ په دنیا کښ څنګه عملونه کړی وو، چه د هغے به اُوس دهٔ له بدله ورکولے کیږی۔
(٤) یا جزاء داسے ده: وَقَعَتِ الْقِیَامَةُ۔ یعنی په دغه وخت به قیامت واقع شی۔

او که إِذَا ظرفیه شی نو بیا به دا د (اُذْكُرْ) دپاره مفعول فیه وی- یعنی یاد کړه داسے حالات چه په ورځ د قیامت کښں به واقع کیږی۔

يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَى رَبِّكَ كَدْحًا
اے انسانه یقیناً ته مشقت کونکے ئے (په رسیدو کښں) رب خپل ته په مشقت کولو
فَمُلَاقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ
سره نو ملاویدنکے ئے د هغهٔ سره- پس هغه څوك چه ورکړے شوه هغهٔ ته عملنامه
بِيَمِينِهِ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾
د هغه په ښی لاس سره- نو زردے چه حساب به اُوکړے شی ددهٔ سره حساب آسان-
وَيَنْقَلِبُ إِلَى أَهْلِهِ مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ
او واپس به شی خپل اهل ته خوشحاله- او هر هغه څوك چه ورکړے شی عملنامه
وَرَاءَ ظَهْرِهِ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَى
هغهٔ ته روستو د شا د هغهٔ نه- نو زردے چه رابلی به هلاکت لره- او ننوزی به
سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُ كَانَ فِي أَهْلِهِ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُ ظَنَّ
اُور سوزونکی ته- یقیناً دے په اهل خپل کښں خوشحاله وو- یقیناً دهٔ گمان کولو
أَنْ لَنْ يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَى إِنَّ رَبَّهُ كَانَ بِهِ بَصِيرًا ﴿١٥﴾
چه هیچرے و به نهٔ گرځی الله تعالیٰ ته- بلکه یقیناً رب ددهٔ وو په دهٔ باندے لیدونکے،

تفسیر: يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ: یعنی اے انسانانو! ستاسو ژوند د کوشش او عمل نوم دے، تاسو چه څو پورے ژوندی اُوسیږئ، شپه او ورځ به څهٔ نه څهٔ کار کوئ، برابره خبره ده که هغه کار ښهٔ وی او که بد، او ورسره ورسره به هره ساه تاسو مرگ ته نزدے کوی- تردے چه یوه ورځ به ستاسو مرگ راشی، او تاسو به خپل حقیقی خالق سره مخامخ شئ، دے وجے نه ستاسو کوشش دا کیدل پکار دی چه ستاسو عمل داسے

وی چه هغه تاسو د رب العالمین د ناراضگئ نه بچ کړی، گنے تاسو به د قیامت په ورځ هلاك شئ۔

اِنَّكَ كَادِحٌ: ((یقیناً ته عمل کونکے ئے چه تلونکے ئے رب خپل ته په عمل کولو سره او بیا به ملاویدنکے ئے د الله سره))۔ نو كَدْحًا مفعول مطلق د كَادِحٌ دے۔

كَدُحٌ: هغه عمل ته وائی چه انسان پکښ کوشش کوی او مشقت سره ئے کوی۔ اشاره ده چه ستا کوم عمل اختیاری وی په هغے به درسره حساب کیږی، نهٔ غیر اختیاری۔ بیا څوك د نیك عمل کوشش کوی او څوك د شر عمل۔ دنیا کښ همدا دوه قسمه خلق دی۔

اِلٰی رَبِّكَ: دا متعلق دے د (رَاجِعٌ) پورے۔

﴿ فَمُلَاقِيْهِ ﴾ کښ ((ه)) ضمیر غائب الله تعالیٰ ته راجع دے نو دارنگه [كَدْح] ته راجع کیدل هم صحیح دی، چه ددے معنیٰ ده، کوشش او عمل۔

په دے صورت کښ به معنیٰ دا شی چه اے انسانه! مرگ نه پس به تهٔ د خپل عمل سره خامخا ملاویږے، که هغه ښهٔ وی اوکه بد۔ دے وجے نه تهٔ د داسے عمل کولو کوشش کوه چه رب العالمین تانه راضی شی، دے دپاره چه تهٔ هلاك نهٔ شے۔

(۲) بعض اهل علم وائی چه پدے کښ لږ والی د عمر د انسان ته اشاره ده

[اَیْ اِنَّكَ فِیْ غَايَةِ الْاِجْتِهَادِ فِی السَّيْرِ لِقُصُوْرِ عُمُرِكَ وَمُضِيِّهٖ سَرِيْعًا]

یعنی تهٔ په ډیر کوشش کښ روان ئے یعنی مزل کوے خپل رب ته ځکه چه ستا عمر کم دے، او په جلتئ سره تیریږی۔ نو هرکله چه ستا عمر تیریږی او تهٔ زر الله تعالیٰ ته ورتلونکے ئے، نو نیك عملونه وکړه۔

اول تفسیر ځکه ظاهر دے چه په کادح کښ خپله عمل پروت دے، او دلته به ورسره روستو دا خبره راوباسے چه نیك عمل وکړه۔

فَاَمَّا مَنْ اُوتِیَ كِتَابَهٗ: اُوس په قیامت کښ د عملونو په اعتبار سره د عملنامو تقسیم او د خلقو حال بیانیږی، په دنیا کښ دوه قسمه خلق دی، د چا كدح (عمل) چه نیك وو، نو هغوی ته به په ښی لاس عملنامه ورکړے کیږی، او د چا كدح (عمل) چه بد وو نو په گس لاس او د شا طرفنه به په بی عزتئ سره ورکړے کیږی، د دوی عملونه الله تعالیٰ سره جمع وو او هغه د ملائکو په ذریعه لیکلی وو۔

فرمائی چه په دے ورځ چه د کومو نیك بختانو عملنامه د هغوئ په ښی لاس کښې ورکړے شی، رب العالمین به هغوئ سره آسان حساب اوکړی، د هغوئ ګناهونه به معاف کړی، او د هغوئ نیکئ به قبولے کړی، او دوئ به خپل اهل او عیال او خپل خپلوانو خواته، یا د دوئ پشان نیکانو خلقو خواته بیحده خوشحالئ سره ورشی، ځکه چه دوئ ته د جهنم نه د آزادئ پروانه (ټیکټ) ملاؤ شو، او په جنت کښې به د حُورو، خپلو نیکو ښځو او نیکانو اولادو سره ملاؤ شی۔

د سورۂ الطور په (۲۱) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی:

﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾

(او کوم خلق چه ایمان راوړی، او د دوئ اولاد هم په ایمان کښې د دوئ پیروی وکړی، مونږ به د دوئ اولاد دوئ ته اورسوو)۔

حِسَاباً يَسِيْراً: په حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل:

[لَيْسَ اَحَدٌ يُحَاسَبُ اِلَّا هَلَكَ]

هر یو تن چه د هغهٔ سره حساب وکړے شی نو هغه تباه شو۔

نو عائشے رضی الله عنها تپوس وکړو اے د الله رسوله! الله تعالیٰ خو فرمایلی دی چه اصحاب الیمین سره به هم حساب کیږی؟۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

[لَيْسَ ذٰلِكَ بِالْحِسَابِ، وَلٰكِنْ ذٰلِكَ الْعَرْضُ، وَمَنْ نُوْقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ]

دا حساب نهٔ دے بلکه دا عرض (پیش کول د عمل دی) او چا سره چه په حساب کښې مناقشه (بحث) وکړے شو نو هغه هلاك شو۔

(بخاری فی التفسیر: ۴۹۳۹) ومسلم: ۷۴۰۸)

عرض دا دے چه الله تعالیٰ به ورته اعمال پیش کړی چه دا دا عملونه دِے کړیدی، بنده به په هغے باندے اقرار وکړی نو وبه یریږی، بیا به ورته الله تعالیٰ وفرمائی چه دا مے درته معاف کړل۔ (او دا د هر مؤمن سره ضروری نهٔ ده بلکه بعضو ته به سزا هم ورکوی)۔

او محاسبه او مناقشه په حساب کښې دے ته وائی چه د وړوکی او لوی اعمالو حساب ورسره وکړی چه دا دِے ولے کړیدی؟ او څنګه دِے کړیدی؟، (یعنی د لِمَ او کَيْفَ تپوس) نو ددے جواب ورکول ډیر ګران کار دے۔ دا هلاکت دے۔

نو ګویا که رسول الله ﷺ ورته په آیت کښې تاویل وکړو چه حساب یسیر عرض دے۔ او

ما چه کوم حساب ذکر کړیدے نو د هغې نه مراد مناقشه ده په حساب کښې.
وَيَنقَلِبُ: انقلاب داسے حالت ته واپس کیدل دی چه د مخکنی حالت نه غیر وی.
إِلَىٰ أَهْلِهِ: ۱- ددے نه مراد اهل جنت دی، حورے، غلمان،
۲- او هغه دنیاوی اهل چه جنت ته داخل شوی وی، لکه یاران دوستان او خپلے ښځے او اولاد. او همدا ظاهر ده، لکه دا د یو حدیث نه معلومیږی چه مؤمنان به په یوځای کښې ولاړ وی، نو دا یو مؤمن به ترے بوتللے شی چه راشه حساب ته. نو کله چه عملنامه ورکړی نو مخ به ورله سپین کړی او خوشحاله به ئے کړی، راروان به وی، نو دا مؤمنان به ووائی چه اے الله ! دا زمونږ خوا ته راوله، نو دوی ته به ورشی، او دوی ته به هم زیرے ورکړی چه ستاسو دپاره هم دا نعمت دے کوم چه ما ته راکړے شو.
مَسْرُوراً: خوشحاله به وی ځکه چه د جنت ټیکټ ورته ملاؤ شو. او عزت ورته ورکړے شو. او دا ځکه چه دهٔ په دنیا کښې د غمونو او مشقتونو ژوند تیر کړے وو.
وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ: دویمه ډله: او د کومو بدبختو عملنامه چه هغوئ ته په کس لاس کښې اخوا د شا نه ورکړے شی، رب العالمین به د دوئ نه سخت ناراضه وی، او د سختے غصے له وجے به دوئ طرفته گوری هم نهٔ.
دے بدبختو ته چه کله د خپلے بدنصیبئ یقین راشی او معلومه شی چه دوئ له د جهنم فیصله شوے ده، نو په چغو چغو به د محشر په میدان کښې ژاړی او وائی به چه هائے زمونږه هلاکت او بربادئ ! بیا به دوئ جهنم ته گذار کړے شی، چه هلته به دوئ همیشه دپاره سوزی.
وَرَاءَ ظَهْرِهِ: په کس لاس ورکول او بیا د شا طرف نه ورکول، دا ډیره لویه بی عزتی ده، ځکه چه مخامخ ورکول هم یو قسم عزت دے.
او د شا طرف نه ئے ځکه ورکوی چه دوی د الله تعالیٰ کتاب شا ته غورزولے وو، هیڅ پرواه ئے پرے نهٔ لرله.
يَدْعُو ثُبُوراً: لکه چه سورة فرقان (۱۴/۱۳) آیتونو کښې ذکر دی، یعنی د خپلو ځانونو دپاره به هلاکت او تباهی غواړی. یعنی ښیرے به کوی. یا به په طریقه د استغاثے (مدد طلب کولو) سره به وائی اے افسوس ! هلاك او تباه شوم.
إِنَّهُ كَانَ: اُوس ددے بے عزتی کولو درے وجوهات او اسباب ذکر کوی.

فرمائی چه دے جهنمیانو به د دنیا په ژوند کښ د خپل اهل او عیال سره ښۀ عیش عشرت کولو، خوشحاله خوشحاله وو، دنیا کښ پرے هیڅ غمونه او تکالیف او مشقتونه نۀ وو راغلی، د الله تعالیٰ په بندګئ، دعوت او جهاد وغیره کښ ئے ځان نۀ وو سترے کړے. نو ددے وجه نه به په آخرت کښ په تباهئ او تکلیفونو کښ اخته شی.

إِنَّهُ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ: دا بل سبب د عذاب دے.

دارنګه سبب ددۀ د خوشحالئ هم دے.

لَّن يَحُورَ: حور واپس کیدو ته وائی، مراد ترے نه رجوع الی الله ده. یعنی ددۀ دا ګمان وو چه دے به الله تعالیٰ ته واپس نشی،

یا ترے نه بعث بعد الموت مراد دے، او د دواړو مقصد یو دے، یعنی دے شخص د قیامت او د جنت او جهنم په باره کښ هیڅ کله سوچ هم نۀ وو کړے، چه یوه ورځ راتلونکے ده چه زۀ به پکښ الله تعالیٰ ته پیش کیږم، یا به جنت وی یا جهنم.

دوئ د خپلے خیتے او د خپل شهوت پوره کولو نه سوئ د بلے هیڅ یوے خبرے په باره کښ هیڅ کله غور هم نۀ وو کړے، دا خلق د رب العالمین د بندګئ نه بیخی غافل پاتے شوی وو.

ددے خلقو همدا ګمان وو چه د مرګ نه پس ژوند او د الله تعالیٰ مخے ته د اُودریدو او حساب ورکولو نه لوی بل هیڅ یو شے دروغژن نشته.

او په ظن سره ئے تعبیر وکړو اشاره ده چه دے پدے اهمو خبرو کښ صرف د ګمان پسے روان وو، یقین ئے نۀ وو.

بَلَىٰ إِنَّ رَبَّهُ كَانَ بِهِ بَصِيرًا: دا دریمه وجه ده. اَیْ عَدَمُ الْعِلْمِ بِبَصَرِ اللّٰهِ.

دا علم ئے نۀ وو چه ګنے ما ته الله تعالیٰ ګوری، نو د الله تعالیٰ د نظر نه غافله وو.

لکه روستو سورة البلد (۷) کښ هم راځی. ﴿ اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗ اَحَدٌ ﴾ ددۀ ګمان دے چه دۀ ته هیڅوك نۀ ګوری. نو ځکه ئے په زړه ورتیا سره ګناهونه کول.

بَلَىٰ: معنیٰ دا ده چه ولے به آخرت ته نۀ واپس کیږے اے انسانه! یقین وکړه چه ستا رب ستا په هر څه لیدونکے دے. هلته به درسره حساب کوی او پدے فسادونو او ګناهونو به مو جهنم ته لیږی.

فَلَا أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾
نو خامخا زهٔ قسم کوم په سور والی د ماښام۔ او په شپه او په هغه څه چه راجمع شی۔ (او په هغې چه راجمع کړې وی شپې)
وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا
او په سپوږمئ کله چه پوره شی۔ خامخا تاسو به سوریږئ په یو حال باندے
عَنْ طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾
پس د بل حال نه۔ نو څه وجه ده دوی لره چه ایمان نهٔ راوړی۔
وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾ (س)
او کله چه لوستلے شی په دوی باندے قرآن، دوی سجده نهٔ کوی۔
بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ
بلکه هغه کسان چه کفر ئے کړیدے دروغژن ګنړی۔ او الله پو هه دے
بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُمْ
په هغه څه چه دوی ئے راجمع کوی (په سینو او صحیفو کښې) نو زیرے ورکړه دوی
بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا
ته په عذاب درناك سره۔ لیکن هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾
او عملونه ئے کړیدی نیك دوی لره اجر دے نهٔ قطع کیدونکے۔

تفسیر: اُوس د آخرت د اثبات دپاره دلیلونه پیش کوی۔

د مکے مشرکانو به ګمان کولو چه د مرګ نه پس انسان خاورے شی او ختم شی، دے نه پس بل کوم ژوند نشته۔ الله تعالیٰ په دے باندے رد کوی او په شفق، شپه او په

سپوږمۍ بانـدې قسَم خـوري، او انسان لـه دا يـقين ورکوي چه مرګ نه پس به تاسو همیشه دپاره ختمیږئ نهٔ، بلکه خامخا به تاسو د ګنړو حالتونو نه تیریږئ۔

مرګ نـه پس بـه تـاسـو دوبـاره ژونـدي کړې شئ، بیا به د محشر په میدان کښ تاسو راجمـع کـړې شـئ، بیا بـه تاسو سره حساب کیږي، او بیا به تاسو له د خپلو نیکو او بد عـمـلـونـو مطابق بدله درکړې شي، که چرې تاسو د دنیا په ژوند کښ نیك عملونه کړي وي، نـو جـنـت او د هـغـې نـعـمـتـونـه بـه درتـه درکړې شي، اوکـه د کفر او شرك او د نورو ګناهونو نه ستاسو عملنامې ډکې وي، نو ستاسو د همیشه اوسیدو ځائې جهنم دې۔

بِـالشَّفَقِ : دلتـه پـه درې څيـزونـو بـانـدې قسـم خـوړلې شـويـدې، او دا پـه ترتيب سره مـخـتـلـف حـالات دي، اول شـفـق وي چه دا د شپې ابتداء ده، بيا پوره شپه شي، نو په هغې کښ عام حيوانات خپلو ځايونو ته راجمع کيږي، او په شپه کښ سپوږمۍ وي چه هغه هم تدريجاً کمال ته رسيږي۔

شـفـق پـه لـغـت کـښ د مـابـنـام سور والی ته وئيلې کيږي چه دا د مابنام د مانځه آخري وخت دې، او د هغې غائب کيدل د ماسخوتن ابتداء ده۔

او بعض علماء ددې نه سپينوالې د مابنام مراد کوي چه دا د سور والی نه روستو راځي۔ نـو شـفـق د اضـدادو نه دې، ليکن د اکثرو اهل علمو او اهل لغتو په نيز سرخي د مابنام ده۔

وَمَا وَسَقَ: وسق جمع کولو، ضم کولو، يو ځای کولو او تاوولو ته وئيلې شي۔ يعنیٰ په شپه کښ هغه څيزونه جمع کيږي کوم چه د ورځې خوارهٔ شوي وي۔

دارنګه پدې کښ ستوري رايو ځای شي، راښکاره شي۔

❁ بعض وائي : وسق په معنیٰ د پټوالی سره دې۔ اَیْ وَمَا وَسَقَ اَیْ وَمَا جَنَّ وَسَتَرَ۔

يـعـنـي هـغـه څيـزونـه چـه پـټ شي د شپې په تيارې سره۔ نو دا قسم شو په ټول هغه مـخـلـوق بانـدې چه د شپې خپلو ځايونو ته راجمع کيږي، يا هغه چه د شپې په تيارهٔ سره پټيږي۔

اتَّسَقَ: اَیْ اِجْتَـمَعَ وَامْتَلَأَ وَتَکَامَلَ۔ (يـعـنـي راجمع او ډکه او پوره شي) دا هم د وَسَقَ نه دې، يـعـني په څوارلسمه شپـه بانـدې چه سپوږمۍ جَمعه او ډکه شي، اول وړه وي بيا په دمه دمه پوره شي۔

لَتَرْكَبُنَّ: دا جواب قسم دے او نبی کریم ﷺ ته خطاب دے، یا ټول امت ته۔ او همدا خبره صحیح ده ځکه چه دا صیغه د جَمعې ده۔

طَبَقاً عَنْ طَبَقٍ : یعنی یو حال پس د بل حال نه۔ طبق هغه حالت ته وائی چه د بل حالت سره مطابق وی۔ او عَنْ په معنیٰ د بَعْدَ سره دے۔ (یعنی یو حال روستو د بل حال نه)

ددے نه مراد مرګ، بیا بعث، بیا حساب، بیا جزاء ده او دلته هم دا تفسیر ظاهر دے۔

دے کښې دوه تفسیرونه ضعیف دی ،

(۱) یو دا چه اول نطفه بیا علقه، بیا مضغه بیا طفل او بیا غټیدل۔

(۲) دویم : تاسو باندے به د یهودو او نصاراؤ په شان حالات راځی۔

لکه په حدیث کښې دی : [لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ] تاسو به د پخوانو اُمتونو پسے روان شئ۔ (بخاری : ٣٤٥٦)

دا تفسیرونه دلته مناسبت نۀ لری۔ اګرکه دا اول څه نا څه مناسبت لری چه انسان اول نطفه وه، او بیا پرے دغه حالات راغلل، لیکن دلته مقصد اثبات د آخرت دے، او هغے سره مخکنے تفسیر ډیر ښکاره دے۔

او د قسم او جواب قسم مناسبت دا دے چه مخکښې تغیر د زمانو تیر شو نو په جواب کښې تغیر د احوالو ذکر دے، نو تغیر د زمانے دلیل دے په تغیر د احوالو باندے۔

زمانه کښې الله تعالیٰ دا تغییرات پیدا کوی، نو دغه رنګه به ستاسو حالات هم بدلیږی او تاسو به په یو ځای ولاړ نۀ یئ چه بس صرف دنیا ده، بلکه د دنیا نه روستو قبر دے، او د قبر نه روستو حشر دے، او د هغے نه روستو بیا جنت او جهنم دی۔ هلته هم انسان ترقی کوی، یا په عذاب کښې او یا په نعمتونو کښې۔

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ: نو دلته مشرکانو ته زجر ورکوی، یعنی هر کله چه د قیامت راتلل یقینی دی، په دے ورځ د نیك او بد عملونو جزاء او سزا یقینی ده، او جنت او جهنم وَهم او خیال نۀ بلکه واقعی څیزونه او موجود دی، نو بیا د قریشو دے مشرکانو له څۀ شوی دی چه دوئ په الله تعالیٰ، د هغۀ په رسول او په قرآن باندے ایمان نۀ راوړی، او د خپلو ګناهونو نه توبه نۀ وباسی، او د اسلام په دائره کښې نۀ داخلیږی، او دوئ له څۀ شوی دی چه کله د دوئ مخے ته قرآن لوستلے کیږی، نو د رب العالمین دپاره عاجزی او

متازی نۀ ښکاره کوی، او په سجده باندے نۀ پریوځی۔
یعنی پکار دا ده چه انسان باندے عقلی دلیل، او دارنګه قرآن اثر وکړی۔ ددے وجه نه دلته په مؤمنانو باندے سجده لازمه کړے شویده چه د کفارو نه د دوئ جدائی راشی چه کافران الله تعالیٰ ته سجدے نۀ لګوی. نو مونږه ئے کوو۔ بلکه د هغے دپاسه مونځونه هم کوو دے دپاره چه د کافرانو نه پوره مخالفت راشی۔ دا د قرآن اثر دے۔
اُوس که یو تن قرآن ووائی، او د مانځه پابند نۀ دے، نو دا بے ایمانه دے، او دۀ په حقیقت کښې قرآن نۀ دے وئیلے۔
پدے سجده کښې د تلاوت سجده او ټولے سجدے د مونځونو هم داخلے دی۔
بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا : اِضراب دے، د سجدے نه یعنی دوی سجدے نۀ کوی، بلکه لا په کفر کښې مخ په وړاندے ځی۔ یعنی دوی په قرآن کریم باندے د ایمان راوړو په ځائے دا دروغژن ګڼړی۔
مفسرین لیکی : چه د دوئ دا دروغژن ګڼړل په دے وجه نۀ وو چه ګنے قرآن کریم د کلامِ الهی کیدو د دلائلو سره منافی وو، قرآن کریم د دوئ د زړونو بندے دروازے خامخا پرانستے، او ددے آواز د دوئ د زړونو ژور والی ته خامخا اورسیدۀ، او د دوئ یقین راغے چه دا اِلهی کلام دے، لیکن خالص د کبر او غرور د وجے نه دوئ ایمان رانۀ وړو، دے وجے نه الله تعالیٰ وفرمایل :
وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ: یعنی الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو چه د دوی سینے ئے راجمعه کوی چه هغه کفر او انکار د حق، کبر او غرور او د ایمان والو سره بغض او حسد او دشمنی ده۔ او ددے په سبب دوئ د ایمان د راوړو د توفیق نه محرومه شویدی۔
یوعون د اِیْعَاء نه دے، او هغه د وِعَاءٌ نه دے، په لوخی کښې کیخودل او راجمع کول۔
فَبَشِّرْهُمْ : اُوس دوئ دپاره سزا بیانیږی۔ یعنی اے زما نبی ! تۀ دے متکبره کافرانو ته د دردناك عذاب زیرے ورکړه، البته په دوئ کښې چه کوم خلق ایمان راوړی، او نیك عمل وکړی، دوئ له به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ پوره اجر او ثواب ورکوی، دوئ له به جنت ورکوي چه د هغے نعمتونه به هیڅ کله نۀ ختمیږی۔
اِلَّا الَّذِيْنَ: دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لٰكِنْ سره۔ یعنی کافرانو ته په عذاب زیرے ورکړے شو، لیکن مؤمنانو او عمل صالح والو ته په اجر غیر ممنون باندے زیرے دے۔

مَمۡنُون: د مَنٌّ نه دے په معنیٰ د قطع سره۔ یعنی نۀ به قطع کیږی۔ او نۀ به ختمیږی۔

۲- یا مَنٌّ په معنیٰ د زباتنے سره۔ یعنی په دوئ باندے به ددے زباتنه نۀ کیږی چه دوی په هغے سره خفه شی۔

ابن کثیرؒ پدے باندے رد کړیدے چه جنتیانو باندے به الله تعالیٰ زباتنه کوی ځکه چه جنتیان خو چه جنت ته لاړل نو د الله تعالیٰ د په رحمت باندے نو هغه دپاره زباتنه کول بالکل مناسب دی۔

۳- یا مَنٌّ په معنیٰ د ضعف او نقصان سره دے۔ یعنی دا اجر به ضعیف او کم نۀ وی بلکه بنۀ پوره به وی۔

نافع بن الازرقؒ د ابن عباسؓ نه ددے معنیٰ په باره کښ تپوس وکړو چه آیا عرب د ممنون دا معنیٰ پیژنی؟ نو هغه په استشهاد کښ شعر د زهیر پیش کړو۔

فَضۡلُ الۡجَوَادِ عَلَى الۡخَيۡلِ الۡبِطَاءِ فَلَا يُعۡطِيۡ بِذٰلِكَ مَمۡنُوۡنًا وَلَا نَزِقَا

وبالله التوفیق۔

ختم شو تفسیر د سورة الانشقاق په فضل د رب العالمین سره۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۲۲)	(۸۵) سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة البروج مکی دے، په دے کښې دوه ویشت آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة البروج

نوم : په اولنی آیت کښې [اَلْبُرُوْج] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودے شوے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت په اتفاق سره مکی دے، ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی چه ﴿وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

امام احمدؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړی دی چه رسول الله ﷺ به د ماسخوتن په مانځه کښې ﴿وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ﴾ لوستلو۔

او امام ابوداودؒ د جابر بن سمره ﷺ نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ به په ماسپخین او مازیګر کښې والسماء والطارق او والسماء ذات البروج او ددے په شان سورتونه لوستل۔ (ابوداود : ۸۰۵) صحیح لغیره) (نسائی : ۹۷۹) باسناد صحیح)

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې د کافرانو دپاره د آخرت عذاب ذکر شو، نو دلته د دنیا عذاب ذکر کوی۔ په واقعاتو د اصحاب الاخدود او د فرعون او ثمود سره۔

۲- مخکښې سورت کښې کدح (مشقت) صالحه ته ترغیب او د کدح سیء والو دپاره زجر وو، نو دلته د کدح سیء عاقبت ذکر کوی په دنیاوی او اُخروی عذاب سره۔

۳- مخکښې سورت کښې یُوْعُوْنَ وفرمایلی دی چه دوئ په سینو کښې د مؤمنانو دشمنی ساتی، نو دلته د هغے دشمنئ رابښکاره کول ذکر کوی چه دوئ کومه پټه ساتلے وه۔

د سورت مقصد

درې مقاصد دی۔ ۱- اَلنَّهْيُ عَنْ اِيْذَاءِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَعَنِ افْتِتَانِ الْمُؤْمِنِيْنَ۔
یعنی منع ده د ضرر ورکولو نه مؤمنانو ته، او دارنګه هغوی ته د عذاب ورکولو او فتنه کښې اچولو نه منع ده۔ مؤمن د الله تعالیٰ ولی دے، دهٔ ته ضرر مهٔ ورکوه، غیبت ئې مهٔ کوه، بهتان پرې مهٔ تړه، تکفیر ئې مهٔ کوه، وژنه ئې مهٔ، جیل ته ئې مهٔ بوځه، او وهل ټکول ورله مهٔ ورکوه۔
نورې دوه خبرې ددې سره تړلې دی۔
۲- یو اَلتَّسَلِّيْ لِاَهْلِ الْاِيْمَانِ۔ یعنی ایمان والو ته تسلی ده چه اے مؤمنه! ستا بدله به الله تعالیٰ اخلی۔
۳- اَلتَّهْدِيْدُ لِلْكَافِرِيْنَ۔ کافرانو ته دهمکی ده چه الله تعالیٰ تا ته صبر کړیدے، هغه به درسره ګوری، آیا تهٔ د الله تعالیٰ دا صفت نهٔ ګورې (عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ) (اَلَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوَاتِ) (اَلْعَزِيْز) او ددې نه خبر نهٔ ئې چه (اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ) الله به درباندې حمله وکړی۔ [مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ] (الحدیث)
ځوك چه زما د ولی سره دشمنی کوی، نو هغهٔ ته ما د جنګ اعلان او خبر ورکړو۔
مؤمنانو ته تسلی به داسې بیانه شی چه اے مؤمنه! مهٔ خفه کیږه دا د الله تعالیٰ دپاره سخته ده، تا له الله تعالیٰ جنت تیار کړیدے (لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِيْ) لوی کامیابئ ته روان ئې، لږه سخته برداشت کړه۔ او په آخره کښې الله تعالیٰ کافرانو ته تخویف ورکړیدے۔
بیا ئې وئیلی دی چه دا قرآنی خبرې دی، دا هسې عامې خبرې نهٔ دی، بلکه دا ډیرې یقینی دی، دا د لوح محفوظ نه راخستې شویدی۔
دا آیتونه اول کښې د مکې مکرمې د کمزورو صحابه کرامو په باره کښې نازل وو چه د مکې مشرکانو به هغوی ته قسماقسم تکلیفونه ورکول او وهل ټکول او رد بد به وو، لکه واقعات ئې مشهور دی، په رسول الله ﷺ باندې، په بلال، صهیب، عمار بن یاسر او د هغه په کورنئ رضی الله عن الجمیع۔ ابوذر، زنیره رضی الله عنهما وغیره باندې چه د ډیرو تکلیفونو د وجه نه ئې د هغوی زړونه مرئ ته رارسولی وو۔
ځو مره چه رسول الله ﷺ ډیر اُوچت نبی وو، نو د هغه دشمنان هم ډیر غلیظ ترین کفار

وو۔ نو الله تعالیٰ دا سورت راولیږلو کفارو ته ئے وویل چه ایمان والو ته ضرر مهٔ ورکوئ ګنے زهٔ به مو هلاك کړم او ایمان والو ته ئے وفرمایل :

مهٔ خفه کیږئ، دا سخته لږه زمانه ده، الله تعالیٰ به مو جنتونو ته ورسوی۔

کافرانو ته وائی چه تاسو د الله تعالیٰ د حملے نه خبر نهٔ یئ، جهنم ته روان یئ، فرعون به په بنی اسرائیلو ظلم کولو نو الله تعالیٰ ورسره څه وکړل، ثمودیانو او عادیانو به ظلمونه کول نو الله تعالیٰ ورسره څه وکړل۔

نو په مینځ کښ به یوه اُوږدے واقعے ته هم اشاره وکړی چه هغه اصحاب الاخدود دی۔ پدے کښ ډیره تسلی ده ایمان والو ته۔

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ﴿١﴾ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ﴿٢﴾
قسم دے په آسمان غټو ستورو والا۔(خاوند د برجونو) او په هغه ورځ چه وعده ئے
وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ﴿٣﴾
شویده۔ او په حاضریدونکی او حاضر کړے شوی۔ (او په ګواه او ګواه کړے شوی)
قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُوْدِ ﴿٤﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ﴿٥﴾ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا
هلاك کړے شول کندے والا۔ اُور ډیر خشاك والا۔ کله چه دوی په هغے باندے
قُعُوْدٌ ﴿٦﴾ وَهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ﴿٧﴾
ناست وو۔ او دوی په هغه کار چه دوی کولو په مؤمنانو باندے ګواهی کونکی وو۔
وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ إِلَّآ أَنْ
(تماشه کونکی وو) او بد نهٔ ګنړلو دوی د هغوی نه مګر دا چه هغوی ایمان راوړے وو
يُّؤْمِنُوْا بِاللهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿٨﴾ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ
په الله چه زورور، ستائیلے شویدے۔ هغه ذات دے چه هغه لره بادشاهی

السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٩﴾

د آسمانونو او د زمکے ده او الله په هر شي باندے حاضر ناظر دے۔

تفسیر: الله تعالیٰ په درے آیتونو کښ په څلورو څیزونو باندے قسَم خوړلے، او په [أصحابُ أخدُود] باندے ئے لعنت کړے چه هغوئ د الله تعالیٰ نیکان بندګان صرف په دے وجه اُور ته ګذار کړی وو چه هغوئ په رب العالمین باندے ایمان راوړے وو۔

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ : په هغه آسمان باندے قسَم دے چه په هغے کښ د نمر او سپوږمئ او د ستورو برجونه یعنی منازل (ځیونه) موندلے کیږی، چه په دے کښ هغوئ د خپل خالق د مقرر کړی انتهائی باریك ترتیب او تنظیم مطابق روان وی، او ددے نه د سر د وینتهٔ هومره آوړی نهٔ۔

قتادهؒ وائی : چه غټو ستورو ته هم بروج وائی۔ نو هغه هم پکښ داخلیږی۔

او بروج په عربئ کښ قلعه ګانو او بنګلو ته هم وائی۔ لکه ﴿وَلَوْ كُنتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ﴾ نو دلته ددے ستورو منازل (ځایونه) مشابه شو د قلعه ګانو سره ځکه چه دا ستوری په هغے کښ نازلیږی۔

ابو عبیدهؒ او یحیٰی بن سلامؒ وائی : دا دولس برجونه (منازل) دی د دولسو غټو ستورو۔ چه هغه حمل، ثور، جوزاء، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدی، دلو او حوت دی۔ او د سپوږمئ اته ویشت منازل دی۔

او منهال بن عمروؒ وائی : بروج ښائسته پیدائش ته هم وائی۔

وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ : یعنی قسم دے په هغه ورځ چه د هغے وعده شویده د بندګانو سره چه پدے کښ به د بندګانو ترمینځ فیصله صادریږی۔ ددے نه مراد د قیامت د ورځے وعده ده چه دا به خامخا پوره کیږی۔

وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ : (ګواه او ګواه کړے شوی)۔ په تفاسیرو کښ ددے یویشت مصداقات ذکر شویدی، پدے کښ دوه مصداقه ظاهر دی :

(۱) شاهد د جُمعے ورځ ده چه هره هفته حاضریږی، یا به دا ګواهی کوی په هر هغه عمل کونکی باندے چه پدے کښ ئے عمل کړے وی۔ او مشهود د عرفے ورځ ده چه خلق هغے ته حاضریږی په موسمِ د حج کښ، او دارنګه ملائك ورته حاضریږی۔

نو د قیامت د ورځے سره ئے مناسبت دے لکه څنګه چه د جُمعے او د عرفے ورځ راځی نو دغه شان به قیامت هم یقینی راځی۔

(۲) مصداق : شاهد هر ګواه او مشهود هر هغه شے چه په هغۀ ګواهی ورکړے کیږی۔ نو مطلب دا دے چه اے انسانه ! ستا په جرمونو باندے ګواهان موجود دی چه هغه ملائك دی، کانړی، بوټی، الله تعالیٰ او عام مخلوقات دی۔

او مشهود هغه څوك دے چه په هغه ګواهی ورکولے کیږی چه دا کفار او مجرمان دی۔ یا د مجرم خپل نفس دے چه د هغه اندامونه به په دۀ باندے ګواهی ورکوی۔ نو پدے کښ مقصد دا دے چه اے کافره ! په تا باندے به ګواهی کیږی نو خپل هیبت او ګبراهټ ته وګوره۔

صاحب د محاسن التنزیل د ﴿ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ﴾ دا تفسیر بیان کړے چه په هر هغه مخلوق باندے قسم دے ! چه په هغے کښ دننه حِس دے، چه ددے په ذریعه هغه احساس او لیدنه کتنه کوی، او په هر هغه مخلوق باندے قسم دے ! چه هغه د حِس په ذریعه محسوس کیدلے او لیدلے کتلے کیږی، یعنی په هغه تمامو مخلوقاتو باندے قسم دے چه د هغے مشاهده (لیدنه کتنه) کیږی۔

امام شوکانیؒ د احادیثو او آثارو په بنیاد اولنے تفسیر غوره کړے۔(چه د شاهد نه د جُمعے ورځ او د مشهود نه د عرفے ورځ مراد ده)۔ اګرکه مرفوع روایت پکښ ضعیف دے۔

وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ : ئے نکره راوړل ځکه چه ددے ورځو فضیلت دے په نسبت د نورو ورځو، او تنکیر په تفخیم او تعظیم باندے دلالت کوی۔

جواب د قسم ئے دا دے : (۱) اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ۔

(یقیناً ستا د رب حمله ډیره سخته ده۔

(۲) یا لَقَدْ قُتِلَ هٰؤُلَاءِ الْكُفَّارُ كَمَا قُتِلَ اَصْحَابُ الْاُخْدُوْدِ۔

یعنی یقیناً هلاك شول دا کافران لکه څنګه چه اصحاب الاخدود هلاك شوی وو۔

(۳) فرآء وائی : چه قتل اصحاب الاخدود ئے جواب دے خو (لَقَدْ) پکښ پټ دے۔

مناسبت د جواب قسم او د قسم دا دے

چه آسمان ډیر غټ شے دے، ددے نه ډیر لوی عذابونه راغلی دی، په نمر او سپوږمئ او

ستوروکښې د عذاب نمونې شته چه په مخکنو قومونو باندې ددې نه عذابونه راغلي دي. او د قیامت ورځ تیاره د عذاب ورځ ده، او چا باندې چه ګواهان ګواهي ورکړي نو هغه له قاضیان په دنیا کښې سزا ورکوي، نو دا د سزا دلیل دې، نو دغه شان تاسو باندې به هم ډیر ګواهان پیش شي بیا به دغه شان سزا تاسو ته هم ملاویږي.

دارنګه الله تعالیٰ قادر دې چه آسمان ئې پیدا کړې او په هغې کښې ئې بروج لګولي دي، او مخلوق به فناء کوي او بیا به ئې ژوندي کوي، او مخلوق ئې په صفت د شهادت سره پیدا کړیدي یا به شاهد وي یا به مشهود وي، نو دارنګه هغه قادر دې په قیامت راوستو او ددې د منکرینو په عذاب باندې.

قُتِلَ أَصۡحَابُ الۡأُخۡدُودِ : په پورتنو تمامو ذکر شوو څیزونو باندې قسم دې ! چه د ډوغلونو والا د الله تعالیٰ د لعنت مستحق جوړ شول، چه هغوئ یو ډیر لوی اُور بل کړو، او هغه مومنان ئې ددې خواته راوستل چه هغوئ د شرك نه توبه کړې وه، او د توحید دعوت ئې قبول کړې وو، او هغوئ ته ئې وویل چه یا خو تاسو دوباره کافران شئ، یا به تاسو په دې اُور کښې اُوغورزولې شئ، نو هغوئ د کفر په ځائې په اُور کښې غورزیدل قبول کړل.

الۡأُخۡدُودِ : مفرد دې، اُوږده کنده چه جوړه کړې شي په زمکه کښې، او جمع ئې اَخَادِیۡد راځي.

النَّارِ : دا بدل اشتمال دې د الاخدود نه. ځکه چه دغه ډوغلونه مشتمل وو په اُور باندې. نو دلته به ضمیر عائد پټ وي (أَيِ النَّارِ فِيۡهِ).

ذَاتِ الۡوَقُوۡدِ: کښې اشاره ده ددې اُور عظمت ته. چه دا دومره لوی اُور وو چه لرګي ئې نۀ ختمیدل او همداسې به بَل وو.

وَقُودِ: په زور د واو سره لرګو ته وائي. او په پیش د واو سره بلیدو ته وائي.

عَلَيۡهَا قُعُوۡدٌ: عَلیٰ په معنیٰ د عِنۡدَ دې او قعود جمع د قَاعِد ده.

شُهُوۡدٌ: ۱- تماشه کونکي وو. یعني هغه مجرمان دومره سخت زړي وو چه ددې اُور په غاړه ناست وو، او د نارینه او زنانه مومنانو د جسمونو سوزیدلو ننداره ئې کوله.

۲- شُهُوۡدٌ يَشۡهَدُوۡنَ عِنۡدَ الۡمَلِكِ اَنِّيۡ فَعَلۡتُ كَذَا وَكَذَا . یعني ګواهان وو چه د بادشاه په خوا کښې به ئې ګواهي ورکوله چه ما داسې داسې کار وکړو. دواړه معاني صحیح دي.

۳- او دا معنیٰ پکښې داخل ده: يَشْهَدُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔
د قيامت په ورځ بانديے به په ځانونو ګواهي ورکوي چه مونږ دا ظلم کړيدے۔ ځکه چه د دوی اندامونه به ګواهي ورکوي۔
وَمَا نَقَمُوا: اُوس وجه بيانوی، سوال پيدا شو چه دے مؤمنانو به څه جرمونه کړی وو پدے وجه به ئے د اُور کندو ته ارتول؟ نو الله فرمائی چه ددے ايمان والو بل هيڅ عيب نهٔ وو مګر صرف ايمان راوړل ئے عيب وو۔
نَقَمُوا کښې ضمير کافرانو ته راجع دے، يعنی د کافرانو په مؤمنانو بانديے بل هيڅ عيب نهٔ وو بلکه د الله تعالیٰ سره د دوی دشمنی وه چه دوی ولے په دغه الله تعالیٰ بانديے ايمان راوړيدے۔
دا مدح مشابه بالذم ده۔ او پدے کښې ډير تاکيد وی۔ چه ايمان والو کښې هيڅ نقصان نشته، البته که نقصان پکښې چرته وی نو هغه به ايمان وی، او دا خو ښکاره خبره ده چه ايمان خو نقصان او عيب نهٔ دے نو په تاکيد سره معلومه شوه چه په ايمان والو کښې هيڅ نقصان او عيب نهٔ وو۔
لکه يو جاهلی شاعر (نابغه ذبيانی) هم وئيلی دی:

وَلَا عَيْبَ فِيْهِمْ غَيْرَ اَنَّ سُيُوْفَهُمْ ❁	بِهِنَّ فُلُوْلٌ مِنْ قِرَاعِ الْكَتَائِبِ

(په دوی کښې هيڅ عيب نشته سویٰ ددے نه چه د دوئ په تورو کښې د فوجونو د وهلو په وجه ماتيدل دی)۔ دے کښې هم دغسے مدح مشابه بالذم ده۔
الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ: دا دوه صفتونه ئے پدے مقام کښې ذکر کړل ډير مناسب دی، يو دا چه يو مؤمن بنده بانديے چه تکليف راځی، او د خلقو د طرفنه په عذاب کښې کيږی، نو دا مهٔ وايه چه الله تعالیٰ خپل مؤمن بنده نشی خلاصولے، نهٔ، بلکه الله تعالیٰ زوره ور دے، طاقت لری۔
بيا په الله تعالیٰ بانديے دا اعتراض هم نشته چه الله تعالیٰ يو مؤمن بنده د کافر په لاس کښې ورکړيدے، او هغه ترے ځرمن ويستله، وهی ټکوی او بے عزتی ورله کوی، ښځه ترے بوځی، زنا ورسره وکړی، کله انسان حيران شی چه الله تعالیٰ ولے دا مؤمنه ښځه کافر ته لاس کښې ورکړه، او هغه ورسره بد کاری کوی، نو الله تعالیٰ فرمائی: زهٔ الحميد

(ستائيلي شوي) يم- دا د الله تعالىٰ د حمد مطابق كار دے، او د الله تعالىٰ د حمد تقاضا ده، دا د هغۀ كمال دے او پدے كښې ډيرے عجيبے او ناشنا فائدے دي-

او اَلَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ ددے دپاره راوړي چه واك د الله تعالىٰ چليږي، په كافر باندے هم د الله تعالىٰ واك چليږي، او الله تعالىٰ غافل هم نۀ دے بلكه په هر شي باندے شهيد (عالِم) دے، هر څه ته ګوري او الله تعالىٰ كافر ته څه نۀ وائي، د الله حلم دلالت په ډيرو فائدو باندے كوي، د مؤمن دپاره هم فائدے دي، او د كافر رانيول پكښې مقصد دے، او دنيا دار الامتحان جوړول دي-

دارنګه دا صفتونه ددے دپاره راوړي چه څوك چه د هغه چا سره دشمني كوي چه ايمان لري په هغه الله تعالىٰ باندے چه داسے ښكلے صفات لري نو هغه د الله تعالىٰ د عذاب نه نشي بچ كيدلے، ځكه چه الله تعالىٰ عزت والا، زورَور او بادشاه د آسمانونو او د زمكے دے، او په هر څيز باندے خبردار او عالِم دے-

دارنګه اشاره ده چه داسے ښكلے رب دے مشركانو پريخے دے او عاجز مخلوق ته متوجه شويدي-

د اصحاب الاخدود واقعه

د اصحابِ اُخدود (ډوغلونو والو) په باره كښې امام مسلمؒ، ترمذيؒ اونسائيؒ وغيره د صهيب رضي الله عنه نه، او هغۀ د رسول الله ﷺ نه روايت كړے دے، چه د هغے خلاصه داده چه په تيره شوے زمانه كښې يو بادشاه وو، (د رسول الله ﷺ د زمانے نه مخكښې او د عيسىٰ عليه السلام د زمانے نه روستو راغلے وو، چه د هغے نه بعض كسان يمن ته تبنتيدلي وو، او جنګونه پكښې راغلي وو، مشهور واقعات دي او حبش د هغے د وجه نه راغلي دي لكه زمونږ په كتاب ((سيرتِ رسول ﷺ))كښې د هغے تفصيلات وګورئ)

د هغۀ يو ساحر وو- (بوډا شوے وو) هغۀ ووئيل : ماله يو ذهين او زيركه هلك راكړه چه هغۀ ته زۀ د خپل مرګ نه مخكښې خپل علم اوښايم، بادشاه يو هلك منتخب كړو او د هغۀ خواته ئے اوليږۀ، هغه هلك د هغۀ خواته لاړو- (پدے زمانه كښې نصارىٰ په غارونو كښې پټ شوي وو لكه وَرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا ئے اختيار كړے وو)

نو دا هلك په لاره تيريدو د ساحر خواته ورتللو چه غر كښې ئے يو غار وليدو چه هغے

کښې يو ښکلے تن يعني راهب (عابد او زاهد) وسيدو ، ورے ليدو چه ناست دے انجيل لولی، نو دهٔ ورته غوږ کيخودو، ډير خوند ئے ورله ورکړو، په دغه زمانه کښې همدا کتاب او همدا خلق په حقه وو) نو هره ورځ به راتللو او هغهٔ ته به ئے غوږ کيخودو، نو ايمان ئے راوړو، او د هغهٔ شاګردی ئے شروع کړه، ساحر ته به هم ورتللو نو کور والا به ورته غصه کيدل چه ولے ناوخته راځے، او ساحر له به چه سهار کښې ورتللو نو هم پرے ناوخته کيدو به نو هغه به وهلو، نو دهٔ دے راهب ته شکايت وکړو نو هغهٔ ورته توريه وخودله چه کله تهٔ د ساحر نه يريږے نو داسے ورته ووايه چه زهٔ خپل اهل (کور والو) کره ايسار وم، او کله چه د کور والو نه يريږے نو داسے وايه چه ساحر سره ايسار وم۔

يوه ورځ هغهٔ اوليدل چه يو زمری د خلقو لاره بنده کړے ده۔ نو دهٔ ووېل چه نن ورځ زهٔ امتحان کوم چه ساحر غوره دے او که راهب غوره دے۔ هغهٔ يو ګټ راپورته کړو او په دے وئيلو سره ئے وويشتلو چه اے الله ! که چرے د راهب دين (او خبره) صحيح وی، نو زهٔ تانه سوال کوم چه زهٔ دا زمرے اووژنم، او که چرے د ساحر خبره صحيح وی نو زمرے دے په دے کانړی سره مړ نشی، بيا ئے ګوزار وکړو نو زمرے مړ شو۔

خلقو چه دا اوليدل نو د هلك د علم او پوهے اقرار ئے اوکړو۔ دے راغے راهب ته ئے حال ووئيلو نو هغهٔ ورته ووېل چه اے بچيه ! تهٔ نن ورځ زما نه غوره ئے، خو يوه خبره واوره چه په تا باندے به امتحانات راځی، خو که چرے په تا امتحان راشی نو ما به چا ته نهٔ ښائے، نو الله تعالیٰ دے هلك ته داسے کرامت ورکړو (لکه د عيسیٰ عليه السلام معجزه، نو) مور زادی ړوند به ئے جوړه ولو او د برګی مرض والا باندے به ئے هم لاس راخکلو جوړ به شو، او د ټولو بيماريانو دپاره به ئے دم اچولو) خلقو کښې مشهور شو۔

پدے کښې د بادشاه يو ملګرے خبر شو چه ړوند شوے وو نو هغهٔ ډيرے تحفے راواخستے او دهٔ ته راغے او دا ئے ورته ووېل چه که تا ما ته شفاء راکړه نو زهٔ به تا ته هغه ټول څه درکړم چه ما سره دی۔ نو هلك ووېل :

دا يقين وکه چه زهٔ هيچا ته شفاء نشم ورکولے شفا خو صرف الله تعالیٰ ورکوی، البته که تهٔ په الله ايمان راوړے، زهٔ به د الله تعالیٰ نه وغواړم تا ته به شفاء درکړی، هغه په الله ايمان راوړو، نو الله ورته شفاء ورکړه، نو هغه بادشاه ته راغے او د مخکښې په شان ورسره کيناستو، بادشاه ورته ووېل چه نظر درته چا راواپس کړو؟ هغه ووېل : زما رب۔ بادشاه

وويل : آيا ستا دپاره زما نه سویٰ بل رب شته، هغه وويل : زما رب او ستا رب صرف الله تعالیٰ دے۔ نو هغه ئے راونيولو او سزا ئے ورکوله تردے چه هغهٔ هلك وخودلو۔

(دا د باطل پرستو طريقه وی چه يو تن به ئے په شرك او كفر كښ دوست وی ليكن كله چه هغه توحيد او سنت طرفته راشی نو بيا ئے اول دشمن شی، رشتيا چه د اكثرو انسانانو حق نهٔ دے خوښ)

نو هلك راوستے شو، بادشاه ورته وويل چه اے هلكه ! ستا جادو اُوس دومره حد پورے ورسيدو چه تهٔ مورزاډی ړوند او برگی مرض والا رغوے او داسے داسے كارونه كوے۔ نو هغه وويل : (دا خو جادو نهٔ دے بلكه دا يو كرامت دے چه ما ته الله تعالیٰ راكړيدے)

زهٔ هيچا ته شفاء نشم وركولے، شفاء خو صرف الله وركوی، نو هغه ئے راونيولو او ريمانډئے وركړو تردے چه هغه راهب وخودو نو راهب راوستے شو۔ هغه ته ئے وويل چه د خپل دين نه واوړه، هغه انكار وكړو نو آره ئے راوغوښته او د هغه د سر په مينځ كښ ئے كيخوده او هغه ئے دوه ټكړے كړو، بيا د بادشاه دوست هم راوستے شو هغه سره هم دغه خبرے وشوے او هغه هم دوه ټكړے كړے شو،

بيا هلك راوستے شو، هغهٔ ته ئے وويل : د خپل دين نه واوړه نو هغهٔ هم انكار وكړو۔ نو دائے خپلو خاصو فوجيانو ته وركړو

(چه د بعض روايتو نه معلوميږی چه پنځه سوه كسان وو) چه دا فلانی غر ته بوځئ او غر ته ئے وخيژوئ كله چه تاسو ته سر ته وخيژولو نو كه د خپل دين نه واپس شو صحيح ده، او كه واپس نشو نو خكته ئے گوزار كړئ۔ دے ئے غر ته وخيژولو نو دهٔ دعاء وكړه [اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِمَا شِئْتَ] اے الله ! تهٔ زما د دوی نه كافی شه په كوم عذاب چه ستا خوښه وی۔ نو غر باندے زلزله راغلل، هغوی ټول ترے راپريوتل او دے راروان شو بادشاه خواته راغے، بادشاه ورته وويل :

(مَا فَعَلَ اَصْحَابُكَ ؟)

ستا ملگرو څه وكړل؟ هغه وويل : الله زما دپاره د هغوی نه كافی شو۔ نو خپلو نورو ملگرو ته ئے وركړو چه دا بوځئ او په يوه كشتئ كښ ئے كينوئ او د درياب مينځ ته ئے بوځئ، كه د دين نه واړيدو صحيح ده، او كه نهٔ وی نو درياب ته ئے وغورزوئ، نو هغه هلته هم دغه ښيرے وكړے۔ كشتئ په هغوی باندے واوړيده، ټول غرق شو او دے

بادشاه خوا ته بیا راغے، بادشاه ووئیل : ستا ملګرو څه وکړل؟ دهٔ ووئیل : الله تعالیٰ زما دپاره د هغوی نه کافی شو۔

بیائے بادشاه ته ووئیل چه تهٔ ما نشے وژلے تردے چه هغه کار وکړے چه زهٔ پرے تا ته حکم وکړم، هغه ووئیل : هغه څه دی؟ وے ویل : تهٔ به خلق په یو میدان کښې راجمع کړے، او ما به د کجورے په یوے تنه باندے وخیژوے، بیا به زما د غاړه کئ (تیرکش) نه یو غشے راواخلے، او په لینده کښې به ئے کیږدے، بیا به داسے ووائے :

(بِسْمِ اللّٰهِ رَبِّ الْغُلَامِ)

بیا به ما وولے، نو کله چه تا داسے وکړل نو ما به ووژنے۔

(دے بادشاه خوا ته بار بار راغلو او هجرت ئے ونکړو د وجه د یو خاص حکمت نه)

(بادشاه ډیر احمق جاهل وو چه دے ته ئے نهٔ کتل چه زهٔ دا کوم شخص وژنم، دومره کرامات ورته الله تعالیٰ ورکړیدی، معلومیږی چه دهٔ پسے شا ته یو غیبی قوت شته چه هغه د الله تعالیٰ قوت دے، د فرعون په شان جاهل وو چه دے ته ئے نهٔ کتل چه دریاب چا ته کولاؤ شو او داسے ودریدو، آیا دریاب کله داسے ودریدے شی؟!)

نو بادشاه خلق په یو میدان کښې راجمعه کړل او دے ئے د کجورے تنے ته وخیژولو بیائے د هغه د غاړه کئ نه غشے راخستو سره بِسْمِ اللّٰهِ رَبِّ الْغُلَام ووئیلو، او بیائے پرے هغه په څنړه (مخ) باندے ویشتو نو هغهٔ په څنړه لاس کیخودو او شهید شو۔

(روایاتو کښې راغلی دی چه د سیدنا عمر فاروق ﷺ په دور خلافت کښې هلته چا کنده ویستله نو دا شخص چه عبد الله بن تامر نوم ئے وو راوخکلے شو او لاس ئے په هغه څنړه باندے ایخوډے وو او وینه ترے بهیدله)

کله چه خلقو دا اولیدل نو په یو آواز سره ئے ووئیل چه مونږ ددے هلك په رب باندے ایمان راوړو۔ (او همدا مقصد ددے هلك وو چه ځان ئے د الله تعالیٰ په توحید باندے قربان کړو او خلقو ته دعوت وشو)

نو بادشاه ته خبر راغے چه تهٔ د کومے خبرے نه یریدے قسم په الله چه هغه یقیناً واقع شو، ټولو خلقو ایمان راوړو۔ بادشاه چه کله ولیدل چه خلق ډلے ډلے ایمان راوړی، نو هغهٔ حکم وکړو چه د کوڅو او لارو په سرونو کښې ډیرے ډوغلونه جوړ کړے شی، او د اُور نه ډیرے بل کړے شی، بیائے ټول خلق د هغے خواته راجمع کړل، او دا ئے ووئیل چه څوك د خپل

دین توحید نه نهٔ آوړی نو هغه دے کندو ته ننباسئ او په اُورئے وسیزئ نو خلق به راتلل او دوی به ته ترے اقرارونه اخستل لیکن هغوی به د ایمان نه نهٔ آوړیدل او دوی به دغه کندو ته ګوزارل، پدے کښې یوه زنانه راغله ماشوم ورسره وو، هغے ته ئے وویل ایمان پریږده، هغې وویل : نهٔ ئے پریږدم، ورته ئے وویل چه ماشوم درله ګوزاروـ نو دا نزدے وه چه روستو شوے وے لیکن ماشوم ورته (کرامةً) آواز وکړو :

[يَا أُمَّهُ اِصْبِرِیْ فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ]

اے مورے ! صبر وکه، یقیناً تهٔ په حق باندے ئے۔

صهیب ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ ﴿ قُتِلَ أَصۡحَابُ ٱلۡأُخۡدُودِ ﴾ نه تر ﴿ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ﴾ پورے تلاوت کړو، او وے وئیل چه په دے آیتونو کښې همدا واقعه بیان شوے۔

او بعض مفسرینو لیکلی دی : د ربیع بن انسؓ وینا ده چه هغه اُور د خندق نه را اُوچت شو، او دا کافران ئے په هغه ساعت کښې ټول وسیزل او مړهٔ شول (مګر دا خبره په مرفوع حدیث کښې نشته)۔ تاریخی روایت دے۔

صاحب د الرحیق المختوم وغیره لیکی : چه ددے بادشاه نوم ذو نواس وو، او دا په یهودیت باندے روان وو، او دهٔ مؤمنان موحدین د شلو زرو نه تر څلویښتو زرو پورے پدے کندو کښې وغورزول۔ او لوی ظلم او بربریت ئے وکړو چه ماشومان او بوډاګانو او د زنانو او سړو فرق ئے نهٔ کولو۔ او دا کار په (۵۲۳ء) اکتوبر میاشت کښې شوے وو۔

او دا کار د یمن په یوه علاقه کښې چه نجران ئے نوم وو واقع شوے وو چه اُوس دا علاقه د سعودی حکومت په جنوبی طرف کښې یوه صوبه ده چه دے ته صوبه عسیر (وادی عسیر) وائی، او دا د اَبْهَا نه تقریباً (۲۷۰) کیلو میټره جدا ده۔ او د مکے جنوب مشرقی طرفته دے، د مکے نه (۹۱۰) کیلو میټره وړاندے دے۔

او زهٔ (ابوزهیر) د ملګرو سره خپله دغه اخدود ته ورغلو، په سنه (۲۰۱۲ء) کښې او هلته مو په دغه میدان کښې په شړو باندے د قلعه خوا ته د مازیګر مونځ وکړو، او دغه کندے مو ولیدے، او د بادشاه ذو نواس لویه قلعه مو ولیده چه په هغے کښې پنځه ویشت واړه واړه کورونه وو، چه هغه وران شوی وو، چهتونه ئے نهٔ وو، صرف دیوالونه بعض ولاړ او بعض پریوتی وو، د ګټو دیوالونه وو، او ډیره همواره علاقه وه۔

د دغه علاقے نه یو کنډه تار د حفاظت دپاره تاؤ شوے وو، او اخوا غاړے ته د غرهٔ په غاړه

کښې نوې علاقه جوړه شويده. او د اُخدودو په خوا کښې سعودي حکومت يو عجائب گهر جوړ کړيدے چه په هغے کښې د پخوانئ زمانے آثار، تورے، لوښي، سکے او مرتبانونه وغيره موجود وو. او د بعض ملگرو د وينا مطابق هلته کښې مونږ يو مسجد وليدو چه د صحابه کرامو د زمانے نه پاتے وو، مگر د هغے چهت نهٔ وو.

فائده : امام قرطبیؒ ليکلي دي چه پدے واقعه کښې ددے اُمت دعوت کونکو لره عبرت دے چه په بيان د حق کښې ډيے کلك شي، او د دغه ځوان په شان تکليفونه او مصيبتونه ډيے په ځان تير کړي تردے پورے چه هغه خپل سر هم په لار د الله تعالیٰ کښې قربان کړي. اَللّٰهُمَّ ابْذُلْ اَبْدَانَنَا وَاَمْوَالَنَا وَاَعْمَارَنَا فِيْ خِدْمَةِ دِيْنِكَ الْقَوِيْمِ، آمين.

فائده : مفسرين ليکي چه دا سورت په مکي دور کښې د نبي کريم ﷺ او د صحابهٔ کرامو د همت زياتولو او هغوئ ته د صبر د تعليم ورکولو دپاره نازل شوے وو، چه لکه څنگه چه په تيره شوے زمانه کښې د ډوغلونو والو په ظلم او زياتي باندے د دغه زمانے مومنانو صبر وکړو، او په اُور کښې ئے سوزيدل برداشت کړل ليکن خپل ايمان ئے د لاسه ورنکړو، دغه شان نبي کريم ﷺ او د هغهٔ صحابو له هم د مکے والو په ظلم او زياتي باندے صبر کول پکار دي، او په خپل ايمان باندے ثابت قدم اوسيدل پکار دي.

او دوئ له دا هم معلومول پکار دي چه د مکے کافران په مسلمانانو باندے د ظلم او زياتي کولو او د بے دردئ په وجه د الله تعالیٰ په نيز د ډوغلونو والو پشان د لعنت مستحق دي.

إِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ
يقيناً هغه کسان چه تکليفونه ئے ورکړيدي مؤمنانو سړو او مؤمنو ښځو ته بيا ئے
لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ﴿۱۰﴾
توبه نهٔ ده ويستلے نو دوی لره عذاب د جهنم دے او دوی لره عذاب د اُور سوزونکی
إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ
دے. يقيناً هغه کسان چه ايمان ئے راوړيدے او عملونه ئے کړيدي نيك دوی لره

جَنَّاتٌ تَجْرِیْ مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ﴿۱۱﴾ إِنَّ بَطْشَ
جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه، دا کامیابی لویه ده۔ یقیناً نیول د
رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ﴿۱۲﴾ إِنَّهُ هُوَ يُبْدِءُ وَيُعِيْدُ ﴿۱۳﴾
رب ستا خامخا سخت دی۔ یقیناً هغه نوے پیدائش کوی او دوباره به ئے کوی۔
وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴿۱٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ﴿۱٥﴾
او هغه ډیره بخنه کونکے، ډیره مینه کونکے دے۔ خاوند د عرش دے شرافت والا۔
فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱٦﴾
کونکے د هغه څه دے چه اراده ئے اُوکړی۔

تفسیر : إِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوْا : اُوس د آخرت سزا داسے مجرمانو دپاره بیانیږی۔
یعنی د ډوغلونو والو انجام ئے بیان کړے دے چه هغوئ د الله تعالیٰ هغه نیکان نارینه او زنانه بندګان په اُور کښې واچول چه هغوئ په الله باندے ایمان راوړے وو، که دوئ د خپلو ګناهونو نه توبه نۀ کړه او د اسلام په دائره کښې داخل نشول نو د قیامت په ورځ به د دوئ د کفر په سبب الله تعالیٰ دوئ له د جهنم عذاب ورکوی، او مومنانو لره د سوزولو په سبب به دوئ د اُور په دوچند عذاب کښې ګرفتاروی۔
فَتَنُوا : فتن : سوزولو ته هم وئیلے شی، او عذاب او تکلیف ورکولو ته هم وائی، او په معنیٰ د اړولو سره او ګرځولو سره هم دے۔ یعنی غواړی او کوشش کوی چه مؤمنانو لره د ایمان نه وګرځوی۔
ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا : دے نه معلومیږی چه د کافر په توبے سره ټول ګناهونه معاف کیږی اګرکه د بندګانو حقوق ئے برباد کړی وی۔
ثُمَّ کښې اشاره ده چه که فی الحال توبه ونۀ باسی لیکن د غرغرے نه مخکښې ئے وباسی هم قبوله ده۔
حسن بصریؒ فرمایلی دی چه د الله تعالیٰ دے کرم ته وګورئ چه دشمنان، د الله تعالیٰ اولیاؤ لره په اُور باندے سیزی او الله تعالیٰ ورته د توبے ترغیب ورکوی۔

عَذَابُ جَهَنَّمَ : ۱- یعني د کفر د وجه نه. او عَذَابُ الْحَرِيْقِ د مؤمنانو د سوزولو د وجه نه. ځکه چه جزاء د جنس د عمل نه وي. لکه ربيع بن انسؒ وائي چه په دنيا کښې دوی الله تعالىٰ په همدغه اُور باندے وسوزول.

۲- بعضِ مفسرينو ليکلي دي چه اول به دوئ ته په جهنم کښې د زمهرير يعني د سخت يخوالي په ذريعه عذاب ورکړے کيږي، بيا به د اُور په عذاب کښې اخته کړے شي. نو دواړه مختلف قسم عذابونو ته اشاره شوه.

إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوا: په دے آيتِ کريمه کښې د هغه مومنانو بهترين انجام بيان شوے چه هغوئ په اُور کښې غورزولے شوي وو، او د الله تعالىٰ دا وعده په هر دور کښې د هغهٔ تمامو بندګانو ته شامله ده. يعني دنيا کښې خو به لږه سختنه برداشت کړے، ليکن ستا دپاره لويه کاميابي راروانه ده.

الله تعالىٰ وفرمايل چه کومو خلقو ايمان راوړو اونيك عمل ئے اوکړو، دوئ له به الله سبحانه وتعالىٰ داسے جنتونه ورکړي چه د هغے لاندے به نهرونه بهيږي، او همدا لويه کاميابي ده چه ددے برابره بله هيڅ کاميابي نشي کيدے، ځکه چه دوئ ته به د جهنم نه نجات ملاؤ شي، او جنت ته به داخل کړے شي.

الله تعالىٰ د سورهٔ آل عمران په (۱۸۵) آيت کښې فرمايلي دي :

﴿ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴾

(کوم کس چه د اُور نه اخوا کړے شو او جنت ته داخل کړے شو، هغه کامياب شو، او د دنيا ژوند خو صرف د دهوکے سامان دے).

إِنَّ بَطْشَ: پدے کښې بيا کافرانو ته دهمکي ده، او نبي کريم ﷺ ئے مخاطب کړے دے او فرمايلي ئے دي چه ظالمانو او سرکشانو دپاره ستا د رب نيوکه ډيره زياته سختنه وي.

مفسر ابو السعودؒ ليکي : په دے کښې اشاره ده چه د قريشو کوم مشرکان چه نبي کريم ﷺ او صحابهٔ کرامو ته په ضرر رسولو کښې پيش پيش دي، الله تعالىٰ به د دوئ سختنه نيوکه کوي، ځکه چه د دوئ پشان ظالمانو له الله تعالىٰ ډير زيات سخت عذاب ورکوي، لکه څنګه چه د سورهٔ هود په (۱۰۲) آيت کښې راغلي دي :

﴿ وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴾

(ستا د رب نيوکه دغسے وي کله چه هغه، هغه کلي والا رانيسي چه هغوئ ظالمان

وی، بیشکه د هغهٔ رانیول دردناك او سخت وی)۔
او پدے کښې مؤمن ته تسلی هم ده چه ستا دشمن د الله تعالیٰ نه نشی خلاصیدے۔
بَطْش: حملے او په زور سره رانیولو ته وئیلے شی۔
لَشَدِيْدٌ: یعنی داسے سخت دی چه څوك ئے خلاصولے نشی۔ او تعبیرئے په بطش سره وکړو، یو خو پدے کښې اشاره ده چه د اصحاب الاخدود عذاب ډیر سخت وو۔
دارنګه هغوی به په مؤمنانو حمله کوله او هغوی به ئے رانیول، او په کندو کښې به ئے غورزول، نو الله تعالیٰ فرمايل چه زهٔ به هم تاسو دغه شان راونیسم، ما نه مو څوك نشی خلاصولے۔
إِنَّهُ هُوَ يُبْدِءُ وَيُعِيْدُ : دا د الله تعالیٰ د قدرت دلیل دے، نو اشاره ده چه د الله تعالیٰ ته د ظالمانو رانیول څهٔ لویه خبره نهٔ ده، ځکه چه هغه د بیحده قدرت مالك دے، هغه چه کله هم څهٔ څیز غواړی، د سترګے په رپ سره هغه شے په وجود کښې راځی۔
د هغهٔ د بیحده قدرت د راښکاره کیدو یو ځائے دا هم دے چه هغه د هر یو شئ په اول ځل پیدا کولو باندے قادر دے، او د هغے د هلاکیدو نه پس چه کله هغه غواړی هغه دوباره په وجود کښې راولی، هیڅ یو شے د هغهٔ د مشیت په لاره کښې رکاوټ نشی واقع کیدے۔
جمهور مفسرين د يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ معنیٰ په ابتدائی پیدائش او دوباره پیدائش سره کړیده۔
او ابن جریرؒ دا غوره کړیده چه د يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ معنیٰ دا ده چه هغه په دنیا کښې هم عذاب ورکولے شی، او په آخرت کښې هم چه کله بندګان راواپس کړی۔
او پدے کښې اشاره ده چه کوم ذات په ابتدائی ایجاد او دوباره پیدا کولو باندے قادر وی، نو هغه چه کله حمله کوی او نیوکه کوی نو د هغهٔ حمله او نیوکه به هم بیحده سخته وی۔
وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ: د مخکښې بطش لفظ نه یو وحشت پیدا کیږی چه الله تعالیٰ به حملے کوی او رانیول به کوی، بنده ویریږی نو الله تعالیٰ بیرته دعوت ورکوی چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو ګناهونه معاف کونکے دے، هغهٔ نه سوئ بل هیڅوك ګناهونه نشی معاف کولے، او هغه د خپلو مخلصینو او محبت کونکو بندګانو سره ډیر محبت کونکے دے۔ نو پدے سره خوف او رجاء پیدا شوه۔

او دارنگه حمله په دشمنانو ده، او مغفرت او مودت د دوستانو (مؤمنانو) دپاره دے۔
او د الله تعالیٰ ډیره مینه ده د خپلو مؤمنانو بندګانو سره، نو د ډیرے مینے د وجه نه بنده په مصیبتونو کښې اچوی، چه د هغهٔ تربیت وشی او مرتبے ئے پورته شی، لکه مور او پلار او ډاکټر چه یو ماشوم ته د ډیرے مینے د وجه نه ترخه دوائی ورکوی چه زر جوړ شی۔
الْوَدُودُ: دے کښې فاعلی او مفعولی دواړه معانی کیدے شی، یعنی ډیره مینه کونکے، یا هغه ذات چه د هغهٔ سره مینه کیدے شی، یعنی مینه ورسره پکار ده۔
ذُو الْعَرْشِ : او هغه په عرش باندے مُستوی د دواړو جهانو شهنشاه دے، او هغه د عظمت او لویئ والا دے، او هغه د دواړو جهانو مالك چه څهٔ غواړی کوی ئے، هیڅوك نشته چه د هغهٔ د خوښے په لاره کښې خنډ جوړ شی۔ دے وجے نه هغه چه کله غواړی کافران اوسرکشان هلاکوی، او د خپلو مخلصو بندګانو مدد کوی۔
فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ: صیغه د مبالغے ئے راوړه، د وجه د کثرت د کارونو د هغهٔ نه۔
یا مبالغه کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ دپاره هیڅوك مانع نشته۔
او دا دلیل دے چه په الله تعالیٰ باندے هیڅ شے واجب نهٔ دے۔ څکه چه ټول کارونه د الله په اراده سره کیږی، او د الله اراده آزاده ده۔
او دا هم معلومه شوه چه د بندګانو ټول افعال د الله تعالیٰ مخلوق دی۔

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا
یقیناً راغلے دے تا ته خبر د لښکرو۔ د فرعون او ثمودیانو۔ بلکه هغه کسان چه کفر
فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾
ئے کړیدے په تکذیب کښې مشغوله دی۔ او الله د هر طرف د دوی نه ګیره اچونکے
بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾
دے۔ بلکه دا قرآن لوئی شان (شرافت) والا دے۔ په تختو ساتلے شوو کښې دے۔

تفسیر : اُوس نبی کریم ﷺ له تسلی ورکړے کیږی، او د صبر او استقامت ښودنه

ورته کیږي چه تاسو ته د فرعونیانو او د ثمودیانو عناد او د هغوئ د سرکشئ خبر درکړے شوے دے، او دوئ ته د ورلیږلے شوو رسولانو د صبر او زغملو خبره هم ښودلے شوے ده چه هغوئ هر تکلیف برداشت کړو، او د هغوئ په ثابت قدمئ کښې هیڅ لغزش رانغے. دے وجے نه تهٔ هم د صبر نه کار واخله او زما پیغام خلقو ته اورسوه،

او دا یاد لره چه کوم خلق تا رشتینے نهٔ گڼړي، او په تا ایمان نهٔ راوړي، د هغوئ انجام به د همدغه فرعونیانو او د ثمودیانو غونته هلاکت او بربادي وي.

فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ: یعنی فرعون او د هغهٔ قوم او ثمودیان. او دا دواړه ئے خاص ذکر کړل ځکه چه د دوئ قصه په اهل کتابو او عربو مشرکانو کښې مشهوره وه، نو دا دوه ئے په طریقه د مثال ذکر کړل.

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا: پدے بَل کښې اِضراب دے، دا انتقال دے د مخکنو نه موجوده قریشو کافرانو طرفته. یعنی اے زما نبي ! ستا د قوم کافران د حق په انکار کښې د فرعونیانو او د ثمودیانو نه هم وړاندے تلي دي، چه د قرآن او اسلام په حقانیت باندے د روښانه او واضحو دلائلو راتللو او د فرعونیانو او ثمودیانو د انجام معلومیدو باوجود په خپل کفر او شرك باندے ټینګ ولاړ دي، او هیڅ عبرت او نصیحت نهٔ اخلي.

فِيْ تَكْذِيْبٍ:

اَیْ تَكْذِیْبٍ شَدِیْدٍ لَكَ وَلِمَا جِئْتَ بِهٖ، وَلَمْ یَعْتَبِرُوْا بِمَنْ كَانَ قَبْلَهُمْ مِنَ الْكُفَّارِ.

یعنی ستا او ستا په راوړي دین باندے سخت تکذیب کوي، او د پخوانو کافرانو نه عبرت نهٔ اخلي. (فتح البیان)

وَاللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ: الله تعالیٰ د قریشو کافرانو له نوره دهمکي ورکوي فرمائي چه هغه د دوئ بد عملونه یو یو لیکي، د دوئ هیڅ حرکت او د دوئ هیڅ یو عمل د هغهٔ نه پټ نهٔ دے، دغه خلق په هر حال کښې د هغهٔ په قدرت او قبضه کښې دي، د هغوئ دپاره بل ځائے نشته چه هغے ته د هغهٔ نه اوتښتي، دوئ ئے د هر طرف نه راګیر کړیدي.

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ: (بلکه دا قرآن د ډیر عظمت والا دے)

پدے کښې مقصد د مکے په مشرکانو باندے رد دے چه هغوئ به قرآن کریم ته کله د مخکنو خلقو قیصے، کله د نبي کریم ﷺ له اړخه په الله باندے دروغ تړل، کله شاعر او کله جادوګر وئیلو، او خلق به ئے په هغهٔ باندے د ایمان راوړلو نه بندول.

الله تعالیٰ وفرمایل چه دا قرآن هغه نهٔ دے چه تاسو ددے په باره کښې خبرے کوئ، بلکه دا د الله تعالیٰ نازل کړے یو انتهائی عظیم او شریف کتاب دے چه ددے پشان په دنیا کښې هیڅ یو کتاب نشته، او دا عظیم کتاب په لوحِ محفوظ کښې د شیطانانو او نورو مخلوقاتو د رسیدلو نه محفوظ دے۔

دارنګه ددے بل مطلب دا دے چه پدے کښې تاکید دے د مخکښې خبرے چه مونږ تاسو ته کومه دهمکی درکړه نو دا څه توقے خبرے نهٔ دی بلکه دا د یقینی کتاب چه د لوح محفوظ نه لیکلے شویدے خبرے دی۔ او لوح محفوظ کښې تبدیلی نهٔ راځی نو د الله په کتاب او خبرو کښې هم تبدیلی څوک نشی راوستے، نو که څوك دغه خبرے منی او که نهٔ خو دا به پرے خامخا واقع کیږی۔ والله المستعان۔ وبالله التوفیق.

ختم شو تفسیر د سورة البروج په رمضان (٢١) ١٤٣٧ھ موافق : ٢٦/٦/٢٠١٦) یوم الاحد۔ او تصحیح او نظر ثانی ١٦ ذی الحجه یوم السبت۔ (١٧/٩/٢٠١٦)



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۱۷)	(۸۶) سُوۡرَةُ الطَّارِقِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الطارق مکی دے، په دے کښ اوولس آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الطارق

نوم : په اولنی او دویم آیت کښ [الطَّارِق] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے.

د نازلیدو زمانه : دا سورت د تهولو په نیز مکی دے.

ابن مردویهؒ او بیهقیؒ وغیره د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه ﴿وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ﴾ په مکه کښ نازل شوے.

احمدؒ، طبرانیؒ او امام بخاریؒ په خپل (تاریخ) کښ د خالد العدوانیؒ نه روایت کړی دی چه ما رسول الله ﷺ د ثقیف په بازار کښ ولیدو چه هغه په لینده یا امسا باندے ولاړ وو کله چه هغه دوی ته راغلے وو چه د دوی نه ئے مدد طلب کولو نو د هغه نه ئے واوریدل چه ﴿وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ﴾ئے لوستلو، تردے چه هغه ئے ختم کړو هغه وائی :

ما دا په جاهلیت زمانه کښ یاد کړو بیا ما دا په اسلام کښ ولوستلو، هغه وائی :

زهٔ ثقیف قبیلے راوغوښتم چه تا ددے سړی نه څه واوریدل؟ نو ما ورته دا سورت ولوستلو نو د هغوی سره څه کسان د قریشو ووئیل :

مونږ په خپل دے صاحب باندے ښه پوهه یو، که مونږ ته ددهٔ خبرے حقے ښکاره کیدے خامخا به مونږ ددے تابعداری کړے وے.

(احمد فی المسند ٤/٣٣٥) وفی اسناده جهالة عبد الرحمن بن خالد العدوانی)

مناسبت

۱- مخکښ سورت کښې په مخکنو قومونو باندې د عذاب نزول ذکر وو، نو پدې سورت کښې په موجوده منکرینو باندې د عذاب ذکر دې ،سره د مهلت ورکولو نه دوئ ته۔

۲- مخکښ سورت کښې تخویف وو مکذبینو ته نو پدې سورت کښې د دغسې انسان تحقیر او ذلت ذکر کوی۔

۳- په مخکښ سورت کښې اَلْيَوْمِ الْمَوْعُوْد ذکر وو، نو دلته د هغې د اثبات دپاره شواهد او دلائل ذکر کوی۔

٤- په هغه سورت کښې ئې عام بروج (ستوری) ذکر کړیدی، نو دلته د هغې نه یو قسم ستورې ذکر کوی۔

د سورت مقصد

۱- حِفْظُ الْاَعْمَالِ مَعَ جَزَائِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ۔ د بندگانو عملونه نوټ کول او بیا د هغې بدله ورکول په قیامت کښې۔ دارنګه د اعمالو لیکل او بیا په قیامت کښې بنده ته راښکاره کیدل په جزاء او سزا سره۔ (يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ)

ددې دپاره الله تعالیٰ اول کښې دوه قسمونه کړیدی، او دا دوه قسمونه ئې پدې کړیدی چه د انسان حافظ شته۔ بیا د اثبات د آخرت دپاره ئې دلیل راوړیدې ﴿ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴾ سره۔ یعنی ستا عملونه د څه دپاره محفوظ کیږی؟ نو د قیامت په ورځ به تا سره حساب کیږی، قیامت به څنګه راشی، نو فرمائی : (فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ) انسان دِې خپل اصل ته وګوری۔

دوباره ئې بیا قسم کړیدې، او دا قسم دې د قرآن کریم په حقانیت باندې، یعنی د قیامت ورځ هم حقه ده، او جزاء الاعمال هم حق دې، او ددې دپاره ئې قسم په آسمان او په ستوری کړیدې، او بیا ئې قسم په آسمان او په زمکه کړیدې چه قرآن حق دې۔ بیا ئې قرآن او قیامت جمعه کړل۔ چه دا دواړه حق دی، او دا ستوری او آسمانونه او زمکې پرې دلیل دی۔

بيا فرمائي : ليكن بعض خلق لگيا دي د قرآن دشمنى كوى او كوشش كوى، چه دا قرآن مونږ ختم كړو، حال دا چه الله تعالىٰ دے دپاره پيدا كړيدے چه عمل به كوى نو دوى كوشش كوى چه دا د عمل كتاب ختم كړو چه څوك پرے عمل ونكړى،

نو الله فرمائي : دوى ته لږ مهلت وركړه، زهٔ دوى سره گورم، زما د كتاب څنگه مقابلے كوى، او دے ته كيدو نه (مكرونه) جوړوى، قرآن راغلے دے د آخرت د تيارئ دپاره، او بعض خلق لگيا دے ددے مقابله كوى۔ دا د سورت حاصل شو۔

ډير ښكلے مضمون او تقرير پكښ پروت دے۔

۲- زمونږ شيخ محترم (رستمیؒ) ليكى : پدے سورت كښ تخويف دے په نزول د عذاب سره په موجوده منكرينو باندے په (۱۷) آيت كښ۔

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿۱﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا
قسم دے په آسمان او په راتلونكى د شپے باندے۔ او څه پو هه كړے تهٔ چه څه دے
الطَّارِقُ ﴿۲﴾ النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿۳﴾ إِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا
د شپے راتلونكے۔ ستورے دے پړقيدونكے۔ نشته هيڅ يو نفس مگر شته
عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾ فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾
په هغه باندے ساتونكے (د اعمالو)۔ نو اُوِدِے گورى انسان چه د څه نه پيدا شويدے۔
خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ﴿۷﴾
پيدا شويدے د اُوبو توپ وهونكو نه۔ را اُوځى د مينځ د شا او د سينو نه۔
إِنَّهُ عَلٰى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ﴿۸﴾
يقيناً الله تعالىٰ په واپس كولو ددهٔ باندے خامخا قدرت لرونكے دے۔

تفسير : مفسرينو ليكلى دى چه الله تعالىٰ سورتونه د قسم په ذريعه سره شروع كوى، پدے كښ مقصد آوريدونكى له رغبت وركول دى چه كومه خبره ددے قسم نه روستو راځى هغه غور سره واورى، نو دلته هم الله تعالىٰ په آسمان او په روښانه ستورى

(زُحل) یا ثُریّا، یا هر ځلیدونکی ستوری باندے قَسَم خوری، او خلقو ته دا یقین ورکوی چه الله تعالیٰ د هر انسان دپاره یو ساتونکے ملائك مقرر کړے دے چه هغه د هغهٔ د خیر او شر تمام اقوال او اعمال محفوظ کوی او ساتی ئے۔ د هیڅ یو انسان هیڅ یو عمل هم نشی ورك کیدلے۔

وَالطَّارِقِ: طارق د طُروق نه دے، د شپے راتللو ته وائی۔ لکه طارق هغه میلمه ته وائی چه د شپے راشی۔ نو طارق هغه ستورے چه د شپے راتلونکے وی۔

پدے کښ اختلاف دے چه دا یو مُعین ستورے دے او که جنس ستوری مراد دی؟۔

نو بعض وائی چه ددے نه مراد زحل یا ثریا ستورے دے چه دا ډیره رنړا کوی، ځلیږی۔ (جابر بن زیدؒ – نقله ابن عاشورؒ) ۔

❁ بعض وائی : ددے نه مراد هغه ستورے دے چه شیطانان پرے ویشتلے کیږی۔

❁ او قتادهؒ او مجاهدؒ وائی چه ددے نه جنس ستوری مراد دی چه د شپے راخیژی او د ورځے غائب وی۔

❁ په صحاح د جوهری کښ دی : چه طارق د صبا ستورے دے۔ (چه دا د ټولو ستورو نه ډیر روښانه وی)

النَّجْمُ الثَّاقِبُ : ثاقب د ثقب نه دے، سوری کولو ته وائی، نو دا ستورے په رنړا سره ظلمت (تیارے) لره سورے کوی، (قاسمیؒ)

او دارنګه په ویشتلو سره شیطان لره سورے کوی۔

دارنګه عرب ثقب په معنیٰ د ارتفاع او علو سره استعمالوی، لکه ثَقَبَ الطَّائِرُ ۔ یعنی مارغه پورته شو۔

علامه ابن عاشورؒ لیکی چه اَلنَّجْمُ الثَّاقِبُ مفرد راوړل دلیل دے چه دلته خاص ستورے مراد دے۔ او کیدے شی چه ددے نه یو مشهور ستورے مراد وی کوم ته چه طارق وئیلے کیږی۔

إِن كُلُّ نَفْسٍ : دا جواب قسم دے۔ ۱– او اِنْ مُخَفَّفْ مِنَ الْمُثَقَّل دے، اصل کښ (اِنَّهٗ) دے۔ لَمَّا دپاره د تاکید دے۔ ۲– یا اِنْ نافیه دے او لَمَّا په معنیٰ د اِلَّا سره دے۔ او دا تفسیر غوره دے ځکه چه لَمَّا مشدد دے۔

حَافِظٌ : ۱– ددے (ساتونکی) نه مراد جنس د ملائکو دے، یعنی په هر یو نفس باندے

ډیر ملائك مقرر دي چه ددهٔ او ددهٔ د عمل حفاظت کوی، ددهٔ په عملنامو کښې ددهٔ عملونه درج کوی، (حفظه ملائك پرے مقرر دی)

دا ولے مقرر دی؟ دا ددے دپاره چه اے انسانه! ستا عمل ډیر مقصودی شے دے، د الله تعالیٰ په تا کښې همدغه شے خوښ دے، که دا ډِے غلط کړو نو خپلے سزا ته دِے گوره۔

۲- یا د حافظ نه مراد الله تعالیٰ دے چه هغه د هر انسان ساتنه کوی، لکه په سورة یوسف (٦٤) آیت ﴿فَاللّٰهُ خَيْرٌ حَافِظًا﴾ او سورة الانبیاء (٤٢) آیت کښې راغلے دے۔

﴿قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ﴾

(اووایه! تاسو د شپے او د ورځے د رحمن ذات نه علاوه بل څوك ساتی)۔

اول قول غوره دے۔ ځکه چه دلته مقصود د انسان عملونه ساتل دی، دے دپاره چه ددهٔ سره حساب کتاب وشی۔

او ابن عاشورؒ وائی چه دلته مقصد اثبات د آخرت دے، پدے طریقه چه ملائك ولے د عملونو حفاظت کوی ځکه چه پدے سره به حساب کتاب کیږی، دا ددے دپاره چه د انسانانو عملونه مهمل او بیکاره لاړ نشی نو ددے دپاره یوه ورځ راتلل حق دی چه په هغے کښې انسانانو ته د دوئ د ساتلے شوو اعمالو بدلے ورکړے شی۔ (التحریر والتنویر)

د قسم او جواب قسم مناسبت دا دے

۱- چه الله تعالیٰ آسمان محفوظ کړیدے لکه چه فرمایلی ئے دی ﴿وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا﴾ (انبیاء: ۳۲) او په الطارق سره د آسمان حفاظت کوی د شیطانانو نه، نو دارنگه د هر انسان حفاظت کوی پخپله او په واسطه د ملائکو سره، نو معلومه شوه چه د انسانِ پیدائش مُهمل نهٔ دے بلکه دے د الله تعالیٰ په احکامو سره مُکلف دے۔

نو د کائناتو د حفاظت او د انسان د عمل د حفاظت ترمینځ مناسبت دے، یعنی لکه څنگه چه الله تعالیٰ د انسان دپاره آسمان محفوظ کړیدے، او د شیطانانو نه ئے ساتی نو دغه شان ددهٔ عمل هم محفوظ کیږی او بیا به ددهٔ سره حساب کیږی۔

۲- لکه څنگه چه آسمان اُوچت مخلوق دے، او طارق په رڼړا باندے مشتمل دے دپاره د شیطان د دفع کولو، نو دارنگه الله تعالیٰ د انسان د اُوچتوالی او د شیطان نه د حفاظت دپاره کتاب رالیږلے دے۔ بیا هم معلومه شوه چه انسان مهمل نهٔ دے۔

فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ: فاء فصیحیه ده۔ اَیْ اِن ارْتَابَ مُرْتَابٌ فِی الرَّقِیْبِ وَالْحَافِظِ۔
که یو تن شك كوی چه په ما باندے به څوك مقرر وی، نو الله فرمائی چه انسان ډِے خپل پیدائش ته وګوری، او دا فکر ډِے وکړی چه کوم الله تعالیٰ دا د یو ے سپکے منِی د یو ے قطرے نه پیدا کړے دے چه هغه د نارینه د ملا او د زنانه د سینے د مینځ نه را اوځی، هغه یقینًا په دے قادر دے چه دا دوباره ژوندے کړی۔ او په میدانِ محشر کښ ئے جمع کړی او هغهٔ سره د هغهٔ د کړو حساب وکړی۔
❁ دارنګه دا (فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ) په منزله د دلیل دے په هغه دعوه باندے چه په هغے باندے قسم خوړلے شویدے دپاره د زیات تاکید۔ او ددے طریقه دا ده چه د منی څاڅکی ته فکر وکړه چه پدے کښ نهٔ څه تصویر وی او نهٔ پکښ اندامونه وی،
بیا الله تعالیٰ ددے نه یو کامل مخلوق جوړ کړی چه ژوند او عقل او پوهه ور کړی، په زمکه باندے خلافت کوی او نظام چلوی، او هر اندام ته خپل خپل قوت ورکړی، دا ټول کارونه بغیر د حافظ او رقیب نه کیدل ممکن نهٔ دی، دا ضرور معلومه ده چه ددے پسے روستو یو مدبر شته چه هغه دا پروګرامونه کوی او هغه الله تعالیٰ دے۔ نو معلومه شوه چه (ان کل نفس لما علیها حافظ)۔ (قاسمیؒ)
❁ دارنګه دا د اثبات د آخرت دپاره هم دلیل دے۔ نو دلته داسے اُوږده خبره ده چه په تا باندے حافظ مقرر دے، ستا عملونه لیکی، بیا به صبا دا عملونه د الله تعالیٰ مخے ته پیش کیږی، او تا سره به پدے باندے حساب کیږی، نو انسان وائی چه دا به څنګه وشی، د آخرت راتلل ګرانه خبره ده، نو الله فرمائی :
چه خپل پیدائش ته وګوره نو الله تعالیٰ ته بیا ستا دوباره پیدا کول څنګه ګران دی۔
❁ دارنګه دا په مخکنۍ جمله (ان کل نفس) باندے تفریع هم ده، او هغه دا چه هرکله چه تا دا وپیژندل چه هر نفس باندے رقیب او حافظ شته نو بیا په انسان باندے دا واجب ده چه خپل نفس مهمل (بیکاره) نکړی بلکه په خپل پیدائش کښ فکر وکړی او پدے کښ چه ددهٔ ابتداء څنګه وه دے دپاره چه پدے سره دے نتیجے ته ورسیږی چه کوم ذات دے اول ځل پیدا کړو نو هغه قادر دے چه دے به دوباره راژوندے کوی نو دهٔ له پکار ده چه نیك اعمال او اخلاق کلك راونیسی او ددے په وجه د شر د لارے نه جدا شی ځکه چه د الله تعالیٰ سترګه ددهٔ نه په هیڅ حال کښ نهٔ غافله کیږی۔ (محاسن التاویل للقاسمیؒ)

د نظر نه مراد عبرت اخستل او فکر کول دی، ددے وجه نه ئے په صله کښ مِنْ راوړے دے، اِلٰی ئے نۀ دے وئیلے۔

مِمَّ خُلِقَ: اَیْ مِنْ اَیِّ شَیْءٍ خَلَقَهُ اللّٰهُ۔ یعنی د څه نه الله تعالیٰ دۀ لره پیدا کړیدے۔

مِن مَّاء دَافِقٍ: اسم جنس دے ددے نه مراد دوه قسمه اُوبۀ دی۔

دَافِقٍ: په معنیٰ د مَدْفُوق سره دے، یا په معنیٰ د ذُوْ دَفْقٍ سره دے، (یعنی ټوپ والا) او دا ټوپ ددے دپاره وهی چه ځای د حمل ته ځان ورسوی۔

مِن بَيْنِ الصُّلْبِ: د شا د سړی نه راوځی۔ ماده منویه د ټول بدن سره تعلق لری، لیکن مرکز ئے د سړی په شا کښ او د زنانه په سینو کښ وی، د هغه ځای نه راځکلے کیږی، او بیا په خصیتینو کښ پخیږی، دغه ئے لوخی دی۔ او بیا ددے نه بهر ته راوځی۔ نو دلته الله تعالیٰ اصل مرکز ذکر کړیدے۔

بعض وائی : د سړی د سینے او د شا د مینځ نه راوځی، او دا مطلب نۀ دے چه په سینه کښ دننه پرته وی، بلکه ددے دواړو د مینځ نه راروان وی دماغو نه واخله تر هغه ځای پورے، ددے وجه نه څوك چه نطفه ډیره خارجه وی، د هغۀ په ټول بدن باندے اثر کیږی، سر ئے هم وړوکے شی، مخ ئے هم وړوکے شی، بدن ئے هم کمزورے او تپ کیږی، دا وجه ده چه دلته الله تعالیٰ داسے ونۀ وئیل :

(يَخْرُجُ مِنَ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ) بلکه (مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ) یعنی ددے مینځ نه راوځی۔ نو دا دماغو ته هم شامل دے، او ټول بدن ته هم لیکن اکثر اجزاء ئے په دغه ځایونو کښ وی۔ الله تعالیٰ ډیر جامع لفظ وئیلے دے، او دا د قرآن کریم د معجزاتو نه ده۔

علامه قاسمیؒ لیکی چه د آیت مطلب دا دے چه منی په اعتبار د اصل سره وینه ده چه د سړی د شا نه یعنی د شا فقراتو (ملا هډوکی) نه او د هغۀ د سینے د هډوکی ترمینځ اُوږدو نه راوځی، او دغه اُوږد شی ته اَوَرْطِی یا اَبْهَر رګ وائی۔

او دا په جسم کښ لوی شریان (رګ) دے چه د زړۀ نه راوځی د ترائبو نه شا ته او تقریباً د صلب (شا) آخر پورے اُوږدیږی، او د هغے نه بیا ډیر شرایین راوځی چه د هغے نه دوه شریانه اُوږده وی روستو د شریاناتو د ګردو نه۔ او دا دواړه د خیټے لاندے حصے ته را کوزیږی تردے چه خصیتینو ته ورسیږی، یا د منی شریانینو ته ورسیږی۔

نو ځکه الله تعالیٰ (مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ) ووئیلو، یعنی د هغه مکان نه چه مینځ د

صلب او د ترائب دے چه هغه اوږطي او ابهر رګ دے۔

او دا آیت ددے تفسیر په بناء د قرآن کریم د عِلمي معجزاتو نه شمارلے کیږي او دا قول ډیر غوره او باریك دے په نسبت د مخکني تفسیر انتهیٰ۔

بیا هرکله چه مني د ټول بدن سره تعلق لري، نو شریعت پدے وجه ددے نه د ټول بدن غسل لازم کړو۔

او ددے تحقیق نه د بعض ډاکټرانو او طبیبانو د اشکال جواب وشو چه مني خو د دماغو نه یا د دغه شریاناتو نه راوځي۔

وَالتَّرَائِبِ : دا جمع د تَرِيبَةٌ ده، زجاج وائي چه ترائب څلور پوښتئ دی د خی طرف د سینے نه او څلور پوښتئ دی د ګس طرف د سینے نه۔ آه۔

او مراد ددینه د زنانه ترائب دی۔ او دا د اکثرو مفسرینو قول دے،

او بعضو وئیلی دی چه ددے نه مراد د سړي ترائب دی۔ لیکن دا قول شاذ دے۔

بعض وائي : ترائب د دوه سینو مینځ دے۔

إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ : (ه) ضمیر الله ته راجع دے، او د رَجْعِهِ ضمیر انسان ته۔ او د رجع نه مراد دوباره ژوندی کول دی، او الله تعالیٰ ته واپس کول دی۔ او دا نتیجه د مخکني دلیل ده۔ یعني هرکله چه الله تعالیٰ په دنیا کښ بنده او د هغهٔ ټول اعمال ساتلي دی، نو دغه ذات یقیناً ددهٔ په دوباره ژوندی کولو هم قادر دے چه خپل ځان ته ئے واپس کړي او خپلے مخے ته ئے ودروي۔

بعض مفسرینو د رَجْعِهِ ضمیر مخکښ (مَاء) ته راجع کړیدے، اَیْ عَلٰی رَجْعِهٖ فِي الْإِحْلِيلِ۔ یعنی الله تعالیٰ پدے قادر دے چه دا انسان بیرته اُوبهٔ کړي او د سړي په ذکر کښ ئے ننباسي۔ الله تعالیٰ بیشکه پدے قادر دے، لیکن دلته دا معنیٰ بعیده ده۔ ځکه چه قرآن کریم کښ همیشه دا خبره ذکر کیږي چه نطفه او بیا انسان او بیا آخرت ته تلل دی۔ لکه څنګه چه د رَحِم نه راوتے دے نو دغه شان به د قبر نه هم راوځي۔

دا استدلال قرآن کښ زیات دے۔

نو معلومه شوه چه اے انسانه ! الله تعالیٰ چه ستا په خدمت کښ ملائك لګیا کړیدی او ستا عملونه نوټ کوي، بیا به ډِے الله ته پیشي وی نو د خپلو عملونو حفاظت ډِے وکړه، ددے نه ستا خلاصے نشته، ستا هره خبره او هر عمل نهٔ ضائع کیږي۔

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُ مِن قُوَّةٍ وَلَا
په هغه ورځ چه راښکاره به شي رازونه۔ نو نۀ به وي دۀ لره هيڅ طاقت او نۀ
نَاصِرٍ ﴿١٠﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾
مدد کونکے۔ قسم دے په آسمان راګرځيدونکی۔(يا : چه خاوند د باران دے)
وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾
او قسم دے په زمکه چه چودونکے ده۔ چه يقيناً دا خامخا وينا ده مضبوطه
وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ
(رشتينی)۔ او نۀ ده دا ټوقے۔ يقيناً دوی چلونه کوی چلونه۔ او زۀ تدبير کوم
كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾
په تدبير سره۔ نو مهلت ورکړه کافرانو لره، مهلت ورکړه دوی ته لږه موده۔

تفسير :يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ : دا ظرف دے د رَجْعِهٖ دپاره۔ يا اُذْكُرْ لفظ پټ دے، او د يوم نه مراد د قيامت ورځ ده۔

مطلب دا دے چه دا ژوندی کيدل او را پورته کيدل او د اعمالو حساب او کتاب به په هغه ورځ وی کله چه د زړونو ټولے پټے خبرے راښکاره کړے شي، د خلقو صحيح او غلطے عقيدے او نيتونه ښکاره مخے ته راشي۔ او کافر انسان سره نۀ خپله څۀ قوت وی چه د هغے په ذريعه د الله تعالیٰ عذاب لرے کړی، او نۀ د هغۀ کوم مددګار وی چه را وړاندے شي او هغۀ له د عذاب نه نجات ورکړی، ددۀ بے وسی به آخر سرته رسيدلے وی، او په انتهائي کمزورئ کښ به خپل بد انجام په خپلو سترګو سره وينی۔

مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ : يعنی نۀ به ئے خپل طاقت وی او نۀ د بل چا طاقت وی، چه دے د عذاب نه خلاص کړی۔ د قوت نه مراد د بدن او د مال طاقت دے، او د ناصر نه مراد دا دے چه د قبيلے او د اولياؤ او باباګانو او باطلو معبودانو قوت به نۀ وی۔

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ: پدے آيتونو کښ الله تعالیٰ د قرآن کريم د رشتين والی او

حقانیت دپاره په هغه آسمان باندے قسَم خوړلے چه د هغے نه هغه د انسانانو او د نورو حیواناتو دَژوند او بقاء دپاره باران رالیږی، او په هغه زمکه ئے قسَم خوړلے چه په هغے کښې هغه قِسما قِسم بوټی زرغونوی۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه بیشکه قرآن کریم د هغهٔ کلام دے چه دا د حق او باطل ترمینځه فرق راولی، او سرِ عام اعلان کوی چه د الله تعالیٰ نه سویٰ هیڅوك د بندګئ لائق نشته، او محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے، او قیامت راتلل یقینی خبره ده۔

الرَّجْعِ: (۱) رجع د آسمان حرکت ته هم وائی چه د یو ځای نه چورلی او بیرته هغه ځای باندے راتاویږی۔

(۲) دارنګه رجع باران ته وائی چه دا د آسمان نه بار بار راواپس کیږی۔ (زجاجؒ)

(۳) ابن زیدؒ وائی: نمر او سپوږمئ او ستوری چه په آسمان کښې خپلو اماکنو ته واپس کیږی، د یو طرف نه راخیژی او په بل طرف غائبیږی۔

(٤) ذَاتِ رُجُوعِ الْمَلَائِکَةِ ۔ یعنی هغه آسمان چه د ملائکو د واپس کیدو والا دے، ځکه چه دوی د بندګانو اعمال الله تعالیٰ ته واپس کوی۔

دویمه معنیٰ د اکثرو مفسرینو ده۔

ذَاتِ الصَّدْعِ: چودو والا ده چه د هغے نه بوټی او معدنیات او چینے او اُوبهٔ راوځی۔

إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ: دا جواب قسم دے او اِنَّهٗ ضمیر قرآن ته راجع دے۔

فَصْلٌ: اَیْ جِدٌّ۔ یعنی رشتینی او پخه خبره ده۔ یا حقه وینا ده۔ (ابن عباس رضی الله عنه)

مناسبت دا دے چه د آسمان نه بارانونه کیږی، او د زمکے نه ګیا هګانے راټوکیږی، نو دغه شان الله تعالیٰ قرآن کریم د آسمان نه نازل کړو لکه د باران په شان صفا او فائده مند کتاب دے، نو په انسانانو کښې ئے ښائسته صفات پیدا کړل۔ لکه ﴿وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا﴾

یعنی باران کښې ښکلے بوټی او ګنده بوټی او ازغی پیدا کیږی نو د قرآن په نازلیدو سره هم چا کښې ډیر مزیدار صفات او کمالات پیدا شی او د چا نفس چه خراب وی نو هغه کښې ګنده صفتونه راشی۔ څوك نیك عمله شی او څوك کافر او بد عمله شی۔

وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ: د زیاتی تاکید په طور الله تعالیٰ وفرمایل چه دا قرآن څهٔ باطل او لغو کلام نهٔ دے چه ددے څهٔ غرض او حکمت نهٔ وی۔

هَزْلِ: باطل، او لعب او هر هغه شے چه د هغے حقيقت نهٔ وی۔
نو دا مقابل د فصل دے۔
إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْداً: الله تعالىٰ د قريشو د كافرانو په باره كښې وفرمايل كومو به چه قرآن كريم دروغژن گنړلو، او د نبى كريم ﷺ او د هغهٔ د دعوت په خِلاف به ئے سازشونه كول، چه دا خلق د الله تعالىٰ د دين خِلاف سازشونه كوى، او په پوكو سره ددے ډيوه مړه كول غواړى نو ځان دے خبر كړى چه الله تعالىٰ هم د دوئ خلاف تدبير كوى، او جهنم ته د رسولو دپاره ئے د دوئ پړے په دوئ ورسست كړے دے، دے دپاره چه په كفر او گناه كښې آخرى حدونو ته اورسى۔
دے وجے نه اے زما نبى ! تهٔ دوئ په خپل حال پريده، او د دوئ د عذاب دپاره تادى مهٔ كوه، دوئ له لږ شان مهلت وركړه، آخر به دوئ خپل بد انجام ته اورسى۔
الله تعالىٰ د سورۂ المجادله په (۲۱) آيت كښې فرمايلى دى :
﴿ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴾
(الله ليكلى دى چه زهٔ او زما رسولان به غالبه وى، يقيناً الله قوت والا، زورور دے)۔
چنانچه تاريخ گواه دے چه الله تعالىٰ د خپل رسول سره كړے وعده پوره كړه، كله چه رسول الله ﷺ د مكے نه هجرت وكړو نو په كافرانو باندے لړزان شروع شو،
او په يو څو كاله كښې دننه ئے د مكے نه كفر او شرك ختم كړو، تمام بتان ئے د هغه ځى نه اوخكل او هلته صرف د يو الله تعالىٰ بندگى شروع شوه۔
يَكِيدُونَ كَيْداً : يعنى دوى مكرونه كوى مكرونه كول دپاره د مقابلے د قرآن چه دا قرآن مونږ ختمو چه ولے دا آخرت طرفته دعوت وركوى او د الله بندگئ ته خلق رابلى۔
وَأَكِيدُ كَيْداً : يعنى زهٔ تدبير جوړوم د دوئ د هلاكت دپاره په مضبوط تدبير سره۔
فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ: سوال پيدا شو چه الله تعالىٰ به دوى لره كله هلاكوى؟
نو الله تعالىٰ فرمائى چه وخت ئے نزدے دے، اُوس ورله لږه موده مهلت وركړه چه د دوئ گناهونه نور هم زيات شى، او د الله تعالىٰ د لوى عذاب مستحق جوړ شى۔
أَمْهِلْهُمْ : د مهلت مطلب دا چه تهٔ ورته ښيرے مهٔ كوه چه اے الله ! دوى اُوس هلاك كړه۔ د مهلت معنىٰ ده : انتظار كول او يو كار په آرام سره كول۔
رُوَيْداً: دا خپله په معنىٰ د مهلت وركولو ده۔

لیـکـن چـه کـلـه ورسره د مهلت لفظ ذکر شی نو بیا ئے معنیٰ د (قَلِیْلًا) وی۔ یعنی لږه موده۔

ابو عبیدۃؒ وائی : روید تصغیر د رَوْدٌ دے په معنیٰ د مهلت سره۔

او روید کله اسم فعل استعمالیږی لکه رُوَیْدَ زَیْدًا۔ اَیْ اَمْهِلْهُ۔ یعنی مهلت ورکړه۔

او کله حال استعمالیږی لکه سَارَ الْقَوْمُ رُوَیْدًا، اَیْ مُتَمَهِّلِیْنَ۔

یعنی قوم لاړل په آرام سره۔

وبالله التوفیق.

ختم شو تفسیر د سورة الطارق په مدد ناصر او رحیم سره۔



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (۱۹)	(۸۷) سُوۡرَةُ الۡاَعۡلٰی مَکِّیَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الأعلیٰ مکی دے، په دے کښې نولس آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الاعلیٰ

نوم : په اولنی آیت کښې [الأعلیٰ] لفظ راغلے، چه دا د الله تعالیٰ صفت دے۔ همدا ددے سورت نوم کیښودلے شوے۔ بل نوم ئے سورة سَبِّحْ هم دے۔

د نازلیدو زمانه : د جمهورو مفسرینو په نیز دا مکی دے۔ حافظ ابن کثیرؒ لیکلی دی : ددے د مکی کیدو دلیل د براء بن عازب ﷺ حدیث دے چه هغه بخاری روایت کړے، چه کله نبی کریم ﷺ مدینے ته راغے :

[فَمَا رَأَیۡتُ أَهۡلَ الۡمَدِیۡنَةِ فَرِحُوۡا بِشَیۡءٍ فَرَحَهُمۡ بِهٖ حَتّٰی رَأَیۡتُ الۡوَلَائِدَ وَالصِّبۡیَانَ یَقُوۡلُوۡنَ هٰذَا رَسُوۡلُ اللّٰهِ قَدۡ جَاءَ فَمَا جَاءَ حَتّٰی قَرَأۡتُ ﴿ سَبِّحِ اسۡمَ رَبِّكَ الۡأَعۡلٰی ﴾ فِیۡ سُوَرٍ مِثۡلِهَا]

نو اهلِ مدینه د هغۀ په راتګ دومره خوشحاله شو چه ددے نه مخکښې په هیڅ خبره دومره نۀ وو خوشحاله شوی، تردے چه ما د وړو وړو ماشومانو نه دا وینا واوریده چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو۔ هغه لا نۀ وو راغلے تردے چه ما ﴿سَبِّحِ اسۡمَ رَبِّكَ الۡأَعۡلٰی﴾ او ددے پشان نور سورتونه لوستلی وو۔ (بخاری : ٤٩٤١) (٤٩٩٥)

په مسند احمد کښې د علی ﷺ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به دا سورت ډیر خوښولو۔ (ځکه چه پدے کښې هغه ته ډیر زیری ذکر شویدی)۔ (احمد : ٧٤٢) اسناده ضعیف)

او په صحیح مسلمؒ کښې د نعمان بن بشیر ﷺ نه نقل دی چه نبی کریم ﷺ به د دواړو اَخترونو او جُمعے په ورځ ﴿ سَبِّحِ اسۡمَ رَبِّكَ الۡأَعۡلٰی ﴾ او ﴿ هَلۡ أَتَاكَ حَدِیۡثُ الۡغَاشِیَةِ ﴾ لوستل۔ اوکه چرے اختر او جُمعه به په یوه ورځ راغلل نو همدا به ئے په دواړو کښې

لوستل۔ (مسلم: ۲۰۶۵)

او ابـوداوُدٌ، نسـائـیؒ، ترمذیؒ او ابن ماجہؒ وغیره د اُبی بن کعب او عائشے رضی الله عنهما نـه روایت کړی دی چه نبی کریم ﷺ بـه په وترو کښ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلىٰ﴾ او ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ او ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ لوستلو۔ (ترمذی: ٤٦٢) اسناده صحيح)

مناسبت

۱- مخکښ سورت کښ ئے ووئیل چه دوی ته مهلت ورکړه نو دلته وائی چه په وخت د مهلـت کـښ د الله تسبيـحات وايه، او قرآن بيانوه چه په دوئ باندے حجت قائميږی او د الله تعالىٰ مدد رارسيږی۔

۲- مخکښ سورت کښ تخويف ذکر شو نو دلته د عذاب نه د نجات طريقه ذکر ده۔

۳- مـخـکـښ ئے د انسـان خـلـق او حـفـاظـت ذکر کړو نو دلتـه د هغهٔ تسويه، تقدير او هدايت ذکر کوی۔

٤- مـخـکـښ ئے ووئیل چه اے انسانه ! په تا باندے حافظ مقرر دے نو دلته وائی چه ددهٔ حـافـظ دپاره تیاری وکړه، خپل نفس د الله په بندګئ او ذکر اذکار باندے پاك کړه او د دغه حافظ لحاظ وساته۔

د سورت مقصد

د سورت موضوع ده تَزْكِيَةُ النَّفْسِ بِذِكْرِ اللّٰهِ وَبِكِتَابِ اللّٰهِ وَبِسُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَبِالْعِبَادَاتِ۔

د خپـل ځان پـاکـول د الله په ذکر او د الله په کتاب لوستلو او د رسول الله ﷺ د سنتو په تابعدارئ (چه هغے ته به غوږ اږدی) او د الله په بندګی کولو سره۔

او د تزکيه دوه اسباب، يو اَلزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا (دنيا کښ بے رغبتی) او دويم خَشْيَةُ اللهِ۔ د الله نـه يره پيـدا کـړے۔ نـو بيا ددے برعکس خبره کوی چه څوك د الله تعالىٰ نه نهٔ يريږی نو هغـوی قـرآن نـهٔ وائـی، د الله تعالىٰ ذکر نهٔ کوی، هغوی د نفس تزکيه نهٔ کوی، ځکه ئے دنيا غوره کړيده۔

اول کـښ الله تـعـالـىٰ امر کړيدے په خپله تسبيح باندے۔ بيا د الله تعالىٰ د تعارف دلائل بيان شويدی۔ بيا نبی کريم ﷺ ته الله تعالىٰ دوه زيری ورکړيدی (سَنُقْرِئُكَ) (وَنُيَسِّرُكَ)۔

بيـا د هـغـهٔ يوه ذمه واری مقرر شويده چه هغه تذکير دے، بيا مخاطبين دوه قسمه دیٔ

يو يرے والا نو دوى به د نصيحت نه فائده اخلى او بل بدبخته دى، نو دوى به فائده نهٔ اخلى۔ او د هغوى سزا الله تعالىٰ بيان كړيده، بيا د خشيت والو صفات ئے راوړيدى، تزكية النفس، د الله ذكر، او مونځ۔ او د تزكيهٔ نفس سبب ئے خودلے دے چه هغه د دنيا سره محبت نهٔ كول دى۔ ځكه چه د دنيا سره مينه لرى نو هغه د نفس تزكيه نشى كولے۔

ابن عاشورؒ وائى : ددے سورت اغراض دا دى :

د الله تنزيه (پاكى بيانول)، او د الله تعالىٰ وحدانيت ته اشاره كول ځكه چه همدغه الله تعالىٰ يو اځے انسان او د زمكے څيزونه ددهٔ دپاره پيدا كړيدى۔ او دے كښ تائيد (صدق) د رسول الله ﷺ دے او د هغهٔ د وحى په اخستو باندے مضبوطول مقصد دے۔

او دا چه الله تعالىٰ به دهٔ ته يو داسے مزيدار آسان شريعت او كتاب وركوى چه پدے سره به پاك نفسونه نصيحت اخلى كوم چه د خپل رب نه يريږى۔ او د دوى نه به هغه بد بخته خلق اعراض كوى چه دنيا غوره كوى او د هميشه ژوند هيڅ باك نهٔ لرى۔

او دا چه دے نبى ته كومه وحى كيږى نو ددے تصديق د پخوانو رسولانو كتابونه كوى او پدے ټولو كښ تسلى ده رسول الله ﷺ ته چه د مشركانو په اعراض باندے خفګان مهٔ كوه۔ (التحرير والتنوير)

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٢﴾
پاكى وايه د نوم د رب خپل چه اُوچت دے۔ هغه ذات چه پيدائش ئے كړيدے نو برابر
وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدٰى ﴿٣﴾ وَالَّذِي
كړيدے۔ او هغه ذات دے چه اندازه ئے كړيده نو هدايت ئے كړيدے۔ او هغه ذات دے
أَخْرَجَ الْمَرْعٰى ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُ غُثَآءً أَحْوٰى ﴿٥﴾
چه راويستلے ئے ده ګياه دپاره د څريدو۔ نو ګرځولے ئے دى هغه خشاك تور۔

تفسير : سَبِّحِ : دا امر رسول الله ﷺ ته دے چه د الله تعالىٰ پاكى بيان كړى، نو پدے كښ اشاره ده چه تا ته به روستو خير او زيرے دركړے كيږى۔

نو پدے کښې براعة الاستهلال دے۔(ابن عاشورؒ)
او بیا دا حکم امت ته هم دے، پدے وجه کله چه دا آیت نازل شو رسول الله ﷺ وفرمایل : (اِجْعَلُوْهَا فِيْ سُجُوْدِكُمْ)۔ تاسو دا په سجده کښې وایئ۔ (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى)۔
(ابوداود : ٨٦٩) وابن ماجه (٨٨٧) اسناده صحيح)
ددے تسبیح یوه معنیٰ دا ده چه الله پاك ګڼړه د شریکانو او د هر قسم عیبونو نه۔
دارنګه پاکی وایه په ژبه سره، او پاکی بیانوه په دعوت او تبلیغ سره۔
یعنی خلقو ته د الله تعالیٰ د پاکئ دعوت ورکړه چه هغه د شریکانو، ولد او ښځے او عیب او احتیاج او عجز نه پاك دے۔
الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ او د هغهٔ امت ته حکم ورکوی چه دوئ د خپل رب پاکی بیان کړی، اعلان وکړی چه الله تعالیٰ د اولاد، ښځے او هر شریك نه پاك دے، د هغهٔ څوك برخه دار نشته، او نهٔ د هغهٔ څوك همنامے شته۔ د هغهٔ نوم ډیے په کوم ګنده ځی کښې وانهٔ خستے شی، او کله چه هم د هغهٔ نوم واخستے شی نو ډیر اجلال او احترام سره، ځکه چه هغه د خپل تمام مخلوق نه اعلیٰ او اوچت دے. او ټول د هغهٔ نه لاندے دی۔
هغه په هر شئ قادر او غالب دے، او په ټولو باندے د هغهٔ حکم نافذ دے۔
د سورة الصافات په (١٨٠) آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی :
﴿سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ﴾
اے زما نبی ! ستا رب چه ډیر زیات عزت والا دے، هغه د هرے هغه خبرے نه پاك دے چه مشرکانِ ئے د هغهٔ په باره کښې بیانوی)۔
اِسْمَ رَبِّكَ: (١) دلته اسم عین مسمیٰ ده یعنی پاکی د رب وایه۔
قاسمیؒ ددے نکته دا ذکر کړیده چه کله یو ذات په یو ډیر لوی عظمت او اوچت شان کښې وی، نو ډیر کرته د تفخیم او د تعظیم الفاظ د هغهٔ نوم ته نسبت کیږی لکه وئیلے شی (سَبِّحِ اِسْمَهٗ وَمَجِّدْ ذِكْرَهٗ) لکه وئیلے شی (سَلَامٌ عَلَى الْمَجْلِسِ الْعَالِيْ)۔
بله وجه دا ده چه حق تعالیٰ په ښکلے نومونو سره پیژندلے کیږی، ځکه چه دا محاله ده چه د هغهٔ د ذات تصور وکړے شی، نو ددے تنبیه دپاره ئے لفظ د اسم زیات راوړو۔
او ددے تائید دا دے چه کله به نبی کریم ﷺ او صحابه کرامؓ دا آیت لوستلو نو هغوی به داسے وئیل (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى) کما رواه ابن جریر وغیره۔

او بعضو وئیلي دي چه دلته مراد د الله تعالیٰ د نوم پاك ګنړل دي ددې نه چه د الله تعالیٰ نه سوئ د بل چا دپاره کیخودې شي لکه مشرکانو به خپلو باطلو معبودانو ته د لات، او عزی او منات نومونه کیخودل۔ (حکاه ابن جریرؒ)

نو بیا دا نسبت په خپل ظاهر باندې بناء دې۔ انتهی ترجمة قول القاسميؒ۔

(۲) یا اسم غیر دې د مسمیٰ نه۔ نو دلته د الله تعالیٰ د نوم پاکی وئیل مقصد دې، او د الله تعالیٰ د نوم پاکی وئیلو سره د الله تعالیٰ پاکی راځي۔

ابن عاشورؒ لیکي : کله چه سبح متعدی شي مفعول ته (لکه دلته اسم ته متعدی دې)۔ نو بیا دا خبره متعینه ده چه دلته مامور بهٔ داسې وینا کول دي چه په هغې سره پاکی د رب راځي په داسې طریقه چه د هغهٔ پاك نومونه او مقدس صفات ذکر کړې نو پدې سره به د الله تعالیٰ د ذات پاکی راځي، ددې وجه نه قرآن کښې د تسبیح متعلق اسم زیات ذکر کیږي د همدې مقصد دپاره۔

بیا کله چه انسان د الله تعالیٰ صفات او نومونه په ژبه سره ذکر کوي، او د هغې په معانیو کښې غور او فکر کوي او هغه استحضار او توجه سره وائي نو په زړهٔ کښې به ئې د الله تعالیٰ تعظیم هم راځي۔

او هرچه د الله تعالیٰ عظمت او د هغه تنزیه په زړه کښې ګرځول دي نو دا د الله تعالیٰ د ذات تسبیح ده۔ نهٔ د اسم۔ او دا وجه د فرق ده په مینځ د تسبیح د نوم د الله او د تسبیح د ذات د الله تعالیٰ۔ لکه په ﴿ وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ ﴾ (الانسان: ۲۶) یا ﴿ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ﴾ (اعراف: ۲۰۶) نو کله چه مونږ ووایو (اَللّٰهُ اَحَدٌ) الله یو دې۔ یا ووایو : (هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ) دا تسبیح د نوم د هغهٔ شوه، او کله چه مونږ د بتانو او قبرونو والو نه الوهیت او مستحق والې د عبادت نفی کړو پدې وجه چه دوی هیڅ نهٔ دي پیدا کړي لکه ﴿ اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ یَّخْلُقُوْا ذُبَابًا ﴾

نو دا د الله تعالیٰ د ذات تسبیح شوه، نهٔ د هغهٔ د نوم ځکه چه د هغهٔ په نوم باندې کوم اخبار ورنکړې شو او نهٔ کوم صفت ورسره ذکر شو۔ (التحریر والتنویر)

زمونږ شیخ محترم ابومحمد حفظه الله وائي : چه تسبیح کله بغیر د اسم نه ذکر شي (فَسَبِّحْهُ) (يُسَبِّحُوْنَهٗ) نو ددې نه مراد د الله تعالیٰ عبادت کول وي، او د هغهٔ عظمت په زړه کښې راوستل وي۔ او چه کله ورسره نوم ذکر شي نو بیا په خوله باندې ذکر مراد وي۔

لکه دلته سبح اسم ربك الاعلیٰ وئیلے شویدے، نو په خوله اذکار مراد دی. نو چا چه سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى په خوله ووئیله نو دۀ ددے آیت په امر باندے عمل وکړو.

حسن بصریؒ ددے معنیٰ کوی: (صَلِّ لِلّٰهِ) د الله تعالیٰ دپاره مونځ وکړه. یعنی مانځه کښې تسبیح ووایه. لیکن دا ئے یو مصداق دے.

الْاَعْلٰى: دا عِلت دے د تسبیح دپاره. یعنی د الله تعالیٰ تسبیح ځکه ووایه چه د هغۀ علو د هغۀ د هر قسم نقصان نه د پاکوالی تقاضا کوی.

الَّذِیْ خَلَقَ: دا د تسبیح وئیلو دپاره نور دلیلونه دی.

یعنی ددے اعلیٰ او اوچت رب یو صفت دادے چه هغۀ تمام مخلوقات اول ځل پیدا کړل، او هر یو مخلوق له ئے د هغۀ د حال مناسب شکل او صورت ورکړو، چه دا ددے خبرے دلیل دے چه دا هر څۀ د حکیم او علیم ذات صناعی او کاریګری دهٔ چه د هغۀ هیڅ یو کار د حکمت نه خالی نۀ وی.

الَّذِیْ خَلَقَ: یعنی انسان ئے پیدا کړے او دۀ دپاره ئے منافع پیدا کړی. یا ددے نه ټول مخلوق مراد دے لکه حذف د مفعول دلیل په عموم دے.

فَسَوّٰى: تسویه نه مراد د هر شی بدن او اندامونه او اجزاء د هغے مناسب جوړول دی، او کله چه عدم تناسب ښکاری نو هغه د نورو حکمتونو د وجه نه خلافِ عادت وی.

یا د تسویه نه مراد دا دے چه دا ئے په داسے طریقه جوړ کړیدے چه په هغے کښې فائده او مصلحت دے.

وَالَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰى: او د الله تعالیٰ یو صفت دا هم دے چه هغۀ د تقدیر په کتاب کښې تمام ځیزونه او تمام خیر او شر اندازه کړے، هر مخلوق دپاره ئے چه څۀ مقدر کړی دی د هغے د موندلو دپاره ئے هغۀ ته لاره ښودلے دهٔ، چنانچه هغه د هغے په معلوم زمان او مکان کښې هغه بیامومی.

انسان ته ئے هغه تمام ځیزونه اوښودل چه ددۀ دپاره مفید دی، او د هغے نه د فائدے پورته کولو علم ئے ورله ورکړو. په ځناورو او چارپایانو کښې ئے مذکر او مونث جوړ کړل او نر ته ئے د مادے سره د جُفتی کولو (ملاویدو) طریقه وښودله. د انسانانو او ځناورو روزی ئے تیاره کړه، او هر یو ته ئے دیته د رسیدو، ددے نه د فائدے اخستو، او ددے نه د خپلے خیتے ډکولو لاره اوښودله، دے دپاره چه د دوئ نسلونه باقی پاتے شی، او د خپل

خالق د حکمت او مصلحت تقاضے پوره کړی۔

الَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی : ددے ډیر مطلبونه بیان شویدی :

۱- یعنی الله تعالیٰ په هر شی کښې د هغې مقدار او کیفیتونه او صفتونه په اندازه سره مقرر کړل۔ او بیا ئے هغۀ ته د ژوند تیرولو طریقه وخودله۔

۲- قَدَّرَ الشَّقَاوَةَ وَالسَّعَادَةَ وَهَدٰی لِلرُّشْدِ وَالضَّلَالَةِ۔ (مجاهدؒ)

اندازه کړے ئے ده بد بختی او نیك بختی، او لاره ئے خودلے ده دپاره د هدایت او د گمراهئ۔

۳- قَدَّرَ الْوَلَدَ فِی الرَّحِمِ۔ ماشوم ئے په رحم کښې په خاص اندازے سره جوړ کړیدے۔

فَهَدٰی : بیا ئے ورته طریقه د ژوند تیرولو خودلے ده۔ دا فطری هدایت دے۔

٤- قَدَّرَ اَرْزَاقَهُمْ وَاَقْوَاتَهُمْ وَهِدَايَتَهُمْ لِمَعَايِشِهِمْ اِنْ كَانُوْا اِنْسًا وَلِمَرَاعِيْهِمْ اِنْ كَانُوْا وَحْشًا۔

اندازه کړی ئے دی رزقونه او خوراکونه د دوی، او دوی ته ئے د خپل ژوند طریقے خودلے دی، که دوی انسانان وی او دوئ ته ئے د څریدو ځایونه خودلی دی که دوی حیوانات وی۔

٤- بعض وائی : قَدَّرَ الْمَنَافِعَ فِی الْاَشْيَاءِ وَهَدَی الْاِنْسَانَ لِوَجْهِ اسْتِخْرَاجِهَا مِنْهَا۔

په هر شی کښې ئے په خاص انداز سره منافع ایخودی دی، او بیا ئے انسان ته د هغے نه د راویستو طریقه خودلے ده۔ دا ټولے معانی ددے الفاظو سره مناسب دی۔

او هر کله چه پدے کارونو کښې د الله تعالیٰ سره هیڅوك شریك نشته، نو د الله تعالیٰ تسبیح واجب شوه۔

وَالَّذِیْ اَخْرَجَ الْمَرْعٰی : او الله تعالیٰ په زمکه کښې مختلف قِسم گیاه پیدا کړه چه هغه د ځناورو دپاره خوراك جوړیږی، او دا تازه گیاه د څۀ ورځو نه پس خپله تر او تازگی د لاسه ورکړی او اُوچه شی، او داسے سپکه او توره شی چه هواګانے دا آلوزوی را لوزوی۔

غُثَاء : ۱- هغه وابښۀ، بوټی او خشاك دی چه سیلاب ئے په غاړه د کنده باندے وغورزوی۔

۲- او وچو ذره ذره بے فائدے بوټو ته هم وائی۔ او پدے کښې تزهید فی الدنیا دے چه دا هر څه به فناء کیږی او دنیا به د تازگئ نه روستو زر ختمه شی، نو پدے باندے غرور او غاوړ کیدل جائز نۀ دی۔ (ابن زیدؒ)

اَحْوٰی: دا د حوۃ نه دے هغه سوروالے د شونډو چه تور والی ته مائل شوے وی، یعنی

دغـه غثاء د زوړوالي د وجه نه تور شي لکه لامده وابنه چه د اُوبو په غاړه باندے وچ شي نو هغه تور شي او سخا شي۔

فائده : پدے تغیر الاحوال کښې یو اثبات د آخرت ته اشاره ده۔

دویـم : لـکـه څـنـګـه چه الله تعالیٰ په نباتاتو کښې تغیر راولي، نو دغه شان اے زما نبی ! ستـا امـی توب به په علم بدل کړي، ستا قوتِ حافظه به په ډیره قوی حافظه باندے بدله کړي، ستا سختـه به په آسانئ باندے بدله کړي۔ او دغه شان نباتات اول کښې شنه وي بيا زيـړ شـي، او بيـا ذره ذره شـي۔ نو دغه شان ستا دشمنان به اول کښې ښه تازه وي ليکن لږ وخت روستو به ئے الله تعالیٰ ذليله کړي۔

سَنُقۡرِئُكَ فَـلَا تَنۡسٰىٓ ﴿٦﴾
زردے چه ويـه لولو مونږ تا تـه قرآن نو تـهٔ بـه ئـے نـهٔ هيـره وے (يا تا نـه بـه نـهٔ هيريږي)۔
إِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ إِنَّهٗ يَعۡلَمُ الۡجَهۡرَ
مګر هغـه چه الله ئـے غـواړي (هغـه بـه درنـه هيـر کړي) يقيناً الله پـو هيـږي پـه ښکاره
وَمَا يَخۡفٰى ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرٰى ﴿٨﴾ فَذَكِّرۡ
او پـه هغـه څـه چه پټ دي۔او آسانی بـه وکړو تا سره آسان دين طرف تـه۔ نو نصيحت
إِنۡ نَّفَعَتِ الذِّكۡرٰى ﴿٩﴾
بيانوه که چرتـه فائده ورکولـه نصيحت بيانولو۔ (يا : نو بيان کړه قرآن يقيناً فائده ورکوي بيانول)

تفسیر : ربط :

مـخـکښې د عـامو انسانانو او مخلوقاتو لارخودنه ذکر شوه۔ اُوس خاص د نبی کريم ﷺ د خاص هدايت او لار ښوونے خبره راغلے ده۔

او پـدے کښې دوه زيری دی رسول الله ﷺ تـه، يـو دا چـه قرآن کريم پوره خودل، او دويم د هغے د حفظ قوت ورکول۔ او دا دواړه ديني نعمتونه دي۔

فـرمـائـي : اے زمـا نبي ! تـالـه زيـرے درکـړے کـيـږي چه کوم قرآن د جبريل پـه ذريعه تا

بـاندے نازلیږی، دا به تهٔ هرګز نهٔ هیروے، ځکه چه دا د الله تعالیٰ ابدی کلام دے چه دا به د تمامے دنیا والا دپاره باقی پاتے وی، دے دپاره چه انسانیت ددے نه رنړا حاصلوی۔

مفسرین لیکی چه دا سورت مکی دے، د ابتدائی سورتونو نه دے، او پدے کښ الله تعالیٰ دا وعده کړے وه چه مونږ به تا ته قرآن پوره ولولو او تا نه به نهٔ هیریږی، نو الله تعالیٰ دا وعده په اختتام د قرآن باندے پوره کړه۔

دویم دا په دے طریقه اعجاز دے چه یو امی سړی ته چه هیڅ لیك لوست ئے نهٔ دے کړے او دومره اوږد کتاب ئے بغیر د لوستلو او تکرار کولو نه سمدست یاد کړو، نو دا د عادت خلاف کار دے، نو دا دلیل دے په اعجاز د قرآن او په رشتینوالی د رسول الله ﷺ باندے۔

فَلَا تَنۡسٰۤی: دا نفی ده۔ یعنی تا نه به نهٔ هیریږی۔ او دا رشتینی خبر دے چه د رسول الله ﷺ په سینه کښ قرآن کریم محفوظ وو۔ جبریل علیه السلام به ورته ټول سورتِ بقره ولوستو نو هغه ته به یاد شو۔ یا نسیان په معنیٰ د ترك دے، یعنی تهٔ به قرآن نهٔ پریدے۔ او دا هم نفی ده ، الله تعالیٰ د خپل نبی د طرفنه خبر ورکړو چه دے به دا قرآن هیڅکله نهٔ پریدی۔

بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا نهی ده، او الف پکښ اشباعی دے، یعنی مهٔ هیروه قرآن لره۔ او د هیرولو معنیٰ دا ده چه داسے کارونه او اسباب مهٔ اختیاره وه چه ستا نه قرآن کریم هیر شی۔ اول قول غوره دے۔

شان نزول

د اسلام په ابتداء کښ چه کله به په نبی کریم ﷺ باندے وحی نازلیده نو هغهٔ به ددے د یادولو لپاره تادی کوله، نو الله تعالیٰ هغهٔ ته اطمینان ورکړو چه دا قرآن به ستا په زړهٔ باندے نقش شی، تهٔ به دا هرګز نهٔ هیروے، دے وجے نه تادی مهٔ کوه او تر څو پورے چه جبریل علیه السلام په تا باندے وحی نازلوی، تهٔ دا نهایت سکون او اطمینان سره آوره۔

الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته دا خبره په نورو ګڼړو آیتونو کښ هم وئیلے ده۔

د سورۀ القیامه په (۱۶/۱۷) آیتونو کښ راغلی دی:

﴿لَا تُحَرِّكۡ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهٖۤ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهٗ وَقُرۡاٰنَهٗ﴾

(اے زما نبی! تهٔ د قرآن د زر یادولو دپاره خپلے ژبے له حرکت مهٔ ورکوه، ددے جمع کول او ستا په ژبه ددے جاری کول زمونږ ذمه داری ده)۔

او د سورۀ طٰهٰ په (۱۱٤) آیت کښې راغلي :

﴿ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُقْضٰى إِلَيْكَ وَحْيُهُ ﴾

(او ته د قرآن په لوستلو کښې تادي مهٔ کوه، مخکښې ددې نه چه کومه وحی تاته کيږي هغه پوره کړې شي)۔

سَنُقْرِئُكَ : اَیْ سَنَجْعَلُكَ قَارِئًا بِاَنْ نُلْهِمَكَ الْقِرَاءَةَ ۔ یعنی زر دې چه مونږ به تا لوستونکے جوړ کړو پدې طریقه چه مونږ به لوستل ستا په زړهٔ کښې واچوو۔

فَلَا تَنسٰى : دا نفي ده، او دا رشتینی خبر دې چه نبی کریم ﷺ نه به قرآن نهٔ هیریږی، همیشه ئې په سینه کښې محفوظ وو۔ یا نسیان په معنیٰ د ترك (پریخودو) سره دې۔ او دا به هم جمله خبریه وی، اخبار دې چه نبی کریم ﷺ به قرآن کریم هیڅکله نهٔ پریږدی۔

او دویم قول دا دې چه دا نفی په معنیٰ د نهی سره ده، او نسیان په معنیٰ د ترك او د غفلت دې، یعنی ددې د لوستلو او د عمل کولو نه غفلت مهٔ کوه، یا د نسیان نه مراد د هغې د اسبابو نه نهی ده۔

إِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ : دا استثناء مفرغ ده۔ تقدیر د عبارت داسې دې :

لَا تَنْسٰى شَيْئًا مِنَ الْاَشْيَاءِ اِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ اَنْ تَنْسَاهُ۔

یعنی ته به نهٔ هیره وې هیڅ شې مگر هغه شې چه الله تعالیٰ ئې وغواړی ستا نه هیره ول د هغې۔ او دا استثناء منقطع ده۔

او معنیٰ دا ده : ته خو به نهٔ هیره وې لیکن که الله تعالیٰ غواړی چه ستا نه څه هیر کړی په طریقه د منسوخ کولو نو په هغې به ته گناهگار نهٔ ئې۔ نو پدې کښې د نسخ یو قسم ته اشاره ده۔

یا د الا ما شاء الله معنیٰ دا ده چه د بشریت د تقاضې مطابق ئې که الله تعالیٰ درنه هیره وی نو هغه به درته بیرته رایادوی، لکه نبی کریم ﷺ نه به آیت هیر شو نو صحابیؓ به فتح ورکړه خو بیرته به ورته یاد شو۔ او دا هم ښه معنیٰ ده۔

إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ : دا علت د الا ما شاء الله دې۔ یعنی الله تعالیٰ به بعض آیتونه ستا نه هیره وی پدې وجه چه هغه په هر شی باندې عالِم دې او په هغې کښې به فائده او حکمت وی۔

یا دا متعلق دې د (فَلَا تَنْسٰى) سره، او پدې کښې قرآن کریم ته ترغیب ورکول مقصد دې

چه په پټه يعنى ځان سره ئے ولوله، يا په ښكاره چه خلقو ته ئے بيان كړے، يعنى قرآن مهٔ پريږده كه پټ ئے وائے او كه ښكاره، الله تعالىٰ به ئے ثواب دركوى۔

وَمَا يَخْفَى: يعنى هغه شے چه پټيږى۔

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَى : (او مونږ به آسانى وكړو تا لره آسان شريعت ته)

١- ددے يو مطلب دا دے : (نُوَفِّقُكَ لِلشَّرِيْعَةِ السَّمْحَةِ) تا له به توفيق دركړو د آسان شريعت۔ يعنى او اے زما نبى ! تاله دا زيرے هم دركولے كيږى چه كوم اسلامى شريعت چه تاله دركړے كيږى، ددے بنياد په سهولت او آسانئ باندے دے، په دے كښ د طاقت دپاسه د كومے خبرے د مكلف كيدو هيڅ خبره نشته۔

د سورة الحج په (٧٨) آيت كښ راغلى دى : ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ (او الله په دين كښ ستاسو دپاره هيڅ مشكله خبره نهٔ ده ايښے)۔

لِلْيُسْرَى: دا صفت د موصوف محذوف دے، اَىِ الطَّرِيْقَةِ اَوِ الشَّرِيْعَةِ الْيُسْرىٰ اَوِ الْحَالَةِ الْيُسْرىٰ۔ يعنى لاره، يا شريعت يا حالت آسان۔

٢- اَىْ نُيَسِّرُ لَكَ عَمَلَ الْجَنَّةِ۔ يعنى آسان به كړو تا ته عمل د جنتيانو۔

٣- نُهَوِّنُ عَلَيْكَ الْوَحْىَ حَتّٰى تَحْفَظَهٗ وَتَعْمَلَ بِهٖ ۔ مونږ به تا ته وحى آسانه كړو تردے چه تهٔ به ئے يادولے شے، او عمل به پرے كولے شے۔

او دا درے واړه كارونه رسول الله ﷺ ته آسان شوى وو۔

صاحب د فتح البيان وائى: غوره پدے كښ عموم دے۔ او معنىٰ دا ده چه مونږ به تا ته توفيق دركړو د آسانے طريقے په دين او دنيا كښ په هر كار كښ د هغه كارونو نه چه تا ته راپيښيږى۔ (متوجه كيږى)

فَذَكِّرْ : اُوس د رسول الله ﷺ نه د دوه كارونو مطالبه كوى، يو د الله تعالىٰ په تسبيح كښ مشغول كيدل لكه چه هغه په اول سر د سورت كښ راغلل۔ نو دويم فَذَكِّرْ : دين او وحى بيان كړه۔

إِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرَى: پدے اِنْ كښ درے تفسيرونه دى۔ ١- اِنْ په معنىٰ د قَدْ دے، او معنىٰ دا ده چه دين بيانوه يقيناً چه نصيحت فائده وركوى۔ (ابن خالويهٔ)

او ددے نه دا معلومه شوه چه په بيان د دين كښ خامخا فائده شته، كله به تا ته ښكاره كيږى او كله نهٔ۔

۲- ظاهر دا ده چه په اِنْ خپله معنیٰ د شرط باندے دے، یعنی که بیان فائده ورکوله نو دین بیانوه، او که فائده ئے نهٔ ورکوله چه داسے زمانه راغله چه خلق دعوت نهٔ منی، او دعوت کار نهٔ ورکوی، نو په هغه وخت کښ به خپل عبادتونه کوے او د خلقو د کارونو نه به قلار شے لکه دا روستو زمانے ته اشاره ده چه قیامت ته نزدے به راځی۔

او هغه زمانه حدیث کښ راغلے ده:

[اِذَا رَأَیْتَ شُحًّا مُطَاعًا وَهَوًی مُتَّبَعًا وَاِعْجَابَ کُلِّ ذِیْ رَأْیٍ بِرَأْیِهٖ فَعَلَیْكَ بِنَفْسِكَ وَدَعْ اَمْرَ الْعَامَّةِ]

کله چه تهٔ داسے بخل او کنجوسی وینے چه خلق د هغے غلامان وی، او خواهشاتو پسے خلق روان وی، او هر سړے په خپله رأیه او مذهب باندے خوشاله وی نو دغه وخت د خپل ځان غم کوه، او د عامو خلقو کار سره کار مهٔ لره۔ (ابوداود: ۴۳۴۳ صحیح)

او پدے کښ کفارو ته یو نوع توبیخ دے چه که دوی ته نصیحت فائده ورکوی، نو بیان کوه، یعنی دا ظالمان داسے خلق دی چه نصیحت هم ورته فائده نهٔ ورکوی۔

دارنګه پدے کښ تیزی ورکول دی په فائده اخستو د بیان نه۔ لکه یو تن چا ته لاره ښائی نو هغه ته ووائی: [قَدْ اَوْضَحْتُ لَكَ اِنْ کُنْتَ تَعْقِلُ] ما تا ته خبره ښکاره کړه که پوهیږے۔ یعنی ځان پرے پوهه کړه۔

دارنګه پدے کښ تنبیه ده رسول الله ﷺ ته چه دے مشرکانو مجرمانو ته نصیحتونه فائده نهٔ ورکوی۔

یا دا په باره د بار بار دعوت ورکولو کښ ده، او هر چه اولنے دعوت دے نو هغه عام دے۔ (فتح البیان)

او چه څه نا څه خلق استجابت کوی نو بیا بیان واجب دے۔

او ددے نه دا هم معلومه شوه چه که بیان فائده نهٔ ورکوله، دا په هغه صورت کښ چه چا کښ انابت نهٔ وی او ضدی او عنادی او دنیا پرست وی، نو دهٔ ته تذکیر ورکول واجب نهٔ دی۔

سلفو به نا اهله خلقو ته د قرآن کریم او د احادیثو تعلیم نهٔ ورکولو۔ کله چه به هغوی کښ ضد او عناد وو۔ او ددے نه دا سبق هم ملاوېږی چه داعی به موقعه او محل ته ګوری، او د دین دعوت به ورکوی۔ که یو ځای کښ د دین بیان هسے ضائع کیدو او

خلقو مسخرے او توقے کولے نو هلته به نشی بیانولے، اوکه په چا باندے پکښ حجت قائمیدو یا پرے اثر کیدو او امید وو چه بعض خلق به الله تعالیٰ ښه کړی نو بیا د دین بیان ضروری دے۔

(۳) دریم تفسیر: پدے کښ یو جانب ذکر دے او بل جانب پټ دے لکه د ﴿سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ﴾ په شان۔ او مطلب دا دے (فَذَكِّرْ اِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرٰى اَوْ لَمْ تَنْفَعْ)

یعنی که نصیحت او بیان فائده ورکوله او که نهٔ ئے ورکوله خو تهٔ خپل بیان جاری ساته، ځکه چه ستا کار دین رَسول دی، او دا ځکه چه رسول الله ﷺ ددے دپاره راغلے وو چه د خلقو عذرونه زائل کړی، او خلق ویره وی نو په هغه باندے بیان په هر حال کښ لازم وو۔

حسن بصریؒ وئیلی دی: (تَذْكِرَةٌ لِلْمُؤْمِنِ وَحُجَّةٌ عَلَى الْكَافِرِ)

یعنی د مؤمن دپاره به نصیحت شی او په کافر باندے حجت قائم شی۔ (فتح البیان)

سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَخْشٰى ﴿۱۰﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا
زردے چه نصیحت به واخلی هغه څوك چه یره کوی۔ او په ډډه به شی ددے نه
الْاَشْقَى ﴿۱۱﴾ الَّذِىْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ﴿۱۲﴾ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا
ډیر بد بخت انسان۔ هغه چه داخلیږی به اُور لوئی ته۔ بیا به نهٔ مری په هغے کښ
وَلَا يَحْيٰى ﴿۱۳﴾ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ
او نهٔ به ژوندے وی (په فائده مند ژوند)۔ یقیناً کامیاب دے هغه څوك چه ځان ئے
تَزَكّٰى ﴿۱۴﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴿۱۵﴾ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ
پاك کړو۔ او یاد ئے کړو نوم د رب خپل نو مونځ ئے اُوکړو۔ بلکه تاسو غوره کوئ
الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۱۶﴾ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۱۷﴾ اِنَّ هٰذَا لَفِى
ژوند دنیوی۔ او آخرت ډیر غوره دے او همیشه دے۔ یقیناً دا بیان خامخا په
الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿۱۸﴾ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ﴿۱۹﴾
صحیفو (کتابونو) مخکنو کښ وو چه کتابونه د ابراهیم او د موسیٰ علیهما السلام دی۔

تفسیر : د تذکیر نه روستو دوه ډلے پیدا کیږی، اوله ډله هغه ده چه هغوی ته د دین بیان نفع ورکوی، او دویم دنیا پرست دی چه د الله تعالیٰ نه یره پکښې نشته، نو د دین بیان ورته فائده نۀ ورکوی۔

سَيَذَّكَّرُ : یعنی دین او قرآن ځکه بیانوه چه کوم خلق د الله تعالیٰ نه یریږی نو هغوی به نصیحت واخلی، د ګناهونو نه به بچ کیږی، او ښیګړو طرفته به وړاندے والے کوی۔

او کله چه نصیحت واخلی نو تزکیه به ئے وشی، نو خشیت سبب د نصیحت دے، او نصیحت سبب تزکیهٔ نفس دے۔

وَيَتَجَنَّبُهَا الْأَشْقَى : او ستا د بیان او نصیحت نه به هغه خلق وړاندے کیږی چه هغه بد بخته دے چه ددے په نتیجه کښې به دوئ د قیامت په ورځ د جهنم خطرناك اُور ته داخل کړے شی چه هغه به په زړونو باندې راخیژی، او په دے کښې به جهنمی له نۀ مرګ راځی او نۀ به هغه ژوندے اوسیږی، یعنی هر وخت به په دردناك عذاب کښې مبتلا وی۔ د سورهٔ فاطر په (۳٦) آیت کښې راغلی دی :

﴿ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ﴾

(نۀ خو به په دوئ فیصله کیږی چه مړهٔ شی، او نۀ به د دوزخ عذاب د دوئ نه سپکولے شی)۔

د وَيَتَجَنَّبُهَا لفظ نه معلومه شوه چه نفع نۀ ورکول د قرآن کریم او د داعی نقصان نۀ دے، بلکه د هغے سبب تَجَنب (ډډه کول د قرآن نه) دے۔

الْأَشْقَى: یعنی چه په علم او تقدیر د الله تعالیٰ کښې اشقیٰ دے، او علامه ئے دا ده چه د قرآن کریم نه ډډه کوی۔ اشقیٰ ډیر بد بخت۔ دا کافر عنادی دے، او شقی عام کافر یا فاسق دے۔

النَّارَ الْكُبْرَىٰ : هر کله چه دا شخص ډیر عنادی او لوی بد بخت دے، نو ځکه ئے الله تعالیٰ ډیر لوی ګبرا هټ والا اُور ته داخلوی۔

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا : نۀ به مری چه د عذاب نه په راحت کښې شی۔ او ثم کلمه د تراخی دپاره ده په مراتبو د شدت کښې ځکه چه د مرګ او د ژوند ترمینځ تلل راتلل ډیر ګبرا هټ والا دی اُور ته د داخلیدو نه۔

وَلَا يَحْيَى: اَیْ حَیَاةً تَنفَعُهٗ. یعنی نهٔ به داسے ژوندے وی چه دهٔ له فائده ورکړی.

قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى: هرکله چه مخکښې د هغه چا وعید بیان شو چه د الله تعالیٰ په دلائلو کښې غور او فکر نهٔ کوی، نو اُوس د هغه چا زیرے او کامیابی بیانوی چه هغه د قرآن کریم نه فائده اخلی او د الله تعالیٰ نه یریږی او د خپل نفس تزکیه کوی.

وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ: دا اُوس د تزکیه بعض اسباب بیانوی چه هغه خپل نفس د شرك او گناهونو نه پاکوی، هر وخت خپل رب یادوی، او نیك عمل کوی، او خاصکر د مانځه پابندی کوی چه دا د ایمان کسوټے دے.

او مونځ د تزکیه دپاره ډیر ښکلے سبب دے لکه سورة الفاطر کښې هم راغلے وو ﴿ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَاَقَامُوا الصَّلَاةَ وَمَنْ تَزَكّٰى ﴾ نو دلته هم الله تعالیٰ دا درے واړه څیزونه جمعه کریدی، خشیت، مونځ او تزکیه.

او دا بعید تفسیر دے چه څوك وائی چهٔ تزکی نه مراد زکاة او صدقه د فطر ورکول دی او ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى نه مراد د اختر د ورځے تکبیرات او بیا د اختر مونځ دے. ځکه چه مکه کښې دا څیزونه نهٔ وو، اګرکه روستو پکښې هغه هم داخلیږی. الفاظ عام دی.

دلته د فلاح او کامیابئ نه مراد د جهنم نه نجات او په جنت کښې داخلیدل دی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورهٔ آل عمران په (١٨٥) آیت کښې فرمایلی دی:

﴿ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ﴾

(نو څوك چه د اُور نه خلاص شو او جنت ته داخل کړے شو نو یقیناً دا کامیاب شو).

او تزکی وذکر اسم ربه الخ نه مراد دا دے: (تَطَهَّرَ مِنْ دَنَسِ الشِّرْكِ وَعَمِلَ بِمَا اَمَرَهُ اللّٰهُ بِهٖ).

(یعنی ځان د شرك او د ګناهونو د خیرو او ګندو نه پاك کړی او د الله په حکمونو عمل وکړی).

وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ: اَیْ تَذَكَّرَ جَلَالَ رَبِّهٖ وَعَظَمَتِهٖ فَخَشَعَ لَهٗ وَاَشْفَقَ وَعَطَفَ عَلٰى عِبَادِهٖ فَاَنْفَقَ مَالَهٗ). یعنی د خپل رب جلال او عظمت ئے رایاد کړو نو هغه ته ئے عاجزی وکړه او ویریدو د هغه په بندګانو نو په هغوی ئے شفقت وکړو او خپل مال ئے خرچ کړو) لکه روستو د مال تذکره هم راځی.

بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا: دا اِضراب دے د تزکی نه. یعنی تاسو د خپل نفس تزکیه نهٔ بلکه دنیا غوره کوئ ځکه چه څوك دنیاوی ژوند غوره کوی نو د شهواتو پسے به

روان وي، او څوك چه د شهواتو پسے روان وي د هغهٔ نفس نهٔ پاكيږي.
او د دنيا ژوند غوره كول دا دي چه تاسو دنيا مخكښ كوئ په آخرت باندے، د هغے دپاره محنت كوئ او د آخرت له محنت نهٔ كوئ، مالونه د دنيا جمع كوئ او آخرت دپاره ايمان او عمل صالح نهٔ جمع كوئ.
عبد الله بن مسعود ﷛ به وئيل چه ددے غوره كيدو وجه دا ده چه دنيا حاضره ده او آخرت غائب دے، او اكثر انسانان ظاهربين دي، نو پدے وجه آخرت پريدي، كه نهٔ وي آخرت راتلل يقيني دي او دنيا فاني ده. دارنگه شكي ده يا به ددے مزے حاصلے شي يا نهٔ.
او آخرت پدے وجه غوره دے چه د آخرت كور يعني جنت هميشه دے، او ددے نعمتونه د دنيا په نسبت نهٔ ختميدونكي دي ځكه چه په آخرت كښ جسماني او روحاني دواړه قسمه سعادتونه شته او دنيا داسے نهٔ ده/ دارنگه د دنيا لذات (خوندونه/مزے) د تكليفونو سره پيدا شويدي او آخرت داسے نهٔ دے. /دارنگه دنيا فاني ده او آخرت باقي دے او باقي غوره وي د فاني نه.
مالك بن دينارؒ به فرمايل:
[لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا مِنْ ذَهَبٍ يَفْنٰى، وَالآخِرَةُ مِنْ خَزفٍ يَبْقٰى لَكَانَ الْوَاجِبُ اَنْ يُّؤْثَرَ خَزَفٌ يَبْقٰى عَلٰى ذَهَبٍ يَفْنٰى، فَكَيْفَ وَالآخِرَةُ مِنْ ذَهَبٍ يَبْقٰى وَالدُّنْيَا مِنْ خَزَفٍ يَفْنٰى]
كه چرے دنيا د فاني كيدونكي سرو زرو نه جوړه وے، او آخرت د نهٔ ختميدونكے تيكركي نه، نو نهٔ ختميدونكے تيكركے به په فاني كيدونكے سرو زرو باندے غوره كول واجب وے، نو بيا كله چه آخرت د هميشه سرو نه دے، او دنيا د فاني كيدونكي تيكركي نه ده نو څنگه به دا نهٔ شي غوره كولے. (القرطبي ٢٠/٢٤)
نو مطلب دا شو چه هر كله آخرت غوره هم دے او هميشه هم دے نو تاسو د هغے طلب وكړئ او د هغے طلب په تزكيه د نفس، مانځه، د الله تعالىٰ نه په يره، د رسول الله ﷺ د بيان په آوريدو او په تسبيحاتو د الله تعالىٰ او په قرآن كريم باندے كيږي.
إِنَّ هَذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ: كه څوك ووائي چه دا تزكيه خو مونږ ته تكليف شو، دا ډير گران كار دے چه گناهونو نه ځان وساتو او دغه اعمالو باندے راتلل وكړو؟ نو الله فرمائي چه دا تزكيه د نفس يواځے په تاسو باندے لازمه نهٔ ده، بلكه دا په دنيا كښ په هر

انسان باندے الله تعالىٰ لازمه کړے وه. دا په پخوانو صحيفو کښې هم ثابته خبره وه، ټولو پيغمبرانو او ټولو کافرانو او ټولو صالحينو ته ئے حکم کړے وو چه د خپل نفس تزکيه به کوئ. ګويا که د الله تعالىٰ د ملاقات دپاره ځان پاکول دی لکه څنګه چه په دنيا کښې څوك د چا ملاقات له ورځی نو خپل بدن او کپړے پاکے کړی او عطر ولګوی.

هَٰذَا: کښې اشاره ده مخکښې تزکيه او ددے سورت بيان او مضمون ته. (ابو العاليهؒ)

الصُّحُفِ: دا واړه او لوی کتابونو ته شامل دے چه دا ډير زيات دی، او په صحيح سند سره ددے تعداد نۀ دے معلوم شوے.

صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ : ددے تخصيص ئے ددے وجه نه وکړو چه اهل مکه خو د ابراهيم عليه السلام د ملت دعوىٰ کوله، او د موسىٰ عليه السلام امت په دغه وخت کښې نزدے موجود وو، او نصارىٰ او صابئين د دوی نه لرے وو،

يا ددے وجه نه خاص کړے شو چه تسبيح او تذکير ددے دواړو انبياؤ په صحيفو کښې ډير ذکر دے، او صحف د موسىٰ عليه السلام نه مراد تورات دے چه مشتمل دے په ډيرو صحيفو باندے، يا مراد ددے نه نورے صحيفے دی چه تورات نه وړاندے په موسىٰ عليه السلام باندے نازل کړے شوے وے. وبالله التوفيق.

الحمد لله ختم شو تفسير د سورة الاعلىٰ په رحمت د رحمن او رحيم سره.



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۲٦)	(۸۸) سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (۱)

سورة الغاشيه مكى دے، په دے كښ شپږيشت آيتونه، او يوه ركوع ده

تفسير سورة الغاشية

نوم : په اولنى آيت كښ [الْغَاشِيَة] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم كيښودے شوے۔

د نازليدو زمانه : د اسورت د ټولو په نيز مكى دے۔

ابن مردويهؒ او بيهقيؒ او نورو د ابن عباس او ابن زبير رضى الله عنهم نه نقل كړى دى چه سورة الغاشيه په مكه كښ نازل شوے۔

د سورة الاعلىٰ په تفسير كښ د مسند احمدؒ او صحيح مسلمؒ په حواله د نعمان بن بشير ﷛ روايت نقل شوے چه رسول الله ﷺ به د اخترونو او جُمعے په مانځه كښ ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى ﴾ او ﴿ هَلْ أَتَاكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴾ لوستلو۔

صحيح مسلمؒ او سنن ابى داودؒ كښ د نعمان بن بشير ﷛ په يو بل روايت كښ دى چه رسول الله ﷺ به په جُمعه كښ د سورة الجُمعه سره ﴿ هَلْ أَتَاكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴾ لوستلو۔

(مسلم : ۲۰٦٥)

چونكه د جُمعے په ورځ به قيامت راځى نو پدے وجه ددے سورتونو لوستل ورسره زيات مناسب دى چه انسان ته د آخرت حالات رایاد كړى، او سورة اعلىٰ كښ د تزكيه خبره وه نو مناسب ده چه خلقو ته ددے تذكره وكړے شى۔

مناسبت

۱- مخكښ سورت كښ دوه ډلے ذكر شوے (مَنْ يَّخْشٰى او اَشْقٰى) نو دلته هغوى له

بشارت او تخويف ذكر كوي.

۲- مخكښې سورت كښې اثبات د توحيد وو په ذكر د تسبيح سره نو دلته د هغې د اثبات دپاره څلور شواهد راوړي.

۳- مخكښې سورت كښې ئے دا خبره ذكر كړه چه تذكير وكړه كه فائده وركوي. نو دلته وائي چه تذكير به خامخا كوے ځكه چه دا ستا ذمه واري ده (اِنَّما اَنْتَ مُذَكِّرٌ)

٤- په هغه سورت كښې النار الكبرىٰ ذكر وو، نو دلته العذاب الاكبر ذكر دے.

د سورت مقصد

هَيْبَةُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ بِطَرِيْقَيْنِ . د آخرت هيبت او يره په دوه طريقو ذكر كوي، يو په نوم د آخرت سره چه غاشيه ده، يعني داسے ورځ ده چه سرے پټه وي، او د هر طرفنه ئے راګيروي.

دويم هيبت دے په جزاء الاعمال سره. چه په دغه ورځ به د بعض انسانانو عملونه داسے وي چه برباد عملونه به ئے كړي وي چه د هغے په وجه به ئے مخ ذليله وي، او اُور ته به روان وي، او ګرمے اُوبه به څكي.

نو پدے وجه دا ورځ هيبتي ده چه د اعمالو سخته سزا پكښې ده.

دويمه طريقه د نيكانو صالحينو دپاره ښكلے بدلے ذكر كيږي.

نو پدے كښې هيبت پدے طريقه دے چه هركله هلته ښكلے بدلے ملاويږي نو مؤمن يريږي چه ما ته به ملاؤ شي او كه نه، نو دے به په يره كښې وي.

بيا د اثبات د آخرت دپاره استدلال على البعث په څلورو طريقو شويدے.

﴿ اَفَلا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ ﴾ يعني څلورو څيزونو ته وګوري.

آخر كښې وائي : چه د استدلال نه روستو دوي ته بيان وكړه او ستا ذمه واري په خلقو باندے په زوره منل نهٔ دي، ستا كار دعوت دے نهٔ د خلقو هدايت. بلكه دا كار د الله تعالىٰ دے نو د الله تعالىٰ يو كار دا دے چه هدايت به كوي او څوك چه د هدايت لائق نهٔ وي نو هغه سره به حساب كوي او بيا به عذاب وركوي.

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾
يقيناً راغلې دې تا ته خبر د پټونکې مصيبت (خبر د ورځې پټونکې).
وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾
بعض مخونه به په دغه ورځ ذليله وي. محنت كونكې به وي، ستړې به وي.
تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ آنِيَةٍ ﴿٥﴾
داخلیږي به اُور گرم ته. څکولے به شي (په دوی باندې) د چینے گرمے نه.

تفسیر: اول نه د قیامت دوه هیبتونه بیانوی. الله تعالىٰ نبی کریم ﷺ مخاطب کړے او د قیامت خینے حالات ئې ورته بیان کړی دی، او ددے شروع ئې په لفظ د [هَلْ] سره کړے چه دا دلته د تحقیق په معنیٰ سره دے، یعنی اے زما نبی ! ستا خوا ته د قیامت سره متعلق یقینی خبرونه راغلی دی.

یا هَلْ په خپله معنیٰ د استفهام سره دے، او هَلْ کلمه ئې د متوجه کولو دپاره استعمال کړه، او دے دپاره چه ددے خبر آوریدو نه تشویق ورکړی.

الْغَاشِيَةِ: قیامت ته ئې [الْغَاشِيَة] ځکه ووئیله چه ددے ورځې خطرناك او ویرونکی حالات او سختئ به خلقو لره د هر اړخ نه راګیر کړی او پټ به ئې کړی.

بعض وائی : دا د جهنم د اُور نوم دے چه د جهنمیانو بدنونه به پټوی. اول قول غوره دے.

وُجُوهٌ: دا دویم هیبت د قیامت دے. او تقسیم د ډلو دے په قیامت کښ، چه یوه ډله اشقىٰ ده، او د دوی تخویف ئې په لسو طریقو سره ذکر کړے.

فرمائی : کوم خلق چه په دنیا کښ د حق دین نه انکار کوی. د قیامت په ورځ به د دوئ مخونه د ذلت او رسوائی په وجه ښکته وی، او همیشه دپاره به په سخت عذاب کښ اخته شی، او په اُور کښ به دوئ پرمخې راښکلے کیږی، په داسے حال کښ چه دوئ به په زنځیرونو او درنو بیړیو کښ بند وی، او ددے د راښکلو په وجه به دوئ انتهائی په مشکل کښ وی، او د دوئ روحونه به سختئ سره مخامخ وی.

وُجُوهٌ: د وجوه نه مراد اصحاب الوجوه یعنی مخونو والا دی، لیکن په مخونو سره ئې تعبیر وکړو ځکه چه د تکلیف او خوشحالۍ اول نښه په مخ باندې ښکاره کیږی.

وُجُوهٌ مبتداء ده، او دا اګرکه نکره ده لیکن په مقام د تفصیل کښې نکره هم مبتداء واقع کیدے شی۔ او دا جمله مستأنفه ده، جواب د سوال دے چه په دغه ورځ به څه کارونه کیږی ؟ نو فرمائی چه خلق به دوه ډلو ته تقسیمیږی.

خَاشِعَةٌ : خشوع په معنیٰ د ذلت ده، یعنی په آخرت کښې به ذلیله وی په سبب د شرمندګۍ او رسوایۍ او ویرې د عذاب سره.

عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ: ۱- دا یو د آخرت سره لګیږی چه په اُور کښې به عمل (کارونه) کونکی وی او ستړی ستومانه به وی، لکه په غرونو به خیژی او بیرته به رارغړی، او وسپنې او طوقونه او زنځیرونه به په لاسونو او خپو او څټونو اُوچتوی، او په کندو او ډیرو به خکته پورته کیږی۔ او دے معنیٰ ته شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او امام شوکانیؒ ترجیح ورکړیده۔ او ددے وجه دا ده چه دلته الله تعالیٰ دا مقید کړیدے په ظرف سره چه هغه (يَوْمَئِذٍ) دے۔ دویم دا چه دلته عمومی بیان د اُور والو دے، او دغه غلطو عباداتو والا کم خلق دے۔ دریم دا چه دلته خبره په بیان د حالاتو د خلقو کښې ده په وخت د راتللو د غاشیه کښې۔ نو دے کښې د دوی دنیاوی احوالو ته تعرض نشته۔ (السعدیؒ)

۲- عَامِلَةٌ فِي الدُّنْيَا نَاصِبَةٌ فِيهَا :

په دنیا کښې به عملونه کوی، ځان به ستړے کوی په مونځونو او روژو او عبادتونو او جهادونو وغیره سره لیکن اُور ته به داخلیږی۔

۳- عَامِلَةٌ فِي الدُّنْيَا نَاصِبَةٌ فِي الآخِرَةِ :

یعنی په دنیا کښې به ئې عمل کړے وی په باطله عقیده او نظریه باندې یا په بدعاتو او خرافاتو باندې او دے به طمع لری چه دا به ما ته په آخرت کښې فائده راکړی لیکن په آخرت کښې به ستړی ستومانه وی، د هغه عملونو هیڅ نیکه بدله به ورنکړے شی، او داسے انسان ډیر ستومانه وی چه یو کار ئې کړے وی او د هغې د بدلې په انتظار کښې وی، او څوك ئې محرومه کړی، محرومه څه چه دپاسه پرے سزا هم ورکړی نو دا به څومره په لوی مصیبت او ذلت کښې اخته وی۔

امام بخاریؒ او نورو مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت په باره د نصاراو (قسیسین او

رهبان) کښې دي، او هر هغه څوك چه په كفر كښې كوشش او عمل كونكي وي.

او حسن بصریؒ روایت نقل کړیدے :

[لَمَّا قَدِمَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ الشَّامَ أَتَاهُ رَاهِبٌ شَيْخٌ كَبِيرٌ مُتَقَهِّلٌ، عَلَيْهِ سَوَادٌ، فَلَمَّا رَآهُ عُمَرُ بَكَىٰ، فَقِيلَ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! مَا يُبْكِيكَ ؟ قَالَ : هٰذَا الْمِسْكِيْنُ طَلَبَ أَمْرًا فَلَمْ يُصِبْهُ، وَرَجَا رَجَاءً فَأَخْطَأَهُ وَقَرَأَ : عَامِلَةٌ نَاصِبَةٌ)

چه هر كله عمر ﷺ شام ته راغلو نو هلته ئے يو راهب وليدو چه بوډا، زوړ او پراګنده وېښتو والا خيرن وو، په هغهٔ باندے تور والے وو، (د ډير عبادت د وجه نه خپلے صفائی كولو ته هم فارغ نهٔ وو) نو عمر ﷺ وژړل، چا ورته ووېل : اے امير المؤمنين ! څه څيز وژړولے ؟ نو هغه وفرمايل : دا مسكين دے يو مقصد ئے طلب كړيدے خو موندلے ئے نهٔ دے، او اميد ئے لرلے دے ليكن خطاء شويدے، او دا آيت ئے ولوستلو (قرطبیؒ)

مطلب ئے دا وو چه دنيا كښې ئے خو ځان ښه وكړه ولو ليكن هيڅ فائده به ورته ملاوه نشي سوئ د سترې والي نه۔ ((هندو سترے الله ناراضه))

او د علی ﷺ نه روايت دے چه دے خلقو كښې خوارج هم داخل دی چه هغوی اُوږدهٔ مونځونه كوی، ډير روژے نيسی ليكن عقيده ئے خرابه ده، نو د دين نه به داسے وځی لكه غشے چه د هدف نه وځی۔

دغه شان ټول مبتدعين چه په دنيا كښې ښه ډيره خواری كوی، ليكن عقيدے ئے خرابے دی نو هسے ځانونه سترې كوی، او هيڅ فائده به ورته نهٔ ملاويږی۔ او هرچه مؤمن دے نو د هغهٔ د هر نيك عمل نتيجه شته په دنيا كښې هم او په آخرت كښې هم۔

٤- دے كښې دا هم صحيح ده : عَامِلَةٌ بِالْمَعَاصِيْ نَاصِبَةٌ فِي الْآخِرَةِ۔

په دنيا كښې به د ګناهونو عملونه كوی او په آخرت كښې به په هغے سترے ستومانه وی۔ سزا به وركولے شی۔

تَصْلَىٰ نَاراً : بد نصيبه كافران به د قيامت په ورځ په سخت ګرم اُور كښې سوزی چه هغه به دوئ د هر طرف نه راګير كړی،

تَصْلَىٰ: د صَلىٰ نه ده، په اُور كښې دننه سوزيدل او وريتيدل۔

حَامِيَةً: سخت ګرم اُور۔ يعنی ددے دا ګرمائش به هميشه دپاره وی او نهٔ به مړ كيږی په شان د اُور د دنيا۔ او په ګرمائش كښې به انتهاء ته رسيدلے وی۔ او د الله تعالیٰ په غضب

سره به گرم شوے وي۔

تَسۡقَى مِنۡ عَيۡنٍ آنِيَةٍ: آنية د اَنیٰ او اِنَی نه دے، روستو کیدو، او وخت ته رسیدو ته وئیلے شي۔ دلته مراد دا دے چه ډیر زیات گرم چه انتهاء ته په گرمئ کښ رسیدلے وي۔ یعنی په دوئ به جوشیدلے گرمے اوبهٔ څکلولے کیږی۔

د سورة الکهف په (۲۹) آیت کښ راغلي دي :

﴿ وَإِنۡ يَسۡتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالۡمُهۡلِ يَشۡوِي الۡوُجُوهَ ﴾

(که چرے دوئ فریاد رسي وغواړی نو د دوئ فریاد رسی به په داسے اوبو سره کیږی چه هغه به د تیلو د گیج پشان وي چه هغه به مخونه وُریتوی)۔

لَيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ ضَرِيعٍ ﴿٦﴾
نشته دوی لره خوراك مگر د ازغی دار بوټی نه۔ (د ضریع بوټی نه چه زهر قاتل دے)
لَا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِنۡ جُوعٍ ﴿٧﴾ وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٍ
نهٔ به څربول کوی او نهٔ به فائده ورکوی د لوږے نه۔بعض مخونه به په دغه ورځ
نَاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِسَعۡيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَا
تروتازه وی۔ د وجے د عمل خپل نه به رضا وی۔ په جنت اُوچت کښ به وی۔ نهٔ به
تَسۡمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيۡنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾
آوری په هغے کښ بے فائدے خبرے۔ په هغے کښ به چینه وی روانه (جاری)۔
فِيهَا سُرُرٌ مَرۡفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَأَكۡوَابٌ مَوۡضُوعَةٌ ﴿١٤﴾
په هغے کښ به تختونه وی اُوچت کړے شوی۔ او کلا سونه کیخودلے شوی۔
وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ﴿١٦﴾
او تکیه گانے صف صف کړے شوی۔ او قالینونه به وی خواره کړے شوی۔

تفسیر : او د دوئ خوراکه به د یو ازغی دارے وُنے او چه میوه وی چه هغه به انتهائی

بدبويه، نهايتے بدشكله، بيحده بيخونده او انتهائي زهريله وي، زهر قاتل وي، چه ديته د قريشو خلق [شبرق] او د حجاز خلق [ضريع] وائي، چه دا اوښان هم نشي خوړلے، او كله ئے چه اُوښان په شينوالي كښې وخوري. نو نۀ پرے مري بلكه د خوار والي نه مري. بعض وائي: چه دا كله تازه وي نو شبرق دے. او چه كله وچ شي نو ضريع ورته وائي (مجاهدؒ) او دے بوټي خواته هيڅ حيوان نزدے نۀ ورځي، او نۀ ددے نه خوراك كوي.

سعيد بن جبيرؒ وائي: دا يو كاڼړے دے.

بعض وائي: دا په جهنم كښې يوه ونه ده

حسن بصريؒ وائي: دا بعض هغه عذاب دے چه الله تعالى پټ ساتلے دے.

ابن كيسانؒ وائي: دا داسے طعام دے چه ددے په وخت كښې به بندګان الله تعالىٰ ته تضرع (عاجزي او زاري) كوي چه ددے نه ئے خلاص كړي

نحاسؒ وائي: كيدے شي دا د ضارع نه مشتق وي. ذليل ته وائي. يعني خوراك چه دا وخكي نو هغه ته به ذلت او رسوائي ورسيږي

او د حسنؒ نه دا هم نقل دي چه دا زقوم دے.

او بعض وائي: دا په جهنم كښې يوه كنده ده.

سوال: دلته ئے حصر د طعام په ضريع كښې وكړو، او په سورة الحاقه (٣٦) آيت كښې ئے حصر د طعام په غسلين كښې كړے وو؟.

جواب دا دے چه دا حصرونه په اعتبار د مختلفو اقسامو د جهنميانو سره دي، يا په اعتبار د مختلفو اوقاتو سره دي. يا دلته استثناء منقطع ده د طعام نه، يعني د دوی به هيڅ طعام نۀ وي او طعام هغے ته وائي چه مزه وركوي، او مرخ راولي نو سوال پيدا شو چه هيڅ طعام به نۀ وي نو جواب وشو چه آؤ، ضريع شته نو دا نفي د بل طعام نۀ كوي.

لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ: د طعام دوه فائدے، يو دا چه بدن ته پرے طاقت او ترقي ملاؤ شي، او دويم دا چه لوږه ختمه كړي، ځكه چه په لوږه كښې په فم معده باندے درد وي، نو خوراك سره هغه درد په آرام شي، طبع ئے سازه شي. او د جهنم پدے طعام كښې دا دواړه فائدے نشته، او تكليفونه او ضرورونه پكښې شته نو خالص عذاب دے.

وُجُوْهٌ يَوْمَئِذٍ نَاعِمَةٌ: په دې ورځ به د خوش قِسمته جنتیانو مخونه د الله تعالیٰ د قِسما قِسم نعمتونو په وجه تازه او ځلیدونکی وی، او په دنیا کښې چه دوئ کوم نیك عملونه کړی وی، او د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو دپاره چه دوئ هلته کوم جد و جهد کړے وی، د هغے د رایادولو په وجه به انتهائی خوشحاله وی، او د خپل رب په جوړ کړو اُوچتو جنتونو کښې به آرام کوی،

او هلته به دوئ هیڅ فضول او بیکاره خبره وانهٔ وری چه د هغې په وجه د دوئ راحت او خوشحالی متاثره شی، بلکه هر وخت به د دوئ غوږونو ته د جنتیانو او د ملائکو ښے خبرے، د الله تعالیٰ د نعمتونو ذکر، او د الله تعالیٰ د یاد دپاره استعمال شوی پاکیزه الفاظ او کلمات رسیږی۔

نَاعِمَةٌ: د نُعومة نه دے نرمئ او تازګئ ته وئیلے شی۔

لِسَعْيِهَا: لام اجلیه دے۔ یعنی د خپل عمل په وجه به خوشحاله وی۔ ځکه چه داسے بدلے ورکړے شوے چه د دوی سترګے ئے یخے کړے۔ او ددے سعی نه مراد ایمان او عمل صالح او اتباع د رسول الله ﷺ ده۔

یا لِسَعْيِهَا کښې مضاف پټ دے، اَیْ لِثَوَابِ سَعْيِهَا ۔ د خپل عمل په ثواب به خوشحاله وی۔

فِیْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ: یعنی اُوچت په آسمانونو باندے، یا قدر او منزلت ئے اُوچت دے۔

لَا تَسْمَعُ: دا د مؤنث صیغه ده۔ او ضمیر وُجُوه ته راجع دے، یا صیغه د مخاطب ده، هر جنتی ته به داسے وئیلے کیږی۔

لَاغِيَةً: ددے موصوف پټ دے، اَیْ کَلِمَةً لَاغِيَةً۔ یعنی بے هوده، فضول او بیکاره خبره۔

یا لاغیة مصدر دے په شان د عَاقِبَةٌ، یعنی لغو والا۔

یا اسم فاعل ذُوْ كَذَا دے۔ اَیْ ذَاتُ لَغْوٍ۔ یعنی لغو والا۔

او لغوه خبرے لکه دروغ، کنځل رد بد او بهتان او غیبتونه به ځکه نهٔ آوری چه دوی به د حکمة په خبرو او د الله تعالیٰ په حمد او ثناء کښې مشغول وی، او د دوی ترمینځ به هیڅ قسمه کینے نهٔ وی نو لغوے ته به ضرورت نهٔ راځی۔

عَيْنٌ: دا جنس دے، ډیرے چینی دی، کافور، سلسبیل، تسنیم۔

جَارِيَةٌ: یعنی په مخ د زمکه به په غیر د کندو نه روانے وی، د هر جنتی کور ته به د

هغهٔ د اِرادے موافق چلیږی۔ او روانے اُوبهٔ په دنیا کښې څو مره مزه کوی۔ نو د آخرت څو څه تصور نشی کیدے۔

سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ : ۱- اُوچت به جوړ شوی وی۔ یعنی په هوا کښې به وی، او کله چه جنتی په هغې کیناستل غواړی نو هغه به ورته راخکته شی۔

۲- یا عَالِيَةُ الْقَدْرِ۔ اُوچتے مرتبے والا به وی۔

۳- یا یو بل دپاسه به پورته وی۔ (ابن عباس رضی الله عنه)

مَّوْضُوعَةٌ: ۱- د چینو او نهرونو په غاړو باندے به کیخودلے شوی وی۔

۲- بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ۔ د دوی مخے ته به کیخودلے شوی وی د دوی د خوشحالئ دپاره۔

۳- یا وضع په معنیٰ د مقرر کړے شوی دے۔ یعنی د دوی دپاره مخکښې نه تیار کړے شویدی۔

٤- مَوْضُوْعَةٌ عَنْ حَدِّ الْكِبَرِ۔ یعنی د ډیر غټ والی د حد نه به خکته وی۔ یعنی درمیانه به وی چه نهٔ به ډیر غټ وی او نهٔ به ډیر واړه وی۔

وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ: نمارق جمع د نُمْرُقَة ده، وسائد (واړه بالختونو) یا تکیه ګانو ته وئیلے شی۔ چه د یو بل سره به په قطار کښې کیخودلے شوی وی۔

یا مَصْفُوْفَةٌ : یعنی په بسترو به کیخودلے شوی وی۔

وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ: جمع د زِرْبِيَّةٌ ده، هغه غوره بسترے، او قالینونه چه لَمنو ته ئے نری زونډی لګولے شوی وی۔

مَبْثُوثَةٌ: ۱- یعنی د یو بل دپاسه به خورے شوی وی۔ (عکرمہؒ)

۲- یا مجالسو باندے به هر خوا خورے ورے وی۔ بیرته راغونډه ولو ته به ئے ضرورت نهٔ وی۔

۳- فراءؒ وائی : مبثوثة معنیٰ ده کَثِيْرَةٌ یعنی ډیرے۔

ظاهر دا ده چه بث تفریق ته وائی سره د ډیر والی نه۔ لکه ﴿وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ﴾ کښې راغلے دے۔ قرطبیؒ وائی او دا خبره ډیره صحیح ده۔

او دا څلور نعمتونه ئے ذکر کړل پدے کښې یو تصویر ورکول دی چه په دنیا کښې د مالدارانو په مجلسونو کښې یو طرف ته پالنګونه وی، او بل طرفته ګلاسونه او جګونه وی، او بل طرفته تکیه ګانے او قالینونه وی نو د جنت مجلسونه به ددے نه ډیر اُوچت او

بهتر وي.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ
ايا نو دوي نه ګوري اوښانو ته چه څنګه پيدا کړے شويدي. او اسمان ته چه څنګه
رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ
پورته کړے شويدے او غرونو ته چه څنګه اودرولے شويدي او زمکے ته
كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾
چه څنګه غوړولے شوېده.

تفسير: مشرکانو اعتراض کړے وو چه هرکله دا کتونه دومره اوچت دي، او په هوا کښې دي. نو دے ته به کسان څنګه ورخيژي؟ نو الله تعالىٰ ورته اوښان په مثال کښې ورکړل چه تاسو اوښانو ته څنګه خيژئ، چه اوښ راخکته کړئ او په ناسته پرے کښېنئ و بيا اوښ پاڅيږي، نو دغه شان به دا کتونه هم جنتيانو ته راخکته کيږي.

❁ دويم دا استدلال دے په بعث باندے لکه دا د قرآن طريقه ده چه کله د آخرت تذکره ذکرېږي نو بيا د هغے د اثبات دپاره دليلونه راوړي چه کله په قرآن نه پوهيږے نو لږ نظر په کائناتو واچوه. اوښان، آسمانونه، غرونه او زمکه خو ستا مخے ته دي، ددے نه قيامت معلوم کړه. يعنى الله تعالىٰ به جزاء او سزا ورکولو باندے قادر دے. وګورئ چه الله تعالىٰ د مخلوق څلور عجيب اجناسو پيدا کولو باندے قادر دے.

يعنى چه کوم الله تعالىٰ ددے مخلوقاتو په پيدائش باندے قادر دے هغه د قيامت په ورځ د تمامو انسانانو په دوباره ژوندي کولو باندے خامخا قادر دے، او بيشکه هم هغه يواځے د عبادت لائق دے.

بيا اول مکے والو ته دا خطاب دے، مکے ته چه کله ته لاړ شے نو تا ته به څلور څيزونه ښکاره کيږي؛ بره آسمان، لاندے زمکه، او غرونه او په دښتو او بيابانو کښې اوښان لکه د مکے نه چه څوک مدينے ته ځي نو په لاره کښې همداسے حالت وي. ددے وجه دلته الله تعالىٰ همدا څلور څيزونه په دليل کښې ذکر کړيدي.

أَفَلَا: همزه د استفهام د تقريع او توبيخ دپاره ده. او فاء عطف دے په مقدر باندے، اَیْ اَیُنْکِرُوْنَ الْبَعْثَ فَلَا یَنْظُرُوْنَ. يعني آيا دوئ د دوباره ژوند نه انكار كوي، او دے عجيب مخلوقاتو ته نۀ ګوري چه دا چا پيدا كړل؟.

كَيْفَ خُلِقَتْ: يعني د اُوښانو په پيدائش كښې لږ سوچ وكړه چه د نورو حيواناتو نه په پيدائش كښې ناشنا دے، جثه ئے لويه او قوت ئے زيات او صفات ئے ناشنا دي.

ابوعمرو بن العلاءؒ وائي: اُوښان ئے ذكر كړل ځكه چه دا د څلورو ښو حيوان دے، او په ګونډو باندے كيني، نو په هغے باندے بار اچولے شي او نورو حيواناتو باندے بارونه په ولاړه اچولے شي.

زجاجؒ وائي: پدے كښې تنبيه ده په خپل عظيم مخلوق باندے چه ماشوم دپاره ئے تابع كړے دے، هغه ئے راكاږي او هغه ئے كينوي. هغه ئے پاڅوي. او هغه پرے درانۀ بارونه اچوي، او بيا ددے درون بار سره پاڅيږي، دومره طاقت الله تعالىٰ وركړيدے نو دا دليل دے د الله تعالىٰ په توحيد باندے.

د حسن بصريؒ نه ددے آيت په باره كښې تپوس وشو چه هاتي خو په ناشنا والي كښې ډير لوي دے. نو هغۀ وفرمايل: هاتي د عربو د زمكے او زمانے نه وړاندے وو، بيا هغه خنزير دے چه په شا باندے ئے سورلي نۀ كيږي، نۀ د هغۀ غوښه خوړلے كيږي، او نۀ ترے پئ لشلے شي، او هرچه اُوښان دي نو دا د عربو ډير عزتمن او مزبدار مال وو، د كجورو هډوكي او ګياه وخوري نو پئ وركوي، او ماشوم د هغۀ واګے ونيسي نو كوم ځاى چه غواړي هلته ئے بوځي سره ددے نه چه جثه ئے ډيره غټه ده.

كه اُوښ سره ددے لوي بدن نه په غصه شي نو څوك به ئے راتينګ كړي، د وښتلو نه بغير به نۀ راګيريږي. د اُوښ مرئ اُوږده او سر وړوكے جوړ شوے دے كه سر ئے غټ وے نو هغه به درون وے. او د مرئ طاقت به ئے كمزورے كړے وے. د اوږدے مرئ په وجه د ونو د سرونو نه هم خوراك كولے شي.

اُوښ له الله تعالىٰ داسے موزے وركړيدي چه په ازغو او ګټو سره نۀ خوږيږي.

دارنګه په ټولو حيواناتو كښې په اُوښانو باندے لرے لرے سفرے كيږي.

ابو السعودؒ وائي: اُوښان ئے مخكښې ذكر كړل ځكه چه ددے منافع زيات دي، لكه غوښه ئے خوړل شي، پئ ئے څښل شي او بارونه پرے وړلے شي، لرے ښارونو ته پرے

سفرونه کیږي، او ژوندئ په هره ګیاه تیرېږي لکه ونې، ازغي وغیره او ترلسو ورځو یا زیاتو پورې په تنده باندې صبر کولې شي، او هر راښکونکي دپاره تابعدار وي اګرکه وړوکې ماشوم وي، او د بارونو سره د ناستې نه پاڅیږي، او په ښائسته آواز سره متأثره کیږي اګرکه سینه ئې ډیره زیږه (سخته) ده۔

او بل حیوان داسې نشته چه دا صفات ئې راجمع کړي وي سوئ ددې نه، او دا د عربو په نیز ډیر غوره وو نو ځکه ئې دا د قتل دیت مقرر کړو۔ اهـ۔

اِبِلُ : اسم جمع ده واحد مِنْ لَفْظِهٖ ئې نشته۔ ددې مفرد بعیر او ناقة او جَمل دې۔

او دا د سرر مرفوعة دپاره مثال دې۔ وَهم پیدا شو چه د جنت پالنګونه خو اُوچت دي نو جنتیان به ورته څنګه ورخیژي؟ نو جواب وشو چه اوښانو ته وګورئ چه څومره اُوچت حیوان دې لیکن په وخت د سوریدو کښې خکته شي۔

وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ: یعنی آسمان څنګه پورته کړې شویدې په زمکه باندې بغیر د ستنو نه په داسې طریقه چه هیڅ فهم (پوهه) او عقل ورته نشي رسیدلې۔

یا داسې پورته کړې شویدې چه هیڅ انسان ورته بغیر د نبي ﷺ او عیسیٰ علیه السلام نه نشي رسیدلې، دوي ورته ژوندي الله تعالیٰ رسولي دي۔

بعض مفسرین وائي : دا مثال د اَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ دې۔ یعنی په آسمان کښې نمر، سپوږمئ او ستوري په ښائسته ترتیب سره کیخودلې شویدي، نو دا مثال د ګلاسونو او جګونو دې چه په جنت کښې په ترتیب سره کیخودلې شویدي۔

وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ : دا بل دلیل د قدرت د الله تعالیٰ دې۔ او دا د نَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ مثال دې۔

كَيْفَ نُصِبَتْ : یعنی په مختلفو شکلونو او رنګونو او قطارونو سره په مختلفو منافعو باندې مشتمل ودرولې شویدي۔

ددې نه ښکلې هواګانې، مزیدارې اُوبه او چینې راروانې وي۔ او الله تعالیٰ ورله داسې انداز ورکړې چه د اُوبو مخې ته نهٔ راځي بلکه پدې کښې هر ځای الله تعالیٰ اُوبو لره لارې ورکړي وي۔

وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ : دا څلورم دلیل دې۔ او دا د ((زَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ)) دلیل دې۔

مجاهدؒ نه نقل دي : فَهَلْ يَسْتَطِيعُ اَحَدٌ اَنْ يَّفْعَلَ ذٰلِكَ غَيْرِیْ۔

آیا څوك دا طاقت لري چه دا کار وکړي زما نه سوئ. نو پدے کښې رد د شرك او اثبات د آخرت او د دوباره ژوند دے.

فائده ۱: د قرآن کریم د ظاهري دلائلو نه معلومیږي چه زمکه سطح مُسْتَوِیُ ده لکه (اَلْاَرْضَ فِرَاشًا) (دَحَاهَا) (سُطِحَتْ) لیکن په صحیح دلیلونو سره حکماؤ ددے کرویت ثابت کړیدے، نو په ظاهر کښې اختلاف معلومیږي، لیکن جواب دا دے چه زمکه په اعتبار د ذات سره کروي ده، لیکن د عظمت او لوي والي د وجه نه الله تعالیٰ ددے بعض حصه خوَره کړیده دے دپاره چه انسانان ترے فائده واخلي.

فائده ۲: دا څلور څیزونه ئے خاص ذکر کړل ځکه چه پدے کښې جدا جدا صفات دي چه د داعي دپاره ضروري دي. په اُوښانو کښې انقیاد او تابعداري ده سره د غټ والي نه، او په آسمانونو کښې منافع دي سَره د اُوچت والي نه، او په غرونو کښې استقلال او استقرار دے سرهٔ د ترتیب نه، او په زمکه کښې تواضع ده.

نو دغه شان په دعوت کونکي کښې د الله تعالیٰ دپاره دا څلور صفات ضروري دي، چه د هغے په وجه سره په آخرت کښې د جنت نعمتونه حاصلولے شي او په دنیا کښې دعوت او تذکیر کولے شي.

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ
نو بیان کړه (دین، قرآن) یقیناً تهٔ نصیحت ورکونکے ئے. (بیان کونکے ئے). نهٔ ئے تهٔ
عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّى
په دوي باندے (څوکیدار) مقرر کړے شوے. مګر هغه څوك چه واوړیدو
وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَا
او کفر ئے اُوکړو. نو عذاب به ورکړي دهٔ ته الله تعالیٰ عذاب لوئي. یقیناً خاص مونږ
إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾
طرف ته راګرځیدل د دوي دي. بیا یقیناً په مونږ باندے حساب د دوي دے.

تفسیر: پدے آیتونو کښې ترغیب دے دعوت کولو ته. او فاء ئے راوړه پدے کښې اشاره

ده چه د نعمتونو او د توحید د دلیلونو ذکر کولو نه روستو ددے تذکیر پکار دے غفلت کونکو ته. یعنی کوم خلق چه نصیحت نهٔ اخلی او فکر پدے دلیلونو کښې نهٔ کوی نو هغوی ته بیان پکار دے. دا کار تهٔ پوره کوه، څوك په ایمان راوړلو او په نیغه لار اختیارولو باندے مجبورول ستا کار نهٔ دے.

الله تعالی د سورهٔ قٓ په (٤٥) آیت کښې فرمایلی دی:

﴿ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ ﴾

(او تهٔ په دے مکلف شوے نهٔ ئے چه خلق په ایمان راوړو مجبوره کړے، نو تهٔ د قرآن په ذریعه هغه خلقو ته نصیحت کوه چه هغوئ زما د سزا نه یریږی).

فَذَكِّرْ: یعنی تهٔ دوی ته نصیحتونه بیان کړه یا قرآن ورته بیان کړه.

إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ: یعنی تهٔ خو صرف بیان کونکے ئے، ستا بل کار نشته.

لَسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ: یعنی تهٔ په دوئ باندے مقرر نهٔ ئے، تردے چه تهٔ به دوئ په زوره ایمان ته راولے، او تا باندے دا ذمه واری نشته چه تهٔ به دوئ ایمان ته په زوره راولے.

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ: د نبی کریم ﷺ د توحید دعوت چه چاته اُورسیدهٔ، او هغه ئے قبول نهٔ کړو، بلکه د کفر او سرکشئ لاره ئے اختیار کړه، داسے خلقو له الله تعالیٰ د همکی ورکړے ده چه مونږ به دوئ د قیامت په ورځ په سخت عذاب کښې مبتلا کړو. او مونږ نه دوئ هیچرته تښتیدلے نشی،

مرګ نه پس به دوئ په هر حال کښې زمونږ خواته راځی. په دے ورځ به مونږ په دنیا کښې د دوئ د کړو عملونو حساب دوئ سره وکړو. او د هغے بدله به دوئ ته ورکړو. ((إِنْ خَيْرًا فَخَيْرٌ وَإِنْ شَرًّا فَشَرٌّ))

چا چه ښهٔ عملونه کړی وی هغه به مونږ په خپل فضل او کرم سره جنت ته داخل کړو. او چا چه د کفر او شرك لاره اختیار کړے وی، او زمونږ خوا ته د ګناهونو انبار اخستو سره راغلے وی، هغه به مونږ جهنم ته ګذار کړو.

إِلَّا مَنْ تَوَلَّىٰ: استثناء منقطع ده د (عَلَيْهِمْ) ضمیر نه. یعنی تهٔ په دوی باندے مقرر نهٔ ئے، او نهٔ تهٔ د دوی ذمه وار او نګهبان ئے، لیکن څوك چه اَوړی او ایمان نهٔ راوړی نو هغه ته به الله تعالیٰ سزا ورکوی.

دلته کفر په زړه سره دے، او تولی په عمل سره. یعنی واوړی د طاعت نه او کفر وکړی

په زړۀ سره پس د تذکیر نه. یعني عمل او عقیده ئے خرابه شي.

اَلْعَذَابَ الْاَكْبَرَ : د لوی عذاب نه مراد د جهنم همیشه عذاب دے. او د دنیا عذاب عذاب اصغر دے. یعنی دنیا کښې هم کافرانو له عذاب شته لیکن هغه واړه عذابونه دي.

اِنَّ اِلَيْنَا: یعني د مرګ نه روستو ددۀ واپسي ما ته ده. نۀ بل چا ته.

او ظرف (اِلَيْنَا) ئے مقدم کړو پدے کښې نکته دا ده چه دا اشاره ده تعلیل ته، یعنی خاص د دوی رجوع مونږ ته ده نۀ بل چا ته، یعنی ددۀ رجوع هغه ذات ته ده چه هغه قادر دے په انتقام اخستو.

عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ : یعني د رجوع نه روستو به مونږ له حساب کتاب راکوي.

یا په دواړو ځایونو کښې (اِلَيْنَا او عَلَيْنَا) ئے مقدم کړل دپاره د تاکید او مبالغے.

یا دپاره د حصر ځکه چه رجوع د بندګانو او حساب د دوی خاص الله تعالیٰ ته دے، نۀ بل چا ته.

او په ثُمَّ کلمه راوړو کښې اشاره ده سخت غضب د الله تعالیٰ ته چه هغه د عذاب د سختوالي سبب دے. وبالله التوفیق.

ختم شو تفسیر د سورة غاشیه په فضل د رب العالمین سره.



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

رکوعاتها (۱)	(۸۹) سُوۡرَةُ الۡفَجۡرِ مَكِّيَّةٌ	آیاتها (۳۰)

سورة الفجر مکی دے، په دے کښې دیرش آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الفجر

نوم : په اولنی آیت کښې د حرفِ قسَم [وَ] نه پس د [الۡفَجۡرِ] کلمه راغلے ده، همدا ددے سورت نوم کیښودلے شوے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے چه [وَالۡفَجۡرِ] په مکه کښې نازل شوے۔

او دا هم مِنۡ اَعَاجِیۡبِ السُّوَر دے۔ یعنی په قرآن کریم کښې عجیبه او خونده ور سورت دے۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې د آخرت هیبت ذکر شو نو دلته د آخرت دپاره عمل ذکر کوی، چه ددغه هیبتونو نه به په دے راتلونکو کارونو خلاصیږے کوم چه دے سورت کښې ذکر دی۔

۲- مخکښې سورت کښې اخروی عذاب ذکر شو نو دلته د دنیاوی عذاب نمونے بیانوی۔

۳- په مخکښې سورت کښې ئے دوباره ژوند ذکر کړو نو ددے سورت په اول کښې پنځه حالات مختلفه ذکر کوی چه د الله تعالیٰ د قدرت دلیلونه دی۔

٤- مخکښې د آخرت ذکر وو نو دلته د دنیا بے رغبتی ذکر کوی۔

د سورت مقصد

دے سورت کښې يوه جامعه موضوع ذکر ده چه هر آيت د هغے سره لګيږي نو هغه درے خبرے دی : (۱) يو مَرَضُ الْإِنْسَان چه انسان بيمار دے۔

(۲) دويم سبب د مرض چه دا مرض ورته ولے لګيدلے دے۔

(۳) دريم : علاج المرض چه ددے بيمارئ علاج څه دے۔

بيا د انسانانو مرض څه شے دے نو هغه دوه څيزونه ذکر دی :

❁ يو ضياع الاوقات المبارکة۔ مبارك وختونه ضائع کوی، د الله تعالیٰ بندګی پکښې نۀ کوی۔

❁ دويم : الفساد۔ يعنی عبادتونه خو نۀ کوی بلکه فسادونه کوی۔ خلق د الله تعالیٰ د دين نه اړوی، لکه کفارو ته وګورئ چه مالونه لګوی او خپل وختونه او بدنونه صرف کوی، ددے دپاره چه خلق د صحيح دين توحيد او دين اسلام نه واوړی۔ خلقو ته ضررونه ورکوی، ګناهونه کوی۔

بل تعبير دے : تَرْكُ الْعِبَادَاتِ وَاتِّبَاعُ الشَّهَوَاتِ۔ يعنی عبادات ئے پريښې دی، او د خواهشاتو پسے روان دے۔

اُوس ددے مرض سبب څه شے دے ؟ نو هغه حُبُّ الدُّنْيَا دے۔ يعنی دنيا سره ئے مينه ده، دا ورته اُوچت شے ښکاره کيږی، ددے دپاره ئے ټول ژوند او مرګ دے، دوستی او دشمنی ئے ټوله په دنيا ده، هر عمل ئے صرف د دنيا دپاره دے۔

د دنيا سره ئے دومره محبت دے چه د يتيمانانو مالونه دوی وخوړل، مسکينانو سره دوی احسان ونکړو، پردی مالونه دوی غلا کړل، دهوکے او خيانتونه ئے وکړل۔ دا ټول کارونه د دنيا د محبت د وجه نه کيږی۔

علاج د مرض څه شے دے ؟

هغه دا دے چه د الله تعالیٰ لقاء رايادول، داسے ورځ رايادول چه انسان به په هغے کښې الله تعالیٰ ته پيش کيږی، او الله تعالیٰ به ورسره حساب کوی، نو اے بنده ! د الله تعالیٰ ملاقات رایاد کړه او د هغۀ حساب رایاد کړه۔

دا علاج به څنګه شروع کوے، هغه داسے چه د آخرت ورځ راروانه ده، راځئ چه ددے

دپاره تیارے وکړو په عباداتو سره، وخت به نهٔ ضائع کوے، بلکه په یو بندګئ به ئے مصروف کوئے. اول به الله تعالیٰ ته توبه وباسے، بیا به عبادات شروع کړے.

اُوس که چا توبه ونهٔ ویستله او علاج ئے ونشو لکه د یو بیمار علاج چه ونشی نو هغه مړ کیږی نو دغه شان بعض خلق دی چه د هغوی علاج ونشو او په دغه مرض کښ پاتے شول نو بیا د هغوی هلاکیدل پکار دی، نو دلته ورله الله تعالیٰ سزا بیانوی چه ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴾.

نو چا چه د الله تعالیٰ بندګی ونکړه او فسادونو کښ ئے زندګی تیره کړه، آزاد ژوند ئے تیر کړو نو الله تعالیٰ به ئے په قیامت کښ وتړی ﴿ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴾.

او څوک چه دنیا کښ د پابندئ ژوند تیره وی نو الله به په آخرت کښ آزادی ورکړی. او که چا دلته آزادی وکړه نو هلته به آرمانونه کوی چه ما په دنیا کښ ددے اُوږد ژوند دپاره تیارے کړے وے چه کامیاب شوے وے. نو داسے وخت کښ به خپیمانه شی چه هغه وخت به ورله خپیمانتیا هیڅ فائده ورنکړی.

ددے بالمقابل د هغه سړی حال بیانوی چه هغه خپل مرض ته متوجه شویدے نو سمدست ئے علاج کړیدے، نو بیماری پکښ نشته، نو هغه لګیا دے خپل اوقات آبادوی په عباداتو، د هر فساد او ګناه او شرک او بدعت نه ځان ساتی، د دنیا سره ئے محبت نهٔ وو بلکه تیارے ئے کولو، د الله تعالیٰ د ذات نه ئے بغیر وخت نهٔ تیریدو، نو دهٔ ته به الله تعالیٰ دوه زیری ورکوی :

﴿ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴾

رب العالمین سره به ملاؤ شی، او هر لحاظ سره به خوشحاله وی.

دویم ﴿ فَادْخُلِي فِي عِبَادِي وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾ د الله په خصوصی بندګانو کښ به داخل شی، چه هغوی د الله بندګی کړیده او بیا به په جنتیانو کښ شامل شی. نو د سورت هر لفظ ولګیدو. او پدے سورت کښ پوره نصیحت پروت دے.

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾
قسم دے په وخت د صبا باندے۔ او په شپو لسو باندے۔ او په جفت او تاك باندے۔
وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿٥﴾
او په شپه کله چه روانه شي۔ یقیناً شته په دے کښې برخه د عقل والا دپاره۔ (آیا شته دے په دے (قسم) کښې عبرت دپاره د عقل مند)

تفسیر : الله تعالیٰ په اولنو څلورو آیتونو کښې په څلورو څیزونو قسَم خوړلے۔
او بیا ئے وئیلي دي چه دا ډیر لوی قسم دے که عقلمند خلق پو هیږي۔
او دا قانون دے چه الله تعالیٰ په کوم شي قسم وخوري نو یا ډیر لوی وي، یا ډیر قیمتي وي۔ نو دلته همدا مطلب دے چه دا اوقات ډیر قیمتي دي، ددے قسم نه عبرت واخله۔
او دا اوقات زما په بندګئ کښې ولګوه۔
اولنے څیز (صبا) دے، چه ددے نه مراد د اکثرو خلقو په نیز د هرے ورځے صبائي وخت دے۔
قتادهؒ ددے نه د محرم اولنے تاریخ مراد کړے،
مجاهدؒ د قربانئ ورځ،
او ضحاكؒ د ذی الحجے اولنئ ورځ مراد اخستے ده۔
لیکن اول قول غیره دے ځکه چه د هرے ورځ سهار ډیر قیمتي دے، انسانان پکښې غافله وي، او ډیر خلق پکښې مونځ نهٔ کوي، او بعض خلق ئے نمر خاته کوي، نو دا خلق ډیر نقصان کښې پریوتي دي چه ډیر قیمتي وخت ددوئ نه ضائع شو۔ بیا به ددے ارمان کوي۔
وَلَيَالٍ عَشْرٍ : دویم څیز (لس ورځے) دي۔ ضحاكؒ او ابن عباس ﷺ وئیلي دي چه ددے نه د رمضان آخرنئ لس شپے مراد دي، (ځکه چه په دے شپو کښې لیلة القدر راځي او الله تعالیٰ ورله نور قدر هم ورکړیدے، د لیلة القدر نه علاوه هم دا شپے ډیر قیمت او قدر لري، عبادتونه پکښې ډیر په اعلیٰ پیمانه قبلیږي۔ لیکن افسوس چه د اکثرو انسانانو نه دا په چکرو او لغویاتو او ګیمونو او فیس بوك کښې تیرے شي، هره شپه په بازارونو

کښې بے مقصده کړځی)۔ او همدا قول غوره دے۔
او بعضو ددے نه د محرم اولنۍ لس ورځې مراد اخستے دی، او د جمهورو مفسرينو په نيز ددے نه د ذی الحجے اولنۍ لس ورځې مراد دی۔ ځکه چه په احاديثو کښې ددے ورځو ډير فضيلت راغلے دے۔
بخاریؒ او مسلمؒ او ترمذیؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت کړی دی چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ]
((هيڅ ورځې داسے نشته چه په هغې کښې نيك عمل كول د الله تعالیٰ په نيز د ذی الحجے د لسو اولنو ورځو نه زيات محبوب وی))۔ (ابوداود : ۲٤٤۰) الترمذی (۷۵۷صحيح)
پدے صورت کښې به د شپے اطلاق په ورځ باندے کيږی۔
ليکن غوره دا ده چه دلته شپے ذکر دی، او په هغه احاديثو کښې ورځے ذکر دی، نو تطبيق دا دے چه د ذی الحجے اولنۍ لس ورځے بهتر دی۔ او د رمضان آخری لس شپے غوره دی۔ او دلته هم همدا شپے مراد دی، نۀ ورځے۔
وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ: دريم څيز (شفع) او (وتر) دی۔
(۱) شوکانیؒ ددے په تفسير کښې د مفسرينو ګڼ اقوال نقل کړی دی، او وئيلی ئے دی چه ددے نه د زياتره اقوالو څۀ دليل نشته،
دے وجے نه بهتره داده چه د عربو په کلام کښې ددے نه چه کوم مراد دے، هم هغه دِے اختيار کړے شی۔ او په عربۍ ژبه کښې (شفع) جوړے ته، او (وتر) تنها ته وئيلے کيږی۔
دے وجے نه په آيت کښې د (شفع) او (وتر) نه مراد هغه تمام مخلوق دے چه الله تعالیٰ هغه جوړه يا تنها پيدا کړے وی۔
(۲) مجاهدؒ او عطيه عوفیؒ د ﴿وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾ نه مخلوق او خالق مراد کړے، او وئيلی ئے دی چه الله تعالیٰ هر مخلوق جوړه پيدا کړے۔
د سورۀ الزمر په (٤٩) آيت کښې راغلی دی :
﴿وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾
(مونږ هر يو شے جوړه پيدا کړے، دے دپاره چه تاسو عبرت حاصل کړئ)۔
آسمان او زمکه، اوچه او سمندر، پيريان او انسانان، نر او سپوږمۍ، کفر او ايمان، نيك بختی او بد بختی، هدايت او ګمراهی او شپه او ورځ، ټول جوړے دی۔

او (وتر) د الله ذات دے، چه دا دیو او تنها په معنیٰ کښ دے۔ معلومه شوه چه الله په خپل ذات او په خپل مخلوق باندے قسم خوړلے۔

(۳) - مگر غوره دا ښکاره کیږی چه د شفع او وتر نه مراد مونځونه دی چه اکثر جفت کیږی لکه څلور رکعاتی او دوه رکعاتی مونځونه۔ او وتر لکه درے رکعاته، یو رکعت وتر، پنځه رکعاته، اُوه رکعاته، نهه رکعاته مونځ۔ دا ټول په صحیح سنت کښ ثابت دی۔

او د دغه مخکنی احتمالاتو سره مناسبت د قسم او جواب قسم نۀ ښکاره کیږی۔

وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ: څلورم څیز (شپه) ده، چه دلته الله په دے قسم خوړلے، چه هغه روانه وی تردے چه تیره شی، او بیا واپس راشی۔

د شپے او ورځے دا گردش د الله تعالیٰ په کامل قدرت باندے دلالت کوی، او بندگانو ته هغه عظیم نعمتونه رایادوی چه هغه ددے گردش نه پیدا کیږی۔ مثلًا په ورځ کښ انسان د معاش په تالاش کښ سرگردانه اوسی، او کله چه شپه راځی نو د خوب په غیږه کښ ورځی، او ددۀ ټوله ستومانی ختمیږی۔

یا شپه چه کله روانه وی تیریږی یعنی آخر د شپے چه دا د تهجدو وخت دے۔

يَسْرِ په اصل کښ يَسْرِىْ دے۔

خلیلؒ وئیلی دی چه یاء حذف کیږی دپاره د موافقت د آیاتونو۔

هَلْ فِىْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِىْ حِجْرٍ: دا جواب قسم دے۔ هَلْ په معنیٰ د اِنَّ سره دے۔

ذٰلِكَ: دا اشاره ده پنځه واړو قسمونو ته په تاویل د مذکور سره۔

قَسَمٌ: په معنیٰ د حَلْف (قسم) سره دے۔

او خازنؒ وغیره وئیلی دی چه قسم دلته په معنیٰ د مُقْنَعْ او مُكْتَفِیْ سره دے۔ یعنی پدے قسمونو کښ قناعت او کفایت دے، یعنی دا قسمونه فائده ورکوی عقل والو ته او هغوی پدے باندے قناعت (باور) او اکتفاء کوی۔

یا قسم په معنیٰ د قِسم (برخے) سره دے، یعنی پدے مبارکو اَوقاتو کښ عقل والا حصه موندلے شی۔

حاصل دا دے چه دا پنځه وختونه مبارك اوقات دی، د عبادت او د دعاگانو د قبلیدو دی۔ او دا قسمونه دلالت کوی ددے په عظمت او برکت باندے، نو عقل والا پدے

قسمونو باندے اعتبار کوی، او ددے اوقاتو نه فائدے اخلی، او پدے کښ الله تعالیٰ ته عاجزی او تضرع کوی۔ نو زمونږ عقلمندی به دا وی چه دا اوقات زمونږ نه ضائع نشی۔ او څوك چه دا اوقات ضائع کوی نو هغه کښ عقل نشته۔

او دلته قسم او جواب قسم د یو باب نه شو، یعنی قسم پدے خبره دے چه دا قسم ډیر لوی قسم دے۔

او بعض مفسرینو لیکلی دی چه د پورتنو قسمونو جواب پټ دے، یعنی په پورتنو څیزونو باندے قسم دے ! [لَيَجْزِيَنَّ اللّٰهُ عَمَلَ كُلِّ عَامِلٍ يَوْمِ الْقِيَامَةِ]

چه الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ خامخا یو هر یو ته د هغهٔ د عمل بدله ورکوی۔

(یا لَيَأْخُذَنَّ اللّٰهُ الْكُفَّارَ) یا پدے قسم دے چه الله تعالیٰ به خامخا کافران رانیسی ځکه چه دویٔ دا قیمتی اَوقات ضائع کړیدی۔

لیکن اول قول غوره دے۔

حِجْرٍ : په اصل کښ هغه څیز ته وائی چه منع کول کوی، او عقل ته ددے وجه نه وئیلے شی چه عقل هم د قبائحو او د عبث وخت تیرولو نه، او د فانی دنیا د محبت کولو نه منع کونکے دے۔

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾
آیا نهٔ گورے تهٔ چه څنګه کار اُوکړو رب ستا د عادیانو سره۔ چه اِرم دی ستنو والا۔
الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ
هغه دی چه نهٔ دی پیدا کړے شوی د هغوی پشان په ټولو ښارونو کښ۔ او ثمودیان
الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾
هغه کسان چه تراشل به ئے کانړو لره په وادی القریٰ کښ (یا په لمنو د غرونو کښ)۔
وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾
او فرعون د میخونو والا۔ هغه کسان دی چه سرکشی ئے کړیوه په ښارونو کښ۔

فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ
نو زیاتی کړے وو په هغے کښې فساد لره. نو راواړولو په دوی باندے رب ستا چابك
عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾
د عذاب. یقیناً رب ستا خامخا په ځائے د انتظار کښې دے.

تفسیر : اُوس د یو څو کافرانو حال بیانوی، او دا ددے دپاره بیانوی چه الله تعالیٰ څه کافران پیدا کړی وو، عادیان، ثمودیان، فرعونیان، دا هغه خلق وو چه پیړ پیړ بدنونه الله تعالیٰ ورکړی وو، او دوئ دا قیمتی اَوقات برباد کړی وو، الله تعالیٰ ته ئے یوه سجده هم نۀ وه لګولے. دا لا څه چه د انبیاؤ په خلاف کښې ولاړ وو، او انکار د حق ئے کولو او په زمکه کښې ئے فسادونه کول. او چا چه د الله تعالیٰ بندګی کوله هغه ئے هم ترے ورانولو.

نو ددے مشرکانو تشبه د هغوی سره ده، نو هغوی الله تعالیٰ راونیول په خپل حق کښې، نو دغه شان به تاسو هم راونیسی ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾ الله تعالیٰ تاسو ته په انتظار دے.

نو دلته الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د زمانے د کافرانو او مشرکانو د ویرولو دپاره په قرآن کریم کښې د مخکنو کافرانو قومونو د سرکشئ او بیا د هغوئ بد انجام ذکر کړے دے.

ددے آیتونو نه هم مقصد د قریشو کافرانو له ویره ورکول دی چه که تاسو هم په خپل کفر او عناد باندے ټینګ پاتے شوئ نو لرے نۀ ده چه ستاسو انجام هم د عادیانو او ثمودیانو غونتے شی.

اَلَمْ تَرَ : نبی کریم ﷺ او بیا هر انسان ته خطاب دے چه آیا تا په قرآن کریم کښې ذکر شوو تاریخی واقعاتو ته کتلی نۀ دی چه ستا رب د قومِ عاد څۀ حال جوړ کړو، چه د هغوئ لقب [اِرم] وو، چه د دوئ جسمونه ډیر اوږدۀ وو، چه الله تعالیٰ ډیر قوی او صحت مند پیدا کړی وو، او د هغوئ د کورونو ستنے د هغوئ د جسمونو د اُوږدیدو په سبب د خیمو د ستنو پشان اُوږدے وے.

او اَلَمْ تَرَ کښې استفهام تقریری دے. یعنی آیا تا ته داسے علم نۀ دے راغلے چه هغه په یقین کښې د لیدو په شان وی. یعنی آؤ تۀ ددے نه خبر ئے. او تا ته ددے واقعات راغلی

دی۔

كَيْفَ فَعَلَ : پدے کښې د هغوی د لوی عذاب تعجیب دے چه دا عذاب په سورة الحاقة (۷/۱۰) آیتونو کښې ذکر دے۔

بِعَادٍ: دا د دوئ د نیکه نوم وو، بیا د قبیلے نوم وګرځیدو۔

إِرَمَ: دا د عاد دپاره عطف بیان دے، اشاره ده چه دا عاد اُولیٰ دے، ځکه چه عاد ځوی د اِرم او هغه ځوی د عوص او هغه ځوی د سام او هغه ځوی د نوح عليه السلام وو، او دوئ ته ئے په سورة النجم (۵۰) آیت کښې عادِ اولیٰ وئیلی وو۔ نو ارم ورسره ددے دپاره ذکر شو چه ددے نه څوك روستنی عادیان وانخلی چه هغے عادِ اخریٰ وائی۔ یعنی ثمودیان۔ ځکه چه دا دواړه قبیلے ارم ته ورجمع کیږی خو عادیان مخکښې وو، نو ځکه هغوی ارم ته منسوب شول او ثمودیان روستو وو۔ یا ارم د کلی نوم وو، نو هغے ته منسوب شو۔ اول قول ظاهر دے۔

ذَاتِ الْعِمَادِ : ۱- اَیْ ذَاتِ الْقُوَّةِ وَالشِّدَّةِ۔ یعنی قوت او سختئ والا وو۔ د دا قُوَّةُ الْاَعْمِدَةِ نه اخستے شوید ے۔ یعنی د ستنو په شان قوی قوی وو۔ (ضحاك رحمه الله)

۲- ابوعبیدهٔ وائی : دا کنایه ده د طولِ قامت نه۔ یعنی د هغوی بدنونه داسے دنګ دنګ وو لکه د اُوږدو ستنو په شان۔

۳- قتادهٔ او مجاهدٔ وائی : [اِنَّهُمْ كَانُوْا اَهْلَ عَمَدٍ سَيَّارَةٍ فِي الرَّبِيْعِ]

چه دے خلقو به د خیمه وهونکو مسافرو پشان شنهٔ شنهٔ ځیونه تالاش کول۔ او چرته به چه داسے ځائے ملاؤ شو نو هلته به ئے خیمه وهله، او په باقی ورځو کښې به خپل اصلی ځائے [أحقاف] ته واپس راتلل چه دا په حضرموت کښې واقع وو۔

او اشاره ده چه دوئ اکثر په داسے خیمو کښې وسیدل چه په ستنو باندے ولاړے وے۔

٤- ابن زیدٔ وائی :**ذات العماد** یعنی إِحْكَامُ الْبُنْيَانِ بِالْعَمَدِ۔ یعنی دوی مضبوطو آبادو والا وو په ستنو سره۔

او صحاح کښې ئے لیکلی دی چه عماد، اَلْاَبْنِيَةِ الرَّفِيْعَة (اُوچتو آبادو) ته وئیلے شی۔

او که ذات العماد صفت د کلی شی لکه اِرم د کلی نوم هم ذکر شوید ے، نو بیا به معنیٰ دا وی چه دا کلے د داسے ستنو والا وو چه د کانړو نه جوړے وے۔ یعنی دوی خیمو والا هم وو او آبادیانو والا هم۔

الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ : دا د عادیانو بل صفت دے۔ یعنی د عادیانو په شان د هغوی په قوت د بدنونو او سختیٔ او اوږدوالی کښې بله کومه قبیله نهٔ وه پیدا شوې۔
او دا هغه خلق وو چه دویٔ به وئیل ﴿مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً﴾ (فصلت : ۱۵)
او بعض وائی : دا صفت دَدے کلی دے۔ چه دَدے کلی په شان په هیڅ ښار کښې بل کوم ښار نهٔ وو موجود۔
او بیا دلته بعض مفسرینو غلط او منګرت واقعات لیکلی دی، خپل تفسیرونه ئے پرے بد رنګ کړیدی، کوم چه په قصه د شداد باندے مشهور دی۔ چه دا یو ښار وو چه د هغے قلعه ګانے، او کورونه او باغونه د سرو او سپینو نه جوړ وو، او د هغے کانړی د جواهرو نه وو، او د هغے خاوره د مشکو نه وه، او هغے کښې د بنیادمانو نه هیڅوك نهٔ وسیدو، او هغه به همیشه د یو ځای نه بل ځای ته نقل کیدل، کله به په یمن کښې وو او کله به په شام کښې، او کله په عراق کښې، او کله به په نورو ښارونو کښې وه۔ نو دا سو چه دروغ دی۔
حافظ ابن کثیرؒ لیکی چه دا قصه زندیقانو وضع کړیده، او د اسرائیلیانو خرافات دی۔
او دَدے قصے د منګرت والی دلیل په آیت کښې شته، او هغه دا چه الله تعالیٰ دلته (لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا) وئیلے دے، او (لَمْ يُعْمَلْ مِثْلُهَا) ئے نهٔ دے وئیلے۔ (ابن کثیرؒ)
معلومیږی چه دَدے نه مراد هغه خلق دی چه د هغوی په شان قوی الله تعالیٰ نور څوك نهٔ وو پیدا کړی۔ ځکه چه عمل هغے ته وائی چه انسانانو په لاسونو کړے وی، او د خلق نسبت الله تعالیٰ ته کیږی۔ داسے نهٔ وئیلے کیږی چه (خَلَقَ الْمَدِيْنَةَ) ښار ئے پیدا کړو بلکه (عَمِلَ الْمَدِيْنَةَ/ بَنَى الْمَدِيْنَةَ) وئیلے کیږی، یعنی ښار ئے جوړ کړو۔
حاصل دا چه : دا خلق په جسمانی قوت او زورورتیا کښې د نورو قومونو نه ډیر مخکښې شوی وو، او په عزت او شرافت کښې به ئے هم خپل ځانونه د نورو نه لوی ګڼړل، او کبر او نخره د دویٔ دویم فِطرت جوړ شوے وو، او د هیچا پرواه به ئے نه ساتله۔
دے وجے نه الله تعالیٰ چه کله هود علیه السلام د دویٔ د هدایت او لارښوونے دپاره را اولیږهٔ نو دویٔ د هغهٔ دعوت رد کړو او د کفر لاره ئے خپله کړه۔ الله تعالیٰ د سورهٔ حٰمٓ السجده په (۱۵) آیت کښې د دویٔ په باره کښې فرمایلی دی : ﴿فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً﴾ (هرچه عادیان دی نو دویٔ بے له وجے په زمکه کښې سرکشی

شروع کړه او وئیلې مونږ نه زورور بل څوك دے).
آیا ذوئ دا ونهٔ کتل چه کوم ذات چه دوئ پیدا کړی دی هغه د دوئ نه ډیر زیات زورور دے۔ چنانچه الله تعالیٰ د یو انتهائی تیز او تند باد په ذریعه دوئ هلاك کړل، او دنیا نه ئے د دوئ وجود ختم کړو۔
وَثَمُودَ الَّذِينَ: الله تعالیٰ وفرمایل : اے زما نبی ! تا د قوم ثمود حال نهٔ دے لیدلے، چه هغوئ مونږ ډیر قوی پیدا کړی وو، چه هغوئ به غرونه غوڅول، او په هغے کښې به ئے کورونه جوړول۔ د دوئ د هدایت او لار ښوونے دپاره مونږ صالح ﷺ نبی جوړ کړو، او ورته مو ور اولیږهٔ۔ هغهٔ دوئ الله تعالیٰ طرفته را اوبلل، او د ایمان دعوت ئے ورکړو نو هغوئ د هغهٔ د توحید او ایمان د دعوت نه انکار وکړو۔ دے وجے نه انجام دا شو چه مونږ هغوئ هلاك کړل۔
دے خلقو هم سره د لوی بدنونو او طاقتونو او نعمتونو نه د الله تعالیٰ هیڅ بندګی ونکړه، او دا قیمتی اَوقات ئے ضائع کړل، ټول عمرئے د آبادیانو په تراشلو او په کورونو جوړه ولو کښې تیر کړو، خپل رب ئے ونهٔ پیژندلو۔
ثمودیانو ته (اصحابِ حجر) وئیلے کیږی، د دوئ علاقه د مدینے منورے په شمال کښې د (مدائنِ صالح) او (دیار ثمود) په نوم پیژندلے کیږی۔ چه دا شام طرفته مدینے ته نزدے ځای دے۔ لکه چه مخکښې بیان شوی، دا خلق ډیر قوی جسمونو والا وو، او غرونه به ئے پریکول، او کورونه به ئے جوړول۔
مفسرینو لیکلی دی چه د دوئ یو زر او اتهٔ سوه ښارونه وو، هغه ټول د کاڼړو نه جوړ شوی وو۔ الله تعالیٰ د دوئ په باره کښې د سورۃ الشعراء په (۱٤۹) آیت کښې فرمایلی دی :

﴿ وَتَنۡحِتُوۡنَ الۡجِبَالَ بُيُوۡتًا فٰرِهِيۡنَ ﴾

(او تاسو غرونه تراشئ او د تکلف نه ډك کورونه جوړوئ)۔

او د سورۃ الحجر په (۸۲) آیت کښې فرمائی :

﴿ وَكَانُوۡا يَنۡحِتُوۡنَ مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا اٰمِنِيۡنَ ﴾

(دے خلقو به غرونه تراشل او بیغمه به ئے کورونه جوړول)۔

الصَّخۡرَ بِالۡوَادِ: دے وادی نه مراد وادی القریٰ ده۔
وَفِرۡعَوۡنَ ذِى الۡاَوۡتَادِ: ۱- یعنی دهٔ چه به چا له سزا ورکوله نو په هغه باندے به ئے په

لاسونو او خپو باندے میخونه تك وهل لكه چه د خپلے ښځے آسیه رضی الله عنها سره ئے داسے كړی وو۔
د ابن مسعود ﷺ نه نقل دی چه خپلے ښځے دپاره ئے څلور میخونه ووهل او بیائے د هغے په شا باندے د جرندے لوی پل كیخودو تردے چه هغه مړه شوه۔
۲- یا دا كنایه ده د ډیر فوج او پولیس او لښكرنه چه په هغے سره ئے خپل حكومت كلك كړے وو۔ لكه خلق وائی: «په خپله بادشاهی باندے ئے میخونه ووهل» یعنی په فوج سره ئے مضبوطه كړه۔
۳- یا دومره ډیرو فوجونو والا وو چه هغوی دپاره ډیرے خیمے وے چه هغه به ئے په میخونو باندے مضبوطے كړے وے۔
الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ: پدے كښ د دغه مكذبینو دوه مرضونه ذكر شویدی. بو طغیان او بل فساد۔ چه اول سبب د دویم دے۔
طَغَوْا: طغیان د شرعی حد نه تجاوز كول دی په عقیده او په عمل كښ۔ یعنی د پیغمبرانو د خبرو نه ئے سركشی كړے وه۔
الْفَسَادَ: فساد نه مراد دلته ټول ګناهونه او دعوت غیر الله ته او كفر كول دی۔
شربینیؒ لیكلی دی چه چا عمل وكړو په غیر د ما امر الله نه او حكم ئے كوو په بندګانو كښ په ظلم كولو سره نو هغه مُفسد دے۔ او دا مرضونه د عامو منكرینو بندګانو دی۔
سَوْطَ عَذَابٍ: دے كښ دے طرفته اشاره ده چه الله تعالیٰ چه په دنیا كښ كوم سخت عذاب دهٔ له وركړو، هغه د آخرت د عذاب په مقابله كښ د یو چابك (كوړے) ګذار وو۔
بعضو لیكلی دی چه په دے كښ د هغه عذاب سختئ طرفته اشاره ده كوم چه الله په دوی نازل كړے وو۔ څكه چه د چابك په ګوزار كښ تكرار وی، یعنی داسے عذاب وو چه بار بار پرے راغے او بنهٔ ئے نیست او نابود كړل۔
یا صَبَّ كښ اشاره ده دوام د عذاب ته، او سوط كښ زیات درد وركولو ته۔ یعنی دوئ ته همیشه او دردمند عذاب وركړے شو۔
فراءؒ وائی: عرب (سَوْط عذاب) كلمه د عذابونو د انواعو نه هرے نوع دپاره استعمالوی۔ او ددے وجه دا ده چه عربو به په هر عذاب كښ چابك استعمالولو۔ نو دا د دوئ انتهائی عذاب وو۔

او سوط خلط یعنی گډوډ والی ته هم وائی۔ یعنی داسے عذاب چه غوښه او وینه گډه وډه کوی۔ یا گډوډ عذاب، معنیٰ دا چه د هرے مخے نه پرے راغے۔

حاصل معنیٰ ئے ده : برخه د عذاب۔

إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ: که څوك ووائی چه هغوی هلاك شویدی، مونږ دپاره به نهٔ وی۔ نو الله وفرمایل : الله تعالیٰ د انتظار په ځای کښ دے [فَأَمَّا الْإِنسَانُ فَهُوَ غَافِلٌ] او انسان غافل دے۔

اے زما نبی ! ستا رب هر کافر او سرکش او ظالم او جابر ته په انتظار کښ ناست دے، د دوئ بد عملونه جمع کوی، دے دپاره چه دوئ له په دنیا کښ سزا ورکړی، او په آخرت کښ دوئ جهنم ته اُورسوی۔

مِرْصَادِ: د کمین او انتظار ځای ته وائی چه دے ته مورچه هم وائی۔

مرصاد دے ته وائی : یو ښکاری ښکار کوی، په یو ځای کښ ښکار ته پټ ناست وی چه هغه ئے ونهٔ وینی، کله چه هغه بیغمه رانزدے شی، نو دے پرے ناڅاپی حمله وکړی راوے نیسی په لاس یائے په غشی وولی۔

او مرصاد کښ د مجاهد شکل هم دے، چه دا کافرو ته کمین ونیسی، په پټ ځای کښ ناست وی، چه کافران ئے ونهٔ وینی، هغوی چه کله رانزدے شی نو دا ئے ونیسی یا ئے قتل کړی نو دلته تشبیه دغه شان ده۔ یعنی الله تعالیٰ بندگانو ته گوری، او دوی پرے ورتیریږی او ښهٔ غافله دی او الله تعالیٰ نه نشی فوت کیدے۔

عبد الله بن عباس ﷺ معنیٰ کوی : (لَبِالْمِرْصَاد : يَسْمَعُ وَيَرىٰ) الله آوری خبرے د بندگانو او وینی حال د بندگانو۔

یا معنیٰ ده : عَلَيْهِ طَرِيْقُ الْعِبَادِ لَايَفُوْتُهٗ اَحَدٌ ۔ د بندگانو لاره په الله باندے ده هیڅوك د الله نه نشی فوت کیدے۔

حافظ ابن کثیرؒ معنیٰ کوی : [يَرْصُدُ خَلْقَهٗ فِيْمَا يَعْمَلُوْنَ وَيُجَازِىْ كُلًّا بِسَعْيِهٖ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَسَيَعْرِضُ الْخَلَائِقُ كُلُّهُمْ عَلَيْهِ فَيَحْكُمُ فِيْهِمْ بِعَدْلِهٖ وَيُقَابِلُ كُلًّا بِمَا يَسْتَحِقُّهٗ وَهُوَ الْمُنَزَّهُ عَنِ الْجَوْرِ وَالظُّلْمِ]۔

یعنی انتظار کوی د خپل مخلوق د هغوی د عملونو، او هر یو تن ته به په دنیا او په آخرت کښ د هغهٔ د عمل بدله ورکوی، او زر دے چه ټول مخلوق به په هغه باندے

ورپیش کیږی نو هغه به په دوی کښ په خپل عدل سره فیصله کوی، او هر یو ته به د هغهٔ د استحقاق مطابق بدله ورکوی، او هغه د ظلم او زیاتی نه پاك دے)

مفسرینو لیکلی دی چه ددے نه مقصد بندگان د گناهونو نه ویرول، او دوئ له د طاعت او بندگئ رغبت ورکول دی، او دا خبره د آیت نه بیخی واضحه ده۔

فَأَمَّا الْإِنْسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ
نو هرچه انسان دے کله چه ازمینبت اُوکړی په دهٔ باندے رب ددهٔ نو عزت ورکړی دهٔ
وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿۱۵﴾ وَأَمَّا
لره او نعمتونه ورکړی دهٔ لره نو وائی رب زما عزت اُوکړو زما۔ او هرکله چه
إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي
ازمینبت اُوکړی په دهٔ باندے نو تنگ کړی په دهٔ باندے رزق ددهٔ نو وائی دے رب زما
أَهَانَنِ ﴿۱۶﴾ كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿۱۷﴾
سپکاوے اُوکړو زما۔ هیچرے داسے نهٔ ده، بلکه تاسو عزت نهٔ کوئ د یتیم۔
وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿۱۸﴾ وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ
او تیزی نهٔ ورکوئ په خوراك د مسکین باندے۔ او خورئ تاسو میراث (مال د مړو)
أَكْلًا لَّمًّا ﴿۱۹﴾ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿۲۰﴾
په خوراك ډیر سره او مینه کوئ د مال سره مینه ډیره۔

تفسیر: اُوس د مرض سبب بیانوی، چه هغه حُبُّ الدُّنیَا (د دنیا سره محبت) دے۔

حاصل د آیتونو داسے دے چه د انسان د دنیا سره دومره مینه ده چه بس همدا د عزت او ذلت سبب گنړی، الله ورله فراخی ورکړی نو وائی چه زهٔ ډیر عزتمن انسان یم، الله ته گران یم ځکه ئے راله دنیا فراخه کړه، صحت ورکړی نو دا سبب د کمال گنړی۔

او که الله تعالیٰ ئے غریب او مسکین او مریض کړی نو بیا وائی چه زهٔ د الله تعالیٰ

خوښ نۀ یم، الله تعالیٰ زما بې عزتي وکړه، او فلانے الله تعالیٰ پیژندلے دے ځکه ئے داسے غریب او مسکین جوړ کړیدے۔ دا د کافرو خبرے دي، الله فرمائي : زما په نیز باندے داسے خبره نۀ ده، چه څوك مالداره شي نو هغه به عزتمن وي، او چه څوك غریب نو هغه به بے عزته او سپك وي۔ بلکه د الله تعالیٰ په نیز باندے عزتمن هغه څوك دے چه الله تعالیٰ ئے په خپل طاعت کښې استعمال کړي په دے اوقاتو مبارکه ؤ کښې،

که الله تعالیٰ د سهار د مانځه او د جُمعے او د تهجدو او د نورو مونځونو توفیق درکولو، بیا د توحید او د ایمان توفیق ئے درکړو نو معلومه شوه چه تۀ الله تعالیٰ ته ګران ئے، او که ددے توفیق ئے نۀ درکولو، او په ګناه او په غفلت کښې ئے استعمالولے نو معلومیږي چه د الله تعالیٰ د نظر نه پریوتے ئے، اګرکه ډیر مالداره ئے۔ دا ډیر د ډیرے آیتونه دی۔

ددے وجه نه د سلفو طریقه دا وه چه کله به ترے یوه نیکي پاتے شوه، نو سخت به خفه کیدل، چه تهجد ما نه ولے قضاء شول، زۀ به د الله تعالیٰ خوښ نۀ یم، ځکه ما خپل ځان ته نۀ ودروی، جَمعه رانه ولے لاړه، زۀ د الله تعالیٰ خوښ نۀ یم، خفګان به ئے کولو او توبه به ئے الله تعالیٰ ته ویستله۔ او ګناه چه به ترے وشوه نو ډیر به خفه کیدل چه ما نه دا ګناه ولے صادره کړه، ما سره د الله تعالیٰ تعلق به نۀ وي۔ نو اکرام او اهانت په طاعت او په عصیان کښې دے نۀ په مال او غربت کښې۔

اِبْتَلَاهُ: ددے نه معلومه شوه چه د دنیا مالونه د الله تعالیٰ د طرفنه امتحان دے چه څوك شکر کوي او څوك نۀ۔

فَأَكْرَمَهُ: ددے نه مراد دنیاوي کرامت دے چه خلق ئے د دنیا د مال او جاه د وجه نه عزت کوي۔

وَنَعَّمَهُ: دا دلیل دے چه اَكْرَمَهٗ نه مراد دنیاوي نعمتونه دي۔ یعني په دنیاوي ژوند کښې ورله نعمتونه او فراخي زیاته ورکړي۔

أَكْرَمَنِ : یعني د فخر په شکل وائي چه زما رب زما عزت وکړو ځکه چه زۀ ددے مستحق وم۔ یا مطلب دا دے [يَجْعَلُ الدُّنْيَا نَصْبَ عَيْنِهٖ] چه دنیا نصب العین او هدف ګرځوي۔ یعني عزت صرف دنیاوي نعمتونو او دنیاوي عزتونو ته وائي۔ د دین عزت ته عزت نۀ وائي۔

اَهَانَنِ : یعني د دنیا د بعض نعمتونو نه محرومه کیدو ته بے عزتي وائي۔ دنیا ئے

مقصد گرځولے دے. او د الله تعالیٰ نه شکایتونه کوی.

او ددے وجه نه عادیانو، ثمودیانو او فرعونیانو او د قریشو مشرکانو په خپلو زمانو کښې غریبان مؤمنان سپك او ذلیله گنړل.

بیا دلته ئے د نعمتونو په صورت کښې اکرام لفظ ذکر کړو، او په تنگسیا د رزق او مال کښې ئے اهانت ذکر نکړو؟.

ددے وجه دا ده چه دنیاوی نعمتونه په ظاهره کښې د الله تعالیٰ د طرفنه اکرام دے اگرکه استدراج وی، او هرچه تنگسیا د رزق ده نو هغه اهانت نهٔ دے بلکه د ډیرو انبیاؤ علیهم السلام او صالحینو رزقونه تنگ وو اگرکه هغوی د الله تعالیٰ په نیز عزتمند وو.

كَلَّا بَل لَّا: اَیْ لَیْسَ الْاِکْرَامُ وَالْاِهَانَةُ بِالْمَالِ وَعَدَمِهٖ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ بِالطَّاعَةِ وَالْعِصْیَانِ.

یعنی داسے نهٔ ده چه اکرام او ذلت په مال او نشتوالی د مال سره دے د الله په نیز بلکه په طاعت او نافرمانئ سره دے.

د دولت او مالدارئ او د فقر او محتاجئ په دواړو حالتونو کښې د دوئ سوچ بیمار او د دوئ فکر کوږ وی. الله تعالیٰ که دوئ له دولت ورکړے دے، نو دے دپاره چه دوئ د هغهٔ شکر گذار بندگان جوړ شی، اوکه په محتاجئ کښې ئے اخته کړی دی، نو دے دپاره چه دوئ د الله تعالیٰ په تقدیر باندے راضی اوسی، صبر وکړی، او د تنگ دستئ باوجود د حرامو ذریعو نه د روزئ حاصلولو سوچ ونهٔ کړی.

بَلْ : د اِضراب دپاره دے. یعنی دا راتلونکی څلور اخلاق د اهانت سبب دے.

نو اے مشرکانو! تاسو بے عزته یئ ځکه چه تاسو ته د الله تعالیٰ د طاعت توفیق نهٔ دے ملاؤ بلکه د هغهٔ په نافرمانئ کښې لگیا یئ، د یتیم مال تاسو خورئ، مسکینانو ته څه نهٔ ورکوئ، د جینکو میراث نهٔ ورکوئ، پردی مالونه په ډنډو وهلو او خیانتونو او دهوکو سره خورئ، نو هر کله چه تاسو ته ددے کارونو توفیق درکوي، معلومیږی چه تاسو ئے دشمنان یئ.

كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ: د یتیم اکرام دا دے چه د هغهٔ د حق نه مدافعت وکړی، د هغهٔ د مال نه په ناجائزه طریقه ځان وساتی، د هغهٔ پالنه او پرورش وکړی، هغهٔ ته خپل زیاتی مال ورکړی، د هغهٔ په سر باندے د شفقت لاس رابنکاږی. چه دا د زړونو د نرمیدو سبب دے.

دویم : وَلَا تَحَاضُّونَ : یعنی خپل ځان ته او یو بل ته او خپل اهل ته تیزی نهٔ ورکوئ په خوراك ورکولو مسکینانو ته۔

او پدے کښې دا هم داخلیږی چه د مسکین دپاره یو تن سفارش وکړی، یا په صدقه د مسکین باندے عام بیان وکړی۔

عَلَى طَعَامِ: طعام په معنیٰ د اِطْعَام (یعنی خوراك ورکولو) سره دے۔ یا په خپله معنیٰ سره هم صحیح دے۔ او خبره واضحه ده۔

الْمِسْكِينِ: پدے کښې اشاره ده چه خپل ځان دپاره د مال د صدقاتو کوشش کوی، یا د قبرونو د منجورانو د نذرانے کولو او یا مالدارو ته د خوراك ورکولو کوشش کوی د ریاء او سمعت دپاره۔ لیکن مسکین چه صرف د الله دپاره ورته ورکړه کیږی، هغهٔ باندے خیرات نهٔ کوی۔ لکه ډیر خلق په خپلو ودونو او غلطو رواجی خیراتونو او سیلونو او چکرو کښې لکهونو روپئ لګوی، لیکن که یو مسکین ورته ودریږی نو بیا ئے په تندی باندے دولس بجاؤ وی۔ دے خلقو سره به الله تعالیٰ حساب کوی۔

دریم :وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ : د خوراك نه اخستل او حاصلول مراد دی، او خوراك لوی مقصد دے ځکه دا ذکر کیږی۔

التُّرَاثَ: هغه مال چه د مړی نه پاتے شی۔

أَكْلًا لَّمًّا : (خوراك غوند/ تهول/ یا سخت) اکل لما دے ته وائی چه د حلال او حرام تمییز نهٔ کوی خو صرف ئے راجمع کوی۔

د مړو د مال د خوراك ډیر صورتونه دی،

یو دا چه د خپلے حصے سره د بل چا حصه هم ځانله قبضه کړی، لکه زنانه او ماشومانو له میراث نهٔ ورکوی۔

❁ یا په تقسیم کښې بے انصافی وکړی، ځانله یا بل چا ته د خپلے حصے نه زیاته حصه ورکړی۔

❁ دارنګه د مړی ه کور نه درے مابنامونه، د جُمعے په شپه او چهلم او کلیزه او په حیله د اسقاط سره او د مړی د مال نه په خیرات کولو سره مال خوړل پکښې داخل دی۔ تهٔ چه د مړی د اولے او دویمے یا دریمے یا څلویښتمے ورځے خیرات له ورځے آیا تا دا فکر کړیدے

چه دا د چا د مال نه شویدے، د یتیمانانو مال ډِیے وخوړو۔

❁ دارنگه که پدیے موقعه د بل چا خیرات وی نو هم بدعت دیے، خوراك نه ئے ځان ساتل ضروری دی، د انسان ایمان او تقویٰ ته نقصان ورکوی۔ دا اکثر د بدلے دپاره وی۔

❁ دارنگه که یو تن خپلے خور یا ترور له میراث کښې برخه نهٔ وی ورکړی، د هغه پتے نه خوراك کول، د هغه دکان نه خوراك کول، په هغه کور کښې وسیدل دا ټول حرام دی، او پدیے کښې ډیے هر انسان ځان ته فکر وکړی، ستا پلار به ستا ترینډو ته میراث نهٔ وی ورکړیے، هغه مال او پټے او دکان به تا ته پاتے شوے وی، تهٔ هم حرام خورئے، مګر دا چه فوراً توبه وباسے او خپل حقدار ته حق وسپاریے۔

لَّمًّا: په اصل کښې متفرق څیز راجمع کولو ته وائی، نو دلته هم دا شخص د هر طرفنه ځانله پردی مالونه راجمع کول غواړی۔

ابن زیدؒ وائی: اکل لم دیے ته وائی چه د خپل مال سره د بل چا مال هم خوری۔ او دا فکر نهٔ کوی چه دهٔ خبیث وخوړو او که طیب (پاك/ حلال)۔

او په عربو کښې هم د اسماعیل علیه السلام د شریعت نه د میراث حکم معلوم وو، نو ددیے وجه نه دا نهٔ وئیلے کیږی چه دا سورت خو مکی دیے او د میراث آیتونه مدنی دی نو دغه وخت میراث څه معلوم وو۔

حُبًّا جَمًّا: اَیْ کَثِیْرًا۔ یعنی محبت ډیر۔ اَیْ یَأْکُلُ حَقَّهٗ وَحَقَّ غَیْرِهٖ۔

یعنی خپل حق هم خوری او د بل حق هم خوری۔ او مال سره ئے دومره مینه ده چه دین هم پریے پریدی، عبادتونه پریے ضائع کوی۔

که یو طرف ته د دکاندارئ موقعه وی، او بل طرفته د مانځه او جمعے وخت وی نو دیے دکانداری غوره کړی نو دا حُبًّا جَمًّا دیے۔ ډیرو خلقو په ډالرو او د دنیا په مال متاع سره خپل آخرت تباه کړو۔

كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾
هيچرې داسې نهٔ ده پكار كله چه اُوخوزولې شي زمكه په خوزولو خوزولو سره۔ (كله چه هموار شي زمكه په پوره هواريدلو سره) (كله چه اُوټكولې شي زمكه
وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾
په ټكولو ډيرو سره)۔ او رابه شي رب ستا او ملائك صفونه صفونه۔
وَجِيْءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ
او رابه وستې شي په دغه ورځ جهنم (نو) پدغه ورځ به نصيحت اخلي انسان
وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي
او څنګه به وى دهٔ لره نصيحت اخستل۔ وائى به هائې ارمان دې ما لره
قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾
چه مخكښې ليږلې وې ما (عملونه) دپاره ددې ژوند زما۔

تفسير : اُوس د مرض علاج بيانيږي۔ يعنى دنيا سره محبت مهٔ كوه، او د دغه مخكنو بدو اخلاقو نه ځان وساته او د آخرت ورځ رايادة كړه، چه هلته بيا آرمونه نهٔ كوې۔

كَلَّا: يعنى دغه مخكنى كارونه نهٔ دى پكار۔ د الله تعالىٰ احسان مهٔ هيره وه، د هغهٔ ناشكرى او جزع فزع مهٔ كوه، د يتيمانانو مالونه مهٔ خوره، د انتهائى درجه بخل او د مال سره سخته مينه كونكې مهٔ جوړيږه۔

څكه كوم كس چه په دې خرابو صفتونو سره متصف وى هغه به د قيامت په ورځ افسوس كوى په داسې وخت كښې چه دا كار به ددهٔ هيڅ پكار رانشى۔

إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا: يعنى چه كله زمكه پوره سختئ سره داسې اوخوزيږى چه په دې باندې پراتهٔ غرونه ټكړې ټكړې شى، او ددې سطح هواره شى، او رب العالمين د خپلو بندګانو ترمينځه د فيصلې كولو دپاره مخې ته راشى، او د قيامت په را

ښکاره کیدو کښې معمولي شان شبه هم پاتے نشي، او په آسمانونو کښې موجود ملائك د خپل رب مخے ته په انتهائي خشوع اوخضوع سره قطار قطار اودریږي، او په دے ورځ به ملائك جهنم د زنځیرونو په ذریعه راښکلو سره د مخلوق مخامخ راولي، دا به ټول خلق په خپلو سترګو سره ویني، او کافر ته به یقین راشي چه همدا ددهٔ ځائے دے۔

د سورۂ النازعات په (۳۹) آیت کښې تیر شوي دي: ﴿ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرٰى ﴾ (او د هر لیدونکي مخے ته به جهنم راښکاره کړے شي)۔

دَكًّا دَكًّا: دك په اصل کښې ماتیدو او جړقیدو ته وئیلے شي، او په معنیٰ د هوارېدو سره هم راځي۔ یعني زمکه به جټکے وخوري، او غرونو سره به وجنګیږي نو ذره ذره به شي۔ او دکا دکا کښې تکرار د کثرت او د مبالغے دپاره دے، یعني بار بار به خوزیږي تر دے چه ټول هرڅه به پکښې دهنیا شي۔

وَجَاءَ رَبُّكَ: یعني ددے نه روستو به ستا رب راشي د آسمان نه۔ او دا راتلل په خپل ظاهر دي، او همدا حقیقت دے، او پدے کښې تاویل کول په راتللو د عذاب یا راتللو د امر د الله تعالیٰ، یا راتلل د ملائکو سره د سلف صالحینو د مذهب خلاف دي، او د جهمیه او مبتدعینو مذهب دے۔

او دا راتلل د الله تعالیٰ د شان مناسب دي، کیفیت ئے مونږ ته نهٔ دے خودلے شوے، نو په ظاهر به ئے ایمان لرو په غیر د تاویل، تشبیه، تمثیل، تعطیل، او تکییف نه۔

او هرکله چه د الله تعالیٰ صفتونه د مخلوق د صفتونو سره مشابهت نهٔ لري، نو بیا دا إعتراضونه نشي کیدے چه که الله تعالیٰ لره مجیئ (راتلل) ثابت شي، نو بیا به انتقال او مکان او جهت ورله ثابت شي، او الله خو ددے نه پاك دے۔ دا اعتراض او لوازمات خو هغه وخت کښې کیدے شي چه د الله تعالیٰ راتلل د مخلوق د راتللو په شان شي۔ الله تعالیٰ پدے راتللو باندے قادر دے څنګه ئے چه خوښه وي هغه شان به راځي او هغه هیڅ ته محتاج هم نهٔ دے۔ نو پدے کښې هیڅ اشکال نشته۔

وَالْمَلَكُ: الف لام استغراقي یا جنسي دي۔

صَفًّا صَفًّا: دا تکرار هم د صفونو کثرت ته اشاره ده۔

او عطاءؒ او ضحاكؒ وائي چه د هر آسمان ملائك به د قیامت په ورځ راکوز شي، او هغوي به صفونه جوړ کړي وي چه د زمکے او د زمکے والو نه به ئے ګیره اچولي وي، نو

دا بـه اُوه صـفـونـه وی۔ (په اندازه د اُوه آسمانونو) لکه دا تصویر مونږ مخکښې بیان کړے وو۔

وَجِيْءَ يَوْمَئِذٍ: کـلـه چه دا حالت جوړ شی نو الله تعالیٰ به حکم وکړی چه د کافرانو د یـره ولـو دپـاره جهـنـم د حشر میدان ته راوستے شی، ملائك به وریسے ورشی، او د زمکے لاندے نه به ئے راوباسی او د حشر میدان ته به ئے راولی۔ دا د جهنمیانو جیل دے۔

او په حدیث د مسلم کښې دی:

[يُؤْتٰى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّوْنَهَا]

چـه جهـنـم به داسے راوستلے شی چه د هغهٔ به اویا زره زنځیرونه وی، او هر زنځیر سره به اویا زره ملائك وی چه هغه به راکاږی۔

(مسلم فی الجنة حدیث: ۲۹) والترمذی فی جهنم باب ۱) ډیر غټ مخلوق دے۔

نو آیت په خپل ظاهر بناء دے۔

او بـعـض وائـی: جهـنـمـیـانـو تـه بـه هـغـه راښکاره کړے شی۔ لکه ﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِلْغَاوِيْنَ﴾ لیـکـن صـحـیـح دا ده چـه د دغه آیت معنیٰ ددے آیت سره مخالف نهٔ ده بلکه کـلـه چـه میدان تـه راوستے شی نو سرکشانو ته به راښکاره کړے شی، او د هغوی هیبت به نور هم زیات کړے شی چه زمونږ د عذاب ځای راغلو۔

يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ: یعنی کله چه انسان دا حالت وینی نو پدے ورځ به هر انسان پـه دنـیـا کـښې کـړے کـوتـاهئ رایادے کړی، او د خپل رب په طاعت او بندګئ او په نیکو عـمـلـونو کښې سستی او کوتاهئ کولو کښې به سوچ وکړی، او په افسوس او خـپـیـمـانـتـیا کـښې بـه ډوب شی، او خپل ځان تـه به وائی، اے آرمان دے! ما ددے آخرت د ژوند دپاره په دنـیـا کـښې ښهٔ کارونه کړی وے، لیـکن ددے افسوسونو او خپیمانئ به دهٔ ته هیڅ فائده نهٔ رسیږی۔ همدا خبره د سورهٔ الفرقان په (۲۸/۲۷) آیتونو کښې داسے بیان شوے ده:

﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا﴾ (او پـه دے ورځ بـه ظـالم انسان په خپلو لاسونو باندے چکونه لګوی وائی بـه: آرمان دے چه ما د رسول ﷺ لاره اختیـار کـړے وے، هائے افسوس! آرمان دے چه ما فلانے دوست نهٔ وے جوړ کړے)۔

يَتَذَكَّرُ: ۱- ددے مـفعول پټ دے، یعنی خپل حالت به ورته رایاد شی۔ چه څه پکار وو

او ما څه کړیدی۔
۲- یا خپل عملونه او ګناهونه به رایاد کړی۔ اُوس به ئے سترګے کولاوے شی۔
۳- یا معنیٰ دا ده : په دغه ورځ به نصیحت واخلی انسان۔
وَأَنَّى لَهُ الذِّكْرَى : لیکن اُوس دهٔ لـه د ګناهونو یاداشت څه فائده ورکوی۔ اَیُ اَنّٰی لَهٗ مَنْفَعَةُ الذِکْرٰی۔ یعنی دهٔ به نصیحت او ګناهونه رایادول څه فائده ورکړی۔
۲- یا معنیٰ ده : د کوم ځای نه به راشی دهٔ له عبرت اخستل۔ د عبرت اخستو ځای خـو پـه دنیا کښې وو۔ اُوس که عبرت واخلی نو څه فائده به وکړی۔ په داسے سخت ځای کښې خپیمانه شو چه خپیمانتیا ورله هیڅ فائده نهٔ ورکوی۔
لِحَيَاتِي : د ژوند نسبت ئے ځان ته وکړو۔ (زما ژوند) یعنی اصلی ژوند خو زما دا وو او دنیا خو یوه بانډه وه، د چکر یو ځای وو۔
او کوم مفسرین چه لام په معنیٰ د (فِیْ) اخلی او د حیاة نه دنیاوی ژوند مراد کوی، نو دا تفسیر ضعیف دے۔ ځکه چه دهٔ ته اُوس د دنیا ژوند هیڅ ژوند نهٔ ښکاره کیږی، ځکه چه کامل او همیشه ژوند خو د آخرت ژوند دے۔

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾
نو په دغه ورځ به عذاب نهٔ ورکوی پشان د عذاب د الله هیڅوك۔
وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾
او تړل نشی کولے پشان د تړلو د الله هیڅوك۔ اے نفس اطمینان والا۔ (یقین کونکیه)
ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
واپس شه رب خپل ته خوشحاله کړے شوے۔
فَادْخُلِي فِي عِبَادِي ﴿٢٩﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾
نو داخل شه په بندګانو زما کښې۔ او داخل شوه جنت زما ته۔

تفسیر : مخکښې د الله تعالیٰ حقوق بربادول ذکر شو نو اُوس الله تعالیٰ د خپل حق په بدله کښې د کافرانو قید او بند او د عذاب سختی بیانوی۔ ګویا که د الله تعالیٰ قرض ئے

ضائع کړیدے نو الله تعالیٰ ترے بدله اخلی، او د هغے په بدله کښې ئے تری.
عَذَابَهُ او وَثَاقَهُ: ۱- دا دواړه ضمیرونه الله تعالیٰ ته راجع دی. یعنی د الله تعالیٰ د عذاب او د هغه د تړلو په شان بل هیڅوك عذاب او تړل نشی کولے.
۲- یا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ د جهنمیانو عذاب او وثاق بل چا ته د انسانانو نه نهٔ سپاری بلکه خپله او په واسطه د زبانیه ملائکو سره ئے ورکوی.
۳- یا ضمیرونه جهنمی انسان ته راجع دی، یعنی ددے جهنمی انسان د عذاب ورکیدو او ددهٔ تړلے کیدو په شان به بل هیڅوك عذاب او تړل نهٔ کوی.
یعنی په دے ورځ به الله جل شانه دوئ له داسے سخت عذاب ورکوی چه ددے مثال به دوئ په دنیا کښې نهٔ وی لیدلے، او دوئ به د اُور په زنځیرونو سره اوتړلے شی او پړمخے به جهنم ته راښکلے شی، او دوئ به همیشه دپاره په دے حال کښې اوسیږی.
وجه دا وه چه دوئ په دنیا کښې آزاد ژوند تیر کړے وو، نو جزاء د جنس د عمل نه وی.
يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ : او کومو خلقو چه په دنیا کښې ایمان راوړے او نیك عملونه ئے کړی وی، د دوئ انجام به په دے ورځ ښهٔ وی، دوئ ته به زیرے ورکړے کیږی، دوئ ته به د مرګ په وخت یا د دوباره ژوند په ورځ، یا جنت ته د داخلیدو په وخت الله تعالیٰ آواز ورکړی او ویه وائی چه اے هغه پاکیزه روحه! چه هغهٔ په دنیا کښې خپل رب یاد کړے، هغهٔ سره ئے محبت کړے، او د هغهٔ د طاعت او بندګئ په ذریعه ئے سکون او اطمینان حاصل کړے، نن تهٔ د هغهٔ ګاونډ ته لاړ شه، په داسے حال کښې چه تهٔ د هغهٔ د ورکړو نعمتونو نه راضی ئے، او هغه اُوس تانه همیشه دپاره راضی شو.
نَفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ: اَلَّتِیْ لَا قَرَارَ لَهَا وَلَا اِطْمِئْنَانَ لَهَا بِغَیْرِ ذِکْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ.
دا هغه نفس دے چه ددهٔ د الله تعالیٰ د ذکر نه بغیر څه آرام او اطمینان نهٔ وی، د الله تعالیٰ د ذکر او د هغهٔ د تعلق نه بغیر ئے وخت نهٔ تیریږی.
❁ او نفس مطمئنه هغه دے چه هغه خپل دغه ذکر شوی قیمتی اوقات د الله تعالیٰ په بندګئ باندے آباد کړی وی،
❁ او نفس مطمئنه: هغه نفس دے چه یقین والا وی، د الله تعالیٰ په ذات، د هغهٔ په حقوقو، او د هغه په صفاتو او په آخرت باندے ئے یقین دے.
❁ یا نفس مطمئنه هغه نفس دے چه کامل ایمان لرونکے وی، د هر قسم شرك نه ځان

ساتونکے وی، او د الله تعالیٰ په ذکر باندے تسلی حاصلونکے وی، او د الله تعالیٰ په احکامو باندے یقین کونکے وی، او د الله تعالیٰ په قضاء (فیصلو) باندے راضی وی۔ دا ټول صفات چه پکښې راجمع وی دا نفس مطمئنه دے۔

إِلَى رَبِّكِ: په دنیا کښې هر مؤمن د الله تعالیٰ طلبګار وی، او چا کښې چه دا طلب نهٔ وی نو هغه بیکاره دے۔ الله تعالیٰ ته واپسئ نه مراد د هغهٔ مخے او د هغه دیدار له ورتلل دی۔

رَاضِيَةً: یعنی تهٔ به خوشحاله ئے۔

مَّرْضِيَّةً: تهٔ به خوشحاله کړے شوے ئے۔ یعنی الله تعالیٰ به تا نه راضی وی۔ نو اوله خوشحالی ده په نعمتونو د الله تعالیٰ سره۔ او دویمه خوشحالی په اعتبار د عملونو ددهٔ سره ده۔ یعنی ستا عملونه د الله په نیز مقبول وو نو پدے وجه الله تعالیٰ درنه راضی شویدے۔

فِيْ عِبَادِيْ: ١- أَيِ الَّذِيْنَ عَبَدُوْنِيْ فِيْ تِلْكَ الْاَوْقَاتِ السَّابِقَةِ۔

یعنی په هغه خلقو کښې ننوزه چه هغوی په دغه مخکنو اوقاتو کښې زما بندګی کړیده۔ ٢- یا تهٔ نن زما په هغه خاصو بندګانو کښې شامل شه چه هغوئ ته نهٔ ویره رسیږی او نهٔ کوم غم او خفګان، نو ډیر ښکلے ملګری ئے درله درکړل۔

وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ: او تهٔ دوئ سره زما جنت ته ننوځه۔ نو دا د دوئ کور شو۔

او د روح وتو په وخت کښې هم انسان جنت ته ځی ځکه چه روح ئے علیین (جنت) ته داخلیږی، او هلته مزے کوی۔ او بیا په قیامت کښې به د روح او بدن دواړو سره جنت ته داخلیږی۔ وبالله التوفیق.

ختم شو تفسیر د سورة الفجر په توفیق د رب العالمین سره په رمضان (٢٤) یوم الاربعاء۔ بجه: ٤: ١٢

او تصحیح لیلة الاثنین ١٦ ذی الحجه ١٤٣٧۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آياتها (٢٠)	(٩٠) سُوۡرَةُ الۡبَلَدِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (١)

سورة البلد مكي دے، په دے كښې شل آيتونه او يوه ركوع ده

تفسير سورة البلد

نوم : په اولنى آيت كښې [البلد] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم كيښوے شوے.

د نازليدو زمانه : دا سورت د ټولو په نيز مكي دے. ابن مردويهؒ او بيهقيؒ او نورو د ابن عباس او ابن زبير رضى الله عنهم نه روايت كړى دى چه سورۀ ﴿لَا أُقۡسِمُ بِهٰذَا الۡبَلَدِ﴾ په مكه كښې نازل شوے.

د سورت مقصد

بَيَانُ اَنَّ الۡاِنۡسَانَ خُلِقَ لِلۡمَشَقَّةِ .ددے خبرے بيان چه انسان مشقت دپاره پيدا دے، دا خو اجمالي خبره ده، ددے فائده دا ده چه ددۀ مشقت (يعنى عمل) په دوه قسمه دے، يو سعى صالح. (يا به د نيكئ كوشش كوى) او سعى غير صالح. (يا به د بدئ كوشش كوى).

د بدئ كوشش ولے كوى؟ نو ددے وجه بيانوى چه هغه دوه وجے دى :

❁ يوه دا چه په خپل ځان باندے بل څوك سر نۀ منى، يعنى په ځان باندے څوك قادر نۀ منى چه دۀ نۀ به تپوس وكړى.

❁ دويمه وجه : په ځان باندے ليدونكے نۀ منى چه ددۀ عملونو ته ګورى، او بيا به دۀ سره حساب وكړى. يعنى نۀ قادر منى او نۀ ليدونكے. او عمل د انسان په همدے دوه طريقو سره خرابيږى، بيا آزادى ده چه څه ئے زړه غواړى كوى ئې ئے.

بيا به مالونه بے ځايه لګوى، او د انسان عمل په څه باندے ښه كيږى (سعى صالح) نو هغه په دغه دوه كارونو سره، ❁ يو دا چه د خپل ځان دپاسه رب العالمين ګڼړى چه هغه

په ما قادر دے، ما نه به د هرے خبرے تپوس کوی،

❁ او په ما باندے عالم او خبردار دے، کله چه انسان کښې دا ښکلے دوه عقیدے راشی، نو ددے نه به ډیر ښکلے صفات پیدا شی، په دۀ کښې به ایمان راشی، دۀ کښې به صبر، دۀ کښې به رحم راشی، د الله په بندګانو به شفقت پیدا شی،

او الله تعالیٰ فرمائی چه ما هر انسان ته دوه لارے خودلے دی، د نیکئ لارے او د بدئ، ددۀ خوښه ده چه په کومه لاره ځی خو بیا سزا او جزاء پدے باندے مرتب دی، دا یو انسان به اصحاب المیمنه کښې داخلیږی، نو جنت ته به لاړ شی او دا بل انسان به بدبخته شی او اُور ته به لاړ شی۔

او ددے مقصد دپاره الله تعالیٰ اول کښې قسم کړیدے، د قرآن کریم دعوت ډیر کامل وی، د هر طرفنه دا خبره کوی، ددے وجه نه انسان پرے ډیر کرته نۀ پوهیږی چه دا څه خبره بیانوی، ډیر کرت به تۀ په سورة البلد باندے راتیر شوے ئے لیکن په اصلی مقصد به ئے ډیر کم پوهه شوے ئے۔

نو اول کښې الله تعالیٰ په درے څیزونو قسم کړیدے، په مکه مکرمه، دویم په والدٌ او دریم په ولد۔ قسم پدے دے چه انسان د مشقت دپاره پیدا دے۔ (دا جواب قسم دے)

مشقتونه دوه قسمه دی، بد او نیك۔ که څوك ووائی :

بدی چه څوك کوی نو دا به پدے وجه کوی چه پته به ورته نۀ وی نو الله تعالیٰ روستو فرمائی ﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾ پته ورته شته۔ ما هر انسان ته دوه لارے ښودلی دی، نیکه او بده۔ ګویا که دا انسان چه بدی کوی نو ښه په پوهه سره ئے کوی۔

نو چا چه بدی وکړی سره د علم نه نو دا راګیر دے، او څوك چه نیکی وکړی سره د علم نه نو دا کامیاب دے۔ نو سورت به پدے طریقه روان وی۔

نو خلاصه د سورت دا شوه :

بَيَانُ مَشَقَّةِ الْإِنْسَانِ وَاَنَّ الْمَشَقَّةَ قِسْمَانِ، مَشَقَّةٌ سَيِّئَةٌ وَمَشَقَّةٌ صَالِحَةٌ وَسَبَبُ ذٰلِكَ وَنَتَائِجُ ذٰلِكَ وَالْقَسَمُ عَلٰى ذٰلِكَ اَوَّلًا۔

(یعنی د انسان د مشقت بیان، او دا چه مشقت دوه قسمه دے، بد او نیك، او ددے سبب، او ددے نتیجے او اول کښې پدے خبره باندے قسم شویدے)

لَا أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾
خامخا قسم کوم زهٔ پدے ښار (یعنی مکه)۔ پداسے حال کښې چه تهٔ نازل ئے پدے ښار کښې۔ (او ستا بے عزتی کیدیشی پدے ښار کښې) (او تهٔ به نازلیدونکے ئے دے ښار
وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا
ته)۔ او قسم په هر پلار او په هغه چه اولادئے راوړیدی۔ یقیناً پیدا کړیدے مونږ
الْإِنْسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾
انسان په مشقت کښې۔

تفسیر : [لَا أُقْسِمُ] کښې (لا) د تاکید دپاره د قسم په ابتداء کښې زیاتی کیږی۔

❁ یا پدے کښې نفی ده د گمان د کافر انسان، یعنی انسان دِے دا گمان نهٔ کوی چه دے به هیڅ محنت او مشقت نهٔ کوی، مُهمل به وی، یا به په مشقت کولو کښې آزاد وی۔ او مجاهدؒ وائی چه پدے کښې رد دے په هغه چا چه د بعث نه منکر دے۔ یعنی خبره داسے نهٔ ده څنگه چه تاسو گمان کوئ چه تاسو به دوباره نهٔ ژوندی کیږئ۔

او نور تفصیل په تفسیر د سورة الواقعه کښې ذکر شویدے۔

بِهٰذَا الْبَلَدِ : نه دلته په اتفاق د مفسرینو سره مکه مکرمه مراد ده۔ او قَسَم ئے په دے حال سره تړلے دے چه نبی کریم ﷺ په دے ښار کښې موجود دے، چه په دے کښې دے طرفته اشاره ده چه په مکے باندے قَسَم ځکه خوړلے کیږی چه نبی ﷺ هلته موجود دے، یعنی ستا هلته اوسیدل د مکے دپاره د شرافت خبره ده، لیکن مکے والو دا حقیقت ونهٔ پیژندهٔ، او هلته نه ئے ستا د اوښکلو فیصله وکړه۔

نو حِل په معنیٰ د مُقِيم او حَالٌ (نازل) سره دے۔

٢- یا حل په معنیٰ د استحلال د حرمت سره دے۔ پدے کښې د مکے والو په حال باندے تعجب ښکاره شوے چه اے زما نبی ! ستا بیعزتی او بے احترامی کیږی، او رنگ رنگ تکلیفونه درکړے کیږی پدے ښار کښې حال دا چه پدے کښې د کونترے ښکار کول هم حلال نهٔ دی۔ لکه په لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللهِ (المائده : ٢) کښې دا معنیٰ راغلے ده۔

۳- یا حل په معنیٰ د نازل سره دے، یعنی ته به نازلیدونکے ئے دے ښار ته په طریقه د فتح کولو سره۔

٤- او حل په معنیٰ د حلال سره هم صحیح ده، یعنی ستا دپاره حلال دے پدے کښې قتال کول، او هرچه ستا نه سوئ نور خلق دی نو هغوی دپاره نهٔ دے حلال۔

نو په دے آیت کښې نبی ﷺ ته د فتح او کامیابئ زیرے ورکړے شوے چه ډیر زر به ته دلته د فاتح په حیثیت داخل شے، او د مشرکانو نه به څهٔ وژنے او څهٔ به قید کوے۔

او دا استثنائی حکم نبی ﷺ پورے خاص وو، (چه دا دواړه کارونه صرف نبی کریم ﷺ دپاره جائز کړے شوی وو) مکه مکرمه نهٔ د هغهٔ نه مخکښې چا دپاره حلاله شوے وه، او نهٔ به د هغهٔ نه پس چاله حلاله کړے شی۔

امام بخاریؒ په کتاب المغازی کښې د مجاهدؒ نه روایت کړی دی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: [إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي، وَلَا تَحِلُّ لِأَحَدٍ بَعْدِي، وَإِنَّمَا أُحِلَّتْ لِيْ سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ] یعنی الله تعالیٰ مکه حرامه گرځولے ده، نو نهٔ مانه مخکښې چاله حلاله شوے وه او نهٔ به ما نه پس چاله حلاله وی، او زما دپاره هم د ورځے د یو ساعت دپاره حلاله جوړه کړے شوه)۔ (بخاری: ۱۱۲ او ۱۳٤۹ و۱۸۳۳)

د ابن جریرؒ په روایت کښې دی چه په دے ساعت کښې ابن خَطل اووژلے شو په داسے حال کښې چه هغه د کعبے څادر نیولے زوړند وو۔

﴿وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ﴾ په ﴿هٰذَا الْبَلَدِ﴾ باندے عطف دے۔ او دا دویم او دریم قسم دے۔

(۱) د بعضو په نیز ددے نه مراد آدم علیه السلام او د هغهٔ ټول اولاد دی۔ او دا قول د مجاهدؒ او حسن بصریؒ دے۔

(۲) او بعضو وئیلی دی چه ددے نه مراد ابراهیم علیه السلام او د هغهٔ اولاد دی۔

(۳) د ابن جریرؒ په نیز ددے نه مراد هر پلار او بچے دے، ځکه چه آدم علیه السلام یا ابراهیم علیه السلام سره د خاص کولو هیڅ دلیل نشته دے۔

او (مَا) ئے راوړه د (مَنْ) په ځای ځکه چه لوی شان او کثرتِ د اولادو ته اشاره ده۔

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ﴾ د مخکښې قسم جوابِ قسم دے۔

فِيْ كَبَدٍ: اَیْ يُكَابِدُ مَشَقَّاتِ الدُّنْيَا وَشَدَائِدَ الْآخِرَةِ (حسن بصریؒ)۔

یعنی د دنیا او د آخرت تمام مشقتونه صرف انسان برداشت کوی، د الله تعالیٰ د طرفنه

مکلف دے، لکه اول د مور په خیټه کښې قرارے نیسی، د هغه ځایٔ تنګی او تکلیف برداشت کړی، بیا دنیا ته د راتو تکلیف، بیا په دنیا کښې رنګارنګ تکلیفونه پورته کوی، دنیاوی او دینی، بیا د مرګ په وخت بیا په برزخ کښې بیا د قیامت په ورځ په حساب کتاب سره۔ لیکن ددے سره الله تعالیٰ ورله عزت هم ورکوی کله ئے چه د خپل رب سره تعلق پیدا شو۔

فِیْ کَبَدٍ کښې فِیْ په معنیٰ د لام دے۔ یعنی د مشقت دپاره پیدا دے، لیکن فِیْ ئے ذکر کړو، اشاره ده چه دے همیشه په مشقتونو کښې ننوتے دے۔ او دا داسے دے لکه منطقیان وائی : (کُلُّ اِنْسَانٍ وَحَیَوَانٍ حَسَّاسٌ مُتَحَرِّكٌ بِالْاِرَادَةِ) هر انسان او حیوان حساس دے، او حرکت په اراده کوی، د هغه نه به یو کار ضرور کیږی، ضرور په یو کار کښې مصروف وی، نو انسان به یو مشقت ضرور کوی، یا به د نیکیٔ کار وی یا به د بدیٔ وی۔

کَبَدٍ: په اصل کښې شدت او مشقت ته وائی۔ او ددے نه مراد سختیٔ تیرول دی، بدنی وی، که مالی، اختیاری سختیٔ وی (یعنی عملونه د خیر او شر وی) یا غیر اختیاری وی۔

او علامه قرطبیؒ هغه مکابدات (سختیانے) تقریباً پنځه ویشت ذکر کړیدی چه هغه د پیدائش نه پس د نوم د پریکیدو نه واخله تر جنت یا جهنم ته داخلیدو پورے په دهٔ باندے تیریږی۔ لکه اول د نوم پریکړے کیدل، بیا په وروني کښې تړل او پرانستل، بیا د تی رودلو تکلیف، بیا د غاښونو د راختو تکلیف او د ژبے د خوزیدو، بیا د تی نه د پریکولو تکلیف، بیا د ختنه (سنت) کولو، او غمونو او دردونو،

بیا د استاذ حمله او وهل او هیبت، بیا د وادهٔ کولو او په هغے کښې د جلتی کولو تکلیف، بیا د اولاد د مشغولتیا تکلیف، بیا د خادمانو او د لښکرو، بیا د کورونو او بنګلو جوړولو د مشغولتیا تکلیف، بیا بوډا والے او زوړوالے، او د ګوډو او قدمونو کمزوروالے، سره د نورو مصیبتونو نه چه په دهٔ باندے پدے وختونو کښې راځی لکه سر درد، د غاښونو درد، د سترګو چخنے کیدو او خوږیدو درد، د قرض غم، او د غوږونو درد۔

نو دارنګه په مال او نفس کښې تکلیفونه برداشت کوی لکه وهل او جیل ته تلل،

لنډه دا چه دهٔ باندے داسے ورځ نهٔ راځی چه دے پکښې یو مشقت او تکلیف نهٔ پورته کوی، بیا ددے ټولو نه پس مرګ راځی، بیا د ملائکو سوال وجواب او د قبر تنګی او

تیارهٔ، بیا دوباره ژوندے کیدل او په الله تعالیٰ باندے پیش کیدل تردے چه دے قرارے ونیسی جنت ته یا جهنم ته۔ دا د انسان مشقتونه دی۔

او بیا ئے وئیلی دی چه که انسان ته ددے کارونو اختیار ورکړے شوے وے، نو دا مشقتونه به ئے نهٔ وے برداشت کړی، او دا ټول ددے خبرے دلیل دے چه ددهٔ یو خالق شته چه ددهٔ تدبیر او پروګرامونه کوی، او په دهٔ باندے پدے احوالو سره فیصلے کوی، نو دهٔ له پکار دی چه د هغهٔ حکمونه عملی کړی۔ انتهیٰ۔

او ذو النون المصریؒ وائی : لَمۡ يَزَلۡ مَرۡبُوۡطًا بِحَبۡلِ الۡقَضَاءِ، مَدۡعُوًّا اِلَى الۡاِئۡتِمَارِ وَالۡاِنۡتِهَاءِ۔

انسان همیشه د الله تعالیٰ د تقدیر او فیصلے سره تړلے شویدے، او په دنیا کښں دهٔ ته حکم شویدے چه څه کارونه وکړه او څه مهٔ کوه۔

یمانؒ وائی : [لَمۡ يَخۡلُقِ اللّٰهُ خَلۡقًا يُكَابِدُ مَا يُكَابِدُ ابۡنُ آدَمَ، وَهُوَ مَعَ ذٰلِكَ اَضۡعَفُ الۡخَلۡقِ]۔

(الله تعالیٰ داسے مخلوق نهٔ دے پیدا کړے چه مشقت برداشت کوی څومره چه بنیادم برداشت کوی، او ددے سره دے د ټول مخلوق نه ډیر کمزورے هم دے)

د قسم او د جواب قسم مناسبتونه

د اول قسم سره مناسبت دا دے چه مکه مکرمه د مشقتونو ځای دے، انسان باندے غالباً بیماری راځی، هلته رسیدو کښں تکلیف وی، هلته به حج، عمره او طوافونه او عبادات کوی، د اُوده کیدو او د غفلت ځای نهٔ دے بلکه ضرور به په یو عبادت کښں مصروف کیږی۔

د (وَاَنۡتَ حِلٌّ بِهٰذَا الۡبَلَدِ) سره مناسبت دا دے چه دا یو مشقت دے چه د کفارو د طرفنه تا ته رسیږی، ستا بے عزتی او بے احترامی کیږی، نو تهٔ هم الله تعالیٰ دے مشقت له پیدا کړے ئے، صبر به کوے۔

د وَالِدِ او مَا وَلَدَ سره مناسبت دا دے چه الله تعالیٰ د مشقت دپاره انسانان پیدا کړیدی، نهٔ حیوانات، حیواناتو باندے د نیك او بد عمل مشقتونه نشته بلکه صرف خوراك څکاك دے او بعض کارونه دی۔ انسان د غټ کار دپاره پیدا دے۔ نو د مشقت سره د انسان تعلق ډیر دے نو پدے وجه ئے په انسان باندے قسم کړیدے۔ او انسان باندے د پیدائش نه تر مرګ او جنت او جهنم پورے تکالیف دی۔

❁ په بل تعبیر سره مناسبت داسے دے : د مکے زمکه د ډیرو مشقتونو زمکه ده تردے چه په غوره مخلوق (محمد رسول الله ﷺ) باندے هم په کښې ډیر تکلیفونه راغلی دی، او ټوله زمکه عموماً د مشقت او محنت ځای دے، بغیر د مشقت نه په هغے کښې معیشت (ژوند) نهٔ تیریږی۔

او دارنګه د زمکے وسیدونکی چه آدم ؑ او د هغهٔ نسل دے هر وخت په مشقت او تکلیف کښې دی، د چا مشقت نیك دے، او د چا مشقت بد دے۔ لکه په حدیث کښې دی : [كُلُّ النَّاسِ يَغْدُوْ فَبَائِعٌ نَفْسَهٗ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا]

(هر انسان صبا کوی، نو ځان خرڅوی، نو څوك خپل ځان د اُور نه آزاد کړی او څوك ئے هلاك کړی)۔ (مسلم : ٥٥٦)

نو دا دلیل او شاهد دے چه د انسان په ژوند کښې ضرور محنت او مشقت شته، لیکن دهٔ لره ضروری دی چه د خیر مشقت وکړی او د الله تعالیٰ د قدرت او علم نه ځان آزاد ونهٔ ګنړی۔ (احسن الکلام)

نو هرکله چه انسان په مشقتونو کښې پیدا دے نو دے وجے نه د عقل او هوش تقاضا داده چه انسان د دنیا په ژوند کښې داسے نیك عمل وکړی چه ددے په ذریعه په آخرت کښې هغهٔ دپاره دغه سختیٔ ختمے شی، او د اَبدی خوشحالیٔ والا جنت کښې ورته ځائے ملاؤ شی۔ او هرکله چه دے آزاد نهٔ دے نو پکار ده چه د الله تعالیٰ د حکم لاندے مشقت او محنت وکړی چه کامیابیٔ ته ورسیږی۔

فائده : دواړه قسمونه ئے د (لَا اُقْسِمُ) د لاندے داخل کړل ځکه چه د دوی پوره مناسبت دے، هغه دا چه هٰذَا الْبَلَد اصلی مسکن دے، او آدم ؑ او اولاد ئے ساکنان دی، او د دغه مسکن نه ټوله زمکه خوره شویده نو په ټوله زمکه باندے د آدم ؑ اولاد خوارهٔ شول او محنت او مشقت کوی۔

فائده٢ : صاحب د فتح البیان لیکی : بعض جاهلانو ددے آیت (وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ) نه دلیل نیولے دے چه د رسول الله ﷺ د ولادت دپاره میلاد کول جائز دی۔ لیکن دا د الله تعالیٰ د کتاب د معانیو تحریف دے، دے ته هیڅ یو مفسر هم تلل نهٔ دی کړی بلکه دا د مسلمانانو د اجماع خلاف خبره ده۔

أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾
آيا گمان كوي دے چه هيچرے به قادر نۀ وي په ده باندے هيڅوك (د راپورته كولو، د
يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٧﴾
حساب كولو)۔ وائي دے، ما اُولگول مال ډير۔ آيا گمان كوي چه ونۀ ليدو دۀ لره هيچا

تفسير : أَيَحۡسَبُ: اُوس دے ځاى نه د بد عمل سبب بيانوي چه انسان بد عمل ولے كوي؟ ځكه چه په ځان باندے ځوك قادر نۀ گنړي۔ يعنى دے د خپل زړۀ د بيمارئ او د هغے د سخت والي د وجے نه دا گمان كوي چه قيامت به نۀ راځي، او هيڅ يو ذات ددۀ د قابو كولو قدرت نۀ لري، او د فخر او تكبر په توگه خلقو ته وائي چه ما خو په خپلو خوا هشاتو سړولو باندے لكهونه او كروړونه خرچ كړي دي۔ او دا گمان هم كوي چه الله دے نۀ ويني او په هرے لوى وړے گناه باندے به دۀ سره حساب نۀ كوي۔

دا ددۀ كچه خيال دے، قيامت به خامخا راځي، او رب العزت په هر شئ باندے غالب دے، هغۀ لره هيڅوك نشي كمزورے كولے، هغه به د قيامت په ورځ هغۀ سره د يو يو عمل حساب وكړي، او كوم دولت ئے چه د خپلو خواهشاتو پوره كولو دپاره د اُوبو پشان بيهولے وو، په هغے به ئے خامخا رانيسي۔ په دے ورځ به هيڅوك د هغۀ نه د تيښتے لاره اختيار نۀ كړے شي۔

او دا رشتيا خبره ده چه كله انسان په خپل ځان باندے دپاسه ځوك قادر نۀ گنړي، يا د چا د نظر نه نۀ يريږي او د الله تعالىٰ د نظر نه ځان غافله كوي نو بيا په گناه باندے زړه ور وي۔ كه په تا باندے د پلار يا د مشر ورور يا د بل مشر غصه او نظر نۀ وو نو ستا عملونه به گډ وډ كيږي، او كه د چا مشران وي نو بيا ئے عمل نيك جوړيږي، دے وجه نه په خپلو بچو او كشرانو باندے نظر اچول پكار دي، او هغه په يره كښ ساتل پكار دي دے دپاره چه د غلطو ملگرو د وجه نه خراب نشي۔

ددے انسان نه چا د بنو جُمَح نه يو پهلوان سړے مراد كړيدے چه هغه ته به ئے ابو الاشدين وئيلو، دۀ به يوه عكاظي څرمنه د خپلو خپو لاندے كړه بيا به ئے وويل چا چه زۀ ددے نه اخوا كړم نو هغه له دومره انعام دے، نو هغه نه به لسو كسانو هغه

رانښکله تردے چه ویه شوکیده مګر د هغهٔ قدمونه به ئے ونهٔ خوزول۔

او دے د رسول الله ﷺ سخت دشمن وو۔

بعض وائی دا د ابوجهل په باره کښ وو چه هغه یوه ورځ رسول الله ﷺ ته وئیلی وو چه ستا رب زما هیڅ نشی خرابولے، زهٔ ددے وادی (مکے) سردار یم۔ (قرطبی وفتح البیان)

مګر تخصیص ته ضرورت نشته، هر کافر چه دغه شان خیال او عقیده لری هغه پکښ داخل دے، الفاظ ډیر عام دی۔

يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالاً لُّبَداً: یعنی په طریقه د فخر او تکبر وائی چه ما ډیر مالونه ولګول۔ (لُبَدًا په معنیٰ د كَثِيرًا) دے۔ یعنی ما د خواهشاتو پوره کولو دپاره ډیر مالونه ولګول۔

❁ یا ما په خلقو ډیرے خرچے کړیدی، میلمنو له مے میلمستیا ورکړه، او د عزت او د مرتبو حاصلولو په ځایونو کښ مے مالونه ولګول لکه څنګه چه جاهلیت والو به فخر او ریاء دپاره دغسے مالونه لګول۔ (ابوالسعودؒ)

❁ یا ما د محمد ﷺ په دشمنئ کښ ډیر مالونه ولګول۔

او پدے کښ ټول هغه انفاق او خرچ داخلیږی چه انسان ئے په اشاعت د شرك او كفر، بدعت، او فسق او فجور او رسمونو او رواجونو او فحاشئ کښ ولګوی، او پدے باندے فخرونه کوی۔

یا طمع لری چه ما خو ډیر ښه کار وکړو لیکن دا به ورله د سر درد وګرځی، او پدے به ورسره حساب وکړے شی۔

مقاتلؒ وائی : دا آیت د حارث بن عامر بن نوفل په باره کښ نازل وو چه هغه ګناه وکړه بیا ئے د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو نو هغهٔ ورته حکم وکړو چه کفاره ورکړه نو دهٔ ووئیل چه زما خو ټول مالونه په کفاراتو او نفقاتو کښ ختم شو کله نه چه زهٔ په دین د محمد ﷺ کښ داخل شوے یم۔ مګر آیت کښ ډیر عموم دے۔

او دلته الله تعالیٰ مال ذکر کړو ځکه چه په مال باندے د انسان سره خصوصی حساب کتاب کیږی، لکه حدیث کښ دی :

[لَاتَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ حَتّٰى يُسْئَلَ عَنْ اَرْبَعٍ ....وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَيْنَ اِكْتَسَبَهٗ وَفِيْمَا اَنْفَقَهٗ]

په قیامت کښ به د انسان قدم د ځای نه ونهٔ خوزیږی تردے چه د هغهٔ نه د څلورو خبرو

تپوس وشی، یو په هغې کښې دا دے چه مال دِے د کوم ځای نه گټلے (پیدا کړے) وو، او په څه کښې دِے لګولے دے۔ (ترمذی: ۲٤۱۷) باسناد صحیح)

(ځکه چه دا مالونه خو ستا نهٔ دی دا خو د الله تعالیٰ دی، تهٔ ئے مجازی مالك ئے۔ نو مالونه ئے غلط ولګول او بیا پرے دپاسه فخر هم کوی نو دوه نقصانونه ئے راجمع کړل)۔

او مال ئے پدے وجه هم ذکر کړو چه اشاره ده چه انسان نه به د هغهٔ د عمل تپوس هم کیږی نو دغه شان د هغهٔ نه به د مال په باره کښې هم تپوس کیږی۔

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ: دا بـل زجر دے په غلطه عقیده ددے کافر انسان۔ او سبب د بـد عـمـل دے۔ چه الله تعالیٰ په خپل ځان باندے عالم او غیب دان نهٔ ګڼړی۔ ددے وجه نه مشقتِ سیئه (بد عمل) کوی۔

او هرکله چه الله تعالیٰ قادر او غیب دان نهٔ ګڼړی نو حساب کتاب هم نهٔ منی ددے وجه نه د الله تعالیٰ د احکامو پابندی هم نهٔ کوی۔

أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ: بَلِ اللّٰهُ رَآهُ ۔ بـلـکه الله تعالیٰ لیدلے دے۔ لیکن ددهٔ ګمان غلط دے چه زهٔ به هیچا نهٔ یم لیدلے، زهٔ به کفر او شرك او ګناهونه کوم۔

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَاهُ
آیا نهٔ دی کړځولی مونږ دهٔ لره دوه سترګے۔ او ژبه او دوه شونډے۔ او خودلی دی
النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ
مونږ دهٔ ته دوه لارے۔ نو دے داخل نهٔ شو په کنډو باندے۔ او څه پوهه کړے ئے تهٔ
مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾
چه څه دے کنډو۔ آزادول د مرئی دی۔ یا خوراك ورکول دی په هغه ورځ کښې چه لوږے
يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾
والا ده۔ یتیم ته چه خاوند د خپلولئ دے۔ یا مسکین ته چه خاوند خاورو دے۔

تفسیر: **أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ**: اُوس الله تعالیٰ په دهٔ باندے رد کوی چه الله تعالیٰ چه تهٔ پیدا کړے ئے او تا له ئے داسے ښکلے ترتیب درکړے دے نو دا د نیك عمل دپاره۔

دارنگه پدے کښې د انسان دپاره د خپل قدرت دلیل ذکر کوی۔ او دهٔ له یقین ورکوی چه هغه خامخا دهٔ په دوباره ژوندی کولو او دهٔ سره په حساب کولو باندے قادر دے، هغه خو هغه ذات دے چه هغهٔ دهٔ له بے شماره قیمتی نعمتونه ورکړی دی، دوه سترګے ئے ورکړی دی چه ددے په ذریعه هغه کتل کوی، او ژبه او دوه شونډے ئے ورکړی دی چه ددے په خوزولو سره خبرے کوی، او ددے په ذریعه هغه د خپلے خُلے دننه حصه او غابښونه پټوی، دے دپاره چه دهٔ شکل او صورت ښهٔ معلوم شی۔

نو دا څیزونه چه الله تعالیٰ تا ته درکړیدی نو دا ئے د یو مقصد دپاره درکړیدی چه تهٔ به سعی صالح (نیک عمل) کوے،

وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ: او ما دهٔ ته دوه لارے د خیر او د شر خودلے دی۔ او د آخرت د کامیابئ دپاره مے دهٔ ته ددے نه د یوے لارے خپلولو صلاحیت ورکړے دے۔

نجد په اصل کښې په معنیٰ د اُوچت ځای او اُوچتے لارے سره دے۔ او دا لارے خودل په درے طریقو دی: (۱) یو په فطرت، (۲) او دویم په عقل سره چه عامو خلقو ته د نیکئ او بدئ پته لګیږی، په فطرت او عقل سره خیر او شر معلومولے شی۔

(۳) دریم دا هدایت بِالْكُتُبِ وَالرُّسُلِ ۔ الله تعالیٰ کتابونه او رسولان رالیږلی دی چه هغه انسانانو ته دا دواړه لارے ښکاره بیانوی۔ د رسول الله ﷺ په سنت کښې نیک اعمال هم خودلے شویدی، او د شر لارو نه د بچاؤ طریقے هم۔ او دے لارو ته نجدین پدے وجه وویل شوے چه دواړه لارے داسے ښکاره فرق لری، لکه دوه ډیرکئ چه په زمکه جدا جدا ښکاره کیږی، په دین کښې دواړه ښکاره بیان شویدی۔

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ: فاء ئے راوړه دپاره د تفریع په ماقبل۔ نو پدے کښې ترغیب دے نیک مشقت ته، او رد دے په مخکنو عملونو او عقیدو باندے چه په هغے سره کامیابی نهٔ حاصلیږی۔ مطلب دا دے چه ددے مخکنو نعمتونو تقاضا دا ده چه دا انسان د خپل رب شکر ګذار بنده جوړ شوے وے، او دا ئے د ګناه کولو دپاره نهٔ استعمالولے۔

لیکن دهٔ داسے ونهٔ کړل بلکه د خپل نفس د خواهش پیروی ئے کوله، او د نیکئ او تقویٰ په سخته لاره باندے لانهٔ ړو چه د منزل موندلو کوشش ئے کړے وے، یعنی د نفس او شیطان نافرمانی ئے ونهٔ کړه چه د الله تعالیٰ په طاعت او بندګئ کښې ئے لګولے وے، او ددے لارے د سختیو نه اوبریدهٔ، او د جنت حاصلولو کوشش ئے ونهٔ کړو۔

اقْتَحَمَ: اقتحام په زور سره یا بے فکرئ سره په یو ځای کښ ورداخیدو ته وائی۔
او دلته مراد سختئ تیرول دی په څه کارونو کولو سره۔
الْعَقَبَةَ: کنډو ته وائی چه په غر کښ وی یعنی سخته او اُوچته لاره۔ عقبه ورته ځکه وائی چه دے باندے تیریدل سخت وی۔ او دا مثال دے چه الله تعالیٰ د نفس او د خواهش او د شیطان سره د مجاهدے کولو دپاره بیان کړیدے په نیکو اعمالو کولو سره، نو دائے په شان د هغه شخص وګرځولو چه په کنډو باندے د ختلو تکلیف برداشت کوی۔
(فتح البیان)
یعنی ایمان او اعمال صالحه او انفاق د مال په صحیح مصرفونو کښ (چه دا مشقت صالحه دے) په شان د کنډو د غر دے چه په هغے باندے ورتیریدل ګران وی، لیکن انسان د هغے په ذریعه سره د یو ملك نه بل ملك ته رسیږی۔ نو دغه شان انسان چه د نیك اعمالو مشقت برداشت کړی نو په کامیابئ به ورواوړی۔
فَكُّ رَقَبَةٍ: اُوس ددے کنډو او سختئ لارے تفسیر بیانوی چه دا د چا د څټ نه د غلامئ د طوق په غورزولو کښ مدد کول دی، یعنی هغه اخستل او آزادول، یا په جزوی توګه په دے کار کښ مدد کول دی۔ او پدے کښ د کافرانو د لاسونو نه د مسلمان قیدیانو آزادول هم داخل دی۔
ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل:
[مَنْ اَعْتَقَ رَقَبَةً مُؤْمِنَةً اَعْتَقَ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهَا عُضْوًا مِنَ النَّارِ حَتّٰى الْفَرْجَ بِالْفَرْجِ]
(بخاری فی الکفارات باب ٦ ومسلم فی العتق حدیث ٢٢، ٢٣)
(چا چه یو مؤمن غلام (وینځه) آزاد کړو، الله تعالیٰ به د هغهٔ د هر اندام په بدل کښ ددهٔ اندام د اُور نه آزاد کړی تردے چه ددهٔ عورت د هغهٔ د عورت په بدل کښ)۔
او مطلب دا دے چه دا دومره سخت زړے دے چه په هیڅ بنده مظلوم او کمزوری او محتاج باندے ئے شفقت نشته۔
فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ: مسغبه او سغب لوږے ته وائی۔ یعنی یا کله چه خلق په سخته قحط کالئ کښ اخته وی، په سخته لوږه کښ مبتلا وی، او د خوراك نه بغیر د خلقو ځانونه هلاك کیږی، په دغه وخت کوم رشته دار یتیم له یا کوم انتهائی غریب او نیست مند له خوراك ورکول دی۔

او دا ورځ ئې خاص ذکر کړه ځکه چه پدې ورځ باندې مال ګول په نفس باندې ډیر بوج وی او اجرئې زیات وی۔
بـل پدې کښې اشاره ده چه په صدقه او اطعام ورکولو کښې به محتاج د غیر محتاج نه مخکښې کولې شی۔
بـل پدې کښې اشاره ده چه ددې کافر انسان غلط مشقت دا دې چه مالونه خوبې ځایه بـنـهٔ ډیر لګوی او د فخر دپاره مال لګوی، لیکن په صحیح ځای کښې مال نهٔ لګوی، وجه دا ده چه په ځان باندې قادر او عالِم او لیدونکې نهٔ وینی۔
او دا تفسیر ظاهر دې چه فَكُّ رَقَبَةٍ بیان دې د (اَلْعَقَبَة)، وجـه د ظهورئې دا ده چه کله (وَمَا اَدْرَاكَ) لـفـظ پـه قـرآن کـریم کښې راشی نو د هغې بیان روستو شوې وی۔ نو دلته هم فَكُّ رَقَبَةٍ بیان د العقبه شو۔
او د اُبی بن کعب ﷺ نـه نـقـل دی چه د عقبه نه مراد په اُور کښې یوه کنده ده۔ نو معنیٰ دا ده چـه دا انسـان چـه دا فسـادونـه کـوی نـو ددې وجـه دا ده چـه دې الله تعالیٰ لا د جهنم کـنـدې تـه نـهٔ دې داخـل کـړې، او تا ته څه پته ده چه دغه عقبه څه شې دې؟ (هغه خو ډیر لوی هیبتی ځای دې) یعنی دهٔ ته الله تعالیٰ سزا نهٔ ده ورکړې ځکه داسې فسادونه کوی۔
او فَكُّ رَقَبَةٍ ته به پټ فعل راوباسې (يَلْزَمُ عَلَيْكُمْ) لازم دی په تاسو باندې آزادول د مرئی۔ لیکن دا ترکیب دومره ظاهر نهٔ دې۔
ذَا مَقْرَبَةٍ: مـقربة په معنیٰ د قرابت (خپلولئ) سره دې۔ او مفسرینو لیکلی دی چه په ﴿ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴾ کـښې ددې خبر ترغیب ورکړې شوې چه په ورکړه او په نور مالی تعاون او مدد کښې رشته دار محتاج په نورو باندې مخکښې کول پکار دی۔
ذَا مَتْرَبَةٍ: د تـراب نـه دې۔ یـعـنـی هغه مسکین چه د خاورو سره پیوسته شوې وی د وجه د فقر د هغهٔ نه۔ او د هغه د وسیدو ځای بل نهٔ وی سوئ د خاورو نه۔
قتادهؒ وائی : ددې نه مراد عیالدار (بال بچه دار) دې۔
عکرمهؒ وائی : ددې نه مراد قرضدارې دې۔
ابوسنانؒ وائی : ددې نه مراد دائمی بیمار دې لکه شل، ګوډ، ړوند وغیره۔
سعید بن جبیرؒ وائی : دا هغه شخص دې چه هیڅوك مددګارئې نهٔ وی۔
عکرمهؒ دا هم وائی : چه دا هغه انسان دې چه د خپلې خاورې او وطن نه رامسافر شوې

وی۔ او دا قول د ابن عباس ﷺ هم دے۔

دا ټول پکښې داخل دی لیکن اول قول زیات ظاهر دے۔

د ابن عباس ﷺ نه دا هم نقل دی چه : اَلْمَطْرُوْحُ الَّذِیْ لَیْسَ لَهٗ بَیْتٌ ۔ دا هغه انسان دے چه په یوه زمکه ئے اړه ولې وی او هیڅ کور نهٔ لری۔

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَتَوَاصَوْا
بیا به وی د هغه کسانو نه چه ایمان ئے راوړے وی او یو بل ته ئے وصیت ئے کړے وی
بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿۱۷﴾ أُولٰٓئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿۱۸﴾
په صبر او یو بل ته ئے وصیت کړے وی د رحم کولو۔ دا کسان د ښه قسمت والا دی۔
وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِآيَاتِنَا
(دا کسان خاوندان د ښی لاس دی) او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے په آیتونو زمونږ
هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿۱۹﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿۲۰﴾
دوی خاوندان د ګس لاس دی۔ په دوی باندے به اُور وی بند کړے شوے۔ (د هر طرف نه)۔

تفسیر : اُوس دا خبره بیانوی چه د کامیابئ او د جنت په لاره کښې د راپیښې شوی سختو کنډو نه تیریدل یواځے په دغه عمل باندے نهٔ کیږی بلکه دے سره به درے کارونه نور یو ځای کوی۔ او هغه دا چه په زړهٔ سره په الله تعالیٰ ایمان راوړی، او د خپلو اندامونو په ذریعه به نیك عمل کوی، او د الله تعالیٰ په بندګئ او الله طرفته د دعوت په لاره کښې چه دوئ ته کوم تکلیفونه رسیږی په هغے به صبر کوی، او دوئ به خپلو کښې یو بل ته د شفقت او رحمت نصیحت کوی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ د سورهٔ الفتح په (۲۹) آیت کښې د صحابه کرامؓ په صفت کښې فرمایلی دی :﴿ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ﴾ (دا خلق خپلو کښې په یو بل رحم کونکی دی)۔

کوم خلق چه په پورتنو پنځو خبرو عمل کوی، همدوئ به د کنډو نه پورے وځی، د جهنم نه به خلاصے مومی او جنت ته به داخلیږی۔

بِالْمَرْحَمَةِ : یعنی خپله به هم رحمت کوی، مهربان به وی، او بل ته به هم وصیت

کوی چه په نورو بندګانو باندے شفقت وکړی۔ او دا قانون دے چه د چا په زړهٔ کښ شفقت وی نو هغه ضرور بل ته حکم کوی چه د غریبانو او کمزورو او بے وزلو مدد وکړی۔ او په حیواناتو باندے ئے شفقت راځی، زړهٔ ئے هر مسلمان او خپلوان ته نرم وی۔

وَتَوَاصَوْا: باب تفاعل دے، یو بل ته وصیت او حکم کول دی۔ او دا ځکه وائی چه په اجتماعی زندګئ کښ مؤمنان دے ته محتاج دی چه یو بل ته به د صبر او د رحم حکم کوی، هر یو تن دے ته محتاج دے۔

بِالصَّبْرِ: د صبر نه مراد په دین باندے او د خیر په اعمالو باندے سَره د مصیبتونو نه مضبوط پاتے کیدل دی۔

دلته څلور فضائل او صفات بیان شو (۱) اَلْعِفَّةُ/ اَلسَّخَاءُ ۔ دویم الایمان۔ دریم اَلرَّحْمَةُ عَلٰی عِبَادِ اللہ۔ د الله په بندګانو باندے رحم کول۔

څلورم: اَلشَّجَاعَةُ۔ (بهادری)۔ په صبر کښ بهاردئ ته اشاره ده، اصلی بهادری دا ده چه انسان کښ صبر وی۔ دا صفات انسان کمال ته رسوی۔

اَلْمَيْمَنَةِ: د یُمن نه دے په معنیٰ د خیر او برکت سره۔

❁ یا د یمین نه دے۔ یعنی په ښی لاس کښ به ورته عملنامے ورکیدے شی۔

❁ یا جنت والا دی، ځکه چه هغه یمین طرف دے۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا: اُوس د بد مشقت والا خلق بیانوی۔ فرمائی: کوم خلق چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه انکار کوی، نهٔ ایمان راوړی، او نهٔ نیك عمل کوی، او د رحمت د جذبے نه د محرمیدو په وجه نهٔ د الله تعالیٰ په بندګانو باندے رحم کوی، هغوئ د بدبختانو نه دی، او د هغوئ استوګنه به جهنم وی چه په هغے کښ به د دوئ د داخلیدو نه پس د هغے دروازے همیشه دپاره بندے کړے شی۔ د هغے نه به هیڅ کله نهٔ راوځی۔

اَلْمَشْئَمَةِ: دا د شُؤم نه اخستے شویدے، سپیرهٔ والی او شرم ته وئیلے کیږی۔

❁ یا په معنیٰ د شمال سره دے، یعنی په ګس لاس کښ به عملنامے ورکیدے شی،

❁ یا جهنم والا دی ځکه چه جهنم به په شمال طرف کښ وی۔

مُؤْصَدَةٌ: اَیْ مُطْبَقَةٌ مُغْلَقَةٌ ۔ یعنی رابند شوے به وی د هر طرف نه، یعنی هیڅ سورے او لاره د وتلو به ئے نهٔ وی۔

ختم شو تفسیر د سورة البلد په رحمت او فضل د رب العزت سره۔

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۱۵)	(۹۱) سُوۡرَةُ الشَّمۡسِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الشمس مکی دے، په دے کښ پنځلس آيتونه او يوه رکوع ده

تفسير سورة الشمس

نوم : په اولنی آيت کښ [الشَّمۡسِ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کيښودل شوے۔
د نازليدو زمانه : دا سورت د ټولو په نيز مکی دے۔ ابن مردويهٌ او بيهقیؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنه نه او ابن مردويهٌ د ابن الزبير رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه ﴿وَالشَّمۡسِ وَضُحٰهَا﴾ په مکه کښ نازل شوے۔

مناسبت

۱ – مخکښ د انسانانو دوه قسمونه بيان شول نو اُوس د هغوی ترمينځ د عاقبت فرق ذکر کوی۔
۲ – مخکښ ددے امت طغيان کونکو ته زجر وو۔ نو اُوس د مخکنو امتونو طاغيان بيانوی چه هغه ثموديان دی۔
۳– مخکښ سورت کښ تخويف اُخروی وو نو دلته تخويف دنيوی ذکر کوی۔

د سورت مقصد

اَلتَّرۡغِيۡبُ اِلَى التَّزۡكِيَةِ وَالتَّرۡهِيۡبُ مِنَ التَّدۡسِيَةِ ۔ الله تعالیٰ ترغيب ورکوی تزکيه ته چه اے انسانه ! راشه خپل نفس دِے جوړ کړه، صفا ئے کړه، الله تعالیٰ ته روان ئے۔ په ناولتيا کښ الله تعالیٰ ته ورنښے چه شرك، کفر او گناه او زنا دِے کړيده، او د رسول الله ﷺ د سنتو خلاف ئے، بد رنګ شکل باندے الله تعالیٰ ته ورنښے، ځان ته وګوره، الله تعالیٰ ته به پاك

ورځې۔ دویم : د تدسیه نه ئې یره بیان کړیده چه ځان د ګمراه کولو نه وساته، ځکه چه مراد ته به ونهٔ رسیږې، ستا مراد څه شے دے؟ روستو راځی۔

ددے دپاره الله تعالیٰ اُوږد قسم کړیدے چه په قرآن کریم کښې ددے نه اُوږد قسم نشته، ځکه چه تزکیه د نفس د الله تعالیٰ په نیز ډیره قیمتی ده۔ په نمر، سپوږمۍ، ورځ او شپه، آسمان او زمکه او خالق او مخلوق ټولو باندے ئې قسم کړیدے۔ ځکه چه انسان د تزکیه نفس دپاره پیدا دے، د الله تعالیٰ دپاره به خپل نفس پاکوی، د ځان نه به ګنده اخلاق، او اعمال وباسی، د شرك نه واخله تر وړے ګناه پورے۔

او که چا دا ونهٔ کړو نو اُور ته به ګوزارولے شی۔ د الله تعالیٰ د دوستۍ نه محرومیږی۔

اول ئې قسم کړیدے، بیا ئې موضوع بیان کړیده، بیا ئې د ثمودیانو واقعه راوړے۔ دا ئې ولے خاص کړه ددے وجه به روستو بیانه شی۔

بیا ئې د ثمودیانو سزا بیان کړیده چه څوك د نفس تزکیه ونکړی نو الله تعالیٰ به ئې په دنیا کښې هلاك کړی۔

وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ﴿٢﴾

قسم دے په نمر او په رنړا د هغې۔ او قسم په سپوږمۍ کله چه وروسته شی د نمر

وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ

پسے۔ او قسم په ورځ کله چه روښانه کړی (راښکاره کړی) نمر لره۔ او قسم په شپه

إِذَا يَغْشَاهَا ﴿٤﴾ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾

کله چه پټ کړی نمر لره۔ او قسم په آسمان او په هغه الله چه جوړ کړے ئې دے هغه۔

وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا

او قسم په زمکه او په هغه الله چه خوره کړیده هغه۔ او قسم په نفس او په هغه الله

سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾

چه دا ئې برابر کړیدے۔ پس خودلی ئې دی دهٔ ته د نافرمانۍ او د تقویٰ لارے۔

تفسير : ددے سورت په اولنو اتو آیتونو کښ الله تعالیٰ په خپلو یو څو مخلوقاتو باندے قسَم خوړلے۔ اول په نمر باندے او د هغے په رنړا باندے۔

وَالشَّمْسِ: یعنی په قرآن او سنت کښ چه د نمر څو مره صفات او منافع ذکر شویدی، یا په عقل سلیم او حواسو سره ددے کومے فائدے ښکاره شویدی په هغه ټولو باندے قسم دے۔

دویم قسم: **وَضُحَاهَا** : ضحیٰ په اصل کښ د څاښت وخت ته وئیلے شی، دلته ترے ډیره رنړا مراد ده، ځکه چه د نمر رنړا د څاښت په وخت ډیره شی، او ګرمی پکښ کمه وی، نو فائده ئے زیاته وی په ضرر باندے۔

او اضافت د ضُحیٰ ئے ضمیر د شمس ته کړیدے، دا اضافت د مُسَبَّب دے سبب ته. یعنی د نمر د اُوچتوالی سره ضُحیٰ پیدا کیږی۔ او دا د نمر لویه فائده ده چه د هغے چه کله رنړا راپورته شی نو خلق پکښ کسبونو کښ مشغول شی۔

دریم قسم :**وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا** : او قسَم دے په سپوږمئ ! کله چه هغه په څوارلسمه شپه باندے د نمر ډوبیدو نه پس پوره شی او را اوخیژی، او په ټوله دنیا باندے ددے رنړا خوره شی۔

ددے نه مراد د څوارلسمے شپے سپوږمئ ده چه هر کله نمر مغرب کښ غروب وکړی نو په دغه وخت کښ سپوږمئ د مشرق نه راښکاره شی، لیکن بیا ئے هم رنړا د نمر نه کمه ده۔

یا ددے نه مراد د اَولے شپے میاشت ده چه هر کله نمر مغرب کښ غائب شی، نو دغه وخت سپوږمئ ښکاره شی، او بیا نمر پسے زر غائبه شی، او په دغه وخت کښ ددے رنړا هم ډیره کمه وی۔

تَلَاهَا: اَیْ تَبِعَهَا فِی الطُّلُوْعِ وَفِی الضَّوْءِ وَالْإِنَارَةِ۔ یعنی وروسے شی د نمر پسے په راختلو کښ چه اول نمر راوخیژی بیا هغه پریوزی نو روستو سپوږمئ راخیژی۔

دارنګه وروسے شی په رنړا کولو کښ، یعنی اول د نمر رنړا وی کله چه هغه پریوزی نو بیا د سپوږمئ رنړا شروع شی۔ او په آخر د میاشت کښ د نمر پسے روانیږی په غروب سره۔ (ابن زیدؒ)

څلورم قسم :**وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا** : (هَا) ضمیر چا ظلمت (تیارے) ته چا دنیا ته، او چا

زمکے ته راجع کړیدے، لیکن غوره دا ده چه ضمیر راجع دے نمر ته لکه دا قول ابن جریرؒ غوره کړیدے. یعنی ورځ چه کله روښانه کړی (راښکاره کړی) نمر لره.

د نمر د روښانتیا نسبت ئے نهار ته وکړو ځکه چه په ورځ کښې نمر روښانه کیږی. ګویا کښې دغه نمر ورځے راښکاره کړیدے.

او پدے کښې اشاره ده چه د ورځے هم ډیرے فائدے دی، لیکن زیاتے فائدے ئے په هغه وخت کښې دی چه نمر ښکاره وی، وریځ نهٔ وی. ددے وجه نه ئے ددے وخت تخصیص وکړو.

پنځم قسم: وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا: دلته هم غوره دا ده چه (هَا) ضمیر نمر ته راجع دے. یعنی قسم په شپه کله چه پټ کړی نمر لره. او د هغے رڼا ختمه کړی.

يَغْشَاهَا: ئے په صیغه د مضارع راوړو او مخکښې فعلونه ئے په صیغه د ماضی سره راوړی وو، ددے حکمة یو دا دے چه رعایت د فواصلو وشی ځکه چه (اِذَا غَشِيَهَا) سره فاصله د آیت نهٔ برابریږی. (قاله الخطیبؒ).

بنه وجه دا ده چه شپه نمر لره په تدریج سره پټوی، یعنی اول نمر غائب شی نو سور والے پاتے شی، سوروالے چه غائب شی بیا سپین والے باقی وی، بیا سپین والے غائب شی نو ټوله توره تیاره شی.

فائده: دلته الله تعالیٰ څلور اقسام ذکر کړل دا ټول په حقیقت کښې د نمر دی، لیکن په اعتبار د څلورو صفاتو سره. اول هغه رڼا چه د نمر نه حاصلیږی په وخت د راپورته کیدو د ورځ کښې. او دا هغه وخت دے چه پدے کښې حیوانات راخوارهٔ شی، او انسانان د خپل معاش دپاره حرکت وکړی، بله سپوږمئ د نمر تابع کیدل دی په دے طریقه سپوږمئ د نمر نه رڼا حاصلوی. او بله دا چه نمر پوره راوخیژی او راښکاره شی په راتللو د ورځ سره، او بل ددے خلاف کار دے په شپه راتللو سره. نو چا چه د نمر په عظمت کښې لږ فکر وکړو نو هغه به ددے نه نقل شی عظمت د خالق ددے ته نو پاکی ده هغه ذات لره چه د هغهٔ شان څومره لوی دے. (فتح البیان)

شپږم قسم: وَالسَّمَاءِ: او آسمان هم په ډیرو منافعو مشتمل دے هغه ټولو ته اشاره ده ددے وجه نه ئے وَمَا بَنَاهَا په عطف سره ذکر کړیدے.

اوم قسم: وَمَا بَنَاهَا: (ما) مصدریه موصوفه ده، نو واو صرف د عطف دپاره دے. یعنی قسم په آسمان، سَره د صفت د بناء (جوړوالی) ددے نه. یعنی د آسمان د جوړوالی

عظمت گواه دے۔

یا (ما) موصوله ده، او ددے نه مراد الله تعالیٰ دے، او سیبویهٔ وئیلی دی چه مَا مشترك دے په ذوی العقولو او غیر ذوی العقولو کښې تولو دپاره استعمالیږی۔

نو بیا به واو قسمیه وی۔ دا به جدا قسم وی، یعنی په آسمان قسم او په هغه ذات باندے قسم دے چه آسمان غونته لوی مخلوق ئے پیدا کړے۔

اتم او نهم قسم :وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا: دے کښې هم د مخکښې په شان تفصیل دے۔

طَحَا: نه مراد غوړول/ خورول دی سره د راویستلو د بوټو او خزانو او چینو نه۔

او دَحَا صرف د خورولو په معنیٰ دے۔

فائده : د آسمان او د زمکے سره ئے د جوړه ونکی او خورونکی ذکر وکړو، ددے دپاره چه څوك دا گمان ونکړی چه آسمان او زمکه قدیم دی (خپله پیدا شویدی) لکه د بعض ناپوهو دا نظریه ده۔ نو الله تعالیٰ وفرمایل : چه ددے پیدا کونکے شته، دا حادث دی نو پدے باندے به فناء هم راځی، همدغه پیدا کونکے به ئے بدلوی او آخرت به راولی۔ ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ﴾

لسم قسم : وَنَفْسٍ: ددے نه هر نفس انسانی مراد دے، نکره دپاره د تعمیم ده۔

او پدے کښې هم اشاره ده چه اے انسانه ! ستا پیدا کول او برابر جوړول یو مقصد دپاره دی، صرف ددے دپاره نهٔ دی چه په خپو باندے کاروبار لره ځه او په سترگو باندے ډوډئ وینه، او په لاس ئے راخله، او په خیټه او فرج باندے خپل شهوت پوره کوه۔

او بیا الله تعالیٰ (فَأَلْهَمَهَا) د نیکئ او د بدئ لارے هم ورخودلی دی، داسے نهٔ ده چه هسے کانړے دے، چه په هیڅ نهٔ پوهیږی۔

وَمَا سَوَّاهَا: کښې بیا همغه دوه تفسیره دی۔ ما مصدریه یا موصوله ده۔ دا به یولسم قسم وی۔ یعنی په هغه الله قسم دے چه برابر کړے ئے دے نفس لره، یعنی شکل او قد وقامت ټول اطوار د پیدائش سره ئے دا برابر کړیدے۔

فَأَلْهَمَهَا : ددے معنیٰ داسے ده لکه د (وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ) په شان۔ الهام په زړه کښې یو خبره اچول دی، او دے ته فطری هدایت وائی۔ یعنی هر نفس ته الله تعالیٰ په زړه کښې فطرةً دا خبره اچولے ده چه د گناه او نافرمانئ لاره دا ده، او د تقویٰ او د دینداریٔ لاره دا ده۔ د الله بغاوت، زنا، غلا، رشوت، چغلی، بهتان، غیبت ورته فطرةً بد ښکاره کیږی۔

کافران هم ددے بد والے پیژنی، یو کافر ته وایه چه د الله ناشکری څنګه ده؟ نو هغه به ووائی چه غلط کار دے۔ بیا ددے نیکئ او بدئ تفصیلات په قرآن او په حدیث سره پیژندلے شی۔ او علم خلق همدے له زده کوی چه ښه وپیژنو چه په هغے روان شو، بد وپیژنو چه د هغے نه ځان وساتو۔ علم صرف د زینت دپاره نهٔ دے چه انسان پرے ځان ډولی کړی۔

فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا: دا آیت دلیل دے چه خالق د فجور او د تقویٰ او د خیر او د شر الله تعالیٰ دے، پدے کښې په قدریه فرقه باندے رد دے چه د فجور او تقویٰ خالق بنده ګنړی۔

قَدْ أَفْلَحَ: د جواب قسم په باره کښې ډیر اقوال دی۔

(۱) چا [لَتُبْعَثُنَّ] محذوف ګنړلے، او معنیٰ ئے داده چه په پورتنو مخلوقاتو باندے قسم دے! چه تاسو به دوباره خامخا ژوندی راپورته کیږئ۔

(۲) او چا د قسم جواب دا منلے دے چه الله تعالیٰ به مکے والا د نبی کریم ﷺ د دروغژن ګنړلو په وجه د ثمودیانو پشان هلاك کوی۔

(۳) او زجاج وغیره وئیلی دی ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا﴾ د قسم جواب دے، بیا به معنیٰ دا شی چه په مذکوره څیزونو قسم دے! چه هغه څوك کامیاب دے چه هغهٔ خپل نفس پاك کړو، او تاوانی او ناکام به هغه څوك وی چه هغهٔ دا د ګناهونو لاندے ډوب کړو۔

امام شوکانیؒ همدا قول وزنی ګنړلے۔ او همدا قول ظاهر دے۔

د قسم او د جواب قسم مناسبت

په دوه طریقو سره دے: (۱) دا څیزونه اَدِلَّةُ الْمَعْرِفَة دی، یعنی دا څیزونه د الله تعالیٰ د معرفت دلیلونه دی، مَنْ عَرَفَ اللّٰهَ بِهٰذِهِ الْاَدِلَّةِ فَلَا بُدَّ اَنْ يُّزَكِّيَ نَفْسَهٗ ۔ چا چه الله تعالیٰ لره پدے دلائلو سره وپیژندو نو ضرور به د خپل نفس تزکیه کوی۔ او څوك چه خپل رب ونهٔ پیژنی نو هغه د خپل نفس پاکی نهٔ کوی، نهٔ شرك پریدی، او نهٔ نور ګناهونه۔ نو دا ادله د معرفت دی، او د معرفت نه روستو تزکیه پیدا کیږی۔ دا لنډ مناسبت شو۔

(۲) اِشَارَةٌ اِلَى اخْتِلَافِ هٰذِهِ الْاَشْيَاءِ وَتَفَاوُتِهَا كَذٰلِكَ الْفَرْقُ حَاصِلٌ فِيْ عَمَلِ الْاِنْسَانِ۔

پدے کښې اشاره ده چه دے څیزونو کښې اختلاف دے لکه نمر کښې رڼړا زیاته ده، او سپوږمئ کښې کمه، ورځ کښې رڼړا ده او په شپه کښې تیاره ده، آسمان پورته دے او زمکه

خکته، نو دغه شان د انسانانو په عملونو کښې هم فرقونه دی، د چا عمل اُوچت دے، د چا لاندے دے، د چا په عمل کښې رنړا زیاته ده، او د چا کمه، او د چا عمل کښې رنړا او د چا په عمل کښې تیاره دهٔ، نو چا ځان له اعلیٰ درجه تزکیه وکړه، او چا لږه وکړه، او چا د ځان تزکیه بیخی ونکړه بلکه د شپے په شان په تیارهٔ کښې پاتے شول، د زمکے په شان لاندے پریوتل، او بعض خلق د ورځے په شان روښانه شو۔ او د آسمان په شان اُوچت شول۔

فَاخْتِلَافُ هٰذِهِ الْاَشْيَاءِ فِيْهِ اِشَارَةٌ اِلٰى اَنَّ الْاَعْمَالَ مُخْتَلِفَةٌ۔

یعنی ددے څیزونو اختلاف کښې اشاره ده چه د انسانانو عملونو کښې هم اختلاف شته۔ په تزکیه کښې هم تفاوت او په تدسیه کښې هم تفاوت ته اشاره ده۔

هر سړے دا غواړی چه زه د نمر په شان روښانه او د آسمان په شان اُوچت شم، او د ورځے په شان روښانه او مشهور شم، د زمکے په شان خکته والے، او د شپے په شان توروالے او ذلت نهٔ غواړی۔

او لکه څنګه چه ددے خلقو په عملونو کښې فرق دے، نو بیا به ئے په عاقبت او جزاګانو کښې هم اختلاف وی۔

(۳) دریمه طریقه: دے دلیلونو ته نعمتونه وائی، هٰذِهِ النِّعَمُ لِاَجْلِ الْعَمَلِ ۔ یعنی دا نعمتونه تاسو ته الله تعالیٰ ددے دپاره درکړل چه تاسو به عمل کوئ، او ځانونه به پاکوئ۔ نمر الله تعالیٰ ولے راخیژوی چه عمل پکښې وکړئ، سپوږمئ الله تعالیٰ ولے خیژوی کوزوی، ورځ او شپه ولے راولی؟ دا ټول ددے دپاره چه تهٔ به نیك عملونه کوے۔

فَهٰذِهِ النِّعَمُ اِنَّمَا تُرَادُ لِلتَّزْكِيَةِ لَا لِلتَّدْسِيَةِ ۔ نو دا نعمتونه ددے دپاره الله تعالیٰ درکړیدی چه تاسو به تزکیه کوئ، او د هلاکت نه به ځان ساتئ۔

(٤) د دغه څیزونو او د هغے د حالاتو پیدا کونکے الله تعالیٰ دے، نو دا د الله تعالیٰ په توحید باندے دلیلونه دی، اَنفُسی، آفاقی، علوی، سفلی، وسطی۔

نو څوك چه ځان په توحید سره پاك کړی، نو د هغهٔ دپاره فلاح ده، او څوك چه توحید قبول نهٔ کړی نو هغهٔ دپاره نا امیدی ده۔

زَكّٰهَا ـ دَسّٰهَا: دے کښې دوه تفسیره دی (۱) یو دا چه ضمیرونه مخکښې (مَنْ) یعنی بنده ته راجع دی۔ یعنی هغه بنده چه خپل ځان ئے پاك کړو۔ او دغه بل بنده برباد کړو خپل نفس لره۔ (۲) یا ضمیرونه الله تعالیٰ ته راجع دی۔

یعنی هغه شخص کامیاب دے چه الله تعالیٰ د هغه نفس پاك كړو په طاعت سره۔ او تاوانی دے هغه شخص الله تعالیٰ د هغه نفس گمراه کړو په گناه سره۔

لکه رسول الله ﷺ به دعا کوله [اَللّٰهُمَّ آتِ نَفۡسِیۡ تَقۡوَاهَا وَزَكِّهَا اَنۡتَ خَیۡرُ مَنۡ زَكَّاهَا]

(مسلم : ۷۰۸۱) واحمد)

بیا د نفس تزکیه په دوه څیزونو سره راځي یو په تخلیه او بل په تحلیه سره۔ یعنی خپل نفس به جارو کړې د گنده کارونو نه، اول به د کفر، او شرك نه، ﴿اِنَّمَا الۡمُشۡرِكُوۡنَ نَجَسٌ﴾ مشرك لوی پلیت دے، د نفاق نه، د زنا،﴿ اَزۡكٰى لَكُمۡ ﴾ غلا،

[كُلُّ لَحۡمٍ نَبَتَ مِنَ الۡحَرَامِ فَالنَّارُ اَوۡلٰى بِهٖ]۔ (الدارمی ۳۱۸/۲) والترمذی حدیث صحیح)

کومه غوښه د چه حرامو نه رازرغون شی اُور په هغے ډیر لائق دے۔

دارنگه هره گناه انسان نجس کوی۔ احادیثو کښې ځکه دی چه نبی کریم ﷺ به امت ته دا دعاء خودله چه د مانځه په ابتداء کښې ئے ووائی۔ [اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ خَطَایَایَ بِالۡمَاءِ وَالثَّلۡجِ وَالۡبَرَدِ] ځکه چه گناه په انسان کښې نجاست هم پیدا کوی، رخاوت، او ډهیلاپن هم۔

دویم ورسره تحلیه ده۔ یعنی کور دِے جارو کړو نو اُوس به ئے په چونه، او پلستر وغیره سره ښائسته کوے، گُلکاری به پکښې کوے۔ نو ښکلے اعمال به اختیاروے۔ نو د انسان اول ښائست په ایمان سره راځی، تقویٰ، صلاة، الخشیة، اَلۡعِبَادَاتُ كُلُّهَا ۔(هر قسم عبادات) القرآن، الذکر۔ جهاد، (یَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ) ، صیام، حج او عمره۔ نو انسان ته دا ذمه واری ترمرگه او قیامته پورے سپارلے شوے ده۔

اَفۡلَحَ: یعنی کامیاب شو او انجام ئے ښه شو، جنت ته ورسیدو۔

زَكّٰهَا : د زکاة نه دے، په اصل کښې زیاتوالی، اُوچتوالی، او پاك والی ته وئیلے شی، نو په نفس کښې چه توحید او عمل صالح راشی، نو اُوچت شی او پاك شی د شرك او بدعاتو او رذائلو نه۔

خَابَ: یعنی نامراده شو (مراد ته ونهٔ رسیدو) ناکام شو۔ تاوانی شو۔ د هر انسان څلور مراده وی، عزت، راحت، امن او خوشحالی۔ یو تن به هم داسے نهٔ وی چه ووائی چه زهٔ دا نهٔ غواړم۔ نو خاب معنیٰ دا شوه چه دے مرادونو ته نشی رسیدے۔

دَسّٰهَا : په اصل کښې دَسَّسَهَا دے۔ تدسیه، تدسیس او دس یو څیز په بل څیز کښې پټول، په داسے طریقه چه په هغے کښې ورك شی۔ او دلته ترے مراد گمراه کېدل، بربادېدل

او په ګناهونو کښې ډوبول دي.

❁ یعنی هغهٔ خپل نفس د ګناهونو د بوج لاندې دباؤ کړي، پټ کړي، او د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو دپاره دا را پورته نهٔ کړي.

❁ یا خپل نفس ورك کړي. او د انسان نفس په دې ورك کیږي، چه شرك کوي او نورو ګناهونو کښې اخته وي.او چه انسان نیکي کوي نو الله تعالیٰ ئې خلکو کښې راښکاره کوي. اُوګورئ صحابه کرامؓ ته چه په ټوله دنیا کښې داسې مشهور دي لکه پرون چه تیر شوي وي، یا لکه چه زمونږ پلاران وي. او څومره کافران تیر شویدي، لاړل ورك شو چه څوك ئې نوم هم نهٔ اخلي مګر په بدئ سره.

نو د انسان چه څومره نیکي او تقویٰ زیاته وي نو د لرې زمانې نه ئې خلق یادوي، په اندازه د نیکئ او تقویٰ سره د انسان یادونه کیږي.

❁ یا معنیٰ ده : پټ کړي نفس او په طاعت او عمل صالح سره ئې مشهور او راښکاره نکړي. لکه د عربو سخیان به په اوچتو ځایونو کښې وسیدل دې دپاره چه د دوی ځایونه مشهور شي او میلمانه ورته راشي، او رذیلان عرب به په خکته ځایونو او کندو کښې وسیدل دې دپاره چه د دوئ ځایونه د راتلونکو نه پټ وي.

❁ ابن الاعرابیؒ ددې دا معنیٰ هم کړیده چه [دَسَّ نَفۡسَهٗ فِيۡ جُمۡلَةِ الصَّالِحِيۡنَ وَلَيۡسَ مِنۡهُمۡ] یعنی خپل نفس د نیکانو په جماعت کښې ننباسي او حال دا چه د هغوی نه نهٔ وي. (په عمل او عقیده کښې بلکه نفاق کوي)

نو حاصل معاني ئې دا دي : (اَضَلَّهَا) ځان ګمراه کړي. اَحۡقَرَهَا : خپل نفس سپك کړي.

قَدۡ أَفۡلَحَ مَنۡ زَكَّاهَا ﴿٩﴾ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ
یقیناً کامیاب دې هغه څوك چه پاك ئې کړو نفس لره. او یقیناً ناکام دې هغه څوك
دَسَّاهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَاهَا ﴿١١﴾
چه ډوب ئې کړو نفس لره. تکذیب اُوکړو ثمودیانو په سبب د سرکشئ خپله.
إِذِ انۢبَعَثَ أَشۡقَاهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمۡ رَسُولُ اللّٰهِ
کله چه راپاڅیدو بدبخت د هغوی. نو اُووئیل هغوی ته رسول د الله تعالیٰ (لحاظ

نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيَاهَا ﴿۱۳﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا
اُوکړئ) د اُوښې او د نمبر د اُوبو د هغې۔ نو دوی دروغژن کړو هغهٔ لره نو پریکړه
فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنْبِهِمْ
هغه اُوښه، نو هلاکت راوستو په دوی باندے رب د دوی په سبب د گناه د دوی
فَسَوَّاهَا ﴿۱٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا ﴿۱٥﴾
نو برابرئے کړو هلاکت (په دوی باندے)۔ او نهٔ یریدو الله د انجام ددے (کار) نه۔

تفسیر : د کافرانو د تاوانی کیدو او ناکامیدو مثال د ثمودیانو د هلاکت او بربادئ قصه ده چه کله دوئ خپل نبی صالح علیه السلام دروغژن وگنړلو او اُوښه ئے هلاکه کړه نو د الله عذاب دوئ په خپل گرفت کښ را اونیول۔

بیا ثمودیان ئے په مثال کښ راوړل؟ ددے وجے دی :

(۱) یو دا چه اِخْتَارُوا التَّدْسِيَةَ عَلَى التَّزْكِيَةِ عَلٰى عِلْمٍ ۔ دوئ سره د علم نه نیغه لاره پریخے وه۔ یعنی حق ورته ښه ښکاره شوے وو او بیا ئے هم شرك او کفر اختیار کړو، نو ثمودیان هغه خلق دی چه دوی معجزه طلب کړے وه لکه ناقه او هغه ئے په خپلو سترگو ولیدله، او سره ددے نه ئے طغیان وکړو، یعنی سره د علم نه ئے کفر وکړو، نو د هغه چا ډیره بدی ده چه هغه پو هه شو، او د پو هے نه روستو بیا هم گناهونه او شرك او کفر کوی۔

قرآن کریم ئے ووئیلو او بیا هم شرك، کفر، غلا، زنا او بے حیائی او بدعت کوی، نو ددهٔ بدی زیاته ده۔ نو دغه شان مشرکان د مکے هم پو هه شویدی چه دا نبی محمد رسول الله ﷺ حق دے، او ددهٔ معجزات ئے ښکاره په سترگو ولیدل او بیا هم ددهٔ نه انکار کوی۔

(۲) حافظ ابن تیمیهٔ فرمائی : د ثمودیانو تدسیه کمه وه، او د مشرکانو تدسیه زیاته ده نو پدے کښ تنبیه د ادنیٰ نه ده په اعلیٰ باندے، یعنی الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ د ثمودیانو د شرك نه سوئ بل لوی ظلم نهٔ دے ذکر کړے، او د نورو قومونو مکذبهٔ سره ئے د شرك نه نور مظالم ذکر کړیدی نو دوی د نورو په نسبت ادنیٰ کافران دی، نو هرکله چه ادنیٰ کافران هم الله تعالیٰ هلاك کړیدی نو لوی کافران (لکه مشرکین د مکے) به د هغهٔ د عذاب نه څنگه بچ شی۔

(۳) – وجه دا ده چه ثمودیان د تهولو قومونو مکذبینو نه مالدار او صنعت کار وو او مالونه ئے په غیر د مصارف شرعیه نه خرچ کول، او پدے سورتونو کښ (د سورة فجر نه تر واللیل پورے) دا مسئله ذکر کیږی، نو ددے وجه نه د ثمودیانو مثال ئے خاص ذکر کړو۔

بِطَغْوَاهَا: ۱ – د سرکشئ د وجے نه۔ نو باء سببیه ده۔ یعنی د طغیان په وجه ئے تکذیب وکړو۔ یعنی گناهونو کښ د حد نه تیروتی وو نو پدے وجه ئے تکذیب د حق هم وکړو۔ (مجاهدؒ، قتادهؒ)

یعنی ثمودیانو د الله نبی صالح علیه السلام د خپلے سرکشئ په وجه دروغژن اوگنړلو،

۲ – یا ثمودیانو هغه عذاب دروغژن وگنړلو چه د کوم وعده دوئ سره شوے وه۔ او دے عذاب ته [طَغْوٰی] په دے وجه وئیلے شوے چه دا په سختئ کښ د حد نه تیر شوے وو۔ (ابن عباس رضی الله عنه)

رَسُوْلُ اللّٰهِ: نه مراد صالح علیه السلام دے۔

نَاقَةَ اللّٰهِ: ددے فعل پټ دے۔ (اَیْ اِحْفَظُوْا) یعنی حفاظت وکړئ۔ (رَاعُوْا) لحاظ وکړئ۔ (اِحْذَرُوْا) ځان بچ کړئ۔ [ذَرُوْا] پریدئ اُوښه د الله تعالیٰ۔

نَاقَةَ اللّٰهِ: اضافت د تشریف دپاره دے۔

یعنی صالح علیه السلام دوئ ته نصیحت وکړو چه هیڅ یو کس دِے دیته ضرر ورنهٔ کړی، دا به آزادئ سره چرته چه غواړی ځی به، او د خپل نمبر په ورځ به د کوهی نه اوبهٔ ښکی، دیته تکلیف رَسَول یا ددے د نمبر په ورځ دا د اُوبو نه منع کول، د الله تعالیٰ عذاب له دعوت ورکول دی۔

وَسُقْيَاهَا: او ددے د اُوبو۔ یا نمبر د اُوبو ددے۔

فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا: یعنی دا سرکشی یا د عذاب دروغژن گنړل هغه وخت راپیښ شو کله چه د قبیلے سردارانو خپل بد بخت ترین سړے (قُدار بن سالف) په دے خبره را اوپارولو چه هغه اُوښه هلاکه کړی۔

او دلته عقر یو تن کړے وو، او نسبت ئے ټول قوم ته وکړو ځکه چه ټول پرے راضی وو او د هغهٔ تابع وو۔

فَدَمْدَمَ: دَمْدَمَه په اصل کښ عذاب عام کول او دوچنده کول، او بار بار راوستل او

هلاکول او برابره ول دی، او د بیخ نه ویستل دی، دلته ترے هلاکت راوستل مراد دی۔
بِذَنبِهِمْ: دا مفرد دے مراد ترینه جنس گناهونه دی، طغیان، تکذیب، عقر، یا مراد ترینه گناه د تکذیب ده چه ټول پکښې شریك وو۔
فَسَوَّاهَا: هَا ضمیر زمکے ته یا دمدمے ته راجع دے، یا امت د ثمودیانو ته راجع دے۔
۱- یعنی زمکه ئے پرے همواره کړه او ټول ئے ترے لاندے کړل۔
۲- یا فَسَوَّى الدَّمْدَمَةَ عَلَيْهِمْ۔ هلاکت ئے پرے برابر کړو چه په ټولو ئے راوسته۔ نارینه او زنانه او ماشومان ټول ئے هلاك شول۔
۳- یا فَسَوَّى الْأُمَّةَ فِي الدَّمْدَمَةِ ۔ یعنی په هلاکت کښې دغه ټول امت برابر کړل، ټول باندے عذاب راغے، د الله تعالیٰ عذاب چه کله راشی نو ټولو مجرمانو ته رسیږی۔ او ددے نه هیڅ یو تن بچ نشو سوئ د مؤمنانو نه چه هغه څلور زره کسان وو۔
عُقْبَاهَا : یعنی د انجام د دمدمے (هلاکت او مصیبت) د دوی نه نهٔ یریدو، په خلاف د انسان چه کله په یو تن گوزار کوی، نو یریږی چه په وران ځای ونهٔ لگی مړ به شی، بیا به راته فتنه جوړه شی، او الله تعالیٰ داسے نهٔ دے، هغه بیا د چا د مصیبتونو نه نهٔ یریږی۔ همدغه راجح تفسیر دے۔
۲- یا لَا يَخَافُ کښې ضمیر اَشْقیٰ (قُدار بن سالف) ته راجع دے، او هَا ضمیر ناقے ته۔ یعنی نهٔ یریدو دغه سرکش د انجام د هلاکولو د ناقے نه۔ یعنی ډیر لوی بد بخت وو۔ وبالله التوفیق.

ختم شو تفسیر د سورة الشمس په توفیق د رب العالمین سره۔



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۲۱)	(۹۲) سُوۡرَةُ اللَّيۡلِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الليل مکی دے، په دے کښې یویشت آیتونه او یوه رکوع ده

تفسير سورة الليل

نوم : په اولنی آیت کښې د ﴿ وَالَّيۡلِ ﴾ لفظ دے، همدا ددے سورت نوم ایښودل شوے۔
د نازليدو زمانه : دا سورت د جمهورو په نیز مکی دے۔
نحاسؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس ﷺ نه او ابن مردویہؒ د ابن الزبیر ﷺ نه روایت کړی دی چه سورهٔ ﴿ وَالَّيۡلِ إِذَا يَغۡشٰى ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

۱- په مخکښې سورت کښې تفرقه د عاقبت د فریقینو ذکر شوه نو پدے سورت کښې د هغې علت ذکر کوی چه هغه تفرقه د عقیدے او د عملونو ده۔

۲- په مخکښې سورت کښې تخویف دنیوی ذکر شو نو پدے سورت کښې هغه اعمال ذکر کوی چه په هغې سره د الٰهی عذاب نه امن حاصلیږی۔

۳- په هغه سورت کښې هغه قوم ته تخویف وو چه اموال ئے په غیر شرعی مصارفو کښې خرچ کول نو په دے سورت کښې ذکر کوی حال د هغه چا په په شرعی مصارفو کښې خرچ کوی۔

د سورت مقصد

بَيَانُ اخۡتِلَافِ الۡاَعۡمَالِ وَآثَارِهَا وَنَتَائِجِهَا الۡعَجِيۡبَةِ ۔ یعنی د عملونو اختلاف او د هغې آثار او ناشنا نتیجے۔ پدے سورت کښې عمل ته دعوت دے چه نیک عمل وکړه او د بد نه ځان

وساته۔ او د انسانانو په عملونو کښې اختلاف دے، نو راشه د نيك عمل نتيجے ته وګوره او د بد عمل نتيجے ته وګوره۔

اول کښې ئے قسم کړيدے اشاره ده اختلاف ته چه ستاسو عملونه داسے مختلف دی لکه شپه او ورځ، او ستا عمل داسے مختلف دے لکه سړے او ښځه۔

بيا ئے د بد عمل او نيك عمل نتائج ئے ذکر کړيدی، چه دا يو شان نهٔ دی بلکه پدے باندے ډيرے غټے نتيجے مرتب دی،

او ددے سورت شان نزول ابوبکر صديق ﷺ دے چه دهٔ به په مکه کښې هغه کمزوری خلق ليدل چه هغوی به ايمان راوړے وو لکه زِنِّيْرَه (ښځه)، اُم عُميس، او نورے زنانه (رضی الله عنهن) چه کمزورے وے، او کافرانو به وهلے ټکولے، او بعض غلامان وو لکه بلال ﷺ وغيره نو دے لاړو په پيسو ئے هغوی واخستل او آزاد ئے کړل ځکه چه آزادو خلقو ته به چا دومره ضرر نشو ورکولے، او غلامانو وينځو باندے به ظلمونه کيدل۔

شپږ اوه کسان ئے واخستل، او د الله تعالیٰ دپاره ئے آزاد کړل، ابو قُحافه (پلار ئے) وويل چه اے ځويه! څه قوی خلق خو آزاد کړه چه ستا شا ته ودريږی، هغه ورته وويل: پلاره! دا زهٔ د خپل مدد دپاره نهٔ اخلم بلکه دا د رب العالمين د رضا دپاره۔

بيا ددے سورت حکم د هر مؤمن په باره کښې دے، او صرف د مؤمن حال نهٔ بيانوی بلکه کافر هم ورسره بيانوی۔

وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا
قسم دے په شپه کله چه پټه کړی (څيزونو لره) او قسم په ورځ کله
تَجَلّٰى ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى ﴿٣﴾ إِنَّ
چه روښانه شی۔ او قسم په هغه الله چه پيدا کړے ئے دے نارينه او زنانه۔ يقيناً
سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ﴿٤﴾
کوشش ستاسو خامخا مختلف دے۔

تفسير: ددے سورت په اولنو درے آيتونو کښې الله تعالیٰ په شپه او ورځ او په خپل

ذات باندے قسَم خوړلے او انسانانو ته ئے وئيلي دي چه اے خلقو ! ستاسو عملونه جدا جدا دي، څۀ خو ښۀ وي چه هغه په دنيا او آخرت کښې ستاسو د راحت او نيك بختيا سبب جوړيږي، او څۀ داسے خراب وي چه هغه په دواړو جهانو کښې ستاسو د شقاوت او بد بختيا سبب وي۔

يَغْشٰى : ددے مفعول ئے نۀ دے ذکر کړے دپاره د تعميم۔ يا د اختصار، يا د رعاية د فاصلے۔ او مراد ترے نه پټول د څيزونو دي په تيارے سره، نو هر شے پکښې خپل ځايونو ته واپس شي، او آرام کوي، او شپه نمر لره پټ کړي، تيارے راخورے شي دے دپاره چه خلق پکښې راحت او آرام وکړي، او د الله تعالىٰ بندګي په سکون او اطمينان د زړۀ وشي په تهجدو کولو او په ذکر او تسبيحاتو سره۔

وَالنَّهَارِ : او قسم دے په ورځ باندے چه کله روښانه شي، او تيارے د شپے ختمے شي دے دپاره چه خلق پکښې په زمکه کښې حرکت شروع کړي دپاره د طلب د معاش او رزق او دپاره د ليدلو د دليلونو د قدرت او د توحيد د الله تعالىٰ۔

نو معلومه شوه چه د شپے او د ورځے په آثارو او فوائدو کښې ډير فرق دے، او دا د الله تعالىٰ نعمتونه هم دي، او د هغۀ د توحيد دليلونه هم دي۔

إِذَا تَجَلّٰى : اَىْ ظَهَرَ بِزَوَالِ ظُلَمِ اللَّيْلِ۔ يعنى راښکاره شي په ختميدو د تيارے د شپے سره۔

وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنْثٰى : د (مَا) نه مراد الله تعالىٰ دے۔ يعنى په هغه الله مے قسم دے چه هغۀ نر او ښځه او نور ټول مذکر او مؤنث پيدا کړي دي،

او ددے قسَم د لوى والي سبب دادے چه الله تعالىٰ هغه تمام حيوانات مذکر او مونث پيدا کړي دي چه هغه ئے په دنيا کښې باقي ساتل غوښتلي دي، او په دواړو کښې ئے شهوت کيښودلو او دوئ ته ئے د جوختيدو او جماع کولو فطري طريقه اوښودله، دے دپاره چه ددے حيواناتو نسلونه آينده دنيا پورے باقي پاتے شي۔

په هر حيوان کښې ئے نر او ماده پيدا کړل، او ددے نسل د بقاء دپاره پورتنے تدبير کول يقينًا د الله تعالىٰ په لويئ او د هغۀ په کامل قدرت باندے دلالت کوي۔

إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى : يعنى ستاسو عملونه او ستاسو کوششونه مختلف دي۔ څۀ خو نيکئ وي چه هغه ستاسو د سعادت او نيك بختيا سبب جوړيږي، او څۀ ګناه او

مخالفتونه وی چه هغه ستاسو د هلاکت او بربادئ سبب وی۔
د سورة السجده په (۱۸) آیت کښ الله تعالیٰ دا خبره داسے بیان کړے ده :
﴿ أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ ﴾
(آیا څوك چه مومن وی هغه د هغه چا پشان کیدے شی چه هغه فاسق وی هیڅ کله برابریدے نشی)۔
او د سورة الجاثیه په (۲۱) آیت کښ فرمایلی دی :
﴿ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾
(آیا د هغه خلقو چه هغوئ بد کارونه کوی دا گمان دے چه مونږ به دوئ د هغه خلقو پشان کړو چه هغوئ ایمان راوړے او نیك عملونه ئے کړی، چه د دوئ مرگ او ژوند به یو شان وی، بده ده هغه فیصله چه دوئ ئے کوی)۔
د قسم او جواب قسم مناسبت ښکاره دے او مخکښ بیان شو۔ چه لکه څنگه چه په اَوقاتو د سعی کښ ښکاره اختلاف دے چه شپه او ورځ ده، او ددے په صفاتو او مَنافعو کښ هم ډیر اختلاف دے، او په ساعی کښ هم اختلاف دے، یعنی مذکر او مؤنث نو دغه شان په صورت د اعمالو کښ هم اختلاف شته، او په جزاء او سزا کښ به هم اختلاف وی۔
نو پدے کښ رد دے په هغه چا چه مؤمنان، او کافران، اطاعت کونکی او عصیان کونکی ټول یو شان گنړی لکه دا خبره په سورة جاثیه (۲۱) آیت کښ ذکر شوے وه۔ او ددے وجه نه بیا د قیامت او د جنت او د جهنم نه انکار کوی۔
لَشَتّٰی: جمع د شَتِيْتٌ ده، یعنی مختلف۔ یعنی یو عمل د خیر کوی او بل عمل د شر کوی، یو مطیع دے، بل عاصی دے، یا یو د دنیا دپاره سعی کوی، نو بل د آخرت او د دین دپاره۔
او د اختلاف د عملونو بیانولو نه مقصد دا دے چه اے انسانه! خپل ځان ته وگوره چه ستا کوم عمل دے، آیا ته د هلاکت په لاره روان ئے که د کامیابئ۔ نو ځان د بدے لارے نه وساته او په نیکه لاره روان شه۔

فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى ﴿٥﴾

پس هرهغه چا چه ورکړو (مال، طاعت خدمت لره) او تقویٰ ئے وکړه (یا : د الله نه اُویریدو)

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ

او تصدیق ئے اُوکړو د جنت (د ښائسته خبرے یعنی توحید) نو زردے چه آسان به کړو دهٔ

لِلْيُسْرٰى ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ

لره آسانئ طرف ته۔ (نو خامخا آسانه به کړو دهٔ ته لارد آسانئ)۔ او هغه چا چه

بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ

بخل اُوکړو او ځان ئے بے پروا کړو۔ او تکذیب ئے اُوکړو (دروغژن ئے اُوګڼړلو)

بِالْحُسْنٰى ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ

د ښیے خبرے۔(ښائسته شے، جنت، لا اله الا الله)۔ نو زردے چه آسانئ سره به روان کړو

لِلْعُسْرٰى ﴿١٠﴾

دهٔ لره په لار د سختئ۔ (زردے چه آسانی به ورکړو دهٔ لره سختئ طرف ته)۔

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهٗٓ إِذَا تَرَدّٰى ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا

او فائده به ورنکړی دهٔ ته مال ددهٔ کله چه دے پریوزی (اُورته)۔ یقیناً زمونږ په ذمه

لَلْهُدٰى ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولٰى ﴿١٣﴾

باندے خامخا لاره خودل دی۔ او یقیناً خاص مونږ دپاره خامخا آخرت او دنیا ده۔

تفسیر : مضمون : انسان کښې چه کله درے صفتونه راشی نو الله ورله درے نعمتونه ورکوی، او چه درے مرضونه پکښې راشی، نو درے سزا ګانے ورکوی۔

او بیا په آخره کښې دا وائی چه یو تن مالداره شو او دا صفات پکښې نهٔ وی نو دا په مال باندے د الله نه نشی خلاصیدے۔ نو په بدو صفاتو به هلاکیږے، او په نیکو صفاتو به

بچ کیږي، او په مال نشي خلاصیدې،

سوال پیدا شو چه مال لګول به هیڅ فائده نۀ ورکوی نو فرمائی : چه چا کښ تقویٰ وه او مال ئې په صحیح ځای کښ لګولو نو هغۀ ته مال لګول فائده ورکوی۔ دا د ابوبکر صدیق ﷺ حال تـه اشاره ده۔ نـو الله تعالیٰ شپږ خبرې کړیدی او په هر یو باندې ئې درې درې ځیـزونـه مـرتـب کـړیـدی، نـو ټول دولـس خبرې شوې، او بیا روستو ئې دوه خبرې کـړیـدی، او بیـا ئې دوه کـړیـدی۔ څـلـور دا شـوې نو شپاړس شوې، او په اول کښ ئې دوه قسمـونـه کـړیـدی، او یـوه نتیـجـه ئې بیان کړیده۔ نو پدې سورت کښ ټولې شل خبرې شوې۔

اول :مَنۡ أَعۡطَى : یعني ځان کښ قُوَّةُ الۡبَذۡلِ صفت پیدا کړه۔ دلته د اَعۡطٰی مفعول ئې نۀ دې ذکـر کـړې نـو دا ډیر عام دې۔ مال ئې ورکړو، طاعت ئې ورکړو، خدمت ئې ورکړو، یا الله ته ئې ایمان ورکړو، اخلاص او توبه ئې ورکړه، شکر او احسان ئې په مال او بدن او نیت سره وکړو، دارنګه اخلاق ئې ورکړل، خلقو ته ئې د دین او د صحیح عقیدې دعوت ورکړو۔

وَاتَّقَى: دویـم صـفـت : تقویٰ ده، که یو تن مالونه لګوی لیکن تقویٰ پکښ نۀ وی، نو دا صـدقـې الله تعالیٰ ته قبولې نۀ دی، ډیر کسان مالونه لګوی، لیکن تقویٰ پکښ نشـتـه، نـو د هـغـوی پـه مالونو کښ هیڅ اثر نۀ وی۔ تقویٰ د شرك، بدعاتو او د ټولو ګناهونو او مشتبهاتو نه ځان ساتل دی۔

دریم :وَصَدَّقَ بِالۡحُسۡنَى : دا لـفظ شامل دې کلمه د توحید، او جنت او ثواب او اجر او ټول احکام او اخبار شرعیه ؤ ته۔ یعني یقین کول په لا اله الا الله باندې۔

دارنـګـه حسنیٰ نه مراد مَوۡعُوۡدُ اللهِ بِالۡخَلَف ۔ الله تـعـالـیٰ وعـده کړیده چه د مال بدله به درکوم نو پدې به یقین کوی۔

فَسَنُيَسِّرُهُ لِلۡيُسۡرَى: یعني زر دې چه آسانه به کړو دۀ ته لاره د آسانۍ۔

د آسانولو نه مراد توفیق د عمل ورکول دی۔

۱- ددې یو مصداق دې جنت، (زید بن اسلمؒ)

۲- اَلۡعَمَلُ بِمَا يَرۡضَى اللّٰهُ بِهٖ۔ په هغه شی باندې عمل کول چه الله پرې راضی کیږی۔

۳- خصلتونه او کارونه د خیر به ورته آسان کړو۔

٤- اَلۡوَسۡعُ فِي الۡمَالِ۔ یعني په مال کښ به فراخي ورکړی۔

وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ: دلته هم درے کارونه ذکر کوی چه د مخکنو دریو سره مقابل دی۔
اول: بَخِلَ: یعنی نهٔ ادا کوی هیڅ حق د الله تعالیٰ او نهٔ حق د بندګانو۔ بخل په نفس سره په خدمت کولو، بنه خبرو کولو سره، بخل په مال سره دے تولو ته شامل دے۔
دویم: وَاسْتَغْنَى : د الله تعالیٰ او د هغهٔ د دین نه ئے ځان بے پرواه کړو، نو هیڅ نیك عمل نهٔ کوی، نو دا د تقویٰ بالمقابل شو، متقی ولے تقویٰ او نیك عملونه کوی ځکه چه الله تعالیٰ ته خپل حاجت محسوس کوی۔ او د غیر متقی په الله تعالیٰ باندے پرواه نشته نو ځکه تقویٰ نهٔ کوی۔
یا د انسانانو نه ئے ځان بے پرواه کړو چه هغوی سپك ګڼړی او د هغوی نه شرم نهٔ محسوس کوی او ګناهونه او محرمات کوی۔
دریم: وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى : (یعنی یقین ئے خراب شو) د حسنیٰ مخکنی مصداقات دی، چه لا اله الا الله۔ جنت، او بدلے د نیك عمل۔
دارنګه د طریقه شرعیه او د اعمالو د خیر نه انکار کوی۔
فَسَنُيَسِّرُهُ: دلته د آسانولو نه مراد دا دے چه د شر اسباب به ورته آسان کړی او د خیر اسباب به ترے منع کړی، او دے ته خِذلان وائی۔ یعنی د نیکو کارونه به ضعیف شی او ګناهونه به ورته آسان شی نو اُور ته به ورسیږی۔
لِلْعُسْرَى: نه هر هغه خصلت او لار مراد ده چه عاقبت ئے سخت دے، او رسونکے دے جهنم ته۔
مقاتلؒ وائی : (يُعَسِّرُ عَلَيْهِ اَنْ يُّعْطِيَ خَيْرًا) یعنی دهٔ نه به دا خبره ګرانه وی چه خیر چا ته ورکړی۔ بل تعبیر دے : نُعَسِّرُ عَلَيْهِ طُرُقَ الْخَيْرِ۔ د خیر لارے به ورته سختے کړو۔
یا عسریٰ جهنم ته وائی۔ یا عسریٰ شر ته وائی، یعنی شر کارونه به ددهٔ د لاسونو نه جاری کړو۔
او په حدیث کښں : [اِعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهٗ، اَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ اَهْلِ السَّعَادَةِ، وَاَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الشَّقَاءِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاءِ]۔
(بخاری : ٤٩٤٩) مسلم : (٢٦٤٩)
عمل کوئ هر سړی ته به توفیق ملاویږی د هغه عمل چه کوم له پیدا دے، څوك چه د نیك بختانو نه وی نو هغهٔ ته به د نیك بختو خلقو عمل آسانولے شی، او څوك چه د

بد بختو نه وی نو هغه ته به د بد بختو عمل آسانولے شی۔
عُسریٰ د مال تنګوالی ته هم وائی۔
وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗ إِذَا تَرَدّٰى: که یو تن ووائی چه زهٔ به د مال په وجه په ځان باندے فراخی راولم۔ نو الله تعالیٰ پرے رد کوی چه کله دا د قیامت په ورځ د جهنم په اُور کښ واچولے شی، دغه وخت به ددهٔ مال ددهٔ پکار رانشی، او پړمخے به جهنم ته ګذار کړے شی۔
إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰى : ددے یوه معنیٰ ده : ۱- زما په ذمه باندے بیان د هدایت دے، ځکه چه مونږ انسانان د عبادت دپاره پیدا کړیدی نو هغوی ته هدایت بیانول ضروری دی۔
دے وجے نه هغهٔ د انسانیت د پیدائش د شروع نه انبیاء علیهم السلام را اولیږل، کتابونه ئے نازل کړل، عقل او پوهه ئے ورکړه، او د حق او باطل ترمینځه د تمییز او جدا والی قوت ئے ورکړو۔
۲- اِنَّ عَلَيْنَا طَرِيْقَ الْهُدٰى ۔ یعنی په ما باندے لاره د هدایت ده، یعنی څوك چه په هدایت روان شی نو دا به سیده الله تعالیٰ ته رسیږی نو دا داسے دے لکه ﴿ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ﴾ ﴿ وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ﴾۔ په شان۔ (فرآء)
۳- عَلَيْنَا اَنْ نُبَيِّنَ طَرِيْقَ الْهُدٰى مِنْ طَرِيْقِ الضَّلَالِ) (زجاج) ۔
په مونږ باندے لازم ده چه د هدایت لاره به د ګمراهئ د لارے نه جدا بیانوو۔ او هغه مونږ پدے کتاب کښ تاسو ته پوره پوره بیان کړے په طریقه د ترغیب او ترهیب سره۔ (فتح البیان)
٤- قتادهٔ وائی : عَلَى اللّٰهِ الْبَيَانُ، بَيَانُ حَرَامِهٖ وَطَاعَتِهٖ وَمَعْصِيَتِهٖ۔
په الله تعالیٰ باندے بیان لازم دے، بیان د حرامو او د طاعت او معصیت۔
اول قول ظاهر دے۔
وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ : یعنی جنت ورکول او دنیا ورکول دواړه زما په اختیار کښ دی، او زهٔ ددے تمامو څیزونو یواځے مالك یم، او هم زهٔ په دے کښ د خپل مرضئ مطابق تصرف کوم، تمام مخلوق عاجز او مانده او فقیر او محتاج دی، د دوئ په اختیار کښ هیڅ شے نشته، دے وجے نه د دنیا او آخرت هره یوه بښیګړه صرف زما نه غوښتل پکار دی، او طغیان او سرکشی کونکو له زما د سزا او عذاب نه یریدل پکار دی۔

فَأَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰى ﴿١٤﴾ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا
نو ما اُویرولیٔ تاسو د اُور نه چه لمبے وهی۔ نهٔ به داخلیږی هغے ته مګر
الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِىْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿١٦﴾
ډیر بدبخت۔ هغه چه دروغژن ئے وګنړلو (حق لره) او مخ ئے واړولو (د طاعت نه)
وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِىْ يُؤْتِىْ مَالَهٗ
او زردے چه بچ به کړے شی د هغے نه ډیر تقویٰ دار۔ هغه چه ورکوی مال خپل
يَتَزَكّٰى ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰى ﴿١٩﴾
ځان پاکوی۔ او نشته د هیچا دپاره ددهٔ سره څه احسان چه د هغے بدله ورکړے کیږی۔
إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلٰى ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴿٢١﴾
مګر دپاره د لټولو د مخ د رب ددهٔ چه اُوچت دے۔ او خامخا زردے چه دے به راضی شی۔

تفسیر : دا تخویف اُخروی دے۔ یعنی هرکله چه دنیا او آخرت زما په اختیار کښ دی، نو اے خلقو! زهٔ تاسو د جهنم د عذاب نه یروومه چه هغه به همیشه بلیدونکے اوسی، هیڅ کله به نهٔ یخیږی۔ او په دے کښ به انتهائی بد نصیبه انسان داخلیږی چه هغه د رب العالمین دین دروغژن ګنړی، او د کفر او عناد په وجه د هغهٔ نه مخ اړوی۔

فَأَنْذَرْتُكُمْ: ددے ویرونکی نه مراد یا الله تعالیٰ دے۔ یا رسول الله ﷺ دے۔
او فعل ماضی پخپله معنیٰ ده، او پدے کښ اشاره ده هغه تخویفاتو ته چه ددے سورت نه مخکښو سورتونو کښ ذکر دی۔

یا ماضی په معنیٰ د حال سره ده، او ماضی ئے د تحقق او تیقن دپاره راوړے ده۔

نَارًا: دا نکره د تعظیم او تفخیم د شان دپاره ده۔

الْأَشْقَى: اسم تفضیل دلالت کوی چه ددے نه مراد کافر او مشرك انسان دے، او ددے نه لاندے شقی دے چه هغه مؤمن ګنهګار دے، یا اشقیٰ په معنیٰ د شَقِی سره دے، او مراد ترینه کافر دے۔

كَذَّبَ وَتَوَلَّى: یعنی په زړهٔ سره ئے تکذیب وکړو، او د عمل او طاعت کولو نه ئے مخ واړه ولو۔ یعنی عقیده ئے هم خرابه ده او عمل هم۔
لَا يَصْلَاهَا: **سوال**: دلته ئے حصر کړیدے چه اُور د جهنم ته به صرف (اَشقیٰ) لوی بد بخت داخلیږی، نو ددے نه خو معلومیږی چه مؤمن گنهگار دے به نهٔ داخلیږی، او حال دا چه دا خو د مرجیه ؤ مسلك دے، او د نورو نصوصو مخالف دے۔
ددے **جواب** دا دے چه دلته الله تعالیٰ د لوی بد بخت حال ذکر کوی په مقابله د اَتقیٰ (لوی متقی) انسان کښې چه لوی بد بخت به اُور ته ځی او لوی متقی به د اُور نه بچ کیږی، او هر چه درمیانه حالت دے چه د مؤمن گنهگار حال دے، چه مِنْ وَجه متقی دے او من وجه شَقِی دے، نو ددهٔ حالت ئے نهٔ دے ذکر کړے دپاره د رجاء او تخویف دواړو۔
وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى: پدے کښې زیرے ورکوی هغه مؤمن بنده ته چه په هغه کښې پنځه صفات راجمع شویدی۔
یعنی ددے بلیدونکی اُور نه به هغه مومن سرے بچ کړے شی چه هغه د خپل رب نه انتهائی درجه یریدو سره ژوند تیروی، او خپل نفس د بخل او د نورو گناهونو نه پاکولو دپاره خپل مال د ښیگړے په کارونو کښې خرچ کوی۔
الْأَتْقَى: د اسم تفضیل صیغه دلالت کوی چه دلته اعلیٰ درجه مؤمن مراد دے، او دا دلیل دے چه ایمان کښې زیاتے او کمے راځی۔
يُؤْتِي مَالَهُ: یعنی د خیر په ځایونو کښې مال لگوی لکه د روستو نه معلومیږی۔
يَتَزَكَّى: دا بدل دے د يُؤْتِي مَالَهُ نه۔ یعنی مال د څه دپاره ورکوی، ځان پاکوی۔
دا دلیل دے چه د نفس د پاکئ دپاره ښکلے ذریعه مال لگول دی په نیکو ځایونو کښې۔
او ددے برعکس : په نیك ځایونو کښې د مال لگولو نه بغیر تزکیه نهٔ حاصلیږی۔
وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ: مال ډیر خلق لگوی لیکن په بدله باندے، که څوك ددهٔ سره احسان وکړی نو دے د هغه بدله خلاصوی، دا هم ښه کار دے، چه انسان د بل چا د احسان بدله خلاصه کړی لیکن هغے کښې دومره اخلاص نهٔ وی۔
دلته ددے انسان صدقه کول د هیچا د احسان په بدله کښې نهٔ دی، بلکه صرف او صرف د الله تعالیٰ رضا لټول ئے مقصد دے۔
إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى: استثناء منقطع ده، یعنی هیڅ احسان د چا پرے نشته

چه د هغې بدله خلاصوی لیکن صدقه کوی دپاره د لټولو د مخ د رب خپل چه اُوچت ذات دے۔

وَجْهِ: دلته په خپله حقیقي معنیٰ باندے دے، او دا په عرف کښې وئیلے کیږی چه ما دا کار د فلانی د مخ د خاطره وکړو، یعنی د هغه لحاظ مے وکړو۔

وَلَسَوْفَ يَرْضَى: دا اجمالي زيرے دے او دنياوي او اُخروي بے شماره نعمتونو ته اشاره ده۔

۱- ضمیر دے شخص ته راجع دے، یعنی زر دے چه دے به خوشحاله شی د الله تعالیٰ د طرفنه په ډیرو نعمتونو سره۔

۲- غوره دا ده چه ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے، اَیْ لَسَوْفَ یَرْضَی اللّٰهُ عَنْهُ۔ یعنی زر دے چه الله تعالیٰ به ددهٔ نه راضي شي۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکی: ګنړو مفسرینو وئیلی دی چه دا آیتونه د ابو بکر صدیق ﷛ په باره کښې نازل شوی وو۔ بعضِ مفسرینو په دے باندے اجماع نقل کړے ده۔

او په دے کښې هیڅ شك نشته چه ابو بکر ﷛ په هغه نیکانو خلقو کښې په بهتره طریقے سره داخل دے چه د هغوئ صفتونه په دے آیتونو کښې بیان شوی دی۔ ځکه چه هغه صدیق وو، پرهیزګار وو، سَخي وو، او خپل مال به ئے د خپل رب د خوشحالئ او د رسول الله ﷺ د نصرت او مضبوطولو دپاره خرچ کولو۔

هغهٔ خالص د خپل مهربانه رب د رضا له خاطره ډیر مالونه خرچ کړل، د خلقو په هغهٔ احسان نهٔ وو چه ګنړے د هغے د بدلے ورکولو دپاره هغهٔ داسے کول۔ د عربو په ډیرو سردارانو باندے هم د هغهٔ احسانات وو۔

دے وجے نه د ثقیف (قبیلے) سردار عروه بن مسعود ثقفي هغهٔ ته د حُدیبیه د صلح په ورځ وئیلی وو: قَسَم په الله! که چرے تا په ما باندے احسان نهٔ وے کړے چه د هغے بدله ما تاله نهٔ ده درکړے، نو ما به خامخا تاله ستا د ترخو خبرو جواب درکړے وے۔

او په بخاري او مسلم کښې د ابو هریره ﷛ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

[مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نُوْدِيَ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَا عَبْدَ اللّٰهِ هٰذَا خَيْرٌ]

چا چه دوه جوړه څیزونه د الله په لاره کښې خرچ کړل، هغهٔ ته به د جنت تمام دربانچیان آوازونه کوی، اے د الله بنده! دا دروازه بهتره ده۔ نو ابو بکر ﷛ تپوس وکړو، اے د الله

رسوله!

[مَا عَلٰى مَنْ دُعِىَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُوْرَةٍ فَهَلْ يُدْعٰى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا ؟ قَالَ : نَعَمْ وَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ]

کوم خلق چه په دوئ کښې د جدا جدا دروازونه رابللے کیږی، نو هغۀ ته خو د نورو دروازو ضرورت نشته، خو آیا کوم کس به په دوئ کښې د هرے یوے دروازے نه رابللے کیږی ؟ نبی ﷺ وفرمایل : هاؤ، او زۀ امید لرم چه تۀ به په هم دوئ کښې شامل ئے۔

(بخاری : ۱۸۹۷، مسلم (۲٤۱۸)

بیا چونکه په قرآن کریم کښې اعتبار عام لفظ لره وی، نۀ خاص سبب لره، دے وجے نه په کوم مومن سړی کښې چه هم هغه صفتونه بیاموندے شی هغه به د هغے زیری حقدار وی کوم چه په دے آیتونو کښې ورکړے شوے دے، یعنی د جهنم د لمبے وهونکی اُور نه به لرے کړے شی۔

ختم شو تفسیر د سورة اللیل په فضل د رب العالمین سره۔ (۲٦) رمضان یکم جولائی۔



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۱۱)	(۹۳) سُوْرَةُ الضُّحٰى مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الضحی مکی دے، په دے کښې یوولس آیتونه، او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الضحٰی

نوم : اولنے آیت ﴿ وَالضُّحٰى ﴾ لفظ دے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه ﴿ وَالضُّحٰى ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت :

۱- مخکښې سورت کښې تسلی وه امتی ته نو اُوس تسلی ورکوی رسول الله ﷺ ته۔

۲- مخکښې سورت کښې الاتقی ذکر وو نو دلته د سید الاتقیاء (محمد رسول الله ﷺ) شان ذکر کوی۔

۳- مخکښې سورت ئے په اللیل سره او دا ئے په الضحٰی سره شروع کړو، اشاره ده چه د رسول الله ﷺ په راتلو سره تیارے به ختمیږی او رنړائی به راځی۔

د سورت مقصد

۱- پدے او راتلونکی سورت کښې د رسول الله ﷺ شان او قدر ذکر دے۔ او دا قانون وی چه د شان سره هغه ته کار هم ورسپارلے کیږی چه دا کارونه وکړه، یعنی انعامات او د هغے په مقابله کښې کارونه کول۔

او د قرآن په ډیرو سورتونو کښې د رسول الله ﷺ قدر او عظمت ذکر شو، دا ددے دپاره بیانوی چه څوك د هغهٔ شان او قدر وپیژنی نو بیا به د هغهٔ تابعداری کوی، د هغهٔ د

سنت پسے به کللك روان وی، د هغهٔ سنت به د بل چا دپاره نهٔ قربانوی۔
۲- زمونږ شیخ محترم (رستمیؒ) فرمائی: پدے سورت کښې رسول الله ﷺ ته په درے څیزونو سره تسلی ده۔
الله تعالیٰ اول کښې دوه قسمونه کړیدی، په دوه خبرو باندے (نهٔ ته خپل رب پریخودے ئے او نهٔ ئے تا سره بغض کړیدے) بیا دوه زیری ورکوی په وَلَلْآخِرَةُ او په وَلَسَوْفَ کښې۔
بیا درے انعامات ذکر دی، (يَتِيْمًا فَآوٰى) (ضَالًا فَهَدٰى) (عَائِلًا فَاَغْنٰى) او ددے درے انعاماتو په مقابله کښې درے کارونه ورسپاری، یو (فَلَا تَقْهَرْ) بل (فَلَا تَنْهَرْ) او دریم (فَحَدِّثْ)۔
نو ټولے دولس خبرے شوے۔

د سورت شان نزول

۱- بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینو د جُندب بَجَلی‌ؓ نه روایت کړے چه (نبی کریم ﷺ به همیشه د شپے تهجد کول نو) یو ځل نبی کریم ﷺ بیمار شو، دے وجے نه دوه یا درے شپے ئے د تهجدو مونځ ونهٔ کړے شو، نو د هغهٔ خواله یوه ښځه (ام جمیل چه د ابولهب ښځه وه) راغله، وے وئیل: اے محمد!
(اِنِّیْ لَارْجُوْ اَنْ یَّکُوْنَ شَیْطَانُكَ قَدْ تَرَکَكَ لَمْ اَرَهُ قَرِبَكَ مُنْذُ لَیْلَتَیْنِ اَوْ ثَلَاثًا)
زهٔ وینم چه ستا شیطان تهٔ پریښے ئے، دوه درے شپو نه هغه ستا خواله نزدے نهٔ دے راغلے۔ (رسول الله ﷺ ئے پدے خبره ډیر درد مند کړو چه دے ته ئے د شیطان نسبت وکړو) نو الله تعالیٰ ﴿وَالضُّحٰى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجٰى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى﴾ نازل کړو۔
(بخاري: ٤٩٥٠) مسلم (٤٧٥٨)
ابن جریرؒ، سعید بن منصورؒ او طبریؒ وغیره د جندب ؓ نه همدا روایت کړے چه څو ورځے جبریل علیه السلام د نبی کریم ﷺ خواله رانغے، نو مشرکانو به وئیل چه محمد پریښودلے شو۔ بیا ﴿مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى﴾ نازل شو۔
۲- نبی کریم ﷺ نه مشرکانو د اصحاب کهف په باره کښې تپوس وکړو نو هغه وفرمایل: زهٔ به صبا له خبر درکړم، نو الله تعالیٰ څوارلس ورځے یا ددے نه هم زیاته وحی بنده کړه (پدے وجه چه د هغه نه ان شاء الله هیره شوے وه) نو کافرانو توقے شروع کړے چه مونږ سره ئے وعده کړے وه او خبرئے رانکړو۔ (نو خبره ئے غلطه شوه)
او په خلقو کښې ئے دا خبره مشهوره کړه، رسول الله ﷺ پدے کار ډیر غمجن شو نو الله دا

سورت نازل کړو او هغهٔ ته ئے تسلي ورکړه. چه الله تهٔ نهٔ ئے پریخودے، بلکه د وحی روستو کول د څه حکمت د وجه نه دی، ددے دا معنیٰ نهٔ ده چه تا سره ئے بغض دے، یا ئے ستا مدد پریخودے.

او د آخرت طمع ئے ورکړه چه هغه ستا دپاره د دنیا نه ډیر غوره دے، لږ تکلیف تیر کړه نو الله تعالیٰ به تا راضی کړی (ګویا که محبوب خفه شوے وو نو هغه ئے بیرته رضا کړو) او زاړهٔ نعمتونه ئے ورته رایاد کړل. نو تهٔ هم درے کارونه کوه.

نو پدے کښې د رسول الله ﷺ شان او هغهٔ ته تسلي او په کافرانو رد شویدے.

وَالضُّحٰى ﴿١﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجٰى ﴿٢﴾
قسم دے په څاښت وخت. او قسم دے په شپه چه کله په آرام شی. (کله چه وغوړیږی)
مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴿٣﴾
نهٔ پریخوستے ئے تهٔ رب خپل او نهٔ ئے بغض کړیدے تا سره.
وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولٰى ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ
او خامخا آخرت غوره دے تا لره د دنیا نه. او زر دے چه ذربه کړی تا ته رب ستا (ډیر
فَتَرْضٰى ﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوٰى ﴿٦﴾
څه) نو تهٔ به خوشحاله شے. آیا تهٔ ئے نهٔ ئے موندلے یتیم نو ځائے درکړو.
وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدٰى ﴿٧﴾
او موندلے ئے وے حیران (غافل) نو لاره ئے دراُوخودله. (او موندلے ئے وے تهٔ ناخبره
وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنٰى ﴿٨﴾
نو پوهه ئے کړے). او موندلے ئے وے فقیر نو مالداره ئے کړے (په مال د خدیجهؓ).
فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴿٩﴾ وَأَمَّا السَّائِلَ
نو هر چه یتیم دے نو قهر (غصه) ورته مهٔ کوه. او هر چه سوالګر دے

فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾
نو مهٔ ئې رټه۔ او هرچه نعمت د رب ستا دے نو بیانوه ئې۔

تفسیر : وَالضُّحٰى: دا قسم دے په څاښت وخت باندے، یا ددے نه مراد ټوله ورځ ده څکه چه په مقابله کښې ئې روستو شپه ذکر شویده۔

وَاللَّيْلِ إِذَا سَجٰى : ١-اَیْ اِذَا سَکَنَ۔ کله چه په آرام شی۔ (قتادهٌ، مجاهدٌ، ابن زیدٌ، عکرمهٌ) او مطلب دا دے چه د شپے تیارے راخورے شی او د هغے په وجه هر شے په تیارو کښې په آرام شی او خپلو خپلو ځایونو ته واپس شی۔

٢- عطاءٌ او اصمعیٌ وائی : اِذَا غَطّٰی بِالظُّلْمَةِ۔ یعنی شپه چه کله تیارے راخورے کړی او ورځ په تیارو کښې پټه کړی۔

٣- اِمْتَدَّ ظَلَامُهٗ (تیارے ئې زا اُوږدے شی)۔ (ابن الاعرابیٌ)۔

نو ضحیٰ کښې د پوره رنړا وخت دے، او اِذَا سَجٰی کښې د شپے د پوره تیارے وخت ته اشاره ده، او ددے دواړو په مینځ کښې پوره مقابله ده۔ او دا دواړه د برکاتو او فائدو اَوقات دی، د هریو جدا جدا فائدے دی۔

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ: دا جواب قسم دے۔ یعنی ستا رب همیشه ستا تربیت او ساتنه کړے ده، ستا خیال ئې ساتلے دے، د یو ے لمحے دپاره ئې هم ته پریښے نۀ ئې، او نۀ ئې ته ناخوښه ګنړلے، بلکه تاسره ئې انتهائی محبت کړے۔

مناسبت د قسم او جواب قسم

١- مناسبت د قسم او د جواب قسم دا دے چه لکه څنګه چه ورځ او شپه دواړه ځی راځی، یوه هم په خپل ځای باندے ولاړ نۀ وی، کله شپه وی نو کله ورځ۔ دارنګه کله رنړا وی او کله تیارهٔ۔ نو دغه شان به کله وحی راځی او کله به منقطع کیږی، او لکه څنګه چه په شپه راتلو کښې هم حکمت وی او په ورځ کښې هم۔ نو دغه شان د وحی په ایساریدو کښې هم حکمت دے، او د وحی په راتللو کښې هم۔ نو پدے باندے ته پریشانه کیږه مهٔ، او کافران دِے دا اعتراض نۀ کوی، دا د حکمت خلاف اعتراض دے۔ نو د هر تکلیف نه روستو آسانی راځی، یو حالت همیشه باقی نۀ پاتی کیږی۔

۲- دارنګه ضحی د رسول الله ﷺ مثال دے، او ليل د کافرو مثال دے۔ نو شپه به لاړه شي او رنړا ورځ به راشي۔

فائده : پدے کښې د هر داعي د حق دپاره تسلي ده، يعني کله به غلبه وي په دشمن او کله به کمزوري وي، کله به بيماري وي او کله به صحت وي، کله به مصيبت، تکليف او فقيري وي او کله به راحت، خوشحالي او مالداري وي، دا حالات بدليدل د بد بختئ دليل نۀ دے۔

لطيفه : په مخکښې سورت کښې ئے لَيل مخکښې کړو د نهار نه، ځکه چه هغه د ابوبکر رضی اللہ عنہ د فضيلت سورت وو، او د هغۀ مخکښې حالت د لَيل (يعني کفر) وو، او دلته ئے ضحیٰ مخکښې کړو ځکه چه د رسول الله ﷺ اول نه حالت د ورځے په شان خالص رونړانه وو، هيڅ ګناه ترے نۀ وه شوے۔ او د دواړو سورتونو ترمينځ ئے بل سورت رانۀ وړو اشاره ده چه د ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ او د رسول الله ﷺ په مينځ کښې واسطه نشته۔

او کومو کسانو چه وئيلي دی چه ضُحیٰ کښې د رسول الله ﷺ په مخ او په وَالَّيۡلِ اِذَا سَجَا کښې د هغۀ په زلفو باندے قسم دے، نو دا د صوفيانو تفسير دے، چه هيڅ سلفي تفسير نۀ دے ليکلے۔

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى: اَیْ مَا تَرَكَكَ رَبُّكَ وَمَا اَبۡغَضَكَ۔

يعني تۀ خپل رب نۀ ئے پريخودے، او نۀ ئے تا سره بغض کړيدے۔ اصل کښې وَمَا قَلَاكَ دے، د فواصل الآيات د رعايت د وجه نه ئے مفعول ضمير حذف کړو۔

وَلَلۡاٰخِرَةُ خَيۡرٌ لَّكَ مِنَ الۡاُوۡلٰى : ۱- يعني په آخرت او دنيا دواړو کښې ستا دپاره عزت او شرافت شته، ليکن د آخرت اکرامات او انعامات د دنيا د هغے نه غوره او ډير او هميشه دي۔

۲- يا آخرت او اولیٰ نه حالت مراد دے۔ يعني الله تعالیٰ به آينده ستا زيات خيال ساتي، هره راتلونکے ورځ او حالت به ستا دپاره د تيرے شوے ورځے او حالت نه بهتر وي۔ نو د نبي کريم ﷺ درجات او مرتبے د الله تعالیٰ په نظر کښې اوچتيدلے، د هغۀ دشمنان به مغلوب کيدل، او د هغۀ دين به غالب کيدلو، او مؤمنان به زياتيدل۔ تردے چه هغۀ ته د خپل رب په نيز هغه مقام اُورسيدۀ چه هغه په اولينو او آخرينو کښې هيچا ته نصيب نشو۔

وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ: دا دریم انعام دے، یعنی الله تعالیٰ به تا ته زرتر زره دومره لوی انعامات درکړی چه تهٔ به پرے خوشحاله شے چه دا دنیاوی او اُخروی دواړو نعمتونو ته اشاره ده۔ یعنی په آخرت کښې جنت او مقام محمود او شفاعتِ کبریٰ دے چه د مؤمنانو دپاره به شفاعت طلب کړی، نو الله تعالیٰ به ئے جنت ته داخل کړی، نو هغه به پوره رضا شی، او دنیا کښې به ورته فتح، نصرت، د ملګرو ډیر والے، او په اسلام کښې خلق وخت په وخت داخلیدل، او د کسریٰ او د قیصر خزانے به ددهٔ د ملګرو لاس ته راشی، او ددهٔ دین به په ټولو دینو باندے غالب کړی۔

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيماً: دلته الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ باندے خپل درے زاړهٔ احسانات ذکر کړی دی، دے دپاره چه هغهٔ ته یقین راشی چه د هغهٔ رب هغهٔ سره دے، نهٔ هغهٔ په تیره شوے زمانه کښې هغه پریښے وو، او نهٔ به ئے په آینده زمانه کښې پریدی، او دے دپاره چه مشرکانو ته پته ولګی چه د هغهٔ رب همیشه هغهٔ سره دے، او د هغوئ د خوشحالیدو څهٔ وجه نشته دے۔

أَلَمْ يَجِدْكَ: دے لفظ کښې اشاره ده چه یتیمانان نور هم ډیر وو، لیکن دهٔ لره ئے د یتیمانانو د مینځ نه منتخب کړو، پدے کښې هم اشاره ده اول تکلیف او بیا خوشحالئ ته۔

يَتِيماً: یتیم هغه خوك دے چه پلار ئے وفات وی، او بالغ نهٔ وی او د رسول الله ﷺ پلار د هغهٔ د پیدائش نه مخکښې وفات شوے وو۔

او بعض وائی چه د هغهٔ د ولادت نه روستو وفات شوے وو۔ او کله چه هغه د شپږو کالو شو نو مورئے هم د دنیا نه رخصت شوه۔

فَآوَى: یعنی ځای ئے درکړو۔ او پناه ئے درکړه۔ اول تربیت ورله ددهٔ نیکه عبد المطلب وکړو، بیا ئے ابو طالب ته وسپارلو نو هغه ورله په مال او بدن سره مرسته او حفاظت وکړو، د مکے والو د ضررونو نه ئے بچ کړو۔ بیا د نبوت نه روستو ورله الله تعالیٰ جبریل عليه السلام مقرر کړو، بیا ئے صحابه کرامؓ پیدا شو، بیا د مدینے والو (اَوس او خزرج) په واسطه سره ورته مدینه کښې ځای د پناهئ او د دعوت د خورولو ملاؤ شو۔

وَوَجَدَكَ ضَالاًّ فَهَدَى: ددے جملے ډیر مطلبونه دی (۱) ضال دلته غافل ته وائی۔ یعنی تهٔ غافل وے د نبی جوړیدو نه فَهَدٰی: نو هدایت ئے درته وکړو. یعنی نبی ئے جوړ

کړي۔ او د خپل پیغام راوړو دپاره ئے منتخب کړي۔

(۲) ضال ناخبره د تفصیلاتو د ایمان او د شرائعو نه لکه په سورة الشوریٰ (۵۲) آیت کښې ئے فرمایلي دي: ﴿ مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيْمَانُ ﴾ (تاته پته نهٔ وه چه کتاب څهٔ شے دے، او نهٔ دے د ایمان څهٔ خبره پیژندله)۔ او همدا معنیٰ غوره ده۔

یعنې تاله ئے ستا رب د رُشد او هدایت نه ناخبره بیاموندهٔ، نو تاته ئے لاره اوښودله او دنیا والو دپاره ئے تهٔ امام جوړ کړے۔ هغه هم د نورو مکے والو پشان د شریعت د علم نه خبر نهٔ وو، او د ایمان او اسلام هیڅ خبره ئے نهٔ پیژندله، (اګرکه هغه هیڅ کله هم څهٔ ګناه نهٔ وه کړے)

(۳) ضلال حیرانتیا ته هم وائي۔ یعنی تهٔ حیران وے چه دے قوم ته به ښنګه دعوت ورکوو۔ نو الله تعالیٰ درته طریقه وخودله۔

(٤) ضال یعنی ورك شوے په غرونو د مکه کښې یا په لاره د شام کښې د ابو طالب سره۔ نو لاره ئے درته وخودله او خپل کور والو یا قافلے ته ئے واپس کړے۔

قرطبیؒ او صاحب د فتح البیان اته معاني ذکر کړیدي۔ تفسیر احسن الکلام کښې ئے هم وګورئ۔

او خازنؒ وغیره وئیلي دي چه ددے نه هیڅکله دا مراد نهٔ ده چه نبی د خپل قوم په دین باندے ګمراه وو، ځکه چه زمونږ نبی ﷺ او ټول انبیاء علیهم السلام په دین توحید او ایمان پیدا شوي او لوئي شویدي او د نبوت نه مخکښې معصوم دي د جهل نه په صفاتو د الله تعالیٰ او په توحید باندے۔ دا وجه ده چه قریشو په هغهٔ باندے هر عیب وئیلو مګر دا ئے ورته نهٔ وو وئیلي چه تهٔ هم مخکښې زمونږ په شان مشرك او جاهل وے۔

(تفسیر الخازن)

وَوَجَدَكَ عَائِلاً فَأَغْنَى: او تا لره ستا رب محتاج او فقیر وموندلو، نو ستا محتاجي ئے ختمه کړه۔ د نبی ﷺ د پلار پریښے مال (اُمّ ایمن) وینزه او د یو څو اوښانو نه سویٰ بل هیڅ شے نهٔ وو۔ الله تعالیٰ هغهٔ له قناعت ورکړو، دے وجے نه هغهٔ هیڅ کله د چا مخے ته لاس نهٔ دے غزولے۔ او کله چه لوئے شو نو الله تعالیٰ د هغهٔ واده د خدیجے رضی الله عنها سره وکړو چه هغے خپل تمام دولت د نبی ﷺ په قدمونو کښې کیښودلو۔ او د ابوبکر صدیق ﷺ په مال سره هم۔ او کله چه نبی شو او په مدنی زندګئ کښې د فتوحاتو

سلسله شروع شوه، نو د غنیمتونو د مالونو، د زکاة او خراج او د جزیه د مالونو په ذریعه الله تعالیٰ د هغهٔ او د هغهٔ د صحابه کرامؓ غریبی او محتاجی ختمه کړه.

فَأَمَّا الْيَتِيمَ : فاء ئے راوړه دپاره د تفریع، یعنی ددے نعمتونو تقاضا داده چه نبی کریم ﷺ د خپل رب شکر اداء کړی، دئے وجے نه الله تعالیٰ هغهٔ له د شکر تعلیم ورکړو او وے وئیل چه تهٔ د یتیم سره خراب سلوك مهٔ کوه، هغهٔ نه زړهٔ مه تنګوه، مهٔ هغه رټه، بلکه د هغهٔ خیال ساته، او هغهٔ سره داسے ښهٔ سلوك کوه څنګه چه تهٔ غواړے چه ستا د وفات نه پس بل څوك ستا د اولاد سره وکړی.

۱- مجاهدؒ وائی : یتیم سپك مهٔ ګڼړه ځکه چه تهٔ مخکښ یتیم وے.

۲- اخفشؒ وائی : [لَا تَسَلَّطُ عَلَيْهِ بِالظُّلْمِ، اِدْفَعْ اِلَيْهِ حَقَّهُ وَاذْكُرْ يُتْمَكَ]. هغهٔ باندے په ظلم مهٔ مسلط کیږه، هغهٔ ته د هغهٔ حقوق ورکړه او خپل یتیم والے رایاد کړه.

فراءؒ او زجاجؒ وائی : [لَاتَقْهَرْهُ عَلٰى مَالِهٖ فَتَذْهَبَ بِحَقِّهٖ لِضُعْفِهٖ].

یعنی ددهٔ په مال باندے غلبه مهٔ کوه، چه د هغه د کمزورتیا د وجه نه د هغهٔ حق واخلے. نو ددے حکم نه روستو به رسول الله ﷺ د یتیمانانو سره ډیر زیات احسان کولو او د یتیمانانو په باره کښ به ئے امت ته وصیت کولو.

سهل بن سعد ؓ فرمائی د رسول الله ﷺ نه نقل دی :

[اَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا وَاَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا] (بخاری فی الطلاق باب ۲۵)

زهٔ او د یتیم پرورش کونکے به په جنت کښ داسے یو. او مسواکئ او مینځومئ ګوتے ته ئے اشاره وکړه او یو بل کښ ئے جدا کړے.

تَقْهَرْ: غصه کول، او په زور سره مال اخستل او غلبه کول دی. پدے کښ یو قرائت فَلَا تَكْهَرْ دے. نحاسؒ وائی : کهر سختی او تشدد کولو ته وئیلے شی.

وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ: او غوښتونکی محتاج او مسکین سره سختے خبرے مهٔ کوه، بلکه څهٔ چه آسان وی هغه ورله ورکوه، یا ښهٔ انداز سره هغه واپس کوه.

فَلَا تَنْهَرْ: د نهر نه دے په معنیٰ ده د رټلو سره دے. یعنی سوالګر مهٔ رټه او مهٔ ورسره په خبرو کښ سختی کوه.

او دا تفریع ده په دویم احسان باندے.

۲- حسن بصریؒ وائی د [سَائِل] (غوښتونکی) نه دینی علم طلب کونکے مراد دے. د

نبی کریم ﷺ خوا لـه بـه هر قِسم خلق د دین علم حاصلولو دپاره راتلل۔ په دوئ کښې به بانده چیان او سخت ژبی خلق هم وو۔

الله تعالیٰ نبی ﷺ ته حکم وکړو چه دوئ سره د نرمئ سلوك کوه، لکه څنګه چه په سورۀ عبس کښې الله تعالیٰ د نابینا صحابی سره په بے توجهئ باندے نبی ﷺ له تنبیه ورکړه۔

دا خو معلم ته ادب شو، لیکن شریعت کښې د متعلم (طالب العلم/ سائل) دپاره هم ادب ذکر دے چه هغه به د تپوس وخت پیژنی، بے وخته به د علماؤ وختونه نۀ خرابوی، بے ځایه تپوسونه به نۀ کوی۔ اکثر تپوس کونکی خپل غرض راخستے وی، د نورو خلقو د وختونو هیڅ لحاظ نۀ ساتی، د شپے به په یولس دولس بجے درپسے رنګ وکړی چه دا مسئله څنګه ده۔ دا د دین او د علماؤ لویه بے ادبی ده، ددے وجه نه په موبائل فون باندے د دینی مسائلو جواب ورکول د دین یو قسم بے عزتی ده، اُوس عوام د علماؤ خوا ته نۀ راځی بلکه مسئلے د موبائل فون په ذریعه حل کوی۔ او اکثر خلق صرف د علماؤ رائے معلوموی۔ والله المستعان۔

شوکانیؒ لیکی چه د کومو خبرو نه الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ منع کړے، د هغے تعلق د هغۀ د اُمت سره هم دے، یعنی د امت هر یو کس د هغے نه منع شوے دے۔

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ : دا په دریم احسان باندے تفریع ده۔ یعنی تۀ ئے مستغنی کړے او مستغنی له پکار دی چه د نعمت پوره شکر ادا کړی۔

ددے دوه مطلبه دی : ۱- یو دا چه ستا رب چه په تا باندے کوم احسانات کړی دی، هغه خلقو ته بیانوه ځکه چه د انعام کونکی د شکر طریقه یوه دا ده چه د هغۀ نعمتونه خلقو ته ښکاره کړے شی۔ او څوك چه نعمتونه پټوی نو دے ناشکره دے۔

۲- یا په تا ئے چه کوم احسانات کړیدی د هغے په ذکر کولو سره د خپل رب ښۀ صفتونه بیانوه، او د قول او فعل په ذریعه په دے نعمتونو باندے د هغۀ شکر اداء کوه، دے دپاره چه رب العالمین تاله نور زیاتی نعمتونه درکړی، تانه خوشحاله شی او تاسره مینه محبت اوکړی۔

۳- یا د نعمت نه مراد دین دے۔ دین بیانوه۔

رسول الله ﷺ یو صحابی ولیدو چه زړے جامے ئے اغوستے وے، ورته ئے وویل چه

فـراخـي مونده كوي؟ هغهٔ ووېل :[قَـدْ اٰتَـانِـيَ اللّٰهُ مِنَ الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ وَالْخَيْلِ وَالرَّقِيْقِ] هر څه شتـه (مـالـونه)، اوښان، ګډې بزې، اسونه او غلامان. نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : (فَلْيُرَ اَثَرُ نِعْمَةِ اللّٰهِ عَلَيْكَ) په تا باندې دې د الله تعالىٰ د نعمت اثر وليدلې شي.

يعني خلقو ته دا راښكاره كړه.

(مسند احمد : ١٣٧/٤) (١٧٢٧٠) ابوداود : (٤٠٦٥) باسناد صحيح)

فَحَدِّثْ: تـحديث د نعمت د هغې شكر ادا كول او د مُنعِم ثناء كول دي، او د دغه نعمت اظهـار كـول دي په لباس او خوراك وغيره كښې. او د ديني نعمت تحديث دا دې چه هغه علم او وحي بيان كړې شي او د هغې دعوت وركړې شي.

١- مـجاهدؒ او كلبيؒ دلتـه د [نعمت] نـه قـرآن كريم مراد كړې. چه دا د الله تعالىٰ عظيم ترين نعمت وو. الله تعالىٰ نبي ﷺ ته حكم وكړو چه تهٔ دا خلقو ته لوله او آوروه.

٢- د مجاهد بله وينا ده چه دلته د [نعمت] نه مراد [نبوت] دې چه په دې سره الله تعالىٰ هغه كامياب كړې وو.

د زجاجؒ وينا هم داده،

او معنىٰ به دا وي چه الله چه تاله كوم پيغام دركړې او راليږلې ئې هغه خلقو ته رسوه.

ګـويـا كـه پـدې سـورت كـښې د مـخلوق حق او د خالق حق دواړه ذكر شو. د خالق شكر ګذار شه او په مخلوق باندې مهربانه شه. وبالله التوفيق.

ختم شو تفسير د سورة الضحىٰ په توفيق د رب العالمين سره د جمعې په ورځ.



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۸)	(۹٤) سُوْرَةُ الْإِنْشِرَاحِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورۂ الم نشرح مکی دے، په دے کښ آته آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الانشراح

نوم : د اولنی آیت اولنئ برخه ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ ﴾ ده، همدا ددے سورت نوم کیښودلے شوے۔ نو دے ته الم نشرح هم وائی، او انشراح هم۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ او نورو د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ ﴾ په مکه کښ نازل شوے۔

مناسبت :

۱ – مخکښ سورت کښ یو قسم تسلی وه نو دلته بل قسم تسلی ده۔

۲ – مخکښ سورت کښ نبی کریم ﷺ ته درے انعامات یادول وو مخکښ د نبوت نه نو اُوس د نبوت نه روستو درے نعمتونه یادوی۔ دے دپاره چه په بیان د دین کښ نور هم مضبوط شی۔

۳ – مخکښ سورت کښ ئے تحدیث د نعمت ذکر کړو نو دلته ئے طریقه ښائی چه هغه په بیان د قرآن باندے ځان سترے کول او د الله په بندګئ کښ وخت لګول دی۔

٤ – مخکښ سورت کښ د مشرکانو د یو اعتراض جواب وو نو دلته د بل اعتراض جواب کیږی چه هغوی وئیلی وو ته او ستا ملګری ډیر فقیران دی او په سختئ کښ دی۔

د سورت مقصد

شان د رسول الله ﷺ بیانول او د هغهٔ قدر، او ورسره هغهٔ ته دوه کارونه سپارل دی۔ شان د نبی کریم ﷺ دا دے چه الله تعالیٰ ئے شرح صدر کړیده، وضع د وزر او رفع د ذکر۔ دا خو زارهٔ نعمتونه دی چه الله تعالیٰ پرے کړیدی، نو دوه بشارتونه ذکر کوی (فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ) (وَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ) او دوه کارونه ئے ورته دا سپارلی دی چه (فَانْصَبْ) او (فَارْغَبْ)۔ ځکه چه د نعمت په مقابله کښې کار پکار دے۔

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾
آیا نهٔ ده پرانستلے مونږ تا لره سینه ستا۔ او ایخوستے دے مونږ ستا نه بوج ستا۔
الَّذِي أَنْقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾
هغه بوج چه ماتوله ئے ملا ستا۔ او مونږ پورته کړیدے تا لره ذکر (یادول) ستا۔
فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا
نو یقیناً د سختئ سره آسانتیا وی۔ یقیناً د سختئ سره آسانتیا وی۔ نو کله چه
فَرَغْتَ فَانْصَبْ ﴿٧﴾ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴿٨﴾
فارغ شے نو ځان ستړے کړه۔ او خاص رب خپل ته رغبت (مینه) کوه۔

تفسیر : اول کښې ورته الله تعالیٰ خپل احسانات رایادوی، دے دپاره چه روستو کارونو کښې په مینه سره مشغول شی۔

فرمائی چه آیا مونږ ستا سینه پرانستے نه ده، او په دے کښې مو فراخی پیدا کړے نهٔ ده، دے دپاره چه تهٔ الهی وحی په آسانئ سره قبوله کړے، ښائسته اخلاق خپل کړے، او د اسلامی دعوت په لاره کښې چه کوم تکلیفونه تاته رسی هغه برداشت کړے، او د نبوت د غټو ذمه داریانو بوج اُوچت کړے۔ لکه څنګه چه د سورهٔ الزمر په (۲۲) آیت کښې راغلی دی :

﴿ أَفَمَنْ شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٍ مِنْ رَبِّهِ ﴾

(آیا د چا سینه چه الله د اسلام دپاره پرانستے ده، نو هغه د خپل رب له طرفه په رنړا کښې دے (د هغه چا پشان کیدے شی چه د هغهٔ زړهٔ تنګ وی)۔

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ: شرح صدر یعنی د رسول الله ﷺ د سینے کولاوول ظاهراً هم وو او باطناً هم۔ ظاهری په وړوکوالی کښې شوے وو کله چه د حلیمه سعدیه (رضی الله عنها) کور کښې وو، او د هغهٔ آپریشن وکړے شو او د زړهٔ نه ئے ورله علقه (د شیطان د کیناستو ځای) لرے کړو۔ او بیا کله ئے چه بره آسمانونو ته د معراج او اسراء په شپه بوتللو نو دوباره ورله جبریل ﷺ آپریشن وکړو۔

حافظ ابن حجرؒ وائی: چه دا کار پنځه کرته شوے دے۔

۲- دویم شرح د صدر باطنی ده یعنی: اِتِّسَاعُهٗ لِلْاَنْوَارِ الْاِلٰهِيَّةِ۔

یعنی الله تعالیٰ فراخه کړیده د الٰهی انواراتو او حکمتونو دپاره۔ نبی کریم ﷺ ته الله تعالیٰ ډیره ښکلے فراخه سینه ورکړے وه چه په هغے کښې الٰهیٰ رنړا وه، او دا د الله تعالیٰ لوی نعمت وی۔

او شرح د صدر دا هم ده: د سینے نه وسوسه ختمول او هغه د خیر په دواعی (بواعثو) باندے بدلول۔

لَكَ: ئے ذکر کړو پدے کښې اشاره ده چه دا شرح د صدر په تا باندے احسان دے، او ستا دپاره دا کار شویدے دے دپاره چه تهٔ وحی برداشت کړے شے، او د نبوت تکلیفونه پورته کړے۔

وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ: دا دویم انعام دے او پدے کښې تسهیل امر النبوة دے۔ یعنی د نبوت ورکولو نه روستو د نبوت کار آسانول۔

وزر بوج ته وائی، او وضع د وزر بوج سپکول او بوج لرے کولو ته وئیلے شی، او وزر نه مراد نبوت دے ځکه چه د وحی بوج دومره زیات وو چه په نبی کریم ﷺ باندے په ابتداء کښې داسے هیبت راغلے وو چه نزدے وه چه ځان ئے د غر سر نه رارغړولے وے لیکن جبریل ﷺ ورته راښکاره شو او ددے کار نه ئے منع کړو، او په سخت ژمی کښې به په هغهٔ باندے د وحی د نازلیدو په وخت خوله راتله، لیکن الله تعالیٰ پرے دا احسان وکړو چه دا بوج ورته الله تعالیٰ آسان کړو تردے چه هغه به وحی په ښه آسانه طریقه سره زده کوله، بیا د وحی په رسولو کښې هم ډیر مصیبتونه او تکلیفونه وو د وجه د مخالفت د قوم نه،

ليکن هغه هم الله تعالىٰ آسان کړل.

۳- بعض مفسرينو ددے مطلب دا هم ذکر کړيدے چه نبی کريم ﷺ اگرکه د نبوت نه مخکښ څۀ گناه نۀ وه کړے، بُت پرستی ئے نۀ وه کړے او شراب ئے نۀ وو څښکلی، ليکن د هغۀ په زړۀ کښ به هر وخت دا سخت احساس پاتے کيدۀ چه هغۀ د نبوت نه مخکښ په څلويښت کاله ژوند کښ د خپل رب پوره عبادت نۀ دے کړے، او د هغۀ د نزديکت حاصلولو دپاره ئے څۀ واضح عمل نۀ دے کړے.

نو الله تعالىٰ ددے آيتِ کريمه په ذريعه د هغۀ د زړۀ نه دا بوج ختم کړے دے. همدا خبره الله تعالىٰ د سورۀ الفتح په (۲) آيت کښ داسے فرمائيلے ده :

﴿ لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾

(دے دپاره چه الله ستا مخکنی او روستنی ټول گناهونه معاف کړی).

٤- بعض وائی چه وضع د وزر نه مراد گناهونه لرے کول دی، يعنی کوم اسباب د گناهونو چه دی نو هغه الله تعالىٰ تا نه د مخکښ نه لرے کړيدی، لکه نورو خلقو کښ حسد شته په تا کښ نشته، په نورو کښ کبر، عجب، بخل وغيره صفات شته، نو تا نه الله تعالىٰ لرے کړيدی، او ددے په ځای ئے درکښ ښکلے صفات اچولی دی، که نۀ وے دے گناهونو به ستا ملا ماته کړے وے. نو کله چه انسان کښ ښه صفات وی نو گناهونه ترے نۀ کيږی.

أَنقَضَ ظَهْرَكَ : نقيض آواز ته وئيلے شی چه د بوج د دروند والی د وجه نه وی. دلته مراد درونډ والے دے، او دا په اصل کښ متل دے، مطلب ئے دا دے چه که دا گناهونه چرته بوج وے نو د هغے د شا نه به آوازونه آوريدلے شوی وے،

يا أَنقَضَ ظَهْرَكَ: په خپل ظاهری معنیٰ دے، يعنی چه ستا ملا ئے ماتوله. ځکه چه گناه په مؤمن باندے داسے وی لکه غر چه ددۀ په سر باندے وی، او دغه دے اُوس پرے راغورزيږی او ملا ورله ماتوی.

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ: او مونږ ستا مقام اُوچت کړے دے، ستا د خير ذکر مو هر ځای عام کړے دے، ستا د پيغمبریٔ اقرار مو د ايمان قبلولو شرط گرځولے دے. په پخوانو کتابونو کښ د رسول الله ﷺ ذکر وو. پخوانو پيغمبرانو ته په عالم الارواح کښ وئيلے شوی وو چه د آخری رسول خبره به نۀ منئ.

قتادهٔ وائي : الله تعالیٰ په دنیا او آخرت دواړو ځیونو کښ د هغهٔ مقام اُوچت کړے دے۔ ځکه چه په اذان، اقامت او خطبه کښ : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ وئیلے کیږي۔ او تر څو پورے چه دنیا باقي وي، د هغهٔ نوم به د الله تعالیٰ د نوم سره اخستے کیږي۔

دارنګه په قبر کښ د هغهٔ په باره کښ تپوس دے، او په آخرت کښ به ټول عالَم د هغهٔ سفارش ته محتاج وي، د محمد رسول الله ﷺ دومره لوی شان دے۔

الله تعالیٰ مومنانو ته حکم وکړو چه هغویٔ په نبي ﷺ باندے درود او سلام لیږي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾

(اے ایمان والو ! په نبي کریم ﷺ باندے درود او سلام لیږئ)۔ (احزاب : ٥٦)۔

او نبي کریم ﷺ د الله له خوا خبر ورکړے چه [مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا] څوک په ما باندے یو ځل درود اووائي، الله به په هغهٔ باندے لس ځله رحمتونه رالیږي۔ (صحیح مسلم : ٩٣٩)

الله تعالیٰ مومنانو ته د خپل اطاعت سره د نبي ﷺ د اطاعت او فرمانبردارئ حکم کړے، فرمائي : ﴿ أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾

(اے مسلمانانو ! د الله خبره اومنئ او د رسول خبره اومنئ)۔ (النساء : ٥٩)۔

او الله تعالیٰ وفرمایل : ﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾

(اے مسلمانانو ! رسول چه تاسو له څهٔ درکړي هغه اخلئ، او د څهٔ نه مو چه منع کړي هغے نه منع شئ)۔

ګویا الله تعالیٰ د نبي کریم ﷺ د ښائسته ذکر نه زمکه او آسمانونه ډك کړل، او کوم شهرت او مقام چه هغهٔ ته حاصل شو، هغه په دنیا کښ هیچا ته حاصل شوے نهٔ دے۔

﴿ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴾

(دا د الله فضل دے، هغه چه چاته غواړي خپل فضل ورکوی، او الله د لوی فضل خاوند دے)۔ (الحدید : ٢١)۔

فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ: یعني هرکله چه الله تعالیٰ تا ته دا نعمتونه درکړیدی، نو ددے په مقابله کښ به سخته هم تیره وے، اشاره ده چه په تا باندے اُوس یوه سخته شته چه هغه د حق او د توحید او د کتاب او د سنت دعوت کول دی، د هغے په باره کښ به تکلیفونه

برداشت کوي۔

او دا شرعي قانون هم دے چه هرے سختے نه روستو آساني وي، او تقدیر کښې هم الله داسے لیکلي وي۔ د ګرمۍ پسے یخنے راځي، د مصیبت پسے راحت، د خفګان پسے خوشحالي، د سترړي والي پسے راحت۔

بیا مشهوره دا ده چه دلته یو عسر سره دوه یسرونه دي ځکه چه اَلْعُسْرُ ئے دوه کرته معرفه راوړے ده، نو دویم عین اول دے نو عسر یو مراد شو او یسراً ئے دوه کرته نکره راوړے ده، او دواړه جدا جدا شول او ددے تائید د یو حدیث نه کیږي۔

ابن جریرؒ، عبد الرزاقؒ، حاکمؒ او بیهقيؒ د حسن بصريؒ نه (مرسلًا) روایت کړي دي چه یوه ورځ نبي کریم ﷺ د کورنه ډیر خوشحاله اووتلو او وے فرمایل

[لَنْ يَّغْلَبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ]

چه یوه تنګي دوه آسانیو لره نشي مغلوبه کولے۔ الله تعالیٰ فرمایلي دي :

﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾

(بیشکه د تنګۍ سره آساني ده، بیشکه د تنګۍ سره آساني ده)۔

(المستدرك : ۳۹۵۰)

طبرانيؒ، حاکمؒ او بیهقيؒ او نورو د انس ﷺ نه روایت کړي دي چه نبي کریم ﷺ ناست وو، او د هغهٔ مخے ته یوه سوړه وه۔ هغهٔ اوفرمایل : [لَوْ كَانَ الْعُسْرُ فِيْ جُحْرٍ لَدَخَلَ عَلَيْهِ الْيُسْرُ حَتّٰى يُخْرِجَهٗ ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ﴿ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾]

(که چرے تنګي په دے سوړه کښې ننوځي نو آساني به راځي او په دے کښې به داخله شي او هغه به را اوباسي)۔ نو الله تعالیٰ ﴿ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ نازل کړو۔ (الطبراني فی الکبیر : ۵۸۳٤)

دا روایتونه اګرکه مرسل او ضعیف دي، لیکن مفسرینو چه ددے آیت کوم تفسیر بیان کړے، ددے نه ددے معنے تائید کیږي۔

دارنګه ددے تائید په موقوف روایت د عمر بن الخطاب او علي بن ابی طالب رضی الله عنهما باندے کیږي،

امام حاکمؒ فرمائي : د عمر بن الخطاب ﷺ او علي بن ابی طالب ﷺ نه په صحیح روایت کښې همدا خبره ثابته ده۔

او ابوعبیده بن الجراح ﷺ شام محاصره کړو نو خلق پرې راجمع شو نو عمر فاروق ﷺ ته ئے خط ولیکلو چه مدد پکار دے۔ نو هغهٔ ورته جواب کښې ولیکل :

[سَلَامٌ عَلَيْكَ اَمَّا بَعْدُ : فَاِنَّهٗ مَا يَنْزِلُ بِعَبْدٍ مُّؤْمِنٍ مِنْ مَنْزِلَةِ شِدَّةٍ اِلَّا يَجْعَلُ اللّٰهُ لَهٗ بَعْدَهَا فَرَجًا، وَلَنْ يَّغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ] :

هر مؤمن باندے چه تکلیف او سختی راشی، نو الله تعالیٰ د هغے نه روستو کشادگی راولی، او هیڅکله تنګی په دوه یسرونو باندے نهٔ غالبه کیږی۔

(المستدرك ٣١٧٦) صحيح على شرط مسلم) والموطأ لمالك : (١٦٢١)۔

او بعضو وئیلی دی :

د اول عسر نه دنیاوی یعنی فقر او غریبی مراد ده، چه پدے پسے ډیر غنیمتونه او فتح د ملکونو راغلے، او الله تعالیٰ په نبی ﷺ او صحابه کرامؓ باندے دنیاوی فراخیانے راوستے۔

او دویمه جمله کښې د عُسر نه مراد دینی عسر دے، یعنی دینی تکالیف او مصائب په اول وخت کښې ډیر وو، بیا د الله تعالیٰ د طرفنه فتح او نصرت راغے، او خلق ډلے ډلے په دین کښې داخلیدل، او دارنګه پدے پسے اُخروی یسر دے (جنتونه)۔

او په دواړو جملو کښې د یُسرًا تنکیر د تعظیم دپاره دے۔

فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ : فاء ئے راوړه دپاره د تفریع۔ یعنی هرکله چه مخکښې انعامات ذکر شو، نو اُوس د هغے شکر کولو ته ترغیب ورکوی، او د هغه شکر دوه طریقے ئے ذکر کړیدی۔

اوله طریقه دا ده : **فَاِذَا فَرَغْتَ** :

پدے جمله کښې مفسرینو ډیر اقوال ذکر کړیدی، فَانْصَبْ د نَصَبَ يَنْصِبُ (ضرب) نه دے، په معنیٰ د ودریدو سره۔

(١) نو دلته به معنیٰ دا ده : چه کله تهٔ د یو عبادت نه فارغ شوے نو ودریږه بل عبادت ته۔ او دے ته ابرار وائی چه د یوے نیکئ نه فارغ شی، نو په بله کښې مصروف شی، لکه مثلًا قرآن کریم زده کولو پسے بیان او دعوت د قرآن دے، د مانځه نه پس ذکر اذکار، لنډه دا چه د نیکئ ډیرے لارے دی۔

مفسرینو ئے داسے مصداقات خودلی دی۔

(١) فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الدَّعْوَةِ فَانْصَبْ فِي الْعِبَادَةِ۔

کله چه د دعوت نه فارغ شوے نو عبادت ته ودریږه۔

(۲) قاسمیؒ لیکی : دا د ﴿ اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ ﴾...... ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ﴾ په شان دے۔ یعنی کله چه د جهادونو نه فارغ شوے نو په اذکارو او عباداتو کښې مصروف شه۔

(۳) فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ فَانْصَبْ فِي الدُّعَاءِ۔

کله چه د فرض مانځه نه فارغ شوے نو مصروف شه په دعاء کښې۔ بیا به رسول الله ﷺ څنګه دعاء کوله؟، نو هغه به تسبیحات وئیل، او د مونځونو نه روستو په جَمعے سره ترے دعاء همیشه دپاره نۀ ده نقل۔

یا فراغت نه مراد آخر سر دے، یعنی د مانځه په آخر کښې دعاء کوه د سلام نه مخکښې۔ نو معنیٰ دا ده :

[فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ التَّشَهُّدِ فَانْصَبْ اِلٰى رَبِّكَ فِي الدُّعَاءِ وَاسْأَلْهُ حَاجَتَكَ]

کله چه د تشهد نه فارغ شوے نو د خپل رب نه دعاء کولو دپاره ودریږه، او حاجتونه ترے غواړه۔ (ابن عباس رضی الله عنهما)

(٤) فَاِذَا فَرَغْتَ مِنْ اَشْغَالِ الدُّنْيَا فَانْصَبْ فِي الْعِبَادَةِ۔

یعنی کله چه د دنیا د کارونو نه فارغ شوے نو په عبادت کښې ودریږه۔ څکه چه د شپے خوبونه کوے او د ورځے کارونه، نو عبادتونه به کله کوے۔

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به فرمایل :

[اِنِّيْ اَكْرَهُ اَنْ اَرٰى اَحَدَكُمْ فَارِغًا لَا فِيْ عَمَلِ الدُّنْيَا وَلَا فِيْ عَمَلِ الآخِرَةِ]۔

(زۀ دا بده ګڼړم چه زۀ ستاسو یو تن فارغ (وزګار) وینم چه نۀ د دنیا کار کوی او نۀ د آخرت)۔ (المعجم الکبیر للطبرانی : ۱۰۳/۹ رقم : ۸۵۳۸)

قرطبی د ابوبکر بن العربیؒ نه نقل کړیدی چه قاضی شُریحؒ په څه کسانو ورتیر شو چه د اختر په ورځ ئے لوبے کولے نو دۀ ورته وویل (مَا بِهٰذَا أَمَرَ الشَّارِعُ) چه د فراغت په وخت کښې خو شارع پدے باندے حکم نۀ دے کړے۔ یعنی آیا د فراغت په وخت کښې تاسو ته دا حکم شویدے۔ (القرطبیؒ)

دا به کیدے شی چه هغه لوبے وے چه هیڅ فائده پکښې نۀ وه، او خالص وخت ضائع کول به وو، ورنه عامے لوبے خاصکر د اختر په ورځ جائز دی لکه حبشو په نیزو او

ډهالونو باندے په مسجد نبوی کښ لوبے کړیدی۔ (قرطبیؒ)

يا پـدے وجـه ئے منع وكړه چه دے خلقو علت پیش کړے وو په فراغت، دا علت ئے نهٔ وو ذکر کړے چه دا د اختر ورځ ده۔

وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ : دا دویـمـه طـريـقـه د شكر ده۔ د الله تعالىٰ سره مینه کول او هغهٔ سره شـوق كـول، يـعـنـی پـه خپل عبادت کښ الله تعالىٰ سره شوق پیدا کړه، او په خپلو ټـولـو احـوالو کښ هيڅ عبادت او دعوت کښ د الله تعالىٰ نه سویٰ د بل هیچا لحاظ مهٔ كوه، او ددے نه مراد توکل او اخلاص هم دے۔ (فتح البيان)

يـا مـعـنـیٰ دا ده : د دنیا د تمامو خندونو نه جدا شه، او صرف د خپل رب په خوشحالئ حـاصـلـولـو كـښ اولګه۔ او د هغهٔ خلقو نه مهٔ كيږه چه هغوئ فارغه وختونه په لهو او لعب کښ تیروی، او د خپل رب د یاد نه غافله وی۔ وبالله التوفيق.

ختم شو تفسیر د سورة الانشراح په فضل د ارحم الراحمین۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۸)	(۹۵) سُوۡرَةُ التِّيۡنِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة التین مکی دے، په دے کښې آته آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة التین

نوم : د اولنی آیت اولنے لفظ [وَالتِّيۡنِ] دے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : د جمهورو په نیز دا سورت مکی دے۔ ابن مردویهؒ او بیهقیؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه سورة التین په مکه کښې نازل شوے، لیکن قرطبیؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه دا سورت مدنی دے۔

د اولنی قول تائید د (۳) آیت ﴿ وَهٰذَا الۡبَلَدِ الۡاَمِيۡنِ ﴾ نه کیږی، چه ددے نه مراد مکرمه ده۔

د ګڼرو روایتونو نه ثابته ده چه رسول الله ﷺ په سفر کښې دا سورت د ماسخوتن په مانځه کښې ولوستلو، براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی :

[سَمِعۡتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقۡرَأُ ﴿ وَالتِّيۡنِ وَالزَّيۡتُوۡنِ ﴾ فِي الۡعِشَاءِ وَمَا سَمِعۡتُ اَحَدًا اَحۡسَنَ صَوۡتًا مِنۡهُ، اَوۡ قِرَاءَةً] (بخاری : ۷٦۹)

ما د نبی کریم ﷺ نه واوریدل چه د ماسخوتن په مانځه کښې ئے والتین والزیتون لوستلو او ما نهٔ دی آوریدلی یو تن نه چه ډیر ښائسته آواز یا قراء ت والا وی د هغهٔ نه۔

او دارنګه په حضر کښې ئے د ماښام او د سهار په مانځه کښې هم لوستلے دے۔ او ډیر په ښائسته آواز به ئے لوستلو۔

(بخاری ومسلم واهل السنن والطبرانی وابن ابی شیبه وابن قانع والشیرازی فی الالقاب والمنتخب من مسند عبد بن حمید رقم : ٤٩٣)۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې په دعوت باندې تیزې ورکول وو نو پدې سورت کښې د دعوت مقصد ذکر کوی چه هغه توحید دے۔

۲- مخکښې سورت کښې د نبی کریم ﷺ شان ذکر وو نو دلته د عامو انسانانو شان ذکر کوی۔

۳- مخکښې سورت کښې په دعوت باندې تیزې ورکول وو نو دلته اشاره کوی په ذکر د حال د بعض داعیانو سره په داسې شان سره چه مکان ئے ذکر کړے او مراد ترے نه مکین دے لکه چه بیان ئے روستو راځی۔

د سورت مقصد :

۱- بَيَانُ حُسْنِ خِلْقَةِ الْإِنْسَانِ وَجَزَاءِ الْأَعْمَالِ ۔ یعنی الله تعالیٰ انسان ته ښائسته شکل ورکړیدے لیکن د عمل مطابق به دهٔ ته جزاء او سزا ورکولے شی۔

یعنی انسان خو ښائسته صورت والا دے لیکن الله تعالیٰ ددهٔ ښائسته والی ته نهٔ ګوری بلکه ددهٔ عمل ته ګوری۔

۲- زمونږ بعض استاذان دا سورت د توحید سره لګوی چه دے کښې موضوع اثبات د توحید دے چه پدے باندے انسان فطرةً پیدا شویدے۔

لیکن غوره دا ده چه پدے کښې توحید اشارةً ذکر دے، او اصل موضوع همغه ده چه مونږ کومه ذکر کړه۔ په قرآن او حدیث کښې د جزاء الاعمال ډیر اهمیت ذکر شویدے، الله تعالیٰ هیڅ عمل بے بدلے نهٔ پریدی، نیك وی یا بد۔ (فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ الخ) نو پدے سورت کښې قانون د مجازات ذکر دے۔

نو که یو تن وائی چه الله تعالیٰ مونږ په دنیا کښې پیدا کړو، خوراك څکاك به کوو او سزا او جزاء نشته، نهٔ جهنم شته او نهٔ جنت شته نو الله تعالیٰ ددهٔ دا عقیده پدے سورت کښې رد کړیده چه ستا دا عقیده غلطه ده، ډیرو دلائلو ته وګوره چه د هغے نه معلومیږی چه جزاء او سزا شته، هغه دلائل څه دی؟

درے قسمه دلائل دی، یو بیان د عذابونو په اقوام مکذبهٔ باندے، نو په مکذب قومونو باندے عذاب راتلل دلیل دے د الله تعالیٰ جزاء او سزا ورکول په اعمالو باندے

حق دی. ګنې پخوانی اَقوام ئې ولې هلاکول نو ددې دپاره به ځلور مثالونه راوړی.
بیا روستو دویم بیانوی (لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ) چـه انسان دِې خپل پیدائش ته وګوری چه دا کله پیدا شو، نو دا دلیل دې چه دې به بیرته خپل خالق ته واپس کیږی.
دریم دلیل : (اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ) الله تـعـالیٰ احـکـم الحاکمین دې، یو تن چه فیصله کوی نو د دوه کسانو ترمینځ، داسې وائی چه دې شخص غلط عمل کړیدې دهٔ له دِې سزا ورکړې شي او دې سړی ښه عمل کړیدې دهٔ له دِې ښائسته بدله ورکړې شي، نو فیصله کونکې ضرور مُجازی وی. (یعنی جزاء او سزا ورکونکې وی)
نـو څـه انسانان دِې جرمـونـه کـوی او څه دِې په نیکیو کښې تکلیفونه تیره وی او الله تـعالیٰ دِې نیکانو ته ښائسته بدله ورنکړی او بد عملو ته دِې سزا ورنکړی نو بیا خو الله تـعـالیٰ تـه دا غلط نسبت راځی چه هغه احکم الحاکمین نهٔ دې (العیاذ بالله)، نو د هغهٔ ددې صفت تقاضا دا ده چه مجازات د اعمالو به خامخا واقع کیږی.
د هر چا نه اُوچته فیصله د الله تعالیٰ ده نو هغه څنګه په نیکئ باندې نیکه بدله او په ګناه باندې سزا ورنکړی.
نو پدې درې طریقو سره قانون د مجازات ثابت شویدې.

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ﴿۱﴾ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ﴿۲﴾
قسم دې په اینځر او په ښونه باندې، او په طور تك شین (ښائسته) (رڼا والا)
وَهٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِيْنِ ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ
باندې. او (قسم) په دې ښار باندې چه امن والا دې. یقیناً مونږ پیدا کړیدې انسان
فِيْ أَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴿۴﴾ ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِيْنَ ﴿۵﴾
په ښائسته شکل (قامت) کښې. بیا مونږ واپس کړیدې دهٔ لره لاندې د لاندو نه.
إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ
مګر هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدې او عملونه ئې کړیدی نیك نو دوی لره اجر دې

غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ﴿٦﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ
نهٔ ختمیدونکے۔نو څه شے دے چه دروغژن گرځوی تا (اے انسانه) روستو ددے
بِالدِّيْنِ ﴿٧﴾ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ ﴿٨﴾
(دلائلو نه) په جزاء۔ آیا نهٔ دے الله ښه فیصله کونکے د فیصله کونکو نه۔

تفسیر : په اولنو درے آیتونو کښ الله تعالیٰ په انځر، ښونهٔ، طور سیناء او امن والا ښار (مکے) باندے قسم خوړلے دے، بیا ئے وفرمایل چه مونږ انسان د ټولو نه په ښائسته شکل او صورت او قامت کښ پیدا کړے، لیکن دهٔ د الله تعالیٰ ددے نعمت او د نورو بے شماره قیمتی نعمتونو شکر اداء نهٔ کړو، او خپل ژوند ئے په لهو او لعب کښ اولګولو، نو دے د الله تعالیٰ د نظر نه په غورزیدو کښ روان شو، تردے چه ددهٔ استوګنه د جهنم آخری کنده جوړه شوه۔

البته ددے بدترین انجام نه هغه خلق بچ کیږی چه په هغوئ باندے الله تعالیٰ دا احسان وکړو چه دوئ له ئے د ایمان، عملِ صالح او د ښائسته اخلاقو توفیق ورکړو۔ دوئ به الله تعالیٰ د جهنم نه لرے کړی، او په جنت کښ به ئے په اعلیٰ مقام باندے کامیاب کړی چه د هغے نعمتونه او خوشحالئ به هیڅ کله نهٔ ختمیږی۔

د زیاتره مفسرینو په نیز د [التِّيْن] لفظ نه مراد انځر دے چه خلق ئے خوری۔

او اکثر مفسرین وائی چه پدے ئے قسم ځکه کړیدے چه دا میوه په مرئ کښ د انختو وغیره نقصانونو نه پاکه ده، ځکه چه اَډوکے پکښ نشته ، د نوړئ په مقدار ئے دانه ده، او اهل طب لیکی چه انځر د بدن دپاره د ټولو فواکهو نه ډیر نفعمن دے، او دا بدن ته ډیره غذاء ورکوی، نو دا غذاء هم ده، او دواء هم، او پخکړے (سالن) هم۔

او دا نرم زر هضمیدونکے طعام دے چه په معده کښ ډیر نهٔ ایساریږی، طبیعت نرموی او د خولے په لاره وځی، بلغم کموی، ګردے صفا کوی، او په مثانه کښ شګه زائله کوی، بدن چاقوی، او د جګر او د توری (طحال) مسامات (سوری) او بندے لارے کولاوه وی، او بواسیر ختموی، او د خولے بد بوئی زائله کوی، او ویښته اُوږدوی، او دا د فالج نه امان دے۔ دائے د بدن غذاء شوه۔

او دا دوائي هم ده ځکه چه د بدن فضلات وباسي، او دا د جنت د میوې سره مشابه دې چه هډوکې پکښې نسته، او مزیداره خوشبویه میوه ده، چه فضله جات ئې نشته، د نقرس بیمارئ ته فائده ورکوي. تازه او اُوچ دواړه خوړلې کیږي.
او ددې په طبیعت کښې حرارت او رطوبت دواړه دي، او دا طبیعت زیات دې، او قوتِ باه (قوتِ شهواني) ته هم فائده ورکوي، نو دا د الله تعالیٰ د قدرت عجیبه نښه ده.
او [الزَّيْتُوْن] (ښونهٔ) مشهوره میوه ده چه ددې نه تیل هم اوخکلې کیږي. زیتون هم په طریقه د سالن خوړلې کیږي، او دغه شان ددې تیل ډیر فائده مند دي، اکثرو ملکونو کښې د سالن او د مالشونو په طریقه استعمالیږي.
او په مختلفو دوایانو کښې د اَهم ترین جزء په توګه استعمالیږي. او ددهٔ د ونې پاڼې کالو سر نهٔ غورزیږي. نو دا هم د ډیرو فائدو نه ډکه ده.
او ﴿ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ﴾ په فلسطین کښې هغه سِیناء غر دې چه هلته د انساني تاریخ د ټولو نه لویه واقعه راپیښه شوې وه، د بني اسرائیلو لوی نبي موسیٰ بن عمران عليه السلام سره الله تعالیٰ ددې غرهٔ په لمن کښې څو ځله خبرې کړې وې، او د رب العالمین د تجلي (رڼړا راښکاره کیدو) په وجه یو ځل دا غر ذره ذره شوې وو.
او دارنګه هر هغه غر ته وئیلې شي چه شین وي، او بیا نوم دې د خاص غر د موسیٰ عليه السلام د وحي ځای.
سِيْنِيْنَ : (۱) مجاهدؒ او کلبيؒ وئیلي دي : [كُلُّ جَبَلٍ فِيْهِ شَجَرٌ مُثْمِرٌ فَهُوَ سِيْنِيْنَ وَسَيْنَا بِلُغَةِ النَّبَطِ] هر هغه غر ته وئیلې شي چه په هغې کښې میوه دارې ونې وي نو دې ته سینین وائي، او په لغت د نبطیانو کښې ورته سینا وائي. نو دا اضافت د موصوف دې صفت ته،
(۲) اخفشؒ وائي : طور غر ته وائي او سینین ونو ته وائي. مفرد ئې سِيْنَةٌ دې.
(۳) یا سینین نوم د هغه مکان دې چه په هغې کښې طور (غر) موجود دې.
نو دا اضافت د مظروف دې ظرف مکان ته. نو دا غر هم د دنیاوي او دیني ډیرو منافعو نه ډك دې.
(٤) قتادهؒ وائي : د حبشو په ژبه کښې سینین مبارك او ښائسته ته وائي.
او د ﴿ الْبَلَدِ الْأَمِيْنِ ﴾ نه مراد امّ القُرىٰ (مکه مکرمه) ده، چه هلته د الله کور دې، او ددې نه ګیر چاپیره علاقه الله تعالیٰ [حرم] ګرځولې. او دیته [بلدِ أمين] (امن والا ښار) ځکه

وئيلے شوے چه دلته انسان ځۀ چه مرغئ او ځناور هم په امن کښې وی۔
بيا ددے آيتونو د لګولو دوه طريقے دی (۱) يو دا چه ذکر ددے ځيزونو (د تين او زيتون) دے او مراد ترے نه مکانات دی چه هلته د الله تعالیٰ عذابونه په خلقو راغلی دی۔
تين نه مراد : جِبَالٌ فِي الْعِرَاقِ جَاءَ فِيهَا الْعَذَابُ عَلٰى قَوْمِ نُوحٍ۔
دا په عراق کښې غرونه دی چه په دے کښې د نوح ﷺ په قوم باندے عذاب راغلے وو، او زيتون دا په شام کښې دے، هلته به ابراهيم ﷺ وسيدو نو د هغه په قوم (کلدانيينو) باندے عذاب راغلے وو، او طور سينين د موسیٰ ﷺ د مناجات غر دے چه هلته نه په بني اسرائيلو عذابونه راغلی دی۔
او الْبَلَدِ الْأَمِينِ : نه مراد مکه مکرمه ده، چه دلته په اَبرهه او د هغۀ په فوجيانو باندے عذاب راغلے وو۔ نو ذکر ددے ځيزونو دے او اشاره ده عذابونو ته۔
يعنی قسم پدے ځيزونو دے پدے خبره چه انسان مونږ په ښائسته شکل کښې پيدا کړيدے، ليکن اُورته به ځی، يعنی لکه چه الله تعالیٰ پدے ځايونو کښې په ګناهونو باندے عذابونه راوستی دی، نو دغه شان پدے انسان باندے به الله تعالیٰ د اُور عذاب راولی چه هغه جهنم دے۔
نو مناسبت د قسم او د جواب قسم واضح شو چه دغه ځيزونو کښې هم ذکر د عذاب دے او د انسان دپاره هم عذاب دے۔ نو اقوام مکذبه الله تعالیٰ هلاك کړيدی په ګناهونو نو دا ښنبه ده ددے چه انسان له به الله تعالیٰ عذاب ورکوی په ګناه سره، نو قانون د مجازات شته او حق دے۔ او دا طريقه د محققينو علماؤ ده چه هغوی پدے مقام کښې غوره کړيده۔
(۲) دويم قول او طريقه : چه د تين نه مراد انځران دی، او د زيتون نه مراد ښونه دے۔ او طور سينين نه هغه مخصوص غر مراد دے، او بلد امين مکه ده،
نو مناسبت د قسم او جواب قسم دا دے چه الله تعالیٰ د انسان دپاره ډير ښکلے فائده من ځيزونه او ښائسته بلاد (مکانونه) پيدا کړيدی، او دائے د يو مقصد دپاره پيدا کړيدے، نو ددۀ دپاره نعمتونه پيدا دی، او دے د عمل دپاره پيدا دے، نو دۀ ته به د عمل په بدله کښې سزا او جزاء ملاويږی۔
نو په لنډو الفاظو کښې مناسبت دا شو : اَلنِّعَمُ وَبَعْدَ ذٰلِكَ الْعَمَلُ ثُمَّ الْجَزَاءُ عَلَى الْعَمَلِ۔

(نعمتونه بيا ددې نه روستو عمل کول، او بيا په عمل باندې جزاء او سزا ورکول دی)۔
يعني انسان چه نعمتونه حاصلوی نو بيا به عمل کوی او بيا به ددۀ په عمل باندې جزاء او سزا وی۔
(۳) دريمه طريقه : ذکر ددې څيزونو دې، او اشاره ده علاقو د انبياء عليهم السلام ته۔
تين او زيتون اکثر په عراق او شام کښې پيدا کيږی چه دا محل د نبوت د نوح ﷺ او د عيسیٰ بن مريم ﷺ دې۔ او طور سيناء هغه ځای دې چه الله تعالیٰ د موسیٰ بن عمران ﷺ سره خبرې کړې وې۔ او دريم ځائې مکه دې، چه د امن والا ښاريه ده، او دلته الله تعالیٰ محمد ﷺ راليږلے وو۔ او د ابراهيم ﷺ يادگار دې۔
نو ذکر د مکان او مراد ترينه مکين دې۔ نو ددې انبياء عليهم السلام راليږل دليل دې چه انسان الله تعالیٰ مکلف جوړ کړيدې، ښکلے شکل او قد وقامت ئې ورکړيدې، نو دې چه د بدن نه کوم اعمال راوباسی هغه به ضائع نۀ ځی بلکه دۀ ته به ضرور د هغې جزاء او سزا ملاويږی۔ که جزاء او سزا نۀ وې نو بيا الله تعالیٰ ولې دغه اولو العزم پيغمبران انسانانو ته راليږل۔ نو پدې سره هم قانون د مجازات ثابت شو۔
او ابن عاشورؒ وائی : چه د تين او زيتون نه مراد ونې دې دی چه په مقدس مکانونو کښې راخيژی، تين په جودی غر باندې زيات دی کوم ځای کښې چه د نوح ﷺ مسجد جوړ شويدې۔ او زيتون نه مراد هغه غر دې چه په هغې باندې مسجد اقصیٰ جوړ شويدې ځکه چه دلته زيتون زيات رازرغون کيږی نو پدې وخت کښې به دا قسم شی په دغه مقدس مکاناتو نو مناسبت به ئې د روستو دوه مکانونو (طور سينين او بلد امين) سره واضح شی۔ (التحرير و التنوير)
(٤) طريقه : لکه څنگه چه په دغه څيزونو او مکانونو کښې الله تعالیٰ ډير منافع او فوائد پيدا کړيدی، اولنو دوو کښې دنياوی فائدې دی لکه چه مخکښې بيان شوې، او روستنو کښې دينی او دنياوی دواړه فائدې دی، نو دغه شان انسان هم په ټولو مخلوقاتو کښې فائده مند او غوره مخلوق دې، لکه چه دغه څيزونو او مکاناتو ته ئې غوره والے ورکړيدې، نو دغه شان انسان ته ئې هم غوره والے ورکړيدې،
نو بيا وائی چه دا غوره والے يوائځې په شکل سره نۀ دې بلکه دا په عمل سره دې۔ لکه (اِلَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا) نه معلوميږی۔ نو گويا که د دغه مخکنو څيزونو فضيلت ذاتی دې، او

د انسان فضیلت ذاتي نهٔ دے بلکه دا په عمل سره دے۔ او حدیث کښې دي :
[إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى صُوَرِكُمْ وَلَا إِلٰى أَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ إِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ]۔
الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نهٔ ګوری بلکه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوری۔ (صحیح مسلم:٦٧٠٨)
ابن عاشورؒ وائی : په ابتداء د سورت کښې ئې په هغه څه قسم وکړو چه هغه د اِلٰهی دینونو مشهور ځایونه د نازلیدو دی، نو پدے کښې براعت استهلال دے غرض ددے سورت ته، هغه دا چه الله تعالیٰ انسان په ښائسته شکل کښې پیدا کړیدے، یعنی په روغ او صحیح فطرت ئې پیدا کړیدے چه د خپل خالق د وجود او د هغهٔ د وحدانیت دلیلونه پیژندلے شی۔
او پدے کښې اشاره ده چه کوم دینونه او مسلکونه ددے مخالف وی، نو هغه د الله تعالیٰ د شریعتونو د اصولو نه اوړیدلی دی، قطع نظر د اختلاف د فروعو او مسائلو نه۔
تقویم : شکل او صورت او قد وقامت ته وائی۔ ځکه چه نور حیوانات په څلورو روان وی، او په خوله سره خوراك کوی او انسان ئې په لاس سره راخلی۔ په علم، فهم، نطق او عقل او تمییز او ادب سره الله تعالیٰ مُزَیّن کړیدے، نو دے په اعتبار د ظاهر او باطن دواړو سره ښائسته پیدائش او خلقت والا دے۔
او د تقویم معنیٰ ده تعدیل۔ یعنی په ښائسته برابرئ کښې۔
او ابن عاشورؒ وئیلی دی چه دلته تقویم د ادراك او د علم مراد دے، نهٔ د شکل۔ ځکه چه عقل خو د شکل نه زیات اشرف دے، نو بیا په هغے باندے قسم پکار وو۔ لیکن ظاهر دا ده چه دلته دواړه تقویمونه صحیح دی۔ الله تعالیٰ عام الفاظ وئیلی دی۔
یو سړی خپلے ښځے ته وویل چه که ته د سپوږمئ نه ښائسته نهٔ ئې نو ته به طلاقه ئې، نو بعض اهل علمو فتویٰ ورکړه چه ښځه طلاقه شوه۔ لیکن امام شافعیؒ وفرمایل چه نهٔ ده طلاقه، ځکه چه ښځه د انسان د جنس نه ده او الله فرمائی :
﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْٓ أَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ﴾ نو که انسان د سپوږمئ نه ښائسته شکل والا نهٔ وے، نو الله به ددهٔ صفت په احسن تقویم سره نهٔ کولے۔ (فتح البیان)
ثُمَّ رَدَدْنَاهُ : (هُ) ضمیر انسان ته راجع دے په اعتبار د بعض افرادو سره لکه روستو استثناء پرے دلیل دے۔

أَسْفَلَ سَافِلِيْنَ : ١- ددے نه بعض مفسرين بوډا والے او ارذل عمر مراد کوی، چه روستو د علم او عقل نه بيا واپس جاهل، ناپوهه شي. کوم چه په سورة النحل (٧٠) آيت کښ او سورة الحج (٥) آيت کښ ذکر دے، او حديث کښ د ارذل العمر نه د پناهي طلب کولو حکم شويدے. او دا قول ابن جريرؒ غوره کړيدے،

او بيا حافظ ابن کثيرؒ وغيره د عکرمهؓ او ابن عباسؓ نه نقل کړيدی چه

[مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ]

چا چه قرآن ولوستلو (يعنی قرآن والا عالم با عمل) نو هغه به ارذل العمر ته واپس نشي) (الحاكم (٣٩٥٢) : وصحيح الترغيب والترهيب (١٤٣٥) وشعب الايمان (٢٤٥٠) وصححه الذهبی)

نو د سافلين نه مراد کمزوری، بيماران او ماشومان دی او ډير بوډا (شيخ کبير) ددے تهولو نه لاندے دے. ځکه چه ددهٔ بدن، غوږ او سترګه او عقل کار پريخے وی. (قاله الخازنؒ)

مګر دا مطلب غوره نهٔ دے. ابن عاشورؒ وائی چه دا خبره ضعيفه ده ځکه چه دا خو واضحه خبره ده چه انسان اول کښ نطفه وی، بيا مضبوط شی بيا کمزورے کيږی، نو دے باندے په تاکيد سره قسم کولو ته حاجت نشته او نهٔ پدے خبره کښ فائده شته.

او حافظ ابن قيمؒ په بدائع التفسير (١/٢٧١) کښ اول قول د لسو وجو نه ضعيف ګرځولے دے. چه بعض د هغے نه دا دی : چه په لغت او عرف کښ د اسفل سافلين اطلاق په ارذل العمر باندے نهٔ دے شوے.

دويم دا چه ارذل العمر والا خلق لږ دی بلکه اکثر مړه شی مخکښ د رسيدو نه دغه عمر ته، او استثناء دلالت کوی چه دوی به ډير وی.

دريم دا چه په ارذل العمر ته رسيدو کښ عام مؤمنان او غير مؤمنان برابر دی، صرف قرآن والا عالمان با عمل ترينه مستثنیٰ دی.

څلورم دا چه د بشارت اُخرويه په مقابله کښ ارذل العمر ته واپس کيدل مناسب نهٔ دی. دغه شان نور وجوه هلته وګورئ.

(٢) بعض وائی : لاندے د لاندو نه مراد (تَشْوِيْهُ الصُّوْرَةِ فِي النَّارِ) يعنی په اُور کښ ددهٔ شکل بدرنګول مراد دی.

(۳) مجاهدؒ او ابو العاليهؒ او حسنؒ وائي : بيا مونږ كافر اُور ته واپس كړو، ځكه چه اُور ډير درجات (دركات) لري چه بعض د بعضو لاندے دي، نو كافر به لاندے درجاتو ته وركوز كړے شي۔ او دا قول حافظ ابن كثيرؒ غوره كړيدے۔

يعني كوم خلق چه د الله تعالىٰ د توحيد ونه واوريدل چه دا فطري دين دے، نو دے به په سجين كښ وي چه هغه اسفل سافلين دے۔

(٤) ابن عاشورؒ وائي : (اَسْفَلَ سَافِلِيْنَ فِي الْاِعْتِقَادِ بِخَالِقِهٖ بِقَرِيْنَةِ اِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا)

يعني مونږ به ئے واپس كړو لاندے د لاندو نه په عقيده كښ په خالق باندے۔ يعني كوم انسان چه خپل تقويم او فطرت بدل كړي چه هغه يو الله باندے ايمان لرل، او د هغهٔ سره شريكان نهٔ جوړول دي نو دا اسفل سافلين جوړ شي ځكه چه ځوك د كاڼړي، او د چاړا حيوان (غوا) او مكر مچهے، مارانو او د كيكر ونو يا د زمانے د الوهيت (يعني د اله جوړيدو) عقيده وساتي نو ددهٔ نه د بل چا خكته عقيده كيدے شي۔ (التحرير)

الا الذين : دا دويم قسم انسانان دي چه د هغوي عملونه د مخكنو خلقو نه ډير جدا دي، دوي په فطري دين باندے كلك دي، ايمان هم لري او ورسره نيك اعمال كوي، نو دوئ دپاره زيرے بيانوي۔

اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ : ددے معاني په سورة القلم كښ ذكر شوے۔ چه مَنّ قطع او نقصان او احسان ته وئيلے شي۔ ددے اجر نه مراد د جنت هميشه نعمتونه دي۔

او د رسول الله ﷺ دپاره هم داسے اجر په سورة القلم كښ ذكر وو نو هغه په دنيا كښ هم مراد وو په سبب د دعوت او تبليغ د دين سره، او په آخرت كښ هم جاري دے۔

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّيْنِ : دے كښ دوه احتماله دي :

١- يو دا چه دا خطاب يو كافر انسان ته دے،

[اَيْ فَاَيُّ شَيْءٍ يُلْجِئُكَ اِلَى التَّكْذِيْبِ بِالدِّيْنِ بَعْدَ هٰذِهِ الْاَدِلَّةِ]

يعني كوم يو شے دے چه تا مجبوره كوي تكذيب ته په جزاء او سزا باندے پس ددے دلائلو نه۔

يعني الله تعالىٰ چه تين او زيتون او طور سينين او بلد امين كښ عذابونه راوستي دي، او دا د الله قانون دے چه هغه مؤمن له اجر غير ممنون وركوي، او كافر اُور ته بوځي نو بيا تهٔ ولے سزا او جزاء نهٔ منے۔ يعني د تكذيب دپاره هيڅ دليل او سبب نشته۔

دین نه مراد سزا او جزاء ده۔ پدے احتمال سره تکذیب کښې معنیٰ نسبتی ده۔
۲ – یا دا خطاب رسول الله ﷺ او بیا هر انسان ته دے۔
او معنیٰ دا ده چه کوم یو شے دے او کوم شخص دے چه کاذب (دروغژن) گرځوی تا له په خبر ورکولو د ورځ د جزاء کښې روستو ددے دلیلونو د قدرتِ الٰهیه نه۔ یا دروغجن گرځوی تا له په جزاء او سزا باندے۔
یعنی ددے دلیلونو نه روستو هیڅوك او هیڅ شے داسے نشی راتللے چه هغه ستا تکذیب وکړی چه جزاء او سزا به نهٔ راځی۔
یعنی هیڅ عقلی یا نقلی نشته چه تا د مرگ نه پس د دوباره ژوند په انکار باندے راپاڅوی۔ حقیقت دادے چه د کبر او عناد نه سویٰ تاسو سره هیڅ دلیل نشته دے۔
او پدے احتمال سره باب تفعیل (تکذیب) دپاره د جعل او تصییر دے۔ او دا هم ښه تفسیر دے، بغیر د تاویل نه دے۔
أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ : یعنی آیا الله تعالیٰ د ټولو فیصله کونکو نه بهتر فیصله کونکے نهٔ دے؟، ولے نهٔ، نو بیا به څنگه هغه تمییز د نیکئ او بدئ نشی کولے، نو هرکله چه الله تعالیٰ تمییز د نیکئ او بدئ کولے شی نو ضرور به جزاء او سزا واقع کیږی۔ دا خو به ناپوهه او بے غیرته انسان وی چه په نیکئ او بدئ نهٔ پوهیږی، او په هغے سزا او جزاء نهٔ ورکوی۔
نو معلومه شوه چه آخرت به خامخا راځی۔
په بل تعبیر : الله تعالیٰ نه زیات څوك عدل او انصاف والا نشته۔ دے وجے نه دا گمان څنگه کیدے شی چه د دنیا په زندگئ کښې دِے د خلقو عملونه مختلف وی، څوك ټول ژوند د نیکئ او پرهیزگارئ په لاره روان دے، او څوك په نافرمانئ او سرکشئ او په فسق او فجور کښې ډوب دے،
او بیا د مرگ نه پس د ثواب او عذاب په لحاظ سره دِے دواړه برابر شی۔ دا خو به سراسر ظلم وی او د الله عز وجل د عدل او انصاف بیخی خلاف دے۔
د ابو هریره ﷺ نه مرفوعًا نقل دی : (چا چه (والتین والزیتون) ولوستلو او بیائے أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ولوستلو نو هغه دِے داسے ووائی :
(بَلٰى وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ) (اخرجه الترمذی فی تفسیر سورة ۹۵)۔

وفي اسناده مجهول وهو اعرابي بدوي يروي عن ابي هريرة ﷺ۔ وقال الحافظ ابن حجر اسناده حسن يتقوىٰ بكثرة طرقه۔ (نتائج الافكار ٢/٤٢)

د ابن عباس ﷺ نه موقوفًا نقل دي: چه هغه به کله دا آیت ولوستلو نو داسے به ئے وئیل: (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ فَبَلٰى)

(ابن جرير وابن المنذر وسند هما صحيح على شرطهما، قاله الالبانيؒ)

دا روایت اگرکه مرفوعا ضعیف دے مگر بهر د مانځه نه یا په نفل مانځه کښ لوستل ئے بهتر دي ځکه چه رسول الله ﷺ به د آیتونو جوابونه ورکول۔

وبالله التوفيق.

ختم شو تفسیر د سورة التین په توفیق د احکم الحاکمین سره۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۱۹)	(۹۶) سُوۡرَةُ الۡعَلَقِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

تفسیر سورة العلق مکی دے، په دے کښې نولس آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة العلق

نوم : په دویم آیت کښې [عَلَق] لفظ راغلے دے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے. او دے ته سورة القلم هم وائی.

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے، او د قرآن کریم اولنے سورت دے چه په رسول الله ﷺ باندے نازل شوے وو.

بخاریؒ او مسلمؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړی دی :

[حَتّٰى فَجِئَهُ الۡحَقُّ وَهُوَ فِيۡ غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الۡمَلَكُ فَقَالَ اِقۡرَأۡ فَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ مَا أَنَا بِقَارِئٍ]

چه رسول الله ﷺ ته حق راغے، (یعنی وحی) کله چه هغه په غار حراء کښې وو نو ملائك یعنی جبریل امین راغے او هغۀ ته ئے ووئیل : اولوله ! هغۀ اووئیل : ماله لوستل نۀ راځی. نو هغۀ زۀ ونیولم او دومره زور سره ئے دباؤ کړم چه زۀ ئے ستومانه کړم، بیائے پریښودم، او وے وئیل : ﴿ اِقۡرَأۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِيۡ خَلَقَ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ اِقۡرَأۡ وَرَبُّكَ الۡاَكۡرَمُ الَّذِيۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ مَالَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾ [فَرَجَعَ بِهَا رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ تَرۡجُفُ بَوَادِرُهٗ]

دے نه پس نبی ﷺ هلته نه په داسے حال کښې واپس راغے چه د هغۀ زړۀ لړزیدۀ.

(بخاری : ٤٩٥٣) مسلم : (٤٢٢)

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې توحید ذکر شو نو پدے سورت کښې په قرائت د قرآن سره د

توحید د علم په باره کښې امر کوی۔
۲- مخکښې سورت کښې د انسان صورت ذکر شو نو پدے سورت کښې د انسان د پیدائش ماده ذکر کوی۔
۳- په مخکښې سورت کښې ئے د انسانانو په جزاء کښې فرق ذکر کړو نو پدے سورت کښې د هغوی په اعمالو کښې فرق بیانوی۔

د سورت مقصد

اَلْاَمْرُ بِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ وَخَارِجِهَا۔
په مانځه او بهر د مانځه نه د قرآن کریم په لوستلو باندے حکم دے۔ او دا ډیر غټ عمل دے چه الله تعالیٰ خپل نبی کریم (ﷺ) او بیا مونږ ته وئیلے دے۔
ورسره دا خبره ملګرے کوی چه پدے قراءت کښې ډیرے فائدے دی (فَوَائِدُ الْقِرَاءَة)۔
نو ورسره اَلزَّجْرُ وَالتَّوْبِيْخُ لِمَنْ يَمْنَعُ الْقِرَائَةَ فِي الصَّلَاةِ وَخَارِجِهَا۔ هغه چا ته رټنه او زورنه ده چه څوک په مانځه او بهر د مانځه نه د قرآن د لوستلو نه منع کوی۔ د الله تعالیٰ د بندګئ نه خلق اړه وی۔ نو څوك چه د سنت طریقے د مانځه نه منع کوی، نو پدے سورت کښې په هغے باندے رد دے۔
سورت به پدے دوه خبرو روان وی چه قرآن ولوله او په مانځه کښې الله تعالیٰ ته پدے سره ځان نزدے کړه، او څوك چه تا ددے نه منع کوی، نو هغۀ ته رټنه ورکوی او د هغۀ بد صفات راوړی او بیا ورله سزا بیانوی۔

د سورت شان نزول

نبی کریم ﷺ او ابوجهل دے، مګر اولنی پنځه آیتونه ابتداء د نبوت کښې نازل دی په غار حراء کښې او (كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ) نه روستو د ابوجهل په رد کښې نازل دی۔
احمدؒ، مسلمؒ، نسائیؒ، ابن جریرؒ او بیهقیؒ او نورو د ابو هریره ﷛ نه روایت کړی چه ابو جهل تپوس وکړو، [هَلْ يُعَفِّرُ مُحَمَّدٌ وَجْهَهُ بَيْنَ اَظْهُرِكُمْ قَالَ : فَقِيْلَ : نَعَمْ، فَقَالَ : وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى لَئِنْ رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ ذٰلِكَ لَاَطَأَنَّ عَلٰى رَقَبَتِهٖ اَوْ لَاُعَفِّرَنَّ وَجْهَهٗ فِي التُّرَابِ]
آیا محمد ستاسو مخامخ خپل مخ په زمکه کدی؟ خلقو اووئیل : هاؤ۔ هغۀ ووئیل :

په لات او عُزیٰ مې دِې قسَم وی ! که چرې ما هغه په دې طریقه په مونځ کولو ولیدهٔ نو د هغهٔ څټ به په خپو باندې چخنړا کوم، او د هغهٔ مخ به په خاورو پورې راکاږم۔

(پدې غصه وو چه دې ولې یواځې د الله بندګي کوی او د بتانو ورسره ولې نهٔ کوی۔ په قرآن کریم او توحید او مانځه باندې خفه وو۔)

چنانچه هغه د رسول الله ﷺ خواله هغه وخت راغې کله چه هغهٔ مونځ کولو، [لِيَطَأَ عَلٰى رَقَبَتِهٖ قَالَ : فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ اِلَّا وَهُوَ يَنْكِصُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَيَتَّقِيْ بِيَدَيْهِ] دې دپاره چه د هغهٔ په څټ باندې په زور سره خپې کیدی، لیکن کله چه هغهٔ ته ورنزدې شو نو فورًا روسته په شا باندې روان شو، او د لاس په ذریعه ئې خپل ځان بچ کړو۔ خلقو تپوس وکړو : څهٔ خبره ده ؟ هغهٔ ووئیل :

[اِنَّ بَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَاَجْنِحَةً] زما او د هغهٔ ترمینځه د اُور نه ډك خندق او یو انتهائی ویرونکې شې دې او وزرې دی، نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[لَوْ دَنَا مِنِّيْ لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا]

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : که چرې هغه ماته رانزدې شوې وې نو ملائکو به هغه شوکولې وې او د هغهٔ یو یو اندام به ئې تبنتولې وې۔

ددې واقعې نه پس الله تعالیٰ ﴿ كَلَّا اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى ﴾ د سورت آخره پورې نازل کړو۔ (مسلم : ۷۲۴۳)

مګر الله تعالیٰ د ملائکو په لاس نهٔ وژلو دې دپاره چه د انسان په لاس ذلیله شی۔

په بل روایت کښې دی : چه په بله ورځ ابوجهل بیا اراده وکړه او نزدې ورله راغې، نو پدې کښې جبریل علیه السلام راغې او د اُوښ شکل ئې ورته جوړ کړو او خولې ئې ورته وازه کړه او ورمخکښې شو نو هغه شاته منډه کړه۔ او وې وئیل چه نزدې وه چه زهٔ ډیر غټ اُوښ خوړلې وې۔ الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ حفاظت کولو۔

نو د سورت موضوع دا شوه چه څوك د قرآن لوستونکې وی خاصکر په مانځه کښې دا ډیر غوره انسان دې، الله تعالیٰ ته نزدې دې، او څوك چه الله تعالیٰ ته دعوت ورکوی دا الله تعالیٰ ته نزدې او غوره دې۔ لکه دې سورت کښې د دعوت خبره هم ده۔

او څوك چه منع کولو والا دې۔هغه ډیر غټ مجرم دې، او هغهٔ ته سزا بیان شویده۔

نبی کریم ﷺ غار حراء کښې درې کاله تیر کړل، وجه دا وه چه اول کښې به ئې ډیر نیك

خوبو نه لیدل، زړهٔ کښې ورته دا محبوبه شوه چه یوائې ځای کښې عبادت کول پکار دی۔ او کله چه د هغهٔ زړهٔ د الله تعالیٰ په عبادتونو باندې مُنوّر شو نو الله تعالیٰ ورته وحی راولیږله چه اُوس لاړ شه دا لوله او خلقو ته ئې هم بیانوه۔

او دا پنځه اولنی آیتونه د ټولو نه اولنی وحی ده چه نازل شویده۔

إِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ﴿١﴾
اُولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چه پیدائش ئې کړیدے،
خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ إِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿٣﴾
پیدا کړے ئې دے انسان د ټکړے د وینے نه۔ اُولوله او رب ستا ډیر عزت والا دے۔
الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾
هغه ذات دے چه تعلیم ئې ورکړیدے (بندګانو ته) په قلم سره۔
عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾
خودنه ئې کړیده انسان ته د هغه څه چه ورته نهٔ وو معلوم۔

تفسیر : دلته الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته حکم کوی چه په دهٔ باندې کوم قرآن کریم د وحی په ذریعه نازلیږی، د هغې د تلاوت نه مخکښې دِې بسم الله الرحمٰن الرحیم وائی۔

دارنګه انسان له ئې خبر ورکړے چه د تمامو مخلوقاتو خالق یوائې هغه دے۔ او هغهٔ انسان د یوې تینګې چکې وینې نه پیدا کړے، چه هغه څلویښتو ورځو پورې د مور په رحم کښې د نطفې په شکل پرته وی، بیا د چکې وینې یوه ټکړه جوړه شی، او د مور په رحم پورې نښلی، بیا د څلویښتو ورځو نه پس د غوښې یوه ټکړه جوړه شی، بیا د الٰهی امر مطابق خو یا د هغهٔ پیدائش مکمل کیږی، یا د رحِم نه د غوښې د یوې ټکړې په شکل کښې پهر را اوځی۔

اقْرَأْ : ددې مفعول پټ دے۔ اَیْ مَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ ۔ او الْقُرْآنَ۔ یعنی ولوله هغه وحی چه تا ته نازلیږی۔ یا قرآن ولوله په بسم الله وئیلو سره۔

او د وحی شروع د (اِقْرَأْ) نه وشوه، نو اول دین د قراء ت نه شروع شویدے، دا دلیل دے

چه ټول علمونه د قرآن کریم او د احادیثو نبویه ؤ د لوستلو نه راوځي۔ لوستل کوه نو الله تعالیٰ به علمونه درکوي۔

بِاسْمِ رَبِّكَ: د باء متعلق محذوف دے۔ او دا حال دے۔ اَیْ مُفْتَتِحًا یا مُسْتَعِینًا/ یا مُتَلَبِّسًا بِاسْمِ رَبِّكَ۔ یعنی ولوله په داسے حال کښې شروع کوے په نوم د رب خپل/ یا په داسے حال کښې چه مدد غوښتونکے ئے په نوم د رب سره۔/ یا قراءت وکړه پداسے حال چه یوځائے کونکے ئے دے لره د نوم د رب سره۔

باسم ربك کښې ئے همزه لیکلے ده، او په بسم الله کښې نۀ ده لیکلے شوے، وجه دا ده چه بسم الله ډیره استعمالیږي، او دا سورت کم استعمالیږي۔ نو کثرت استعمال تقاضا د تخفیف کوي۔

الَّذِیْ خَلَقَ : ۱- مفعول ئے نۀ دے ذکر کړے دپاره د تعمیم۔ یعنی چه هر شے ئے پیدا کړیدے۔ ۲-یا دلته فعل متعدی نازل شویدے په منزله د فعل لازم نو معنیٰ حدثی ثابتول مراد دی۔ یعنی هغه الله چه پیدائش ئے کړیدے۔

او د الله دا صفت ئے راوړو پدے کښې اشاره ده چه د مخلوق کمال پدے کښې دے چه د الله تعالیٰ د وحی لوستل وکړي، او د وحی تابعداري وکړي۔

او اشاره ده چه الله تعالیٰ پیدائش د انسانانو کړیدے نو هغه به ضرور د دوئ د رهنمائی دپاره وحی او رسولان رالیږي۔ نو پدے باندے اعتراض کول بے عقلي ده۔

او پدے کښې انسان ته اول نعمت وریادول دی چه تا سره الله تعالیٰ احسان دا وکړو چه ستا پیدائش ئے وکړو ځکه چه ټول نعمتونه د پیدائش تابع دی۔

دارنګه پدے کښې پدے خبره خبردارے ورکول مقصد دے چه کوم ذات د انسان په پیدائش او هغۀ ته په ژوند ورکولو او هغۀ کښې کمالات اچولو باندے قادر دے، نو هغه په تعلیم د قرائت باند هم قادر دے۔ (فتح البیان)

خَلَقَ الْاِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ : دا تخصیص دے روستو د تعمیم نه، او پدے کښې شرافت د انسان ته اشاره ده۔ او اشاره ده چه د انسان په پیدائش کښې ناشنا عجیبه صناعت او عجیبه قدرتونه دی، چه دۀ ته وړوکے عالَم وئیلے شي۔

او اشاره ده چه په ټولو مخلوقاتو کښې همدا (او پیریے) مکلف دے په وحی سره، او اشاره ده چه انسان ته چه شرافت ملاویږي نو دا په وحی سره۔

علق : دا جمع د عَلَقَةٌ ده، او جمع ئے ددے وجه نه ذکر کړه چه د انسان نه مراد جنس انسان دے او هغه په معنیٰ د جمعے سره دے۔

حکمة : د انسان پیدائش خو د نطفے نه شروع دے مگر دلته ئے علقه ذکر کړه، ددے حکمت دا دے چه پدے کښ اشاره ده چه نطفه د انسان اصل دے، مگر اول انقلابی حالت ددۀ علقه ده، نو پدے کښ باریکه اشاره ده چه قرآن کریم هم د انقلاب دپاره راغلے دے، چه ددے په وجه به په انسانانو کښ انقلابات شروع شی۔ څوك به كافر پاتے شی او څوك به د هدایت په رڼړا باندے ښائسته شی۔

دارنګه په علقه کښ معنیٰ د پیوستوالی او جوړخ ده نو اشاره ده چه قرآن هم د جوړخ کتاب دے او محبت او اتصال پیدا کونکے دے۔

دارنګه علقه د وینے یوه ټوټه ده چه په رحم کښ راجمع شویده نو اشاره ده چه دا قرآن به هم ستا په سینه کښ راجمع شی۔

اقْرَأْ : چونکه نبی کریم ﷺ جبریل علیه السلام ناساپه خپلے مخے ته موندلو سره گهبراؤ شو، ددے وجے نه د تاکید په توګه ئے هغۀ ته بیا ووئیل شو چه تۀ لوله۔ او چونکه نبی کریم ﷺ د لوستلو نه عذر اوکړو چه ماله لوستل نۀ راځی، ددے وجے نه هغۀ ته ووئیلے شو چه ستا هغه رب تاته د لوستلو حکم درکوی چه هغه بیحده کرم او احسان والا دے، چه د هغۀ د سَخا او ورکړے هیڅ حد نشته، او که کومه خطائی درنه کیږی نو هغه به درته معاف کوی۔ چه هغۀ په انسان باندے د لیك لوست (تعلیم) وربښودلو په وجه لوئے احسان کړے، او د قلم په ذریعه ئے ورته هر هغه څۀ اوښودل کوم چه هغۀ مخکښ نۀ پیژندل۔

نو تکرار د تاکید دپاره دے، ❁ یا اشاره ده چه قرآن کریم هر وخت او بار بار او په هره موقعه کښ لوله۔

❁ یا د اول امر د اِقْرَأْ نه ځانله تلاوت کول مراد دی، او دویم اِقْرَأْ نه مراد بل ته د دعوت او تبلیغ په شکل کښ قراءت کول دی۔ لکه رسول الله ﷺ به پدے باندے عمل کولو چه خلقو باندے به ئے قرآن لوستلو۔

❁ یا اول امر سره شروع کول د قراءت مراد دی۔ او د شروع کولو دپاره ادب ذکر شو۔ او دویم اِقْرَأْ کښ مقصد اِجراء او استمرار د قراءت د دے۔ یعنی دا قراءت جاری وساته۔

وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ : دا خو یو د نبی کریم ﷺ د عذر پیش کولو په جواب کښې شو۔
دویم پدے کښې اشاره ده چه قراء ت سبب د کرامت او عزت د انسان دے۔ حدیث کښې دی : [إِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ] (یقیناً الله تعالیٰ ددے کتاب په وجه ډیر خلق پورته کوی او نور پرے خکته کوی) (مسلم : ١٩٣٤)
الاکرم : صیغه د اسم تفضیل ده، د کرم نه دے کثرت د خیر او ډیرے ورکړے او سخا ته ته وئیلے شی چه د هر چا نه ئے سَخَا زیاته وی۔ نو دا صفت د الله تعالیٰ پورے خاص دے۔ ځکه چه ټول خیرونه د هغهٔ په لاس کښې دی، او ټول نعمتونه د هغهٔ د طرف نه دی۔ او هغه معافی کونکے دے د جهل د بندګانو او روستو کونکے دے عذاب د مستحقینو د عذاب نه، او عطیات ورکونکے دے په غیر د عوض نه او ډیر اجر او ثواب ورکونکے دے په لوستلو د قرآن سره۔
الَّذِىْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ : پدے کښې اشاره ده چه ددے قرآن نه به داسے علمونه راوځی، او په قلمونو باندے به ولیکلے شی چه دنیا به ترے ډکه شی لکه اُوس دومره تفسیرونه لیکلے شوی دی چه د هغے نومونه هم څوك نشی یادولے۔ هر تفسیر کښې بیله بیله خبره او فائده وی۔ نو اشاره ده چه د قرآن نه به په قلمونو سره عِلمونه رابښکاره کیږی۔
او قتادَهٔ وائی : قلم د الله تعالیٰ لوی نعمت دے، که دا نهٔ وے نو هیڅ دین به نهٔ وے باقی او هیڅ ژوند به نهٔ وے برابر۔ نو دا دلیل دے چه د الله تعالیٰ کرم په بندګانو باندے یو دا دے چه هغهٔ بندګانو ته د قلم په ذریعه هغه علمونه وخودل چه دوی پرے نهٔ پو هیدل، او دوی ئے د جهالت د تیارو نه د علم رنړا ته را اُوخکل۔
نو پدے کښې تنبیه ده په فضیلت د علم کتابت ځکه چه پدے کښې ډیرے لوی فائدے دی چه هغه صرف الله تعالیٰ ته معلومے دی، او علمونه نهٔ دی تصنیف شوی او حکمتونه نهٔ دی راګیر شوی او د پخوانو خلقو اخبارات او ویناګانے او قصے او د الله تعالیٰ منزل کتابونه نهٔ دی محفوظ شوی مګر په کتابت (لیکلو) سره۔ او که لیکل په قلم نهٔ وے نو د دین او د دنیا کارونه به نهٔ وے برابر شوی۔
لنډه دا چه که د الله تعالیٰ په باریکو حکمتونو او د هغه په باریك تدبیر باندے بل هیڅ دلیل نهٔ وے سوئ د قلم او خط نه نو دا به هم کافی شوے وے۔
او قلم په معنیٰ د قطع سره دے، او قلم هم قطع کول کوی، وئیلے شویدی چه اول په قلم

باندے ادریس علیہ السلام لیکل کړیدی۔ (فتح البیان)

عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ : د پیدائش نه پس لوی نعمت علم دے، او علم په دوه قسمه دے یو علم په قلم سره دے، هغه ئے مخکښې ذکر شو، او دویم علم په بیان سره دے، نو هغه دلته بیانیږی،

نو دا جمله یا بدل اشتمال دے د عَلَّمَ بِالْقَلَمِ نه۔ او مطلب دا دے چه انسان ته ئے په علم سره هغه کلیات او جزئیات وخودل چه دے پرے نهٔ پو هیدو۔

یا مستقله جمله ده۔ او پدے کښې علم په بیان سره ذکر دے۔ او دلته د مَا لَمْ يَعْلَمْ نه مراد بعض علمونه دی چه هغه الله تعالیٰ انسانانو ته د خپل حکمت او ارادے مطابق خودلی دی، چا ته یو قسم علمونه ورکوی، او چا ته بل قسم۔ او ددے دا مطلب نهٔ دے چه انسان په مَاكَانَ او مَا يَكُونُ باندے پو هه دے، دا خو د بداهت خلاف خبره ده۔

او قرینه په بعض علمونو باندے دا ده چه دلته مخکښې قلم ذکر شو، یعنی انسان په هغه علمونو پو هه دے چه د قلم سره تعلق لری۔ یعنی د آلاتو سره۔ د غیبو په خبرو باندے ورته پو هه نهٔ ده ورکړے شوے۔ دارنګه مخکښې قرآن ذکر شویدے۔

او عَلَّمَ الْإِنْسَانَ کښې اول رسول الله ﷺ مراد دے، او بیا د هغهٔ امت چه که دا قرآن نهٔ وے نو مونږ به په هیڅ نهٔ پو هیدے، ددے قرآن په وجه مونږ ته ډیر تاریخ، ډیر احکام، د الله تعالیٰ د تعلق او د آخرت او د دنیا خبرے معلومے شوے۔

حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی چه علم کله په اذهانو کښې وی، او کله په ژبه باندے وی، او کله په قلم باندے وی، اول ذهنی او دویم لفظی او دریم رسمی دے، او رسمی مستلزم دے دواړو لره ددے وجه نه د عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (چه رسمی دے) تخصیص ئے کړیدے او هغه ئے مقدم کړے۔

كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ
هیچرے داسے نهٔ ده پکار۔ (چه قراءت نه منع شے) یقیناً انسان
لَيَطْغَىٰ ﴿٦﴾ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ ﴿٧﴾
خامخا سرکشی کوی۔ پدے وجه چه ویلیدو خپل ځان چه بے پرواه دے (مالدار دے)۔

إِنَّ إِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ﴿٨﴾ أَرَأَيْتَ الَّذِىْ
یقیناً رب ستا ته واپسی ده۔ آیا تا سوچ کړیدے په باره د هغه سړی کښې
يَنْهٰى ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلّٰى ﴿١٠﴾ أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ
چه منع کوی بنده (زما) کله چه مونځ کوی۔ آیا تا سوچ کړیدے که چرته وی دا
عَلَى الْهُدٰى ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوٰى ﴿١٢﴾ أَرَأَيْتَ إِنْ
په هدایت باندے۔ یا حکم کوی په تقویٰ باندے۔ آیا تا سوچ کړے، که چرے
كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿١٣﴾ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿١٤﴾
دے تکذیب کوی یا مخ اړوی۔ آیا دے پو هه نهٔ دے چه بیشکه الله تعالیٰ دهٔ لره وینی

تفسیر : اُوس هغه انسان ته زجر چه ددے قرآن نه خلق منع کوی۔ ددے آیت نه د سورت آخره پورے د ابو جهل په باره کښې نازل شوے وو، لکه چه مخکښې ذکر شو۔

كَلَّا : دا ردع ده د جنس ناشکرئ د نعمت نه په سبب د طغیان خپل سره۔ یعنی د مخکنو لوی نعمتونو ناشکری مهٔ کوه اے انسانه !۔

كَلَّا په معنیٰ د حَقًّا سره هم صحیح دے۔

إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغٰى : یعنی چه کله خپل مال او دولت او حکومت وینی، ددے واك او اختیار الله تعالیٰ ورکړی، نو په دغه وخت کښې هغه سرکشه کیږی، هغه په دے غلط فهمئ کښې اخته کیږی چه اُوس دا هیچاته محتاج نهٔ دے، او رب العالمین بیخی هیر کړی۔ حد نه تجاوز او سرکشئ ته مایله شی، کبر او ظلم د هغهٔ صفت جوړ شی، کمزوری سپك گنړل او خلقو پورے توقے کول د هغهٔ عادت جوړ شی۔ مگر دا صفت د انسان نه په ایمان سره، او د الله تعالیٰ په معرفت سره لرے کیږی۔ بیا به د انسان سره مال هم ډیر وی، لیکن نهٔ به گمراه کیږی، او د الله تعالیٰ نه به نهٔ بے پرواه کیږی۔

طغیان نه مراد د حد نه تیروتل دی په حقوق الله کښې په کفر او په شرك سره، او په حقوق العباد کښې په ظلم او غصب سره۔

إِنَّ إِلَى رَبِّكَ الرُّجْعَى : اَیْ رُجُوْعُ هٰذَا الْإِنْسَانِ ۔ پدے کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته

خطاب کوی فرمائی چه ابو جهل وی، یا بل کوم ظالم او سرکشه، په هر حال کښې به هغه ستا رب طرفته واپس کړے شی، او مونږ به ددۀ نه خامخا بدله اخلو۔

أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَى : پدے آیت کښې الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ سره د ابو جهل په بد سلوکئ باندے سخت تعجب ښکاره کړے، او وئیلی ئے دی چه څومره بد او د نفرت لائق دے هغه انسان کوم چه د الله بنده (محمد ﷺ) د مانځه نه بندوی۔

آیا الله تعالیٰ دپاره مونځ کول څۀ جُرم دے، مونځ کولو سره دغه مجرم ته څۀ تکلیف رسیږی چه هغه دا منع کوی۔

إِذَا صَلَّى : دا دلیل دے چه څوک خلق د سنت طریقے د مانځه نه منع کوی، نو دا لوی مجرم دے، او پدے وعید کښې داخل دے۔

دارنګه دا هم ثابته شوه چه خلق د کوم مانځه نه منع کول کوی؟ نو هغه مونځ چه تولے سنت طریقے پکښې بنده کوی لکه رفع الیدین په درے ځایونو کښې په جهر سره آمین وئیل، جلسه د استراحت کول، او داسے د رکوع نه سر پورته کولو وخت کښې دعاګانے کول، او د دوه سجدو مینځ کښې دعاګانے کول، د داسے مونځ نه مجرمان منع کوی۔ نۀ هغه مونځ چه د خپلے بو ډئ ابئ نه خلاف سنت یاد کړے شوے وی، یا خلق ئے د یو عالِم په تقلید سره کوی، او تونګے وهی۔ دغسے مونځ نه خو منع پکار ده۔

اُوس هم ډیر جاهلان خلق موحدینو لره د صحیح سنت طریقے مانځه نه منع کوی، کله ئے د مسجد په دروازه لیکلی وی چه دلته به صرف د فلانی مذهب والا خلق راځی او کوم خلق چه د سنت طریقے مطابق مونځ کوی د هغوی راتلل ممنوع دی۔ والله المستعان۔

او دا دلیل دے چه څوک صحیح مونځ کوی، او بل څوک ئے منع کوی، نو دا دلیل دے چه دا نبوی مونځ دے ځکه ددے نه منع کیږی۔ او منع کونکے ئے ابوجهل دے۔

او مطلب د آیت دا دے چه ددے سرکشه انسان د الله تعالیٰ بندګئ سره دشمنی ده ځکه زما بنده زما د تعلق او د مانځه نه منع کوی۔

أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَى أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَى : دا بل زجر دے دغه سرکشه انسان ته، او پدے کښې د قرآن کریم د داعی صفات ذکر دی۔

أَرَأَيْتَ : یعنی تا د داسے مجرم په حال باندے سوچ کړیدے چه ددۀ به د الله تعالیٰ سره

څه حال وی؟!۔

إِنْ: ددې ان جزاء پټه ده۔ یعنی (فَنَاهِیهِ هَالِكٌ بِالضَّرُوْرَةِ) نـو ددهٔ منع کونکے ضرور تباه دے۔

أَوْ أَمَرَ: دے کښې (أَوْ) د مـانعة الخلو دپاره دے، یعنی رسول الله ﷺ ددے دواړو حالتونو نـه خـالی نهٔ دے بلکه دواړه صفتونه پکښې جمع شویدی، څکه پخپله په هدایت باندے دے او نـورو خـلـقـو تـه د نیـکـئ او پرهیزګارئ دعوت ورکوی، نو د هغهٔ مخالفت کول، هغـهٔ لـه تـکـلیف ورکـول، او قِسـم قِسـم ګـوابنـونه کول الله تعالیٰ هیڅ کله نهٔ برداشت کوی۔

عَلَى الْهُدَىٰ : یـعنی رسول الله ﷺ د عـقیـدے پـه اعـتبـار سره په هدایت روان دے، او د عمل په اعتبار سره امر کوی په تقویٰ باندے۔ عملونه ئے د تقویٰ دی او خلقو ته هم ددے بیان کوی۔

نـو دلتــه د داعـی ښـکـلـے صـفـتـونـه دا شـو دعوت خلقو تـه او خـپـلـه عبادتونـه کول، مونځونه وغیره۔ او رسول الله ﷺ دا دواړه کارونه کول او ابوجهل دواړه منع کول۔

أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ : دا ضمیرونه مجرم او کافر انسان ته راجع دی۔

یـعـنـی کـافـر او مـجـرم انسان چه زما بنده او رسول د مونځ کولو نه بندوی، د ایمان او اسلام نه مخ اړوی، د مرګ نه پس ژوند او د حساب او جزاء نه انکار کوی، ددهٔ به په هغه ورځ څهٔ حال وی کله چه دا د محشر په میدان کښې د خپـل رب مخے ته اودریږی۔

آیـا دهٔ تـه مـعلـومه نهٔ ده چه الله تعالیٰ ددهٔ د تمامو کړو نه خبردار دے، او ستا د ویرولو او ګوابنونو دپاره چه هغه کوم حرکتونه هم کوی د هغے نه ډیر ښهٔ خبر دے۔

دلته هم جزاء د إِنْ پټه ده۔ اَیْ فَمَا اَعْجَبُ مِنْ هٰذَا ۔ ددے نه بل لوی عجیب حال نشته۔ یا فَمَا أَخْبَثَ حَالَهٗ۔ ددهٔ حالت څومره ګنده دے۔

بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ : یـعنی الله تعالیٰ هرڅه وینی نو ددے مجرم حال، تکذیب او تولی او نهی ئے هم ولیدهٔ۔ او الله تعالیٰ هدایت او تقویٰ او مونځ د حق پرست بنده هم وینی، نو هریو ته به د هغے مناسب بدله ورکوی۔

كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿۱۵﴾
هیچرے داسے نۀ ده پکار که چرته منع نشو خامخا وبه داغو دۀ لره په تندی باندے۔
نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿۱۶﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿۱۷﴾
تندے دروغژن، گنهگار۔ نو اُودِے بلی مجلس والا خپل۔
سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿۱۸﴾ كَلَّا
زردے چه مونږ به اُوبلو زبانیه (دیکه کونکی) ملائک۔ هیچرے داسے نۀ ده پکار،
لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿۱۹﴾ (س).
خبره مۀ منه ددۀ او سجده کوه او ځان نزدے کړه (الله ته)۔

تفسیر : كَلَّا : دا ردع ده د تکذیب او تولی نه۔ یعنی تکذیب او تولی نۀ ده پکار۔

الله تعالیٰ وفرمایل چه که ابو جهل زمونږ رسول ته د تکلیف رسولو نه منع نشو، او په مسجدِ حرام کښې او د مقامِ ابراهیم شاته د مونځ کولو نه د هغۀ د دوباره منع کولو کوشش ئے وکړو نو مونږ به دا د خپل دروغژن او په گناهونو ککړ تندی نه را اونیسو، او په راښکلو راښکلو به ئے جهنم ته اورسوو۔ دے وخت کښې که هغه د خپل مجلس او قوم خلق را بلل غواړی نو را اُودِے بلی چه د هغوئ په ږاړ گیرنه هغه تا د مانځه نه منع کول غواړی، مونږ به هم د جهنم سینتریان را اُوبلو۔

ترمذیؒ وغیره د ابو هریره ﷛ نه روایت کړے چه نبی کریم ﷺ مونځ کولو، ابو جهل راغے او وے وئیل : [اَلَمْ اَنْهَكَ عَنْ هٰذَا ؟ فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ ﷺ فَزَبَرَهُ فَقَالَ اَبُوْجَهِلٍ : اِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا بِهَا نَادٍ اَكْثَرُ مِنِّيْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ، سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ]

آیا ما تۀ د مانځه کولو نه منع کړے نۀ وے؟ نو هغۀ سره ئے سختی وکړه او دا ئے ورته ووئیل : تۀ ښۀ پیژنے چه مانه زیات دوستان او مددگاران بل هیچا سره نشته۔

نو الله تعالیٰ ﴿ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴾ نازل کړو۔ ابن عباس ﷛ وفرمایل :

[فَوَ اللّٰهِ لَوْ دَعَا نَادِيَهُ لَاَخَذَتْهُ زَبَانِيَةُ اللّٰهِ]۔

قسم په الله که هغه خپل مجلس والا راغوښتلی وے خامخا د الله زبانیه ملائکو به

نیولے وے۔ (ترمذی : ۳۳٤۹ باسناد صحیح)

دارنګه دے ظالم رسول الله ﷺ ته وئیلي وو چه تهٔ او ستا رب ما ته هیڅ نشئ وئیلے، زما هیڅ شے نشئ خرابولے۔ زهٔ ددے علاقے سردار یم۔

دا مجرم دِے د خپلو دے حرکتونو نه منع شی، او یقین دِے اوکړی چه آینده زمونږ رسول له تکلیف نشی ورکولے۔ مفسرین لیکی چه ابو جهل ددے نه پس نبی کریم ﷺ سره د بد زبانئ یا لاس سره د ضرر رسولو زړورتیا ونهٔ کړه۔

لَنَسْفَعاً : دا نون خفیفه دے په شکل د تنوین کښې لیکلے شوید ے۔ سفع په زور سره نیول او راښکل دی۔ یا تور داغ لګول دی۔

او دا وعده ورسره په دنیا کښې ده چه الله تعالیٰ په بدر کښې د مسلمانانو په لاس قتل ته راخکلو، او ابن مسعود رضی الله عنه قتل کړو۔ کله چه دے د زخمیانو ترمینځ غورزیدلے پروت وو او دهٔ کښې لږه ساه پاتے وه۔

بِالنَّاصِيَةِ : د سر مخامخ ویخته دی چه په تندی باندے ئے زوړند وی۔ او دلته ذکر د ناصیه دے مراد ترے نه ټول شخص دے، لیکن په ناصیه سره ئے تعبیر وکړو پدے کښې ددهٔ ذلت ته اشاره ده، ځکه چه یو تن د تندی نه ونیولے شی او راخکلے شی نو ډیر لوی ذلیله شی۔

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ : دا بدل دے د مخکښې (النَّاصِيَةِ) نه۔ او نکره د معرفے نه بدل واقع کیدل صحیح دی کله چه د نکرے صفت ذکر وی او دا مذهب د کوفیانو دے۔

كَاذِبَةٍ : دا صفت د ناصیه دے، او د ناصیه نه مراد شخص وو۔ او د ناصیه صفت ئے ذکر کړو اشاره ده چه ددهٔ د کذب او ګناه نخے په تندی او مخ کښې ښکاره کیږی۔

كَاذِبَةٍ : په اعتبار د اقوالو سره۔ یا دروغجن تندے پدے وجه دے چه غیر الله ته خکته کیږی۔ او خَاطِئَةٍ : په اعتبار د افعالو سره۔ یعنی هر قسم ګناهونه پکښې راجمع دی۔

فَلْيَدْعُ نَادِيَه : یعنی دے دِے خپل مجلسیان راویلی۔

نادی مجلس د راجمع کیدو ته وائی خو پدے شرط چه مجلس والا پکښې موجود وی۔ دلته ترے اهل نادیه مراد دی۔ یعنی مجلس والا۔

ابن عباس رضی الله عنه وائی : دلته د نادی نه مددګاران مراد دی۔

او ابو جهل وئیلی وو چه آیا تهٔ ماله دهمکی راکوے حال دا چه زهٔ ددے وادی والو نه په مجلسیانو او ملګرو کښې زیات یم۔ نو دا آیت نازل شو۔

سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ : زبانيه هغه سختـه خويه سخت بدنه ملائك دي چه الله تعالىٰ د جهنم خزانچيان جوړ كړيدي. زبن په اصل كښ په سختئ سره ديكه كولو ته وئيلے شي، او دا ملائك به هم كافرانو لره ديكے وركوي او په زوره به ئے جهنم ته ننباسي. لكه په سورة الطور (۱۳) آيت كښ تير شوي وو ﴿ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴾.

او عرب دا لفظ د هغه چا دپاره استعمالوي چه د هغه بطش (حمله او رانيول) سخت وي.

ابن عباس ﷛ فرمائي : كه دهٔ خپل مجلسيان راغوبنتي وے، نو د الله تعالىٰ زبانيه ملائكو به سخت رانيولے وے.

كَلَّا : دا ردع دے، د مخكښ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ . يعني تا لره خطائي او جرمونه نهٔ دي پكار. يا په خپل مجلس والو باندے فخر مهٔ كوه، يا په معنیٰ د حَقًّا سره دے.

لَا تُطِعْهُ : پدے كښ الله تعالىٰ نبي كريم ﷺ ته ادب وركوي چه تهٔ د ابو جهل خبره هيڅ كله ونهٔ منے او په مسجدِ حرام كښ مونځ كوه، او د نورو عبادتونو په ذريعه د خپل رب قرب او نزديكت حاصلوه.

لَا تُطِعْهُ : اَیْ فِیْ تَرْكِ الصَّلَاةِ وَالْقِرَاءَةِ. يعني خبره ئے مهٔ منه چه مونځ پريدے او د قرآن لوستل پريدے. او دا نهي د دوام او ثبات دپاره ده. يعني مخكښ دِے هم خبره نهٔ ده منلے نو اُوس او آينده دپاره ئے هم مهٔ منه، او پدے كښ امت ته اشاره ده، چه د مانځه نه چا منع كولے او د دعوت د قرآن او حديث نه چا منع كولے نو دعوت به نهٔ پريدے.

وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ : په صحيح مسلم كښ د ابو هريره ﷛ نه نقل دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَّبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ]

بنده خپل رب ته د ټولو نه زيات د سجدے په حالت كښ نزدے وي، دے وجے نه تاسو په سجده كښ ډيرے ډيرے دعاګانے كوئ) (مسلم : ۱۱۱۱).

دارنګه په صحيح مسلم كښ د ابو هريره ﷛ نه دويم روايت دے، دے وائي : مونږ رسول الله ﷺ په ﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ ﴾ او ﴿ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ ﴾ كښ سجده وكړه.

(بخاري : ۷٦۸ ومسلم : (۱۳۲۷)

د امام شافعیؒ په نيز ددے سورت سجده د اَهمو سجدو نه ده، او لوستونكي او آوريدونكي دپاره ددے د لوستلو نه پس سجده كول مسنون دي.

ختم شو تفسير د سورة العلق په فضل د رحمن رحيم سره، عصر يوم نسبت.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آياتها (٥)	(٩٧) سُوۡرَةُ الۡقَدۡرِ مَكِّيَّةٌ	ركوعاتها (١)

سورة القدر مكي دے، په دے کښې پنځه آيتونه او يوه ركوع ده

تفسير سورة القدر

نوم : په اولنی آيت کښې [الۡقَدۡر] لفظ دے، همدا ددے سورت نوم كيښودل شوے۔

د نازليدو زمانه : د ماوردیؒ وينا ده چه د زياتره مفسرينو په نيز دا سورت مكي دے۔ او ثعلبیؒ وئيلی دی چه د اکثرو مفسرينو په نيز دا سورت مدنی دے۔

د واقدیؒ وينا ده چه دا اولنے سورت دے چه په مدينه کښې نازل شوے وو۔

ابـن مردويهؒ د ابن عباس ﷺ، ابن الزبير ﷺ او عـائشے رضی الله عنها نه روايت کړی دی چه دا سورت په مكه کښې نازل شوے وو۔

مناسبت

١- مـخـكـښې سورت کښې ترغيب وو قراءت د قرآن ته نو دلته د هغے علت ذكر كوی، يعنی عـظـمـت د قرآن كريم۔ چه قرآن څكه ولوله چه دا ډير عظيم كتاب دے، د انسان قدر او مرتبه پرے وچتيږی۔

٢- مـخـكـښې سـورت کښې د قرآن كريم نه منع كونكو ته زجر وو نو دلـتـه قرآن والو ته تسلی وركوی (اشاره ده چه د قرآن والو مقام ډير لوی دے)۔

د سورت مقصد

بَيَـانُ عَظۡمَةِ الۡقُرۡآنِ الۡكَرِيۡم۔ (د قـرآن كـريم د عظمت (لوی شان) بيان)۔ ورسره پدے کښې بيان د فضيلت د ليلة القدر هم دے۔ نو د دواړو فضيلت پکښې ذكر دے۔

شان نزول

رسول الله ﷺ يو ورځ د بني اسرائيلو يو سړي ذكر كړو چه زر مياشتي ئې د الله تعالىٰ په لاره (جهاد) كښې تيري كړي وي، نو مسلمانانو تعجب وكړو (دې ته وپسخيدل چه زمونږ هم دومره ډير عمر وي چه د الله تعالىٰ په عبادتونو كښې مو تير كړي وي)

نو الله تعالىٰ (د دوى د جذبي رعايت كولو سره) دا سورت نازل كړو چه د ليلة القدر په يوه شپه كښې عبادت كول د زرو مياشتو برابر دى، او دا ددې امت فضيلت شو۔

(اسباب النزول للواحدیؒ) دا تفسيري روايت دے۔

او بعض مفسرينو ليكلي دي چه نبي كريم ﷺ ته د خپل امت عمرونه لنډ وخودل شول نو هغه ويريدو چه دوئ به هغه عملونو ته ونه رسيږي كومو عملونو ته چه پخواني امتونه په اوږدو عمرونو كښې رسيدلي وو، نو الله تعالىٰ ورته ليلة القدر وركړه او دا ئې د زر مياشتو نه د ټول امت دپاره بهتره وګرځوله۔ (فتح البيان)

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ
يقيناً مونږ نازل كړيدے دا قرآن په شپه د عزت كښې۔ او څه پوهه كړے ئې ته
مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ﴿٢﴾ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ﴿٣﴾ تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ
چه څه ده شپه د عزت۔ شپه د عزت غوره ده د زرو مياشتو نه۔ راكوزيږي ملائك
وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ﴿٤﴾
او روح (جبريل) پدے كښې په حكم د رب خپل په هر يو كار (دپاره د هر كار) (د هر
سَلَامٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ ﴿٥﴾
كار په باره كښې)۔ سلامتيا والا ده دا شپه، تر راوختلو د صبا پورے ده۔

تفسير : په دے آيتِ كريمه كښې الله تعالىٰ خبر وركړے چه هغهٔ قرآن په يوه عزتمنه او د خير او بركت والا شپه كښې نازل كړے۔ پوره قرآن په ليلة القدر كښې د لوح محفوظ نه آسمان د دنيا ته نازل شو، بيا د هغه ځى نه لږ لږ د ضرورت موافق په نبي كريم ﷺ

باندې نازلیدلو، او په درویشت کاله کښې ددې نازلیدل پوره شو.

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ : (هُ) ضمیر قرآن کریم ته راجع دې، او په مرجع نۀ ذکر کولو کښې اشاره ده شهرت او شرافت ته چه قرآن کریم دومره مشهور او اشرف کتاب دې چه مخکښې مرجع ته حاجت نشته. او د انزال نه مراد شروع د نزول ده. یا د لوح محفوظ نه بیت العزت ته پوره نازل شو.

نو په دې آیتونو کښې د قرآن کریم ډیر زیات فضیلت بیان شوې، یعنی مونږ د قرآن د عظمت او اهمیت له مخه دا په یوه نهایتې عزتمنې او برکتی شپه کښې نازل کړې. همدا مضمون الله تعالیٰ د سورۀ الدخان په (۳) آیت کښې داسې بیان کړې :

﴿ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴾

(بیشکه مونږ قرآن په یوه برکتی شپه کښې نازل کړې، بیشکه مونږ یروونکی یو). او دا شپه په رمضان کښې وه، چه ددې تصریح الله تعالیٰ د سورتِ بقرې په (۱۸۵) آیت کښې فرمائیلې ده : ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ ﴾

(د رمضان میاشت هغه ده چه په هغې کښې قرآن نازل شوې).

فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ : د قدر یوه معنیٰ ده، اندازه نو پدې کښې د یو کال د عملونو اندازه او تقدیر کیږی چه آینده کال کښې به دا دا کارونه کیږی. او هغه کارونه ملائکو ته سپارل کیږی، او هغوی ئې په خپلو کتابونو کښې ولیکی.

یا قدر په معنیٰ د شرافت او عزت سره دې، یعنی ددې شپې ډیر عزت او شرافت دې.

دارنګه پدې شپه کښې د عبادتونو شرافت او عزت دې د الله تعالیٰ په نیز باندې.

پدې وجه دا شپه د قرآن کریم دپاره منتخب کړې شوه.

نو پدې کښې عظمت د قرآن او عظمت ددې شپې دې.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ : الله تعالیٰ د لیلة القدر د عظمت او اهمیت بیانولو دپاره نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمائی : تاته څۀ معلومه ده چه لیلة القدر څۀ ده ؟ لیلة القدر د داسې زرو میاشتو نه بهتره ده چه په هغې کښې هیڅ لیلة القدر نۀ وی،

یعنی یوه لیلة القدر د درې اتیا کالو او څلورو میاشتو نه بهتره ده، ځکه چه په دې کښې ملائك او جبریل علیه السلام د خپل رب په حکم سره د آسمان نه زمکې ته راکوزیږی په داسې حال کښې چه هغوئ سره د راتلونکی کال په باره کښې د رب العالمین تمامې فیصلې

او احكام وى۔ لكه څنګه چه د سورة الدخان په (٥/٤) آيتونو كښ راغلى دى:

﴿ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴾

(په دے شپه كښ د حكمت نه ډك د هر يو كار فيصله كيږى، په داسے حال كښ چه زمونږ له خوا امر وى، بيشكه مونږه ليږونكى يو)۔

الْمَلَائِكَةُ : عام ملائك د ټولو آسمانونو او د سدرة المنتهى نه نازليږى۔

دا ملائك د دے شپے د تعظيم دپاره راكوزيږى او په مؤمنانو باندے رحمتونه وائى۔

وَالرُّوحُ : دا تخصيص بعد التعميم دے دپاره د زيات شرافت۔ يعنى جبريل عليه السلام۔

او مفسرينو روايت راوړيدے چه هركله ليلة القدر شى نو جبريل عليه السلام په يوه ډله د ملائكو كښ راكوز شى، او سلام كوى او دعا كوى هر هغه بنده ته چه ولاړ وى يا ناست وى او الله تعالىٰ يادوى۔

بعضو د روح نه د الله تعالى خاص رحمت مراد كړيدے۔

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ : دے كښ اشاره ده چه ملائك هم د الله تعالىٰ اذن (اجازت) ته محتاج دى۔

مِنْ كُلِّ أَمْرٍ : مِنْ په معنىٰ د باء سره دے، اَىْ بِكُلِّ اَمْرٍ يُقْضٰى فِىْ ذٰلِكَ الْعَامِ۔ يعنى راكوزيږى په هر هغه كار سره چه پدغه كال كښ فيصله كيږى۔

٢- يا مِنْ اجليه دے۔ يعنى د وجه د هر كار نه راكوزيږى۔ او د كار نه عام كارونه يا د خير او بركت والا كارونه دى۔ چه دا په بندګانو باندے نازلوى۔

سَلَامٌ هِيَ : دا دريم فضيلت دے۔ يعنى ليلة القدر سراسر سلامتيا او خير خير وى، په دے كښ هيڅ شر نهٔ وى۔ او دا خير او سلامتيا د نمر ډوبيدو نه تر صبا ختو پورے باقي وى۔

بعضِ خلقو د سلامتيا والا شپے معنىٰ دا بيان كړے چه مومنان په دے شپه د شيطانانو د شر نه محفوظ پاتے كيږى، يا دا چه ملائك نارينه او زنانه مومنانو ته سلام كوى۔

بيا پدے كښ دوه تركيبه دى (١) سلام خبر مقدم دے او هِيَ مبتداء مؤخره ده، او حمل د مصدر (سلام) د وجه د كثرت د سلامونو نه دے۔ يعنى دا ټول سلام سلام ده۔ يا په معنىٰ د (ذُوْ سَلَامَةٍ) سره۔ يعنى سلامتيا والا ده۔

(٢) سلام خبر د مبتداء محذوف دے۔ اَىْ هٰذِهِ اللَّيْلَةُ سَلَامٌ۔ يا اَمْرُهَا سَلَامٌ۔ د دے شپے ټول كارونه د سلامتيا والا دى۔ او هِيَ مبتداء ده، او حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ئے خبر دے۔ يعنى دا

شپې تر صبا راختو پورې ده۔ دا دویم ترکیب غوره دے۔

حَتّٰى مَطۡلَعِ : مصدر میمی دے په معنیٰ د طلوع سره۔

د لیلة القدر د تعیین په باره کښې د علماؤ څلویښتو نه زیات اقوال دی۔ د ټولو نه قوی روایت دادے چه دا شپه د رمضان د میاشتې په آخرنو لسو شپو کښې راځی، بخاریؒ او مسلمؒ او احمدؒ او ترمذیؒ د عائشې رضی الله عنها نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (لیلة القدر د رمضان د آخری لسو شپو نه په طاقو شپو کښې تالاش کړئ)۔

دے وجې نه نبی کریم ﷺ به په دے لسو شپو کښې د عبادت ډیر زیات اهتمام کولو، اعتکاف به ئے کولو، او عبادت دپاره به خپله هم بیدار وو او خپل کور والا به ئے هم بیدارول۔

د نورو صحیح احادیثو نه هم معلومیږی چه دا په طاقو شپو کښې یوه شپه ده۔

اُبی بن کعب ﷛ نه زرّ بن حُبیش رحمه الله د شبِ قدر متعلق تپوس اوکړو :

[قَالَ اُبَیٌّ فِیۡ لَیۡلَةِ الۡقَدۡرِ وَاللّٰهِ اِنِّیۡ لَاَعۡلَمُهَا وَاَکۡثَرُ عِلۡمِیۡ هِیَ اللَّیۡلَةُ الَّتِیۡ اَمَرَنَا رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ بِقِیَامِهَا هِیَ لَیۡلَةُ سَبۡعٍ وَعِشۡرِیۡنَ]

نو هغهٔ قسَم وخوړلو او وے وئیل چه دا اووه ویشتمه شپه ده۔ (مسلم : ۱۸۲۲)

مصنف ابن ابی شیبه کښې دی : قنان بن عبد الله النهمی وائی : ما د زر بن حُبیش د لیلة القدر په حقله تپوس وکړو، نو هغهٔ وفرمایل:

[کَانَ عُمَرُ وَحُذَیۡفَةُ وَنَاسٌ مِنۡ اَصۡحَابِ النَّبِیِّ ﷺ لَا یَشُکُّوۡنَ فِیۡهَا اَنَّهَا لَیۡلَةُ سَبۡعٍ وَعِشۡرِیۡنَ]

چه عمر (﷛)، حذیفه (﷛)، او نورو ډیرو صحابو به په دے کښې هیڅ شک نهٔ کولو چه دا د رمضان اووه ویشتمه شپه ده۔ (ابن ابی شیبه : ۹۶۰۷)

د پورتنیو روایتونو په لحاظ سره، دارنګه د معاویه ﷛، ابن عمر ﷛، او ابن عباس ﷛ اونورو نه چه په دے باره کښې کوم روایتونه راغلی د هغې له مخې د سلفو علماؤ یو ے ګڼړے شمیرے اووه ویشتمه شپه لیلة القدر ګڼړلے ده۔

لیکن دے کښې صحیح خبره دا ده چه دا شپه په آخری عشره کښې په طاقو شپو کښې ده، او دا ګرځی راګرځی، یعنی کله یویشتمه او کله درویشتمه او کله پنځه ویشتمه او کله اووه ویشتمه او کله یو کم دیرشتمه وی خو اکثر ویشتمه راځی۔

او الله تعالىٰ دا شپه پټه كړېده دے دپاره چه بندګان په رمضان او خاصكر په آخرى عشره كښې په عبادت كښې كوشش وكړى. بلكه دا تولے لس شپے بهتر دى لكه سورة الفجر كښې پرے الله تعالىٰ قسم كړيدے.

او ددے شپے نخے او آثار د احاديثو په كتابونو كښې ذكر كيږى، زمونږ كتاب ((الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح)) كښې ددے تفصيلات وګوره.

او په احاديثو كښې ددے شپے د لټولو په باره كښې حكم راغلے دے او ددے اهميت ئے خودلے دے. ددے وجه نه ددے د موندلو دپاره هر ممكن كوشش كول پكار دى، او د نبى كريم ﷺ په اتباع كښې د رمضان په آخرى لسو شپو كښې د عبادت بنۀ اهتمام كول پكار دى.

اعتكاف كول پكار دى، او خپل بال بچ هم په دے شپو كښې د عبادت دپاره راويښول او تيارول پكار دى. وبالله التوفيق.

ختم شو تفسير د سورة القدر قبيل افطار يوم السابع والعشرين من رمضان. (١٤٣٧ هـ)



بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (٨)	(٩٨) سُوۡرَةُ الۡبَیِّنَةِ مَدَنِیَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة البینه مدنی دے، په دے کښ اته آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة البینة

نوم : په اولنی آیت کښ آخری لفظ [الۡبَیِّنَة] دے، همدا دد ے سورت نوم کیښودے شوے۔ (٢) دیته سورة القیامه، (٣) سورة الۡمُنۡفَکِّیۡن (٤) او سورة الۡبَرِیَّة (٥) او سورة لَمۡ یَکُنۡ (٦) او سورة الۡبَلَد هم وائی۔

د نازلیدو زمانه : د جمهورو علماؤ په نیز دا سورت مدنی دے۔ بعض خلقو دیته مکی وئیلے۔ ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی دی چه سورة [لَمۡ یَکُنۡ] په مدینه کښ نازل شوے، او عائشے رضی الله عنها نه ئے نقل کړی دی چه سورة [لَمۡ یَکُنۡ] په مکه کښ نازل شوے۔

بخاریؒ او مسلمؒ او نورو د انس ﷺ نه نقل کړی دی چه رسول الله ﷺ اُبی بن کعب ﷺ ته وفرمایل : [اِنَّ اللّٰهَ اَمَرَنِیۡ اَنۡ اَقۡرَاَ عَلَیۡكَ الۡقُرۡآنَ قَالَ اُبَیٌّ : آللّٰهُ سَمَّانِیۡ لَكَ ؟ قَالَ : اَللّٰهُ سَمَّاكَ لِیۡ فَجَعَلَ اُبَیٌّ یَبۡكِیۡ]

ماته الله حکم کړے چه زهٔ ستا مخے ته ﴿لَمۡ یَکُنِ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا﴾ اولولم۔ اُبی ﷺ تپوس وکړو : آیا تاته الله تعالیٰ زما نوم اخستے دے؟ وے فرمایل : هاؤ۔ الله تعالیٰ ما ته ستا نوم یاد کړیدے، نو اُبی ﷺ په ژړا شو۔ (بخاری : ٤٩٦٠) مسلم : ١٩٠٠)

په بل روایت کښ دی چه ابی وفرمایل : آیا زهٔ د رب العالمین په دربار کښ ذکر شوے یم، نو پدے سره په ژړا شو۔ (بخاری : ٤٩٦١)

دا ډیر عظیم فضیلت وو چه د یو بنده تذکره د الله په دربار کښ کیږی۔

مناسبت

۱- دا سورت د مخکښې سورت دپاره د علت په شان دے، يعني دا قرآن مونږ نازل کړو پدے وجه چه د اهل کتابو کافرانو او مشرکانو اصلاح بغير ددے قرآن نه نهٔ کيدله.

۲- مخکښې سورت کښې د قرآن کريم عظمت ذکر شو نو دلته د هغې مقصد ذکر کوی.

۳- مخکښې سورت کښې د قرآن کريم صدق (رشتينوالے) ذکر شو نو دلته د رسول الله ﷺ صدق ذکر کوی.

د سورت مقصد

۱- يو پکښې د رسول الله ﷺ شان ذکر دے، څوك چه ددهٔ مخالفت کوی اُور ته به ځی، څوك چه ددهٔ موافقت کوی جنت ته به ځی. او رسول الله ﷺ هغه نبی دے چه د الله تعالیٰ کتابونه لولی.

۲- زمونږ شيخ محترم (رستميؒ) فرمائی : پدے سورت کښې ذکر د نعمت د رسالت دے سره د زجر نه منکرينو د رسالت ته.

بيا د سورت حاصل دا دے چه اوله کښې الله تعالیٰ دا خبره بيانوی چه اهل او مشرکان دواړه د کفر نه نشو راوتلے او په کفر کښې به هميشه پراتهٔ وے تردے چه دوی ته رسول راغے، نو د رسول الله ﷺ د راتگ نه روستو دوی کښې دوه ډلے جوړے شوے، يو موافقين او بل مخالفين. نو دريمه خبره دا ذکر کوی چه چا مخالفت وکړو نو غلط کارئے وکړو، ولے ؟ (لِاَنَّ دِيْنَ الْاَنْبِيَاءِ وَاحِدٌ) ځکه چه د ټولو انبياؤ دين يو دے، پخوانو پيغمبرانو به هم هغه خبرے کولے کوم چه دا رسول ﷺ ئے کوی. دے هم اخلاص، دين او زکاة بيانوی او پخوانو به هم دا بيانولے.

دارنگه پخوانو اهل کتابو ته هم الله تعالیٰ د څلورو خبرو حکم کړے وو چه عبادت يواځے الله لره وکړئ . (حُنَفَاءَ لِلّٰهِ) جوړ شئ، دا مضبوط دين الله تعالیٰ ټولو پيغمبرانو له ورکړے وو. نو ددے نبی او د پخوانو پيغمبرانو دين يو دے.

څلورمه خبره پرے دا تفريع کوی (فَمُخَالَفَةُ هٰذَا الرَّسُوْلِ سَبَبٌ لِلنَّارِ) نو ددے نبی مخالفت د اُور سبب دے. او داسے انسان به په دنيا کښې شر البريه (ناکاره مخلوق) کښې

داخلیږی۔

(وَمُوَافَقَةُ هٰذَا الرَّسُوْلِ سَبَبٌ لِکَوْنِهٖ خَیْرَ الْبَرِیَّةِ وَمِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ) او ددے نبی موافقت سبب دے چه دا انسان به په خیر البریه کښې داخل شی او بیا به جنت ته لاړ شی۔

بیا فرمائی چه د رسول الله ﷺ موافقت څوك کوی؟ نو هغه څوك چه هغهٔ کښې د خپل رب نه خشیت وی۔ او که یره پکښې نهٔ وی نو هغه به مخالفت کوی۔ نو دا شپږ خبرے ذکر کوی۔

لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْکِتَابِ وَالْمُشْرِکِیْنَ مُنْفَکِّیْنَ حَتّٰی
نهٔ وو کافران د کتاب والو نه او مشرکان زائله کیدونکی د دنیا نه تردے
تَاْتِیَهُمُ الْبَیِّنَةُ ﴿۱﴾ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ یَتْلُوْ
چه راشی دوی ته ښکاره دلیل۔ چه هغه استازے دے د طرف د الله نه لوستلے ئے
صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿۲﴾ فِیْهَا کُتُبٌ قَیِّمَةٌ ﴿۳﴾
پاڼرے پاکے۔ پدے کښې حکمونه دی برابر۔ (مضبوط)

تفسیر : په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ خبر ورکړے چه یهود او نصاریٰ او د بتانو عبادت کونکی د کفر او گمراهئ په کندو کښې سرگردانه وو، او د زمانے په تیریدو سره د دوئ کفر نور زیات شو، تردے چه د الله تعالیٰ له طرفه ښکاره او واضح دلیل راغے، یعنی نبی کریم ﷺ د نبی او رسول په حیثیت سره را اولیږلے شو، او په هغهٔ باندے د الله کتاب نازل شو۔ بیا دوئ حق اوپیژندهٔ، او د دوئ نه څهٔ خلق په اسلام کښې داخل شول، او څهٔ په کفر باندے باقی پاتے شول، تردے چه مرگ ورله راغے۔

دا اولنے آیت هم مفسرینو ډیر مشکل گڼړلے دے او ډیر تفسیرونه ئے پکښې کړیدی چه د آیت اصلی مقصد ئے ورك کړیدے۔ لیکن الحمد لله ددے ډیره ښکلے معنیٰ ده چه هغه تا وپیژندله، او وبه ئے پیژنے۔

وَالْمُشْرِکِیْنَ : نه مراد عرب مشرکان بت پرست دی۔

مُنْفَکِّیْنَ : ۱- ددے غوره معنیٰ دا ده اَیْ مُنْفَکِّیْنَ عَنْ کُفْرِهِمْ وَشِرْکِهِمْ وَضَلَالَتِهِمْ۔

يعنى دوئ د كفر او شرك او گمراهئ نه نهٔ وو جدا كيدونكى، دوى غلطے عقيدے اختيار كړے وے۔ وجه دا ده چه څوك رهنماء نهٔ وو چه دوى ته ئے نيغه لاره خودلے وے، او د توحيد بيان ئے ورته كړے وے۔ ځكه چه د نبى كريم ﷺ نه مخكښ د توحيد دعوت كونكے نزدے زمانو كښ نهٔ وو راغلے، ټول پيغمبران ختم شوى وو۔

حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ : يعنى تردے چه راغے دوى ته ښكاره دليل۔ او روستو رَسُوْلٌ مِنَ اللهِ ددے نه بدل دے يعنى دغه ښكاره دليل د الله تعالىٰ د طرف نه رسول راليږل دى۔

او د روستو نه معلوميږى چه [فَلَمَّا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ رَسُوْلٌ مِنَ اللهِ انْقَسَمُوْا اِلَى طَائِفَتَيْنِ] يعنى هركله چه دوى ته دا ښكاره دليل – چه د الله رسول دے– راغلو نو دوى دوه ډلو ته تقسيم شو۔ (لكه وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ) نه معلوميږى۔ چا ايمان راوړو او چا كفر اختيار كړو۔

يَتْلُو صُحُفاً مُّطَهَّرَةً : ددے نه مراد قرآن كريم دے۔ او دا صحيفے به رسول الله ﷺ په يادو لوستلے، ځكه چه هغه په لوستلو باندے نهٔ پوهيدو۔

مطهرة: يعنى پاكے دى د مضمون د شرك او كفر او نا مناسبو خبرو او د غلطئ نه۔

فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ : اَىْ اَحْكَامٌ مُسْتَقِيْمَةٌ) د كتب نه مراد احكام دى، يعنى پدے كښ احكام دى برابر۔ او د عدل موافق۔

دارنگه قرآن كريم كښ پراتهٔ رشتينے خبرونه، د الله تعالىٰ نښے، د هغهٔ احكام او امرونه او منع شوى څيزونه مراد دى۔

يا د كتابونو نه مراد سورتونه دى ځكه چه د قرآن كريم هر سورت په منزله د كتاب دے۔

نو دلته وقف دے، چه هركله رسول الله ﷺ دوى ته راغے نو دے خلقو ورسره اختلاف وكړو، پكار خو دا وه چه دوى د رسول الله ﷺ د راتگ نه روستو خپل كفر او شرك پريخودے وے، يعنى دوى كفر او شرك نهٔ پريخودو تردے چه دا رسول راغے او بيا د هغه د راتگ نه روستو هم دوى كفر اختيار كړو د الله تعالىٰ د پاكو صحيفو نه ئے انكار وكړو نو دوى ډير لوى ظالمان دى۔

۲– بعضو داسے معنى كړيده : (مُنْفَكِّيْنَ عَنِ الدُّنْيَا) يعنى نهٔ وو اهل كتاب او مشركان د دنيا نه زائله كيدونكى (ختميدونكى) تردے چه دا رسول راشى۔ نو دا به داسے آيت شى لكه ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا﴾ الله چا له عذاب نهٔ وركوى تردے چه رسول

راولیږی) نو دوی هم الله تعالیٰ د دنیا نه نۀ ختمول او نۀ ئے هلاکول تردے چه رسول الله ﷺ راغے نو اُوس چه نۀ منی نو دوی به هلاکیږی۔

دا دواړه تفسیرونه صحیح دی او مراد دی۔ او دواړه د واقع مطابق دی۔

پدے صورت کښ به منفکین د اِنْفَكَّ صُلْبُهٗ نه واخستے شی، یعنی ملا ئے جدا شوه او بیا جوړه نشوه نو داسے انسان هلاکیږی۔ نو دے کښ به معنیٰ د هلاکت وی۔ نو حاصل دا شو چه (لَمْ يَكُوْنُوْا مُعَذَّبِيْنَ وَلَا هَالِكِيْنَ اِلَّا بَعْدَ قِيَامِ الْحُجَّةِ عَلَيْهِمْ)

یعنی نۀ وو اهل کتاب او مشرکان هلاك کیدونکی، او عذاب ورکړے شوی مګر پس ددے نه چه په دوی باندے حجت قائم شی او اُوس پرے حجت قائم شو نو اُوس ئے د هلاکت وخت راغلے دے۔

وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا
او نۀ دی جدا شی هغه کسان چه ورته ورکړے شویدے کتاب مګر پس د هغے نه
جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَا أُمِرُوْا
چه راغے دوی ته ښکاره دلیل۔ (چه محمد رسول الله حق دے)۔ او دوی ته حکم نۀ وو
إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ
شوے مګر ددے چه بندګی اُوکړی د الله چه خالص کونکی وی هغۀ لره د بندګئ،
حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ
چه کلك وی په دین او پابندی اُوکړی د مانځه او ورکړی زکاة او دا دین د
الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾
مضبوطوالی دے۔ (دین دے د کلکو خلقو)۔ (دا دین د برابروالی دے)۔

تفسیر : په دے آیتِ کریمه کښ هغه اهلِ کتابو ته زجر او رټنه ورکړے شوے چه هغوئ په رسول اکرم ﷺ ایمان رانۀ وړو۔ الله وویل چه ددے سبب دا نۀ دے چه ګنے دوئ حق نۀ دے پیژندلے، بلکه د حق د واضح کیدو نه او په رسول الله ﷺ باندے د علم راوستو

نه پس دوئ کفر غوره کړے دے۔ یعنی دوئ باندے حجت قائم شویدے، او دا رسول ئے پیژندلے دے چه دا د الله تعالیٰ حق رسول دے۔ مګر د ضد او عناد نه ئے کار اخستے دے۔

مفسرین لیکی چه تمامو یهودو او نصاراؤ به د نبی ﷺ د نبی کیدو نه مخکښ د خاتم النبیین د راتلو انتظار کولو، تردے چه هغه را اولیږلے شو، ددے نه پس ئے په هغهٔ باندے په ایمان راوړو کښ اختلاف اوکړو، بعضِ خلقو ایمان راوړو، او بعضو انکار اوکړو۔ د سورهٔ آل عمران په (۱۹) آیت کښ الله تعالیٰ دا خبره داسے بیان کړے ده:

﴿ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ اِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَائَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ﴾

(او اهلِ کتابو دوئ ته د علم راتلو نه پس، خالص د سرکشئ او حسد د وجے نه اختلاف وکړو)۔

وَمَا اُمِرُوا : پدے آیت کښ اُوس دا خبره بیانوی چه د اختلاف کولو هیڅ وجه نشته ځکه چه د ټولو انبیاؤ دین یو دے۔ یعنی د یهودو او نصاراؤ ددے اختلاف د هغوئ سره هیڅ عقلی یا شرعی دلیل موجود نهٔ وو، ځکه چه نبی کریم ﷺ او قرآن کریم چه دوئ کومے خبرے ته را اوبلل، همغه دعوت موسیٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام ورکړے وو، او همغه خبره تورات او انجیل کښ نازله شوے وه۔

یعنی د ټولو دین یو وو او ټولو انسانانو ته هغوئ ددے خبرے حکم وکړو چه دوئ صرف د یو الله بندګی وکړی، د تمامو عبادتونو نه مقصد صرف د هغهٔ رضا وی، او تمام باطل ادیان پریدی، او په اسلام کښ داخل شی چه د هغهٔ نه سوئ د الله په نیز هیڅ یو صحیح دین نشته، او مونځ وکړی او زکاة ورکړی۔

حاصل دا چه اے یهودو او نصاراؤ! تاسو پدے وجه ددے نبی خلاف وکړئ چه دا نبی ستاسو د دین خلاف خبرے وکړی، هرکله چه دا ستاسو موافقے خبرے کوی نو بیا تاسو ځنګه خلاف کوئ، معلومیږی چه تاسو خپل دین هم نهٔ منئ۔

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ : دین نه مراد عبادت دے، او اخلاص د عبادت نه مراد په هغے کښ نیت کول دی۔ او د الله تعالیٰ دپاره یواځے کول دی۔

او دا آیت دلیل دے چه اودس عبادت دے نو په هغے کښ هم نیت کول فرض دی۔

حُنَفَاءَ : اَیْ مَائِلِيْنَ عَنِ الْاَدْيَانِ كُلِّهَا اِلٰى دِيْنِ الْاِسْلَامِ۔

یعنی مائله کیدونکی د ټولو دینونو نه دین اسلام ته۔

سوال : مخلصين کښې توحيد مراد شو نو بيائے حُنَفَاءَ ولے ووئيلو ؟

جواب دا دے چه په مُخۡلِصِين کښې د عقيدے توحيد مراد دے، او په حُنَفَاء کښې دا خبره ده چه عبادت به په طريقه د انبياء عليهم السلام سره کوی۔

فائده : مطلق حنيف هغه شخص ته وائی چه د اصولو د نورو دينونو والو (يهود، نصارىٰ، صابئين، مجوس او مشرکانو) نه به بيزاره او جدا وی، دارنګه د ټولو دينونو د فروعو نه به مائل وی، او د هغه دينونو د خطاء او نسيان نه به نيك عمل ته مائل وی، او دا مقام د تقوىٰ دے، او د مکروهاتو نه به مستحباتو ته مائل وی، او دا اول مقام د ورع دے۔ او د فضول کارونو (ما لا يعنى) نه به مقصدی کارونو ته مائل وی، او دا دويم مقام د ورع دے۔ او د هغه کارونو نه به هم مائل وی چه هغه فضول کارونو ته راخکل کوی، د هغې سبب وی، او دا مقام د زُهد دے۔

نو دا آيت د اخلاص دواړو مقاماتو دپاره جامع شو چه په يو کښې الله تعالىٰ ته نظر دے او بل کښې مخلوق ته۔ (فتح البيان)

وَذَٰلِكَ دِيۡنُ الۡقَيِّمَةِ : توحيد او تمام عبادتونه صرف الله تعالىٰ دپاره خاص کول د الله تعالىٰ صحيح دين دے، چه هغه انسان لره د الله جنت ته رسوی، او د هغهٔ نه سوىٰ تمامے لارے جهنم ته ورونکی دی۔

وذلك : اشاره ده مخکنو درے واړو خبرو ته، نو دا دليل دے چه اعمال په ايمان کښې داخل دی۔

دين القيمة : اَىۡ دِيۡنُ الۡمِلَّةِ الۡمُسۡتَقِيۡمَةِ۔ يعنى دين د هغه ملت دے چه برابر دے۔

يا اَلۡقَيِّمَة صفت د اَلۡجَمَاعَة دے۔ يعنى دا دين دے د کلکو خلقو۔ / دين د هغه خلقو دے چه په توحيد باندے کلك دی۔ (بغوىؒ)

يعنى اے اهل کتابو تاسو چه ددے نبى او ددے دين نه انکار کوئ نو تاسو د پوخ او صحيح دين نه انکار کوئ۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ
یقیناً هغه کسان چه کفرئے کړیدے د اهل کتابو او مشرکانو نه په اُور د جهنم کښ
خَالِدِينَ فِيهَا أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾
به وی، همیشه به وی په هغے کښ دا کسان هم دوی ناکاره دی د مخلوق نه۔
إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ
یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی نیك دا کسان هم دوی
خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ
غوره دی د خلقو نه۔ بدله د دوی په نیز د رب د دوی به جنتونه د همیشوالی وی
تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَّضِيَ
چه بهیږی به لاندے د هغے نه ولے، همیشه به وی په هغے کښ همیشه، راضی دے
اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿٨﴾
الله تعالیٰ د دوی نه او دوی به رضا وی د هغهٔ نه، دا دپاره د هغه چا دی چه یره کوی د رب خپل نه۔

تفسیر : اُوس خلورمه خبره بیانوی چه ددے نبی مخالفت د اُور سبب دے۔ او ددهٔ موافقت سبب د خیر البریه کیدو او د جنتونو دے۔

یعنی کوم اهلِ کتابو او مشرکانو چه په نبی کریم ﷺ باندے ایمان رانهٔ وړو، دوئ باره کښ الله تعالیٰ وفرمایل چه دا خلق د الله تعالیٰ بدترین مخلوق دے، د شادوګانو او خنزیرانو نه هم بدتر دی، او د دوئ استوګنه به جهنم وی چه په دے کښ به دوئ همیشه دپاره سوزی۔

او کوم خلق چه په الله او د هغهٔ په رسول ایمان راوړی، او د اسلامی دین مطابق نیك عمل وکړی، فرائض اداء کړی او د منع شوو څیزونو نه بچ پاتے شی، د دوئ په باره کښ

الله تعالیٰ خپله فیصله صادره کړه چه دوئ د الله بهترین مخلوق دے، ځکه چه دوئ خپل رب اوپیژندۀ، د هغۀ عبادت ئے وکړو، او په اسلامی شریعت باندے د عمل کولو په وجه د دوئ روحونو ته پاکی ملاؤ شوه، او د اُوچتو اخلاقو او کردار نه دوئ ته پوره برخه ملاؤ شوه۔ او د مرګ نه پس چه کله دوئ د خپل رب سره ملاؤ شی، نو اُوسیدو دپاره به دوئ ته د عدن یعنی همیشوالی باغونه ملاویږی چه د هغے لاندے به نهرونه بهیږی۔ په دے جنتونو کښ به دوئ همیشه اوسیږی، هلته نه به هیڅ کله نۀ اوښکل کیږی، او نۀ به ورله مرګ راځی، او هلته به دوئ ته داسے آرام ملاویږی چه د هغے نه به د زیات آرام او راحت تصور هم نشی کیدے۔

وَالْمُشْرِكِيْنَ : دا مجرور دے عطف دے په اهل الکتاب باندے۔

شَرُّ الْبَرِيَّةِ : بریه د بَرَءَ نه دے په معنیٰ د پیدا کیدو سره، نو بریه تمام مخلوق دے، ملائك او جن هم پکښ داخل دی۔ یا دا د بَرَاء نه دے خاورو ته وئیلے شی۔ نو بیا به بریه صرف انسانانو ته وئیلے شی، ځکه چه هم دوی د خاورو نه پیدا دی۔ (فراءؔ)

لیکن اول قول غوره دے، او دلته د بریه په همزه کښ تخفیف شویدے۔ او بل دلیل پرے د سورة الانفال (۵۵/۲۲) آیتونو دی۔

او مفسرینو دلته دوه قوله ذکر کړیدی، یو دا چه دا عام دے ټولو زمانو ته، او ټولو کافرانو او کتابیانو او مشرکانو ته۔ یعنی دا خلق به د هرے زمانے د کافرانو او مشرکانو نه ناکاره وی۔

او دویم قول دا دے چه دا خاص دے په زمانه د نبی کریم ﷺ پورے۔ یعنی د هغه زمانے د ناکاره خلقو نه به ډیر ناکاره وی۔ اول قول صحیح دے۔ ځکه چه همدا ظاهر د آیت دے۔

او ددے وجه نه یهود او نصاریٰ دے آیت ته ډیر په قهر دی چه مونږ ته په قرآن کښ څنګه شر البریة وئیل شویدی حال دا چه مونږ خو بشر دوست یو۔

نو ددے نه دا فائده راووته چه هرکله یهود او نصاریٰ او مشرکان د مخلوقاتو نه ډیر شریان شو نو مسلمان له دا مناسب نۀ دی چه د دوئ تقلید شروع کړی په اعمالو او اقوالو کښ۔ ځکه چه مسلمانان خیر البریة دی نو دوی څنګه د شر البریة پسے روان شی۔ دا خو ډیر لوی جهالت دے۔

او په حدیث د مسلم کښ شر البریه هغه چا ته هم وئیل شویدے چه (اَلَّذِیْ یَسْئَلُ بِاللّٰهِ

وَلَا يُعْطِىْ بِهٖ) چه د الله په نوم سره سوال كوي، او بيا د هغهٔ په نوم وركړه نهٔ كوي.

(مسلم: في الامارة حديث ١٢٥) واحمد٢/٤٤٣)

خَيْرُ الْبَرِيَّةِ: هركله چه بريه لفظ ملائكو ته هم شامل دے، نو بيا ددے نه دا ثابتيږي چه عام مؤمنان د عامو ملائكو نه غوره دي.

رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ : يعني د دوئ د ايمان او طاعت او بندګئ په سبب به الله تعالیٰ د دوئ نه راضي شي، او د الله تعالیٰ به په دوئ باندے خپل فضل او كرم وي، او دوئ له چه كوم جنت، او د هغے بيش بها نعمتونه ملاويږي، د هغے په سبب به دا نيكان بندګان خلق هم د خپل رب نه راضي شي.

ذٰلِكَ : يعني دغه جزاء (بدله).

لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ : دا لويه بدله به هغه بنده ته ملاويږي چه هغه په دنيا كښ د خپل رب نه يريږي، د هغهٔ نافرماني نهٔ كوي، او د هغهٔ په طاعت او بندګئ كښ خپل ژوند تيروي تردے چه مرګ ورله راشي. نو څوك چه د خپل رب نه نهٔ يريږي هغه د رسول الله ﷺ تابعداري نهٔ كوي.

نو حاصل دا راووتو : چه كافرانو د اهل كتابو او مشركانو كفر نهٔ پريخودو تردے چه رسول راغے، او د رسول د راتګ نه بعد ئے سره د علم نه كفر وكړو، او د دوئ او ددے نبي دين يو دے، او بيا هم كفر كوي، نو جهنم ئے ځاى دے، او دوى شر البريه دي، په خلاف د مؤمنانو چه هغوى خير البريه دي او جنت ئے ځاى دے. نو پدے كښ ډير ښكلے دعوت دے.

ختم شو تفسير د سورة البينه په (٢٨) رمضان ١٤٣٧ هـ موافق (٤/٧/٢٠١٦).



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

رکوعاتها (۱)	(۹۹) سُوۡرَةُ الزِّلۡزَالِ مَدَنِيَّةٌ	آیاتها (۸)

سورة الزلزال مدنی دے، په دے کښې اته آيتونه او يوه رکوع ده

تفسير سورة الزلزال

نوم : دے سورت ته سورة الزلزله او سورة الزلزال وائی۔

د نازليدو زمانه : دا سورت د ابن عباس ﷺ او قتادهٌ په نيز مدنی دے۔ او د ابن مسعود او جابر رضی الله عنهم او عطاءٌ په نيز مکی دے۔ ابن مردويهٌ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی چه ﴿إِذَا زُلۡزِلَتۡ﴾ په مدينه کښې نازل شوے۔

ترمذیٌ، ابن مردويهٌ او بيهقیٌ د انس ﷺ نه نقل کړی چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَنۡ قَرَأَ إِذَا زُلۡزِلَتۡ عُدِلَتۡ لَهٗ بِنِصۡفِ الۡقُرۡآنِ] (څوك چه ﴿إِذَا زُلۡزِلَتۡ﴾ ولولی، هغهٔ له به د نيمائی قرآن لوستلو ثواب ملاويږی، او څوك چه ﴿قُلۡ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ ولولی، هغهٔ له به د دريمے برخے قرآن ثواب ملاويږی، او څوك چه ﴿قُلۡ يَا أَيُّهَا الۡكَافِرُوۡنَ﴾ ولولی، هغهٔ له به د څلورمے برخے قرآن ثواب ملاويږی)۔ دا روايت د سلمه بن وردان نه راغلے دے، او هغه ضعيف دے۔ نو اوله جمله خو ضعيفه ده، او روستنو جملو دپاره شواهد شته نو ددے وجه نه شيخ البانیٌ ورته حسن او صحيح وئيلی دی۔

په ابوداود کښې دی : چه رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه په دواړو رکعتونو کښې (اذا زلزلت) ولوستلو۔ ابوداود : (۸۱٦)

مناسبت ۔

۱- مخکښې سورتونو کښې (د سورة الضحیٰ نه) د ايمان درے اصول ذکر شو، رسالت، توحيد او قرآن نو پدے سورت کښې څلورم اصل ذکر کوی چه هغه اثبات د بعث بعد

الموت دے۔

۲- مخکښې سورت کښې منکرینو ته زجر او رټنه وه نو دلته ورله د آخرت یرے بیانیږي۔

۳- مخکښې سورت کښې خیر البرية او شر البريه ذکر شو نو دلته د هغوی په ورځ د جزاء کښې احوال ذکر کوی۔

د سورت مقصد

هَيْبَةُ يَوْمِ الْقِيَامَةِ بِأُمُوْرٍ۔

هیبت د ورځې د قیامت دے په یو څو امورو سره یو الزلزله۔ (د زمکے زلزله)،

دویم شَهَادَةُ الْاَرْض۔ (د زمکے گواهي)

دریم: (رُؤْيَةُ الْاَعْمَال) د عملونو لیدل۔ څلورم جَزَاءُ الْاَعْمَال (د عملونو بدلے)۔

قیامت داسے هیبتی دے چه ستا هر څه به راښکاره شی، او د انسان ټول اعمال خلقو ته راښکاره کیدل ډیر تکلیف دے۔ بیا به ددے اعمالو جزاء او سزا ملاویږی۔

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ
کله چه اُوخوزولے شی زمکه په خوزولو د هغے سره۔ او را اُوباسی زمکه
أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾ وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ
بوجونه خپل۔ او وائی به انسان څه شویدی دے زمکے لره۔ په دغه ورځ به بیانوی
أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾ يَوْمَئِذٍ
زمکه خبرونه خپل۔ پدے وجه چه رب ستا حکم کړیدے هغے ته۔ په دغه ورځ به
يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾
واپس شی خلق مختلفے ډلے، دے دپاره چه اُوخودلے شی دوی ته عملونه د دوی۔
فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ
نو چا چه عمل اُوکړو په اندازه د ذرے خیر اُوبه وینی هغے لره۔ او چا چه عمل اُوکړو

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهٗ ﴿٨﴾

په اندازه د ذرے بد وُبه وینی هغے لره۔

تفسیر: نو پدے کښې د قیامت په څلورو طریقو سره هیبت ذکر دے،

إِذَا زُلْزِلَتِ: یعنی چه د قیامت راتللو په وخت به زمکه په ډیر زیات سخت خوزیدو سره وخوزیږی، په دے باندے ولاړ تمام کورونه به ونړیږی، او په زمکه به هوار شی، غرونه به ریزه ریزه شی، ټولے غونډئ به برابرے شی، او ټوله زمکه به یو چټل میدان جوړ شی، نهٔ به په دے کښې څهٔ کوږ والے پاتے شی او نهٔ کوم ښکته پورته ځای.

زِلْزَالَهَا: نسبت د زلزلے ئے زمکے ته وکړو مراد ترینه دا دے: [زِلْزَالَهَا الَّذِیْ يَلِيْقُ بِهَا] په هغه خوزولو سره چه ددے سره لائق دے۔ دا به پرے کله راځی؟ نو دا کله چه قیامت قائمیږی او دویمه شپیلئ شروع شی۔ د زمکے یوه یوه زلزله د قیامت نه مخکښې ده چه په هغے کښې به سرهٔ او سپین راوځی او دا به د دجال زمانه وی۔

لکه امام مسلمؒ او ترمذیؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله ﷺ وفرمایل:

[تَقِیْءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فَيَجِیْءُ الْقَاتِلُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَتَلْتُ، وَيَجِیْءُ الْقَاطِعُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَطَعْتُ رَحِمِیْ وَيَجِیْءُ السَّارِقُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَطَعْتُ يَدِیْ ثُمَّ يَدَعُوْنَهٗ فَلَا يَأْخُذُوْنَ مِنْهُ شَيْئًا]

زمکه به د خپل جګر ټکرے قے کړی یعنی سرهٔ او سپینه به راوباسی لکه د ستنو په شان، نو قاتل به راشی وبه وائی چه ما پدے څیزونو سره قتل کولو، او صله رحمی پریکونکے به راشی وبه وائی پدے باره کښې ما صله رحمی پریکړے وه، او غل به راشی وبه وائی چه ددے په باره کښې زما لاس پریکړے شوے وو۔ بیا به هغه پریدی او هیڅ شے به ترے وانهٔ خلی۔

(مسلم فی الزکاة حدیث ٦٢ والترمذی فی الفتن باب ٣٦ رقم: ٢٢٠٨)

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا: او زمکه به خپل بوجونه راوباسی۔ د بوجونو نه مراد مړی دی۔ او دا کار به په دویمه شپیلئ سره کیږی۔

اثقال جمع د ثِقل ده، بار او بوج ته وائی۔ او مړی هم په زمکه باندے بوج دے۔

وَقَالَ الْإِنْسَانُ: یعنی کافر انسان چه هغه د مرګ نه پس په دوباره ژوند او قیامت

بانديے ايمان نۀ لرلو، كله چه زمكه په انتهائي سختئ سره خوزيدونكے ووينى، نو د ډيرے حيرانتيا او ويرے نه به ووائى چه نن په دے څۀ شوى دى.

ليكن مومن انسان به داسے تپوس نۀ كوى ځكه چه ددۀ خو ايمان وو چه كله قيامت راشي نو زمكه به ډيره زياته سخته وخوزولے شي.

❁ يا د انسان نه هر انسان مراد دے، او دا هيبت په هر انسان بانديے راځي اګركه مؤمن وى. مؤمن ته به روستو امن ملاويږى.

مَا لَهَا : يعني څه وجه ده او څه شويدى زمكے له چه خوزيږى او بوجونه راوباسى. يعني كافر انسان به په هغه وخت كښ د قيامت كار ناشنا ګڼړى او حيرانتيا به ښكاره كوى.

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ : په دے ورځ چه انسانانو په زمكه كوم نيك يا بد عمل كړے وى، زمكه به ددے ګواهي وركوى، او دا كار به دا د خپل رب د حكم عملى كولو دپاره كوى، او د هغۀ نه به هرګز نافرمانى نۀ كوى.

احمدؒ، ترمذيؒ، نسائيؒ او حاكمؒ او نورو د ابو هريره ﷺ نه روايت كړے چه رسول الله ﷺ ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ ولوستلو، او وے وئيل: آيا تاسو ته پته ده چه د زمكے خبرونه څۀ دى؟ صحابو ووئيل: الله او د هغۀ رسول ښۀ پوهيږى. وے فرمايل: (فَاِنَّ اَخْبَارَهَا اَنْ تَشْهَدَ عَلٰى كُلِّ عَبْدٍ وَاَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلٰى ظَهْرِهَا، تَقُوْلُ عَمِلَ كَذَا وَكَذَا فَهٰذَا اَخْبَارُهَا)

(ددے خبرونه دادى چه دا به د هر بنده او بندئ په باره كښ د هغه عملونو ګواهي وركوى كوم چه هغۀ په زمكه بانديے كړى وو، وائى به چه فلانئ ورځ ئے په ما بانديے فلانے فلانے عمل كړے وو. همدا ددے خبرونه دى). نو كه څوك نيك عمله وى نو نيكه ګواهي به كوى او كه بد عمله وى نو بده ګواهي به پرے كوى. ددے وجه نه مؤمن بنده به د زمكے نه هم حياء كوى. زمكه تا ته ګورى او درنه خبريږى.

يومئذ : يعني په هغه ورځ چه زلزله راشي او مړى د قبرونو نه راوځي.

بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا : وحي دلته په معنىٰ د حكم سره دے. يعني ستا رب ورته حكم كړيدے ځكه داسے ګواهي وركوى. د الله تعالىٰ په حكم عمل كوى.

يَوْمَئِذٍ : دا ئے دوباره راوړو دپاره د استحضار د قيامت.

يَصْدُرُ النَّاسُ: په دے ورځ به خلق د خپلو قبرونو نه را اوځي او په مختلفو ډلو كښ به

د حساب میدان طرفته منډې وهي، دې دپاره چه دوئ د خپلو عملونو نتیجه په خپلو سترګو اووینې۔
صدور اصل کښې د ګودر نه راواپس کیدو ته وائي۔ نو دلته به هم د قبرونو نه راوځي، نو د صدور نه مراد د قبرونه راژوندی کیدل دی۔
دویم قول دا دے چه ددے نه مراد دا دے چه خلق به د حساب د میدان نه په خپلو خپلو حالتونو او د خپلو خپلو عملونو مطابق جنت یا جهنم طرفته روان شي، څوك به مطمئن وي او څوك به یریدونکے، د جنتیانو رنګونه به سپین وي، او د جهنمیانو به تور، او بعضِ خلق به ښي طرفته روان وي، او بعضِ نور به ګس طرفته، یعنی د خپلو عقائدو او اعمالو د اختلاف مطابق به د دوئ حالتونه مختلف وي۔
أَشْتَاتاً : جمعه د شَتٌّ یا د شَتِيتٌ ده، او پدے جمع ذکر کولو کښې اشاره ده ډیرو ډلو ته لکه چه مخکښې بیان شو۔
لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ : مراد ددے نه نفس عملونه دي، یا جزاء د عملونو ده، یا کتابونه د اعمالو د دوئ دي۔ اول قول ظاهر دے۔ او نور هم مراد دي۔ یعنی په کتاب کښې به ئے هم ورته ښائي او عملونه به هم ورته ښائي، او اُوس پدے زمانه کښې ددے مثال ویډیو ده۔
فَمَنْ يَعْمَلْ : دا تفصیل دے د (لِيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ)۔
دارنګه که څوك ووائي چه غټ غټ عملونه به بندګانو ته خودلے شي او واړه واړه به نۀ خودلے کیږي، نو الله فرمائي : چه هر عمل اګرکه د ذرے په اندازه وي هم خودلے کیږي به۔
دے ته رسول الله ﷺ آیت فاذه جامعه وئیلے دے۔ رسول الله ﷺ نه د خرو د زکاة په باره کښې تپوس وشو نو هغه وفرمایل [مَا اُنْزِلَ عَلَيَّ اِلَّا هٰذِهِ الآيَةُ الْجَامِعَةُ الْفَاذَّةُ ﴿فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ، وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ (بخاری فی الاشربة باب ۱۲)
په ما باندے د خرو په باره کښې صرف دا جامع او یکتا آیت نازل شویدے۔ (یعنی په خپل مضمون کښې یکتا دے او د خیر او د شر وجوه ئے راجمع کړیدي)۔
حاصل دا چه په خرو کښې زکاة نشته البته د خیر کارونو کښې ئے استعمالول پکار دي۔ دنیا کښې د هیچا عمل ضائع نۀ ځي۔
د فرزدق شاعر ترۀ صعصعه بن معاویه ﷺ باندے رسول الله ﷺ دا آیت ولوستلو نو وے

وفرمایل : (حَسْبِیُ، لَا اُبَالِیُ اَنُ لَّا اَسْمَعَ غَیْرَهَا) دا زما کافی دے، زما هیڅ پرواه نشته که زۀ نور څه وانۀ ورم۔ (مسند احمد : ٢٠٦١٢) اسناده صحیح)

کعب الاحبارؒ وئیلی دی : [لَقَدُ اُنُزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ﷺ آیَتَانِ اَحُصَتَا مَا فِی التَّوُرَاتِ وَالْاِنُجِیْلِ وَالزَّبُوْرِ وَالصُّحُفِ ﴿فَمَنْ یَّعْمَلْ﴾ الخ)۔

یقیناً په محمد ﷺ باندے دوه داسے آیتونه نازل شویدی چه د تورات او انجیل او زبور او صحیفو هر څه ئے راګیر کړیدی۔ (القرطبی، السراج المنیر وفتح البیان)

د مقاتلؒ نه نقل دی چه دا آیت د دوه سړو په باره کښ نازل دے چه یو ته به سوالګر راتللو نو هغه به دا کمه ګڼړه چه هغه ته کجوره، یوه قطره روټئ او یو غوز ورکړی، او بل تن به ګناه سپکه ګڼړله لکه دروغ، غیبت، او بد نظری او دا به ئے وئیل : چه الله تعالیٰ خو د کافرانو سره د اُور وعده کړیده۔

ابن مسعود ؓ فرمائی : [هٰذِهِ الآیَةُ اُحُکَمُ آیَةٍ فِی الْقُرْآنِ وَاُصُدَقُ، وَقَدُ اِتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلٰی عُمُوْمِ هٰذِهِ الآیَةِ]

دا آیت ډیر محکم او ډیر رشتینی او جامع آیت دے۔ یعنی ددے مضمون به خامخا رشتینی کیږی چه انسان ته به د هر خیر او شر بدله ملاویږی۔ (فتح البیان)

فَمَنْ : لفظ کښ ډیر عموم دے، کافر او مسلمان او هر نیك او بد عمل تولو ته شامل دے۔ امام محی السنة بغویؒ د ابن عباس ؓ نه نقل کړیدی :

[لَیْسَ مِنْ مُؤْمِنٍ وَلَا کَافِرٍ عَمِلَ خَیْرًا کَانَ اَوْ شَرًّا اِلَّا اَرَادَهُ اللّٰهُ تَعَالٰی : فَاَمَّا الْمُؤْمِنُ فَیَغْفِرُ لَهٗ سَیِّئَاتِهٖ وَیُثِیْبُهٗ بِحَسَنَاتِهٖ، وَاَمَّا الْکَافِرُ فَتُرَدُّ حَسَنَاتُهٗ تَحَسُّرًا وَیُعَذَّبُ بِسَیِّئَاتِهٖ]

چه هر مؤمن او کافر چه نیك یا بد عمل وکړی، نو الله تعالیٰ به ئے ورته ضرور وربښائی، نو مؤمن ته به د ګناهونو معافی وکړی، او د نیکیو به نیکه بدله ورکړی، او هرچه کافر دے نو د هغۀ نیکیانے به (هغه ته وخودلے شی بیا به) د هغۀ د حسرت (افسوس کولو) دپاره رد کړے شی۔ او په ګناهونو به ورته عذاب ورکړے شی۔ او دے احتمال سره د قرآن لفظ او معنیٰ موافقت کوی۔ (فتح البیان)۔

الله تعالیٰ د سورۃ النساء په (٤٠) آیت کښ فرمائیلی دی :

﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا یَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾

(بیشکه الله د یوے ذرے برابر هم ظلم نۀ کوی)۔

او د سورۀ آل عمران په (۳۰) آیت کښې ئې فرمائیلي دي:
﴿ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيْدًا ﴾
(په کومه ورځ چه هر یو کس خپلې کړې نیکئ او خپلې کړې بدئ بیامومي، آرزو به کوي چه کاش! ددۀ او د بدیو ترمینځه ډیر زیات لرې والې وې). نو هر خیر او بد عمل به انسان ته خودلې شي.

ذَرَّةٍ : د ذره معنیٰ مخکښې تیره شویده چه هغه غبار او دوړې ته وائي چه د نمر په شعاعو کښې ښکاره کیږي. یا په تلي باندې د وګوتې د مږلو په وجه چه کوم خیری راجمع شي دغې ته وائي. یا سرو میږانو ته وائي.

مؤمن به عمل سپك نۀ ګڼړي. عائشې رضی الله عنها یوه ورځ یوه انګور دانه خیرات کړه، چا ورته ووېل چه دا څه شې دې؟ نو هغې ورته وفرمایل: تا نۀ دي آوریدلی ﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهُ ﴾ یوه ذره هم لیدلې شي. نو د انګور دانه کښې څو مره ذرات دي. نو هیڅ عمل د خیر او شر به سپك نۀ ګڼړې.

مقاتل داسې معنیٰ کوي: چا چه په دنیا کښې د ذرې په اندازه د خیر کار وکړو نو هغه به په قیامت کښې ویني نو په هغې به خوشحاله شي. او دغه شان چا چه په دنیا کښې د ذرې په اندازه بد عمل وکړو نو د قیامت په ورځ به ئې ویني نو خفه به پرې شي.

ختم شو تفسیر د سورۃ الزلزال په توفیق د رب العالمین سره.



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۱۱)	(۱۰۰) سُوۡرَةُ الۡعَادِيَاتِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة العادیات مکی دے، په دے کښې یوولس آیتونه، او یوه رکوع ده

تفسیر سورة العادیات

نوم : د اولنی آیت اولنے لفظ [وَالۡعَادِيَاتِ] دے، همدا دد ے سورت نوم کیښودل شو ے۔
د نازلیدو زمانه : دا سورت د ابن مسعود ﷺ، جابر ﷺ، حسنؒ، عکرمهٌ او عطاءٌ په نیز مکی دے۔ او د ابن عباس ﷺ، انس بن مالك ﷺ او قتادهٌ په نیز مدنی دے۔ ابن مردویهٌ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی دی چه سورۀ [وَالۡعَادِيَاتِ] په مکه کښې نازل شو ے۔

مناسبت

۱ – مخکښې سورت کښې هم اثبات د آخرت او دلته هم اثبات د آخرت دے۔
۲ – مخکښې اثبات د آخرت او تخویف اخروی وو نو دلته د آخرت نۀ منونکو ته زجر او رټنه ورکوی۔

د سورت مقصد

بَيَانُ كُنُوۡدِيَّةِ الۡاِنۡسَانِ۔ **یعنی** د انسان ناشکری بیانوی۔
په بل تعبیر سره : اَلزَّجۡرُ عَلٰی كُنُوۡدِيَّةِ الۡاِنۡسَانِ۔ د انسان په ناشکرئ باندے رټنه ورکوی۔
یعنی دنیا تا له پیدا ده، او تۀ الله له پیدا ئے نو د الله شکر وکړه۔
پدے باندے اول قسمونه راوړی، بیا د انسان ناشکری بیانوی بیا ئے د ناشکرئ نه منع کوی په یره د آخرت سره، چه ناشکری مۀ کوه ځکه چه تۀ به د قبر نه پورته کیږے او ستا په هر عمل به حساب کیږی، ستا د زړۀ اعمال او رازونه به رابنکاره کیږی۔

وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ
قسم دے په اسونو منډه وهونکو چه هنړیږی۔ بیا اُور راویستونکی دی
قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحاً ﴿٣﴾ فَأَثَرْنَ
په خپو وهلو سره۔ بیا حمله کونکی دی په وخت د صبا کښ۔ نو را اُوچت کړی
بِهِ نَقْعاً ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ
په دے سره غبار۔ نو ننوزی پدے غبار کښ ډلے د کافرانو ته۔ یقیناً انسان
لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ﴿٦﴾ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾
د رب خپل دپاره ډیر ناشکره دے۔ او یقیناً هغه په دے باندے خامخا خبردار دے۔
وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا
او یقیناً دے د محبت د مال دپاره ډیر سخت دے۔ آیا نو نهٔ پو هیږی دے کله چه به
بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا
راپورته کړے شی هغه څوك چه په قبرونو کښ دی۔ او راښکاره به کړے شی هغه څه
فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾
چه په سینو کښ دی۔ یقیناً رب د دوی په دوی باندے په دغه ورځ خامخا خبردار دے۔

تفسیر : دلتـه الله تعالیٰ په اسونو قسَم خوړلے چه په دے کښ واقعی د الله تعالیٰ لوئے لوئے نښے موندلے کیږی، او په دے کښ د انسان دپاره ډیرے فائدے شته دے۔ او د اسونو په هغه حالتونو باندے ئے قسَم خوړلے چه په هغے کښ نور حیوانات د دوئ سره شریك نهٔ دی۔

الله تعالیٰ فرمائی : په هغه اسونو باندے قسَم دے چه هغه انتهائی سختئ سره دشمن طرفته منډے وهی، چه ددے په سبب د دوئ د سینے نه یو خاص آواز را اُوځی۔ او په هغه اسونو قسَم دے چه د هغوئ د تیزے منډے وهلو په وجه د دوئ د سُمانو مړلو سره د

لاړے د کانړو نه بڅرکی آلوزی، او په هغه اسونو قسَم دے چه هغوئ د صبا په وخت په دشمنانو باندے حمله کوی۔ دے دپاره چه هغوئ ناګهانه ونیولے شی، او هغوئ ته د دفاع کولو یا تښتیدلو موقع ورنهٔ کړے شی، ګنے د دشمن خلاف فوج کشی او د اسونو په ذریعه په دوئ باندے په هر مناسب وخت کښې حمله کیدلے شی۔

او دا اسونه د خپلے تیز رفتارئ او په دشمن باندے د سختے حملے په وجه فضاء ګرد آلوده جوړوی، او د اسلام مجاهدین اخلی او د دشمنانو په صفونو کښې ورننوځی، او هغوئ تس نس کوی۔

توضیح المفردات

اَلْعَادِيَاتِ : جمع د عَادِيَةٌ ده د عَدُوٌ نه دے په معنیٰ د تیزے منډے سره۔

ضَبْحًا : د اس د سینے آواز دے چه په وخت د منډه کښې ئے راوباسی، او خاصکر په هغه حال کښې چه واګے ئے خولے ته اچولے شوی وی۔ (فراءؒ)

او ضبحًا مفعول مطلق دے د پټ فعل دپاره یعنی يَضْبَحْنَ ضَبْحًا۔

یعنی آواز ووباسی په آواز ویستلو سره۔ اهل لغت وائی چه ضبح په اصل کښې د ګیدړ او لومبړے د آواز دپاره استعمالیدو، بیا عربو د آسونو دپاره استعمال کړو۔

او بعض علماؤ علی ﷺ ته منسوب کړیدی چه هغه د عادیات نه اُوښان مراد کړیدی، لیکن غوره قول د ابن عباس ﷺ دے۔ او د ابن عباسؓ او د علی بن ابی طالبؓ پدے باره کښې مناظره وه۔ علی ﷺ وفرمایل : (مَا کَانَتْ لَنَا خَیْلٌ یَوْمَ بَدْرٍ)

د بدر په ورځ زمونږ سره آسونه کوم وو سوئ د اس د مقداد بن الاسود نه۔

ابن عباس ﷺ ته خبر وشو نو هغه وفرمایل : (اِنَّمَا کَانَ ذٰلِكَ فِیْ سَرِیَّةٍ بُعِثَتْ) چه په سریه کښې به وو۔

دارنګه وے فرمایل : روستو ﴿فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا﴾ دلیل دے، ځکه چه غبار راپورته کول د اسونو په حوافرو (سومانو) سره کیږی۔ نهٔ د اُوښانو په ظلفو (خپړو) سره۔

(ابن جریر، ابن المنذر، ابن ابی حاتم)

او خبره د ابن عباس ﷺ غوره ده۔

او کومو علماؤ چه وئیلی دی چه دا سورت مکی دے، او په مکه کښې جهاد نهٔ وو، نو **جواب** دا دے چه اسونه په هره زمانه کښې وی، ولے کافرانو اسونه نهٔ زغلول۔ او دلته هم

الله تعالیٰ کافرانو ته وائی چه تاسو ناشکرهٔ یئ خپلو اسونو ته وګورئ چه هغوی ستاسو څنګه خبره مني او ستاسو شکر کوی. لکه روستو راځی.
بعض وائی: ضَبْحًا مصدر تاکیدی دے دپاره د ضابحات. اَیْ ضَابِحَاتٍ ضَبْحًا. او ضبح یو نوع ده د سیر (مزل) کولو، او د منډے.
عرب وائی: ضَبَحَ الْفَرَسُ اِذَا عَدَا بِشِدَّةٍ.
یعنی اس چه کله تیزه منډه کړی نو عرب وائی ضَبَحَ الْفَرَسُ. اَس منډه وکړه.
او بعض وائی: ضبح د اس د خپو آواز دے کله چه منډه کړی.
د ابن عباس رضی الله عنه نه د آواز معنیٰ نقل ده،
او هغه دا هم وئیلی دی چه عادیات په قتال کښ اسونه دی، او د هغے ضبح دا ده چه خپلے شونډے د منډے په وخت رازوړندے کړی.
فَالْمُوْرِيَاتِ: د اِیْرَاء نه دے، او هغه د وَرْیٌ نه دے، د یو څیز نه اُور راویستل دی.
قَدْحًا: دا منصوب دے په شان د ضَبْحًا. قدح په اصل کښ اُور راویستلو ته وئیلے شی، او دلته مطلب دا دے چه اسونه په منډه کښ خپلے خپے د کانړو سره وجنګوی نو د هغے نه اُور راپورته شی. او قدح وهل د چقماق دی، یعنی دوه کانړی جنګول او د هغے نه اُور راویستل. او پدے کښ هم تیزے منډے وهلو ته اشاره ده.
فَالْمُغِيْرَاتِ: د اِغَارَةٌ نه دے په معنیٰ د حملے کولو دپاره د قتل او د قید کولو او د لوټ مار کولو.
صُبْحًا: دا منصوب دے په ظرفیت سره. یعنی په وخت د صبا کښ. او د صبا تخصیص ئے د حمله کونکو د عادت په بناء سره وکړو چه د شپے په وخت کښ اسونه وزغلوی نو د صبا په وخت کښ په دشمن باندے حمله وکړی.
فَاَثَرْنَ: را اُوچتولو ته وئیلے شی.
بِهٖ: (ه) ضمیر عَدْو (منډے) ته راجع دے. یا به په معنیٰ د فیه سره دے او ضمیر صبا ته راجع دے.
نَقْعًا: غبار او دوړه.
فَوَسَطْنَ بِهٖ: یعنی دا اسونه ننوزی په غبار کښ ډلے د دشمنانو ته.
جَمْعًا: په معنیٰ د ډلے او جماعت سره دے.

إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ : دا جواب قسم دے۔

مناسبت دا دے چه وګوره اس ته چه ستا داسے تابع دے چه ته پرے جنګ کوے، او دشمن له ئے ورولے او هغه ترے خوله او ښتونه په تورو سره وهي، او په نیزو باندے ئے وهي مګر بیا هم ستا تابعداری کوي، په غبارونو کښې او د دشمنانو په دستو او ډلو کښې ننوزي او ستا تابعداری کوي او ځان دربانده وژني۔ نو وګوره یو غټ مخلوق ستا تابعداری کوي او هغه ستا شکر ګذار دے او ته یو ضعیف انسان ئے د خپل لوی الله اطاعت او شکر نکوے۔ نو استدلال د اسونو نه دے په ناشکرئ د انسان باندے۔

کنود : ۱- اَلَّذِیْ یَعُدُّ الْمَصَائِبَ وَیَنْسَی النِّعَمَ۔ (حسن)

دا هغه انسان دے چه مصیبتونه خو شماری لیکن نعمتونه او احسانات هیروی۔ یعنی بے شماره نعمتونه د الله تعالیٰ پرے شته هغه ترے هیر دی لیکن که یو مصیبت پرے راشي نو د الله تعالیٰ نه مره وَر وی، او شکایتونه کوی۔

۲- د ابن عباس ﷺ نه نقل دی : چه زمونږ په لغت کښې کنود کَفُوْر ته وائی۔ یعنی ناشکره، او همدا تفسیر ددے مقام سره مناسب دے۔ (ابن جریر، قرطبی، ابن کثیر)

۳- د ابن عباس ﷺ نه دا هم نقل دی : اَلَّذِیْ یَمْنَعُ رِفْدَهٗ وَیَنْزِلُ وَحْدَهٗ وَیَضْرِبُ عَبْدَهٗ۔

دا هغه دے چه عطیه (ورکړه) د خلقو نه منع کوی، او د خیر ځایونو ته یواځے تلل غواړی، او خپل غلام (خادم) وهی۔ دا هم ډیر ښهٔ تفسیر دے،

او په یو مرفوع روایت کښې هم راغلے دے لیکن هغه ضعیف دے، او موقوف اصح دے۔

ددے مطلب دا دے چه خلقو سره احسانات نکوی، او د ټولو خیرونو خپل ځان ټهیکیدار ګڼړی چه مالداری، او عزت او هر شے دِے صرف ما ته حاصل وی، نهٔ بل چا ته او په کمزورو باندے ظلم کوی۔ لکه دا خوئی د ډیرو فاسقانو مالدارو دے۔

بعض وائی : کنود د کَنُدْ نه اخستے شویدے، او کند قطع ته وائی ګویا که کنود هم هغه شکر قطع کوی د کوم یو ځای کول چه مناسب وی۔

٤- بعض وائی : اَلْبَخِیْلُ السَّیِّءُ الْمَلَکَةِ۔ بخیل ته وائی په لغت د بنی مالك او کنانه۔

٥- کنود حَسُوْد (حسد ګر) ته وائی۔

٦- اَلْجَهُوْلُ لِقَدْرِهٖ۔ د الله تعالیٰ د قدر او عزت نه ناخبره۔

٧- د کنده قبیلے په لغت کښې کنود عاصی (نافرمان) ته وائی۔

۸- هُوَ الَّذِیْ یَکْفُرُ بِالْیَسِیْرِ وَلَا یَشْکُرُ الْکَثِیْرَ ۔ دا هغه شخص دے چه په لږ ناشکری کوی، یا د لږ نه انکار کوی او د ډیر شکر نۀ کوی۔
۹- (اَلْجَاحِدُ لِلْحَقِّ) د حق نه انکار کونکے۔
۱۰- ابوبکر الواسطیؒ وائی : (اَلْکَنُوْدُ : اَلَّذِیْ یُنْفِقُ نِعَمَ اللّٰهِ فِیْ مَعَاصِی اللّٰهِ) ۔ کنود هغه دے چه د الله تعالیٰ نعمتونه د هغۀ په نافرمانۍ کښې لګوی۔
۱۱- امام ترمذیؒ وائی : (اَلَّذِیْ یَرَی النِّعْمَةَ وَلَا یَرَی الْمُنْعِمَ) نعمتونه وینی لیکن منعم ته نۀ ګوری۔
۱۲- مبردؒ وائی : (اَلْمَانِعُ لِمَا عَلَیْهِ) دۀ بانـدے چه کوم حق یا ذمه واری ده، د هغے منع کونکے۔ ددے ټولو معانی رجوع ناشکرۍ او انکار ته کیږی۔ (قرطبی)
لیکن دلته صرف اوله او دویمه معنیٰ ډیره غوره ده۔

وَإِنَّهٗ عَلٰی ذٰلِكَ لَشَهِیْدٌ : یعنی د الله تعالیٰ دا ناشکره بنده په خپله ناشکرۍ او احسان هیرولو باندے ګواه وی، ددۀ زړۀ ګواهی ورکوی چه دے د خپل رب ناشکره بنده دے، او ددے ناشکرۍ نښے نښانے هم ددۀ په ذات باندے څرګندے وی۔
ددے معنیٰ مطابق به په ﴿وَإِنَّهٗ عَلٰی ذٰلِكَ لَشَهِیْدٌ﴾ کښې د [إِنَّهٗ] ضمیر انسان ته راجع وی، (دا قول د قتادهؒ، حسنؒ، محمد بن کعبؒ دے)۔
۲- یا [وَإِنَّهٗ] ضمیر الله ته راجع دے، یعنی الله تعالیٰ د خپل بنده په ناشکرۍ او احسان هیرولو ګواه دے۔ ددے معنیٰ په لحاظ په دے کښې د الله له خوا زبردسته دهمکی ده چه رب العالمین ددۀ احسان هیرول وینی، او د قیامت په ورځ به ورله ددے بدله ورکوی۔
دا معنیٰ د جمهورو مفسرینو ده لیکن دلته اولنۍ معنیٰ غوره ده ځکه چه روستو ﴿وَإِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَیْرِ لَشَدِیْدٌ﴾ کښې [إِنَّهٗ] ضمیر انسان ته راجع دے۔

وَإِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَیْرِ لَشَدِیْدٌ : او معنیٰ داده چه انسان مال او دولت سره بے انتهاء محبت کوی، او ددے حاصلولو دپاره هر ممکن کوشش کوی، او خپل ځان په سخت محنت کښې اچوی۔ د مال خبره ئے ځکه ذکر کړه چه د مال د محبت د وجه نه د الله تعالیٰ عبادت او طاعات پاتے کیږی، د الله تعالیٰ شکر ګذاری خرابیږی۔
شدید کله هغه سخت انسان ته وائی چه بخل کوی۔ یعنی دے د وجه د محبت د مال نه خامخا بخیل دے۔ لیکن اوله معنیٰ بهتره ده۔

ابن زیدؒ وائی : الله تعالیٰ مال ته خیر ووئیلو او کیدے شی چه دا د انسان دپاره شر جوړ شي ليكن خلق ئے خير گنړی، نو ددے وجه نه ئے ورته خير ووئيلو۔

أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ : پدے آیت کښ کافر او ناشکره انسان ته زجر او رټنه ورکړے شوے، او دۀ ته په آخرت کښ په خپل انجام باندے د غور کولو دعوت ورکړے شوے، دے دپاره چه گناهونو نه توبه گار شي او خپل رب ته رجوع وکړی، خپله اصلاح وکړی، او د مال محبت ئے زائل شی، او د آخرت د کامیاب جوړولو دپاره فکر وکړی۔ نو دا د مال د محبت د زائل کولو دپاره ښکلے علاج دے چه استحضار د آخرت وکړی۔

الله تعالیٰ وفرمایل : آیا مغروره انسان ته معلومه نۀ ده چه په کومه ورځ الله تعالیٰ د قبرونو نه تمام مړی را بهر کړی، او د انسانانو په سینو کښ چه کوم خیر او شر پټ وی، هغه ټول را بهر کړے شی، هیڅ یو شے به پټ پاتے نشی، په دے ورځ به د دوئ رب د دوئ د ښکاره او پټو عملونو نه ښۀ خبردار وی، او ددے عملونو به دوئ له پوره پوره بدله ورکوی۔

افلا : دا همزه د استفهام انکاری دپاره ده۔ او فاء دپاره د سببیت ده، یعنی دنیوی محبت سبب دے دپاره د غفلت د آخرت نه۔ یا فاء دپاره عطف ده، او همزه داخل ده په مقدر باندے، اَیْ اَیَفْعَلُ الْقَبَائِحَ فَلَا يَعْلَمُ۔ آیا دے دا ناکاره عملونه کوی او پدے خبره نۀ پو هیږی۔ او د آخرت سوچ ورسره نشته۔

بعثر : دے ته وائی چه یو شے لاندے باندے کړے شی۔ یعنی بره طرف ئے خکته او خکته طرف ئے بره شی۔

مَا فِي الْقُبُورِ : (مَا) د غیر ذی عقل دپاره ډیره استعمالیږی، دلته مَا د مَنْ په ځای راوړو وجه دا ده چه د بعث په وخت کښ عقل او حیات په انسان کښ نۀ وی نو په مَا سره تعبیر ښۀ شو۔

وَحُصِّلَ : ۱- اَیْ اُبْرِزَ (ابن عباس رضی الله عنه) یعنی راښکاره کړے شی۔

۲- مُیِّزَ وَبُیِّنَ مَا فِیْهَا مِنَ الْخَیْرِ وَالشَّرِّ۔ یعنی جدا کړے شی او په ډاګه کړے شی هغه څه چه په سینو کښ دے د خیر او شر نه۔ تحصیل په معنیٰ د تمییز دے۔

مَا فِي الصُّدُورِ : یعنی خیر او شر، نیتونه او ارادے۔ نو دا دلیل دے چه په اراده او نیت باندے هم حساب کیدے شی لکه په سورة بقره (۲۸٤) آیت کښ ذکر دی۔

او پدے کښې وسوسه داخله نهٔ ده ځکه چه هغه غیر اختیاری نهٔ ده۔

او هرکله چه الله تعالیٰ د سینو په خبرو پوهه دے، او په هغې حساب کوی نو په اعمال د جوارحو (اندامونو) به خامخا کیږی۔ او همدا وجه د نهٔ ذکر کولو د اعمال د جوارحو ده پدے مقام کښې۔

یَوْمَئِذٍ لَّخَبِیْرٌ : مفسرین لیکی چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو د تمامو عملونو نه هر وخت خبردار دے، لیکن د قیامت په ورځ په خاصه توګه د دوئ د عملونو نه د هغهٔ د خبرداره کیدو نه مقصد دادے چه په دے ورځ به هغه دوئ له د دوئ د عملونو بدله د خپل علم په بنیاد باندے ورکوی، او د دوئ هیڅ عمل به د هغهٔ نه پټ پاتے نشی۔

نو لنډ مطلب دا شو چه ځمکه به وچوی تهٔ به ترے رابهر شے او سینه به ډِ ے وچوی د هغې نه به ستا ایمان او یقین او اعمال راوځی او الله تعالیٰ پدے هر څه خبردار دے، حساب به درسره وکړی نو ولے ناشکری کوے۔ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا شَاکِرِیْنَ لِنِعَمِكَ مُثْنِیْنَ عَلَیْهَا قَابِلِیْهَا وَلَا تَجْعَلْنَا مِنَ الْکَانِدِیْنَ۔ آمین یا رب العالمین۔

ختم شو تفسیر د سورة العادیات په رحم د ارحم الراحمین سره۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (١١)	(١٠١) سُوۡرَةُ الۡقَارِعَةِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة القارعه مکی دے، په دے کښې یوولس آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة القارعة

نوم : همدا یو نوم ئے دے، [الۡقَارِعَةُ] ورته کیخودے شو ځکه چه پدے سورت کښې هم د قیامت هیبت ذکر دے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهٔ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړی دی چه سورة القارعه په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

١- مخکښې سورت کښې د خلقو بعث ذکر شو نو پدے سورت کښې د هغوی دوه قسمونو ته تقسیم ذکر کوی۔

٢- مخکښې سورت کښې زجر وو منکرینو ته نو پدے سورت کښې هغوی ته اُخروی تخویف ذکر کوی۔

٣- مخکښې سورت کښې بعث د اصحاب القبور او اظهار د ما فی الصدور ذکر شو نو پدے سورت کښې د هغه وخت نوم ذکر کوی په القارعه سره او د هغے احوال ئے ذکر کړیدی۔

د سورت مقصد

پدے سورت کښې هم د قیامت هیبت بیان شویدے په ډیرو طریقو سره، یو د قیامت نوم ئے په قارعه سره درے کرته ذکر کړیدے۔ یعنی ټکونکے ورځ۔

دویم عظمت د قیامت دے په وخت د قیام ددے، یعنی چه دا کله قائمه شی نو په انسانانو باندے به کوم هیبت راځی؟، دریم هیبت دے په میزان د اعمالو سره، او څلورم هیبت په جزاء الاعمال سره دے. د عملونو جزاء او سزا شته.

وړوکے سورت دے لیکن ډیره لویه موضوع پکښې پرته ده، بنده آخرت ته متوجه کوی.

بیا جزاء د اعمالو یو عِیۡشَةٌ رَاضِیَةٌ دے، او بل (اُمُّهٗ هَاوِیَةٌ) دے. یعنی جنت او جهنم.

نو حاصل دا شو چه د قیامت د ورځے نه ویریږه ځکه چه دا څلور خبرے ستا مخے ته راروانے دی.

اَلۡقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الۡقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَا اَدۡرٰىكَ مَا
هغه ورځ چه ټهکونکے ده. څه ده ټهکونکے ورځ. او څه پوهه کړے ئے ته چه څه ده
الۡقَارِعَةُ﴿۳﴾ یَوۡمَ یَكُوۡنُ النَّاسُ كَالۡفَرَاشِ الۡمَبۡثُوۡثِ ﴿۴﴾ وَتَكُوۡنُ
ټهکونکے. په هغه ورځ چه شی به خلق پشان د پتنګانو خورو ورو. او شی به
الۡجِبَالُ كَالۡعِهۡنِ الۡمَنۡفُوۡشِ ﴿۵﴾ فَاَمَّا مَنۡ ثَقُلَتۡ مَوَازِیۡنُهٗ ﴿۶﴾
غرونه پشان د وړئ ډاندړت کړے شوے. پس هغه څوك چه درانهٔ شی تلے د
فَهُوَ فِیۡ عِیۡشَةٍ رَّاضِیَةٍ﴿۷﴾ وَاَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ
(عملونود) هغهٔ نو دے به په ژوند خوشحاله کښې وی. او هغه څوك چه سپك شی
مَوَازِیۡنُهٗ ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِیَةٌ ﴿۹﴾ وَمَا اَدۡرٰىكَ
تلے (د عملونو) ددهٔ نو ځائے د واپسئ ددهٔ به هاویه وی. او څه پوهه کړے ئے ته
مَا هِیَهۡ ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِیَةٌ ﴿۱۱﴾
چه څه شے دے هغه. اُور دے سخت ګرم.

تفسیر: [اَلۡقَارِعَةُ] د قیامت یو نوم دے. د قرع نه دے په معنیٰ د ټکولو سره. او دیته دا

نوم ځکه ورکړے شوے چه دا به د خلقو زړونه په انتهائی سختئ سره اوټکوی، او د الله تعالیٰ دشمنان به په سخت عذاب سره وټکوی۔ آسمان به اوشلیږی او ستوری به ماتیدو سره خوارهٔ وارهٔ شی، په زمکه به زلزله راشی، او غرونه به ریزه ریزه شی۔

یعنی هغه ورځ چه ټکونکے ده زړونو لره۔

او قارعه د قرع نه دے په اصل کښې سخت آواز (ټکا) ته وئیلے شی، او قارعه سخت عذاب ته هم وئیلے شی۔ لکه سورة رعد (۳۱) آیت کښې ذکر شویدی، او دلته دا صفت د قیامت دے، یا صفت د صیحه (چغے) دے۔

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ : دا تپوس د ډیر هیبت او عظمت دپاره دے، یعنی هغه ډیر زیات هیبت او عظمت لری چه که تا ته هغه بیان هم شی نو ستا په زړه کښې به واقع نشی۔

كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ : (خوارهٔ واره پتنګانو) سره ئے تشبیه په څه کښې ورکړه ؟

۱- یو په تساقط کښې، لکه د پتنګ عادت دا دے چه ځان اُور او رنړا ته غورزوی نو دغه شان به انسانان هم جهنم ته غورزولے شی۔

۲- دویمه تشبیه په ذلت کښې ده۔ یعنی د پتنګانو په شان ذلیله او سپك به وی۔

۳- دریم په کثرت او انتشار کښې ده، یعنی داسے ډیر به وی لکه پتنګان چه ډیر په ډیوه راجمع شی او خوارهٔ وارهٔ وی، د سختے ګنړے ګونړے او پریشانئ د وجے نه به په یو بل بانددے را پریوځی، لکه چه دوئ خپل عقلونه د لاسه ورکړی وی، او په دوئ باندے د لیونتوب غونته کیفیت راغلے وی۔

نو دوئ به هم دغه شان د قبرونو نه ډیر راوځی، او ګډوډ به روان وی، پته به ورته نهٔ وی چه کوم خوا روان شی، روستو به ئے الله تعالیٰ د ملائکو په واسطه د ملخانو په شان کړی چه په یو طرف روان وی۔ او د حشر میدان به ورته ښائی۔ بیا به څوك په حیواناتو سوارهٔ وی، او څوك به په مخونو روان وی، او څوك به همداسے روان وی۔ د عمل مطابق به داسے کیږی۔

الفراش جمع د فَرَاشَةٌ ده۔ (ابوعبیدهٔ)

كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ : عهن رنګینے وړئ ته وئیلے شی، او ددے تشبیه وجه دا ده چه غرونه هم رنګ په رنګ دی۔ نو هغه به ټول راخوارهٔ شی، نو مختلف رنګونه به

ښکاره کیږي۔
الـمنفوش : د نفش نه دے، ډانډت کولو ته وئیلے شي، یعنی لکه وړئ چه ډانډت کړے شي، نو اَجزاء ئے د یو بل نه جدا شي، نو داسے حال به د غرونو هم شي۔
فَأَمَّا مَنْ : هرکله چه دا کارونه واقع شي نو بیا به څه کارونه کیږي؟ نو اُوس الله تعالیٰ د عـملونو حساب، او جزاء او سزا بیانوي۔ چه د انسانانو عملنامے به د رب العالمین مخے تـه پیش کیږي، نو د چا د نیکیو چابړے چه ښکته لاړ شي، په سبب د توحید او د سنت د اتبـاع نـو هغـهٔ بـه د جهنم نـه خـلاصے بیـامـومی، او په جنت کښ به ورته د همیشه خـوشحالئ ژوند ورنصیب شي۔ او د چا نیکئ چه کمے شي او گناهونه ئے زیات شي، یا ورسره نیـکـئ نـهٔ وی لـکـه کـافـر او مشرك او مخالف د رسول، ددهٔ استوگنه به د جهنم کنده وی چه په هغے کښ به دا پرمخے غورزولے شي۔
فَأُمُّهُ : اُم په معنیٰ د مَرْجع (ځای د واپسئ) دے۔
هَاوِيَةٌ : هـغـه کـنده چه انسان پکښ خکته غورزیږي د هَوٰی یَهْوِیُ نـه دے۔ سقوط ته وائي۔ قتادهَ وائی : لِأَنَّهٗ یَهْوِیُ فِیْهَا عَلٰی اُمِّ رَأْسِهٖ۔
ځکه چه دے به پکښ سرخکته غورزولے شي۔
پدے آیت کښ یو دریم قسم خلق نهٔ دی ذکر شوی، چه د هغوی نیکیانے او گناهونه په تول کښ برابر شي۔
مناویؒ وائي : د چا نیکیانے چه په گناهونو درنے شي، نو دے به په جنت کښ وی بغیر د حساب نـه، او د چا گـنـاهـونـه او نـیـکیانے چه برابرے شي، نو هغهٔ سره به حساب یسیر کیـږي۔ او د چا گـنـاهـونـه چـه پـه نـیـکـیـانـو بـانـدے درانهٔ شي، نو دهٔ له به په هغے کښ سفارش کیږی یا به عذاب ورکولے شي۔
وَمَـا أَدْرَاكَ مَـا هِيَهْ : اُوس د جهـنـم د خـطرنـاکیـو او ددے د عذاب د سختئ احساس ورکولو دپاره الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته فرمائي : چه تاته څهٔ معلومه ده چه دغه (هاویه) څـهٔ شئے دے؟ بیـا ئے خپله ددے جواب ورکړو چه دا خو د جهنم لمبے وهونکے گرم اُور دے، چـه ددے اُور گـرمـی بـه د دنیـا د اُور د گرمئ نه اویا چنده زیاته وی۔ لکه چه په بخاریؒ او مسلمؒ کښ د ابو هریره ﷛ نه روایت شوی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل :
[نَـارُکُـمْ هٰـذِهِ الَّتِـیْ یُـوْقِدُ ابْنُ آدَمَ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِیْنَ جُزْءً مِنْ حَرِّ جَهَنَّمَ، قَالُوْا وَاللّٰهِ اِنْ کَانَتْ

لَكَافِيَةً يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، قَالَ : فَإِنَّهَا فُضِّلَتْ عَلَيْهَا بِتِسْعَةٍ وَّسِتِّيْنَ جُزْءً كُلُّهَا مِثْلُ حَرِّهَا]

اے خلقو ! ستاسو دا اُور چه انسان ئے بلوی د جهنم د اُور د اویایمے برخے نه یوه برخه گرم دے۔ صحابه کرامو وفرمایل :

اے د الله رسوله ! همدا اُور هم (په عذاب کښ) کافی دے، وے فرمایل : د جهنم اُور پدے باندے نهه شپیته برخے زیات دے چه هره برخه ئے د دنیا د اُور په شان گرمه ده.

(بخاری :٣٢٦٥، مسلم : ٧٣٤٤)

الله تعالیٰ مونږ د خپل کرم اُور نه محفوظ وساته، آمین۔

مَا هِيَهْ : هاء د سکتے دپاره۔

نَارٌ : دا خبر د مبتداء دے، اَیْ هِیَ نَارٌ حَامِیَةٌ : یعنی دا اُور دے گرم۔

ختم شو تفسیر د سورة القارعة په رمضان ٢٩ یوم الاثنین۔



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۸)	(۱۰۲) سُوۡرَةُ التَّكَاثُرِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة التکاثر مکی دے، په دے کښې اتهٔ آیتونه، او یوه رکوع ده

تفسیر سورة التکاثر

نوم : په اولنی آیت کښې [التَّكَاثُرُ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے.

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے.

ابن مردویهٌ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی چه ﴿ اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ﴾ په مکه کښې نازل شوے.

امام بخاریؒ دیته مدنی وئیلی دی، او په دلیل کښې ئے د اُبی بن کعب ﷺ روایت پیش کړے چه مونږ به د رسول الله ﷺ وینا :

[لَوۡ أَنَّ لِابۡنِ آدَمَ وَادِيَيۡنِ مِنۡ مَالٍ لَتَمَنَّى وَادِيًا ثَالِثًا، وَلَا يَمۡلَأُ جَوۡفَ ابۡنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ]

(که چرے انسان سره دوه کندے ډکے مال وے، نو هغهٔ به د دریمے کندے آرزو کولے، د انسان خیټه صرف خاورو سره ډکیږی) د قرآن حصه ګڼړله تردے چه ﴿ اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ﴾ نازل شو. بخاری : (٦٤٣٩) و (٦٤٤٠) ومسلم : (٢٤٦٦)

دا روایت ددے سورت د مدنی کیدو دلیل په دے توګه جوړیږی چه اُبی بن کعب ﷺ په مدینه کښې مسلمان شوے وو، لیکن غوره داده چه دا سورت مکی دے، او د اُبی بن کعب ﷺ د روایت توجیه دا بیان شوے ده چه کوم صحابه په مدینه کښې په اسلام باندے مشرف شوی وو، کله چه هغوئ اول ځل د نبی کریم ﷺ د ژبے نه دا سورت واوریدهٔ نو دا ګمان ئے وکړو چه ګنے دا په مدینه کښې نازل شوے.

او په روایت د مسلمٌ کښې د عبد الله بن شِخیر ﷺ نه نقل دی هغه فرمائی : زهٔ رسول الله

ﷺ ته په داسې حال کښې راورسیدم چه هغهٔ ﴿ اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ﴾لوستلو،
او په یو بل لفظ کښې دی : چه په هغه باندې دا سورت ﴿ اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ﴾ نازل شوې وو، او هغه ورسره دا خبره هم یو ځای کړه۔ :

[يَقُوْلُ ابْنُ آدَمَ مَالِيْ مَالِيْ وَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ اِلَّا مَا اَكَلْتَ فَاَفْنَيْتَ اَوْ لَبِسْتَ فَاَبْلَيْتَ اَوْ تَصَدَّقْتَ فَاَمْضَيْتَ]

بنیادم وائی، زما مال زما مال، او حال دا چه ستا مال هغه دے چه تا وخوړو نو ختم دې کړو یا دې واغوستو او زوړ دې کړو یا دې صدقه کړو نو مخکښې دې ولیږلو۔ مسلم: (۷۶۰۹)

مناسبت

۱- مخکښې تخویف اُخروی وو نو دلته د تخویف سره زجر ذکر کوی لکه د سورة العادیات په شان۔

۲- مخکښې سورت کښې تذکیر د آخرت وو نو پدې سورت کښې تزهید فی الدنیا ذکر کوی چه دا دنیا سبب د غفلت دے د آخرت نه۔

۳- مخکښې سورت کښې د جهنم نوم هاویه ذکر وو نو دے سورت کښې د هغے بل نوم جحیم ذکر کوی۔

٤- په هغه سورت کښې وزن د اعمالو ذکر شو نو دلته سوال د نعمتونو (په ورځ د قیامت) ذکر کوی۔

د سورت مقصد

اَلزَّجْرُ بِحُبِّ الدُّنْيَا حَتّٰى يَبْلُغَ الْاِنْسَانُ اِلَى اِلْهَاءِ التَّكَاثُرِ۔

یعنی په محبت د دنیا باندې زجر او رټنه ده داسې محبت چه انسان لره غفلت او فخر ته ورسوی۔

اول کښې الله تعالیٰ دا خبره کړیده، بیا ئې پنځه دهمکیانې ورکړیدی، (كَلَّا سَوْفَ) بیا (كَلَّا سَوْفَ) دریم (كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ) او څلورم (لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ) او پنځم (لَتُسْئَلُنَّ)۔

اَلۡهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرۡتُمُ
غافل كړئ تاسو ډير والی د مالونو (د څيزونو)۔ تردے چه تاسو ملاقات وكړو د
الۡمَقَابِرَ ﴿۲﴾ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۳﴾ ثُمَّ
قبرونو ۔ هيچرے داسے نۀ ده پكار، زردے چه پوهه به شئ تاسو۔ بيا
كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٤﴾ كَلَّا
هيچرے داسے كار نۀ دے پكار زردے چه پوهه به شئ تاسو۔ هيچرے داسے نۀ ده پكار
لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ عِلۡمَ الۡيَقِيۡنِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ
كه چرته تاسو پوهيدلے په پوهه د يقين سره۔(په علم يقينی) خامخا وينئ به تاسو
الۡجَحِيۡمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ الۡيَقِيۡنِ ﴿٧﴾ ثُمَّ
جهنم۔ بيا به خامخا اُووينئ دے لره په ستركو د يقين۔ بيا به
لَتُسۡئَلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿۸﴾
خامخا تپوس كولے شی ستاسو نه په دغه ورځ په باره د نعمتونو كښې۔

تفسير : په دے سورت كښې الله تعالىٰ هغه خلقو ته خطاب كوی چه هغوئ د فخر او نوم او ښودنے دپاره زيات نه زيات دولت جمع كوی، د الله تعالىٰ د ياد نه بيخی غافله، او د نيك عمل د توفيق نه بے برخے وی۔

اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ : اَیۡ شَغَلَكُمُ التَّبَارِیۡ فِی التَّكَاثُرِ بِالۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ ۔ يعنی غافل او مشغول كړئ تاسو فخر كولو په ډير والی د مالونو او د اولادو۔

الهاكم : دلته الهاء نفس شغل (مشغولتيا) ته نۀ وائی بلكه الهاء دے ته وائی چه انسان په لهو (تماشه) كښې شی او هرڅه ترے هير شی، او غافل شی۔

بيا دا مشغولتيا د څه نه مراد ده ؟ ❀ اَیۡ عَنِ الطَّاعَةِ ۔ يعنی د الله د طاعت او بندګئ نه ئے مشغوله كړئ لكه اكثر انسانان په تكاثر باندے د الله د بندګئ نه غافل دی۔ ❀

دارنګه د قارعے د یادولو نه، ❁ او د ذکر د الله تعالیٰ نه ❁ او د قرآن کریم نه ❁ او د حق د قبلولو نه۔

بیا تکاثر د څه مراد دے؟ نو تکاثر الاموال ۲- والاولاد۔ (د مال او د اولاد ډیرول)۔

۳- حافظ ابن القیمؒ وائی پدے کښې تکاثر د کتابونو او تصنیفاتو او د ښځو او د نورو څیزونو هم داخل دے، بعض انسانان د الله طاعت د ډیرو ښځو د راجمع کولو په وجه پریدی، بیا د هغے په محبت او خدمت کښې لګیدلے وی او د الله بندګی ترے پاتے وی۔ اګرکه دوه او درے او څلور ښځے جائز دی لیکن د هغے په محبت او خدمت کښې لګیدل او د الله طاعت پریخودل صحیح نۀ دی۔

پدے کښې لوبے او تماشے او چکرے او ملاقاتونه او ګپے شپے ټول داخل دی چه انسان د الله نه غافل کوی۔

لنډه دا چه پدے کښې به هر هغه شے داخل وی چه په هغے کښې د زیاتوالی خواهش د فخر دپاره وی، یا د تکبر یا د عبادت نه د غافل کولو دپاره وی، برابره خبره ده که هغه مال وی یا اولاد، فوج او لښکر وی، یا نور د قوت او هیبت اسباب، یا نوکران او خادمان وی، یا جاه او مرتبه۔ هر هغه شے چه په هغے کښې د زیاتوالی غوښتلو نه مقصد د الله تعالیٰ رضا تالاش کول نۀ وی، په دے کښې داخلیږی۔

اَیْ شَغَلَکُمُ التَّکَاثُرُ عَنْ عِلْمِ کُلِّ شَیْءٍ یَجِبُ عَلَیْکُمُ الْاِشْتِغَالُ بِهٖ مِنْ طَاعَةِ اللّٰهِ۔

یعنی په کوم طاعت د الله تعالیٰ کښې چه ستاسو دپاره مشغولیدل ضروری وو نو د هغے د علم نه تاسو د دنیا د مالونو او د څیزونو ډیر والی مشغوله کړئ۔ (فتح البیان)

نو پدے کښې د زنانو ډیر خوراکونه پخول، او قسماقسم ډیرے جامے او څیزونه طلب کول، او په هغے باندے ګُلکاریانے کول او قیمتی اوقات بربادول ټول پکښې داخل دی۔

حافظ ابن قیمؒ فرمائی : د وخت ضائع کول د مرګ نه ډیر سخت دی ځکه چه د وخت ضائع کول تا د الله نه او د آخرت د ورځے نه قطع کوی، او مرګ تا د دنیا او د دنیا والو نه قطع کوی۔ (الفوائد)

ترمذیؒ او احمدؒ کښې دی : [مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ اُرْسِلَا فِیْ غَنَمٍ بِاَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَی الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِیْنِهٖ] (ترمذی : ۲۳۷۶) احمد (۱۵۸۲۲) وسنده صحیح)

دوه وږی شرمخان چه په ګډو بزو پسے راپرانستے شی، نو هغه به دومره خرابے نکړی

ځو مره چه د بنده حرص په مال او شرافت باندے ددۀ دین خرابونکے دے۔

حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ : ۱- دا کنایه ده د مرگ نه. اَیۡ حَتّٰی مُتُّمۡ۔ یعنی دا مشغولتیا ستاسو دومره زیاته ده تردے چه په تاسو باندے مرگ راغے، قبر ته تللو پورے ستاسو مشغولتیا د دنیا او فخرونه ختم نشو۔ پکار خو دا وه چه انسان ځلوینتو کالو ته ورسیږی چه د هغه محبت د دنیا کم شی او د الله تعالیٰ بندگیانو ته ځان فارغ کړی۔

پدے معنیٰ سره د مُتُّمۡ په ځای زُرۡتُمۡ ذکر شو پدے کښ اشاره ده چه قبرونه د همیشه وسیدو ځای نۀ دے بلکه دا د آخرت دپاره یو انتظار گاه ده۔

او دے کښ دا نصیحت هم پروت دے چه اے خلقو! تاسو د الله د یاد او د آخرت د فکر نه بیخی غافله پاتے شوئ، تردے چه تاسو قبرونو ته اُورسیدئ، په دے وخت کښ به ستاسو د سترگو پرده لرے شی، او حقیقت به ستاسو د سترگو مخامخ رابنکاره شی، لیکن په دے وخت کښ به ایمان او یقین هیڅ فائده نۀ ورکوی۔

۲- د بعض عربو عادت دا وو چه په مړو باندے به ئے هم فخر کولو چه زمونږ مقبره غټه ده او نفری مو زیاته ده۔ نو معنیٰ دا ده: حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ لِلۡمُفَاخَرَةِ وَالۡمُکَاثَرَةِ۔

یعنی د فخر او تکبر په طور تاسو د مقبرو ملاقاتونه وکړل او د عزت سبب مو د مړو ډیر والے وگنړلو۔ یعنی په ژوندو اشخاصو سره خو فخرونه کوئ خو تردے پورے چه په مړو سره هم تکاثر شروع کړو۔ او دلته به مقصد دا وی چه قبرونه خو د عبرت او نصیحت اخستو ځای دے او تاسو لاړئ په هغے باندے مو فخرونه شروع کړل، او دا نۀ یادوئ چه صبا له زمونږ هم دغه حال دے۔

۳- ابوحیانؒ په البحر المحیط کښ لیکی: حَتّٰی زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ لِلۡاِسۡتِمۡدَادِ مِنۡهَا۔

یعنی د پیسو سره مو دومره مینه ده چه قبرونو ته ځئ او د هغوی نه مددونه غواړئ چه اے بابا! مونږ ته میخے او جائیدادونه او عهدے راکړه۔ یعنی د پیسو د وجه نه مشرکان شوئ۔ لکه ډیر سیاسیان د ووټونو مهم د قبرونو نه شروع کوی۔ دا تفسیر بعید دے مگر د آیت اشاره ورته شامله کیدے شی۔

او ابن عطیهؒ په تفسیر «المحرر الوجیز» کښ وئیلی دی چه دا زورنه هغه چا ته ده چه د قبرونو ډیر زیارتونه کوی تردے چه په نور عبادتونو او تعلم د دین ته ځان نۀ وزگاروی، بیا ئے وئیلی دی چه لکه نن صبا خلق چه زیارت د قبرونو لازم گنړلے دے، او په گټو او

سنګِ مرمر سره ئے اُوچتوی، او پخوی او چتونه او آبادئ وربانده جوړه وی۔

بیا وړپسے ابو حیان لیکلی دی چه ابن عطیّةؒ خو صرف د اندلس قبرونه لیدلی وو [فَكَيْفَ لَوْ رَأىٰ مَا تَبَاهىٰ بِهٖ اَهْلُ مِصْرَ فِیْ مَدَافِنِهِمْ بِالْقَرَافَةِ الْكُبْرٰى وَالْقَرَافَةِ الصُّغْرٰى وَبَابِ النَّصْرِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ]

نو که چرے هغه د مصر والو مقبرے ولیدلے کوم بانده چه دوی فخرونه کوی په قرافه کبریٰ او قرافه صغری او باب النصر بانده (چه دا مقبرے دی) او هغه مالونه چه په هغے بانده برباديږی، نو ددے نه به ډیر زیات تعجب کړے وے۔ او داسے څه به ئے لیدلی وے چه د هغه په خیال او خاطر کښې به هم هغه نهٔ وو تیر شوی۔

بیا ئے د قبر پرستو صوفیاؤ ډیر قباحتونه ذکر کړیدی چه دوئ په زیارت د قبرونو بانده فخر کوی، او بل کار ئے نهٔ وی سوئ د زیارت د قبرونو نه، او پدے بانده فخرونه کوی، او وائی چه زهٔ د فلانی سید او فلانی د قبر زیارت له تلے وم۔

او د هغه قبرونو والو د طرفنه ئے داسے (خرافاتو والا) قصے زده کړی وی چه که هغه ولیکلے شی نو ډیر کتابونه به ترے جوړ شی حال دا چه دا خلق د اوداسه فرائض او سنن نهٔ پیژنی،

او بل مصیبت دا دے چه بادشاهان او عوام الناس خلق د دوئ تابع شویدی، او په دوئ بانده ښهٔ ګمان لری او دوئ بانده مالونه لګوی۔ او عوام د دوئ یو تن ته وائی چه دهٔ ته علم لدنی ورکړے شویدے علم د خضر۔ تردے چه بعض علم ته منسوب خلق هم کله چه ددے ډلے رواج او شهرت ته وګوری چه دا خو په عوامو کښې ډیر مقبولیت لری، نو د دوئ په لاره روان شی، او د دوئ ډیرے دروغجنے قصے رانقل کوی، او ددے سره خپل لږ شان علم یو ځای کوی ددے دپاره چه مال او جاه او لاسونه خکلول حاصل کړی۔ وَنَحْنُ نَسْأَلُ اللّٰهَ اَنْ يُّوَفِّقَنَا لِطَاعَتِهٖ۔ انتهیٰ۔ (البحر المحیط لابی حیان المصری ۱۰/۵۳۶)

او همدا خبرے بیخی پدے زمانه بانده تطبیق دی۔

کلا سوف : اُوس دوه دهمکیانے یو شان بیانوی دپاره د ډیر تاکید۔ او ددے مطلب دا وی چه که تاسو ددے کارونه نه منع نشوئ نو زهٔ به درسره ګورم او تاسو ته به د خپل ځان حالت معلوم شی چه تاسو سره به څه کیږی، او څنګه حساب به درسره کیږی۔

کَلَّا : ۱- اول کَلَّا ردع ده د تکاثر او تفاخر نه، او دویم کَلَّا ردع ده د اِلْهَاء نه۔ او اول سَوْفَ

تَعۡلَمُوۡنَ په دنيا كښې مراد دے، او دويم سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ په آخرت كښې.

(قاله على بن ابى طالب ﷺ)

۲- يا اول سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ د مرگ او زنكدن په وخت دے، او دويم په قبر كښې دے. او دا قول حافظ ابن قيمؒ وغيره د حسنؒ، مقاتلؒ، عطاءؒ او ابن عباس ﷺ نه روايت كړيدے، او دے ته ئے په پنځه وجو هو سره ترجيح وركړيده. او پدے كښې اثبات د عذاب قبر دے.

۳- يا اول په وخت د زنكدن كښې دے، او دويم سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ په قيامت كښې مراد دے. او پدے كښې سخت وعيد دے.

فراءؒ وائى : اَىۡ لَيۡسَ الۡاَمۡرُ عَلٰى مَا اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنَ التَّكَاثُرِ وَالتَّفَاخُرِ.

يعنى هيچرے تكاثر او تفاخر نۀ دے پكار كوم باندے چه تاسو روان يئ. زر دے چه تاسو به ددے غلط انجام د قيامت په ورځ ووينئ.

نو دا د الله تعالىٰ دهمكى ده چه تا له ئے دركوى چه زۀ به درسره گورم. دا د ژوندو زړونو دپاره د ډير لوى هيبت خبره ده.

كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ : الله تعالىٰ دنيا پرستو له نوره زياته دهمكى وركړے، او وئيلى ئے دى چه د مرگ نه پس چه د كومو حالاتو سره تاسو مخامخ كيدونكى يئ، كه چرے د هغے يقينى علم ستاسو په زړونو كښې راشى، نو تاسو به د دنيا په حرص او لالچ كښې پرے نۀ وزئ، بلكه د ے رغبتئ او د پرهيزگارئ او د نيك عمل والا ژوند به اختيار كړئ. ستاسو دا دنيا غوښتنه د مرگ نه پس په ژوند او آخرت باندے د ايمان نۀ لرلو نتيجه ده.

دا كَلَّا په معنىٰ د حَقًّا دے. او لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ دپاره مفعول پټ دے. اَىۡ اَحۡوَالَ الۡبَعۡثِ.

كه چرے تاسو د بعث او د دوباره ژوند په حالاتو باندے پو هه شئ. نو ددے جزاء پټه ده (لَمَا اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ) نو تاسو به تكاثر نۀ وے غافله كړى.

عِلۡمَ الۡيَقِيۡنِ : دا هغه علم دے چه صاحب ددے ضرورياتو ته په داسے طريقه ورسيږى چه هيڅ شك او شبهه په ثبوت د هغه ضروورياتو كښې پاتے نشى، او ددے علم تعلق د زړۀ سره دے چه هغه محل د يقين دے. او دا قيد ئے پدے وجه ولگولو چه صرف علم د يو څيز په قباحت باندے د هغے د پريخودو دپاره كافى نۀ دے. څو پورے چه پوره يقين په زړۀ كښې د هغے د قباحت نۀ وى راغلے.

قتادةؒ نه نقل دى چه يقين مرگ او بعث ته وائى. چه پدے وخت كښې د انسان علم او

یقین راځي. او د هغهٔ نه بل روایت داسې دې :
(اَنْ يَّعْلَمَ اَنَّ اللّٰهَ بَاعِثُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)
دا یقین ئې راشي او پدې پوهه شي چه الله تعالیٰ به دهٔ لره د قیامت په ورځ راپورته کوي، او حساب به ورسره کوي. کله چه د انسان دا یقین راشي نو بیا انسان نهٔ غافله کیږي. ځکه چه دا فکر کوي چه لکه څنګه چه دنیا ده، نو آخرت هم شته، نو راځئ چه د آخرت دپاره هم عملونه وکړو، نو د دنیا د کارونو سره سره د آخرت دپاره هم ډیره خواري شروع کړي.
نو څومره چه دا یقین مضبوطیدو نو دنیا سره به دِې محبت کمیږي، او شغل به دِې کمیږي او چه څومره یقین ضعیف کیدو نو دنیا سره به دِې مینه زیاتیږي او د آخرت مینه به دِې کمیږي.
او پدې کښې ترغیب دې یقین پیدا کولو ته چه یقین کله بنده کښې راشي نو بیا ورته دنیا سپکه ښکاره کیږي، او آخرت ورته لوی شې ښکاره کیږي.
لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ او ثم لترونها : دا دواړه آیتونه د پټ قسَم جواب دې، او مقصد د مخکښنۍ سزا او د همکۍ زیاتې تاکید دې. او دا تخویف اُخروی دې.
اَیْ وَاللّٰهِ لَتَرَوُنَّ الخ . او دا جواب د لَوْ نهٔ دې ځکه چه جواب د لَوْ منفي وی او دا مثبت دې.
الله تعالیٰ وفرمایل : زمونږ په عزت او لویئ باندې قسَم دې ! تاسو به خامخا د قیامت په ورځ جهنم ووینئ، مشرك به ئې ووینی، او په دې کښې به وغورزولې شي، او مومن به ئې اووینی، بیابه الله تعالیٰ دهٔ له د هغې نه نجات ورکړي.
وړاندې فرمائي : ستاسو د جهنم لیدل داسې یقیني خبره ده چه په هغې کښې د ذرې هومره د شك کولو ګنجائش نشته، هغه به مخامخ راوړې شي، او تمام میدانِ حشر والا به هغه اُووینی.
لکه څنګه چه د سورۃ الکهف په (۵۳) آیت کښې راغلی دی :
﴿ وَرَاَی الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴾
(او ګنهګار به جهنم اووینی او ګمان به اوکړی چه دوئ په دې کښې پریوتونکی دی، او ددې نه د بچ کیدو هیڅ ځائې به بیانهٔ مومی).

نو لترون الجحیم کښې کافرانو ته هم خطاب دے او مسلمانانو ته هم. او دا د ﴿ وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ﴾ په شان آیت دے. یعنی هر څوك به جهنم وینی په خپلو سترګو نو څوك به ئے لائق وی نو جهنم کښې به دننه پریوزی او څوك به ئے لائق نهٔ وی نو الله تعالیٰ به ئے پرے پورے باسی.

عَيْنَ الْيَقِيْنِ : دے ته علم المشاهده هم وائی، یعنی غائب معقول په شان د محسوس مُشَاهَد وګرځی، او دا د علم الیقین نه پورته درجه ده.

ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ : یعنی اے خلقو ! په کومه ورځ چه تاسو جهنم په خپلو سترګو اووینئ، په دے ورځ به تاسو نه د هغه نعمتونو په باره کښې پوښتنه کیږی چه هغه الله په دنیا کښې تاسو له درکړی وو.

١ - ابن عباس ﷺ د [النَّعِيْم] نه مراد (صِحَّةُ الْاَبْدَانِ وَالْاَسْمَاعِ وَالْاَبْصَار) (یعنی صحت او عافیت او د آوریدو او لیدو قوت) اخستے دے.

٢ - چا ددے نه تندرستی او فراغت،

٣ - چا ترے خوراکونه او څکاکونه،

٤ - او چا ترے صحت او امن مراد کړے. امام شوکانیؒ لیکی : بهتره داده چه ددے نه د الله تعالیٰ تمام نعمتونه مراد کړے شی، چه د هغے نه بنده فائده پورته کوی. او دا نعمتونه دینی او دنیاوی تولو ته شاملیږی.

لکه د احادیثو نه معلومیږی چه د هر نعمت تپوس کیږی.

په یو حدیث کښې دی :

رسول الله ﷺ د ملګرو سره یو باغ ته لاړو هلته ئے کجورے وخوړلے بیا ئے وریسے یخے اُوبه وڅکلے نو وے فرمایل : تاسو نه به ددے نعمتونو په باره کښې د قیامت په ورځ تپوس کیږی. نو عمر فاروق ﷺ د کجورو یوه خوشه د زمکے نه ویشته او وے وئیل چه آیا مونږ نه به ددے شی په باره کښې تپوس کیږی اے د الله رسوله ! ؟ هغه وفرمایل : آؤ [إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ، خِرْقَةٍ كَفَّ بِهَا الرَّجُلُ عَوْرَتَهُ، أَوْ كِسْرَةٍ سَدَّ بِهَا جَوْعَتَهُ أَوْ حَجَرٍ يَتَدَخَّلُ فِيهِ مِنَ الْحَرِّ وَالْقَرِّ].

مګر ددرے نعمتونو تپوس به نهٔ کیږی یو دومره کره چه انسان پرے عورت پټ کړی دویم یوه قطره روټئ چه لوږه پرے بنده کړی، دریم یوه سوړه (کور) چه په هغے کښې د

کرمئ او یخنئ نه ځان پټ کړی۔

مسند احمد (٥/٨١/٢٠٧٨٧) والحديث صحيح رجاله كلهم ثقات وابو نصيرة مسلم بن عبيد تابعى واسطى ثقة قليل الحديث) وقال المنذرى فى الترغيب والهيثمى فى المجمع رجاله ثقات)

او پدے معنیٰ باندے ډیر روایات شته۔

او په یو بل روایت کښې ورسره (اَلْمَاءُ الْعَذْبُ - اَلْمَاءُ الْقُرَاحُ) راغلی دی۔ یعنی خوږے خالصے صفا اُوبو باندے حساب نشته۔ ددے نه ماسویٰ ټولو نعمتونو باندے حساب دے۔

د نعمتونو په باره کښې به د بندګانو نه دا سوال کیږی چه دوئ په دے باندے د خپل خالق او مالك شکر اداء کړے دے او که نهٔ، نو چاچه په دنیا کښې د هغهٔ شکر اداء کړے وی هغه به نجات بیامومی، او چاچه ناشکری کړے وی هغه به د هغهٔ په نیوکه کښې راشي۔ والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔ اللهم حاسبنا حسابا يسيرا۔ واجعلنا شاكرين لنعمك۔

ختم شو تفسیر د سورة التکاثر۔



بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۳)	(۱۰۳) سُوۡرَةُ الۡعَصۡرِ مَکِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة العصر مکی دے، په دے کښې درے آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة العصر

نوم : اولنۍ آیت [وَالۡعَصۡرِ] دے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : د جمهورو په نیز دا سورت مکی دے۔

ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی چه سورة العصر په مکه کښې نازل شوے۔

او د قتادةؒ په نیز دا سورت مدنی دے۔

فضیلت

دا یو جامع سورت دے، ابو حذیفةؓ او ابو مدینه الدارمی (صحابی) رضی الله عنه فرمائی : د صحابه کرامؓ طریقه دا وه چه دوه کسان به د یو بل سره ملاویدل نو یو بل ته به ئے سورت عصر لوستلو۔

(الطبرانی فی الاوسط رقم : ۵۰۹۷) والبیهقی فی الشعب وقال الهیثمی رجاله رجال الصحیح) (مجمع الزوائد : ۱۷۷۲۳) وقال فی تخریج الظلال : اسناده صحیح) وهو فی الصحیحة برقم : ۲٦٤۸)

ځکه چه لنډ سورت دے او ډیره لویه معنیٰ پکښې پرته ده۔

امام شافعیؒ فرمائی : [لَوۡ لَمۡ يُنۡزِلِ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ غَيۡرَ هٰذِهِ السُّوۡرَةِ لَكَفَتِ النَّاسَ]۔

که الله تعالیٰ ددے سورت نه غیر بل کوم سورت نۀ وے رالیږلے نو هم دا به د ټولو خلقو دپاره کافی شوے وے۔ (په خپل مضمون کښې ډیر جامع سورت دے)۔ (روح المعانی)

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې په تکاثر او غفلت باندې زجر وو- نو دلته زجر دې په نتیجه د هغې چه هغه خسران دې- يعنې اې انسانه ! غفلت او تکاثر مهٔ کوه ګنې په تاوان کښې به واقع شې-

۲-مخکښې سورت کښې سوال ذکر شو چه انسانانو نه به کيږي نو دلته د سوال نه روستو دوه قسمه انسانان ذکر کوي چه خاسرين او فائزين دي-

۳- مخکښې سورت کښې تخويف ذکر شو نو دلته د نجات دپاره څلور امور ذکر کوي-

د سورت مقصد

په سورت کښې جامعيت پدې طريقه دې چه پدې کښې مرض د انسان، سبب د مرض او علاج د مرض ذکر دې- نو مختصر سورت دې، او ټول اسلام ئې راګير کړيدې- او دا مبالغه نهٔ ده- مرض د انسان دا دې چه انسان په تاوان کښې دې، او تاوان دا دې :

(حِرْمَانُهٗ عَنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ)

چه بنده د الله تعالىٰ نه او د هغه د بندګئ او د هغه د طاعت نه محرومه دې- او دا لوی تاوان دې- لکه په سورة المنافقون کښې تير شوی وو :

﴿ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴾

د الله تعالىٰ ذکر چه چا پريخودو نو لوی تاواني دې-

سبب ددې مرض څه دې؟ ضِيَاعُ الْاَوْقَاتِ وَالْعَصْرِ- وخت او زمانه او عمر ضائع کول، پنځوس او شپيته کاله ئې تير شو او مرګ ئې رانزدې شو او څه ئې لا کړي نهٔ دي-

علاج المرض : څلور دوايانې دي- ايمان، عمل صالح، تواصي بالحق او تواصي بالصبر- نو که چا دا دوايانې په اعلیٰ پيمانه استعمال کړې نو مکمل علاج به ئې وشي، او د هر قسم تاوان نه به بچ شي، او مرض به ټول ختم شي، او که نيمائي ئې استعمال کړه نو نيمائي علاج او که دريمه حصه وه نو دريمه حصه علاج به وي- نو څومره چه دوائي پابندئ سره وخوړل شي شفاء به هم پوره ملاويږي-

دا د سورت یو طرز دے۔ بل طرز دا دے :

[فِیۡهَا نَصِیۡحَتَانِ وَتَکۡمِیۡلَانِ نَصِیۡحَةُ الۡاِنۡسَانِ نَفۡسَهٗ وَنَصِیۡحَةُ الۡاِنۡسَانِ لِغَیۡرِهٖ وَلِاِخۡوَانِهٖ]۔

چه پدے سورت کښې دوه نصیحتونه دی، او دوه تکمیله دی۔ یو نصیحت د انسان دے خپل ځان ته او بل نصیحت نورو مسلمانانو ورونو ته دے۔

ځان ته نصیحت دا دے چه ایمان او عمل صالح ځان کښې راولی۔ او نصیحت غیر لره دا دے چه تواصی بالحق او تواصی بالصبر وکړی۔

او دوه تکمیله دا دی : [تَکۡمِیۡلُ الۡاِنۡسَانِ لِنَفۡسِهٖ وَتَکۡمِیۡلُهٗ لِغَیۡرِهٖ] یو تکمیل د انسان خپل ځان لره دے، او هغه دا دے چه ځان کښې ایمان او عمل صالح راولی۔ او تکمیل د بل چا دپاره دا دے چه تواصی بالحق او تواصی بالصبر وکړی۔

دارنګه پدے سورت کښې د الله تعالیٰ حقوق او د بندګانو حقوق دواړه بیان شویدی، اِلَّا الَّذِیۡنَ آمَنُوۡا د الله د تعالیٰ معرفت دے۔ او عَمِلُوا الصَّالِحَات د الله تعالیٰ حق دے۔ او تواصی بالحق او تواصی بالصبر د انسانانو حق دے۔

وَالۡعَصۡرِ ﴿۱﴾ اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَفِیۡ خُسۡرٍ ﴿۲﴾ اِلَّا الَّذِیۡنَ
قسم دے په زمانه۔ یقیناً انسان خامخا په تاوان کښې دے۔ مګر هغه کسان
آمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوۡا
چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی برابر د سنت۔ او وصیت ئے کړیدے یو بل
بِالۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡا بِالصَّبۡرِ ﴿۳﴾
ته د حق او وصیت ئے کړیدے یو بل ته د صبر۔

تفسیر : په دے سورت کښې الله تعالیٰ په زمانه قسم خوړلے او وئیلی ئے دی چه ټول انسانان په تاوان کښې دی، سوئ د هغه انسان نه چه په هغهٔ کښې څلور صفتونه بیاموندے شی چه هغه روستو ذکر شویدی۔

وَالۡعَصۡرِ : ددے درے مصداقه دی (۱) د مازیګر وخت چه دا ډیر قیمتی دے، د الله د بندګئ وخت دے۔ او حدیث کښې هم دے ته اشاره راغلے دے چه چا نه د مازیګر مونځ

فوت شو (فَكَأَنَّمَا وُتِرَ اَهْلَهُ وَمَالَهُ) گویا کښې د هغه اهل او مال تاوانی (تباه) شو۔
(۲) یا عصر الرسول ﷺ مراد دے، دا ډیره بهتره زمانه او زندګی وه، د الله تعالیٰ د طاعاتو وه۔
(۳) راجح دا ده چه ددے نه مراد عامه زمانه ده، یعنی شپه او ورځ د انسان۔
او په قرآن کریم کښې په اوقاتو باندے اکثر قسم راغلے دے ځکه چه وخت ډیر قیمتی شے دے، د انسان د کامیابئ او د تاوان ذریعه ده۔ او دا قول حافظ ابن القیمؒ او حافظ ابن کثیرؒ غوره کړیدے۔
إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ : دا جواب د قسم دے، مناسبت دا دے چه انسان ځکه په لوی تاوان کښې پریوتو چه ددهٔ نه قیمتی زمانه بغیر د بندګئ نه هسے تیره شوه۔
او دا قسم د شهادت دپاره دے په اثبات د تاوان د انسانانو۔ یعنی زمانه ګواه ده چه انسان تاوان وکړو۔
بیا دلته تشبیه ده د مال د تجارت سره چه کسب وکړی لیکن ګټه ونکړی بلکه رأس المال هم برباد کړی۔ نو دغه شان انسان له الله تعالیٰ نعمتونه دینی او دنیاوی ورکړیدی او د هغهٔ د نعمتونو نه یو نعمت عمر او مال دے او دے انسان هغه ضائع کړل د الله تعالیٰ او د رسول په نافرمانئ کښې، نو سرمایه ئے برباده کړه۔
خسر : نه مراد لوی تاوان دے۔تنوین دپاره د تعظیم دے، یا دپاره د تنویع دے، یعنی د هر تاوانی انسان د هغهٔ د کار مطابق تاوان مراد دے په اعتبار د مختلفو مراتبو سره۔
امام رازیؒ د قفالؒ نه نقل کوی چه خاسر هغه څوك دے (كُلُّ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَا يُجْزٰى عَلَيْهِ فَيُقَالُ لَهُ خَاسِرٌ) چه داسے عمل کوی چه بدله ورته نهٔ ملاویږی۔ (مفاتیح الغیب)
او بقاعیؒ وئیلی دی چه هغه شخص دے چه مال ئے د ګټے دپاره تیار او برابر وی لیکن د ناکاره تدبیر د وجه نه دے په هغے کښې نقصان وکړی۔
نو دغه شان انسان په ژوند کښې ځان له ګټه کولے شی، الله تعالیٰ ورته موقعه ورکړے ده لیکن دے د هغے نه هیڅ فائده وانخلی او هغه په ضیاع او بیکاریو او ګناهونو کښې تیر کړی۔ یا ترے هسے تیر شی، خپل ځان ته پکښې سوچ ونکړی۔
امام رازیؒ دا هم وائی : [الَّذِي يَمْضِي عُمُرُهُ وَلَا يَكْتَسِبُ فَهُوَ خَاسِرٌ] ۔ هغه شخص چه د هغهٔ عمر تیریږی او هغه پکښې ځان دپاره د آخرت ګټه نهٔ کوی نو دے تاوانی دے۔

ابن عاشور لیکی : خسران دا دے : [سُوْءُ الْعَاقِبَةِ لِمَنْ يَظُنُّ لِنَفْسِهِ عَاقِبَةً حَسَنَةً]
چه یو انسان د خپل ځان دپاره د ښه انجام ګمان کوی مګر هغهٔ ته بد انجام ملاؤ شی۔
التحریر والتنویر ۳۰/٤٦٦)

او دلته د همیشه ژوند (آخرت) تاوان مراد دے، نهٔ د دنیاوی ژوند۔ او په دے تاوان کښې انسانان مختلف دی په سبب د اختلاف د ګناهونو او ډیر والی او کموالی دی د هغے (ابن عاشورؒ)

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا : دا د کامل مؤمن خصلتونه دی۔ د انسان صلاحیت په دوه طریقو سره دے، اول کمال د خپل نفس او دویم تکمیل د نورو انسانانو۔ د خپل نفس کمال په دوه طریقو سره دے، اول په عقیده دے چه هغے ته قوت عِلمی وئیلے کیږی، او دویم عمل صالح چه هغے ته قوت عملی وئیلے کیږی۔ ایمان نه مراد شرعی ایمان دے۔

او د عمل صالح نه مراد هغه دے چه د سنت موافق وی، یعنی د هر قسم بدعت او فسق نه پاك وی۔

او تکمیل د غیر هم په دوه څیزونو سره کیږی، یو په دعوت او تعلیم او تزکیه سره چه هغے ته اشاره ده په (وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ) سره۔ د حق نه مراد قرآن او طاعت د الله تعالیٰ او طاعت د رسول الله ﷺ او تزهید فی الدنیا او ترغیب الی الآخرة دے۔

بلکه مفسرین لیکی چه حق کښې ټول اسلام داخل دے، د توحید او د ایمان نه واخله تر یو مستحبے مسئلے پورے دا ټول حق دے، نو د هرے مسئلے دعوت به کولے شی۔ په چا کښې چه د کوم شی نشت والے او کموالے دے نو هغه به ورته بیانولے شی۔

او تَوَاصَوْا باب تفاعل ئے راوړو اشاره ده چه ما کښې به ډیرے خبرے د حق نهٔ وی نو زهٔ محتاج یم چه تهٔ به ما ته وصیت او بیان د حق کوے، او ډیر کارونه د حق به په تا کښې نهٔ وی نو تهٔ محتاج ئے چه زهٔ به تا ته د حق بیان کوم۔ ځکه چه انسان خو لا کامل نهٔ دے۔

او په لفظ د وصیت راوړو کښې اشاره ده چه پدے کار کښې به ډیر اخلاص او تاکید کوی، (ځکه چه وصیت مؤکد (مضبوط) حکم ته وئیلے شی)۔ او دا کار به تر مرګه پورے جاری ساتی۔

او دویم شے تلقین د صبر دے چه هغه په (وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ) کښې ذکر دے۔ او دلته د صبر لفظ ډیر عام دے، صبر په ماموراتو د الله تعالیٰ۔ صبر د محظوراتو (ممنوعاتو)

(گناهونو) نه- صبر په مقدوراتو باندې- ځکه چه په دین باندې عمل کول، او د دین بیانول او دعوت کول هم صبر غواړي، ګناه نه ځان ساتل هم صبر غواړي او مصیبتونه هم صبر غواړي-

او دلته ئې هم تَوَاصَوْا راوړو، اشاره ده چه هر یو تن صبر ته محتاج دې، او د مسلمانانو به اجتماعیت وي یو بل ته به تسلیانې ورکوي- وبالله التوفیق-

ختم شو تفسیر د سورة العصر په توفیق د رب العالمین سره-



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۹)	(۱۰٤) سُوْرَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الهمزه مکی دے، په دے کښې نهه آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الهمزة

نوم : په اولنی آیت کښې [هُمَزَة] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے.

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے. ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه ﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴾ په مکه کښې نازل شوے.

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې د فائزینو ځلور صفتونه ذکر شول نو دلته د خاسرینو ځلور صفتونه ذکر کوی.

۲- مخکښې زجر وو په خسران سره نو دلته د خسران والو دپاره تخویف اُخروی دے.

۳- په مخکښې سورت کښې صفات د تحلیه ذکر شو نو دلته صفات د تخلیه ذکر کوی.

د سورت مقصد

اَلزَّجْرُ بِالْاَوْصَافِ الْقَبِيْحَةِ مَعَ التَّخْوِيْفِ الْاُخْرَوِيِّ. په بدو ناکارو صفاتو باندے رټنه ورکوی او د آخرت یره ورله بیانوی.

دا سورت د ولید په باره کښې نازل وو، لیکن الفاظ ئے عام دی هر بد اخلاقه ته.

ددۀ درے مرضه او درے سزاګانے بیانوی.

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾
هلاکت دے دپاره د هر عیب لګونکي، بدي ویونکي۔ (پشي شا بد ویونکي مخامخ طعنونه کونکے)
الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿٢﴾
هغه چه راجمع کړے ئے دے مال او شماری هغه۔
يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴿٣﴾ كَلَّا
ګمان کوی چه یقیناً مال ددهٔ به همیشه کړی دهٔ لره۔ هیچرے داسے نهٔ ده
لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا
خامخا ګوزار به کړے شي په حطمه کښې۔ او څه پوهه درکړیده تا ته چه څه شے دے
الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ اللهِ الْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿٧﴾
حطمه۔ اُور د الله تعالیٰ دے بل کړے شوے۔ هغه دے چه ورخیژی به په زړونو باندے
إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾
یقیناً هغه به په دوی باندے جوخت کړے شي (د هر طرف نه)۔ په سنتو اُوږدو کښې۔

تفسیر : په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ د جهنم د وَیل کندے، یا د هلاکت او عذاب دهمکی هر هغه کس له ورکړے ده چه هغه په خلقو عیبونه وائی، او مخامخ یا پشي شا غیبت کوی، او بهتانونه لګوی۔

[هُمَزَة] نه مراد هغه انسان دے چه هغه د چا مخامخ په هغهٔ بدی وائی۔ او [لُمَزَة] هغه چاته وائی چه هغه د خلقو پشي شا بدی بیانوی۔ (ابوالعالیهؒ، حسنؒ، مجاهدؒ، عطاء بن ابی رباحؒ) او قتادهؒ ددے برعکس فرق کوی۔

۲- مجاهدؒ دا هم وئیلي دی چه [هُمَزَة] هغه دے چه هغه د خپل عمل او د لاس په اشارے په چا عیب لګوی۔ او [لُمَزَة] هغه دے چه هغه د خپلے ژبے په ذریعه د چا عیب تالاش کوی۔

۳– سفیان الثوریؒ وائی : همزه هغه دے چه په ژبه سره عیب وائی او لمزه هغه دے چه په سترګو سره عیب وائی۔
۴– دارنګه اَلطَّعَّانُ الْمُغْتَابُ ته وائی۔ (ابن عباس ﷺ)
یعنی همزه هغه څوك دے چه نسب د خلقو باندے طعنونه وائی۔ او لمزه هغه دے چه غیبتونه کوی۔ د خلقو عیبونه بیانوی۔
د ابن عباس ﷺ نه دا هم نقل دی : همزه لمزه هُوَ الْمَشَّاءُ بِالنَّمِيمَةِ الْمُفَرِّقُ بَيْنَ الْجَمْعِ الْمُغْرِئُ بَيْنَ الْإِخْوَان ۔ دا هغه شخص دے چه چغلی خوره وی، د خلقو اتفاق خرابوی، د ملګرو ترمینځ شیطانی کوی۔
او صاحب د فتح البیان لیکی چه پدے کښی هغه شخص هم داخل دے چه د خلقو د اقوالو، د هغوی د افعالو او د هغوی د آوازونو نقل (پیښے) کوی، دے دپاره چه خلق وخندَوی۔
او هُمَزَه لُمَزَه د فُعَلَةٌ وزن دے په عادت نیولو باندے دلالت کوی۔ همزه په اصل کښی کسر (ماتولو) ته وئیل شی۔ او بعض وائی چه همز او لمز دواړه په معنیٰ د وهلو او دیکه کولو سره استعمالیږی۔
او د مکے په مشرکانو کښی څۀ داسے خلق وو چه په هغوئ کښی په خاصه توګه دا خراب صفت موجود وو، لکه أخنس بن شریق او نور۔ دے خلقو به چه کله مسلمانان اولیدل نو کله به ئے په ژبه او کله به ئے په اشارے سره هغوئ پورے توقے کولے، لیکن د آیت حکم عام دے، هر هغه انسان ته شامل دے چه په هغۀ کښی په هر ځی او زمانه کښی دا خراب صفت موجود وی۔ او د قرآن کریم د مطالعے (او کتلو) نه معلومیږی چه د هر دَور په مجرمانو کښی دننه په خصوصی توګه دا صفت موندلے کیږی۔
د سورۀ المطففین په (۲۹/۳۰) آیتونو کښی الله تعالیٰ فرمایلی دی : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴾ (ګنهګارو خلقو به په ایمان والو پورے توقے کولے، او کله به چه د دوئ خواته تیریدل نو خپلو کښی به ئے په سترګو سره یو بل ته اشارے کولے)۔
الَّذِیْ : د داسے غیبت کونکی او عیب لګونکی انسان دویم صفت دا دے چه په ژوند کښی د مال جمع کولو او ددے د شمارلو نه سویٰ ددۀ بل هیڅ مقصد نۀ وی۔

دے د حلالو او حرامو د تمییز نه بغیر مال جمع کوی، او په صله رحمیٔ او د خیر ښیګړے په نورو کارونو کښې ددے د خرچ کولو هیڅ کله سوچ هم نۀ کوی۔ دا ګمان کوی چه هر عزت او شرافت په مال جمع کولو کښې دے، څومره چه ددۀ مال زیاتیږی، کبر او غرور ئے زیاتیږی، او خلقو پورے توقے کول ددۀ عادت جوړیږی۔ داسے کس د دولت په نشه کښې مرګ او ددے نه روستنے انجام هیروی او ګمان کوی چه دۀ له به هیڅ کله مرګ نۀ راځی او دے به همیشه په دنیا کښې اوسیږی۔

جَمَعَ مَالًا : دا دریم عیب دے۔ یعنی دا مالونه ددۀ سبب ګرځیدلی دی د عیبونو وئیلو دپاره۔ یعنی مال په تکبر کښې راوستے دے۔

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ : دا څلورم عیب دے۔ چه د مال په وجه د آخرت نه منکر شویدے۔ یعنی د مال سره داسے معامله کوی لکه تۀ به وائے چه دے دنیا کښې همیشه دے او مرګ به پرے نۀ راځی، مرګ ئے هیر کړیدے۔

كَلَّا : اُوس الله تعالیٰ ددۀ غلط ګمان رد کوی او ددۀ دپاره د آخرت سزا بیانوی۔ نو دا ردع د يَحْسَبُ یا د هَمْز او لَمْز نه ده۔ یعنی هیڅ کله داسے غلط ګمان نۀ دے جائز۔ او عیبونه لګول جائز نۀ دی، بلکه دۀ له به مرګ راځی او ددے عارضی ژوند نه پس به همیشه ژوند راځی چه په هغے کښې به د خپلو بدو عملونو سزا برداشت کوی، او د قیامت په ورځ به په هغه اُور کښې دے غورزولے شی، چه په دے کښې غورزیدونکے هر یو شے به نیست او نابود کړی۔

لَيُنبَذَنَّ : نبذ یو شے بد ګنړلو سره غورزول دی۔ او دا لفظ ئے په مقابل د همزه لمزه کښې راوړو چه دے خو په بل عیبونه لګوی او بل ورته سپك ښکاری نو الله به ئے هم دغه شان سپك ګوزار کړی۔

الْحُطَمَةِ : د حطم نه د مبالغے صیغه ده، ماتولو ته وئیلے شی۔ یعنی ډیر ماتونکے اُور چه ددۀ هډوکی او هر څه به مات رامات کړی۔ دا د جهنم نوم دے یا د یوے طبقے۔

او حطمه لفظ ئے راوړو ځکه چه دا مقابل د جَمَعَ مَالًا دے، یعنی دۀ مال جمع کړو نو الله به ئے ورله مات رامات کړی۔

الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ : دا د يَحْسَبُ مقابل دے، یعنی دۀ په خپل زړۀ کښې غلط ګمان او فاسده عقیده جوړه کړے وه۔

دارنگه زړهٔ کښې ئے تکبر وو نو دا اُور به ورله ددغه غلط گمان ځای وسیزی۔
او اشاره ده چه دا اُور به ورله ټول بدن وسیزی تردے چه زړهٔ ته به ورسیږی۔
تطلع : ١- یعنی خبریږی په زړونو یعنی الله تعالیٰ ورله اطلاع ورکوی چه دلته ورشی۔
٢- تَبْلُغُ۔ رسیږی به۔ دائے حاصل معنیٰ ده۔
٣- وربښکاره کیږی او ورخیژی به۔ ځکه چه د طلوع همدا معنیٰ ده۔
مُّؤْصَدَةٌ: اَیْ مُطْبَقَةٌ۔ یعنی بند کړے شوے۔ یعنی د جهنم دپاسه به سر کیخودے شی او دوی به پکښې راګیر شی چه تیختته به ترے هم نشی کولے، او د هغے بړاس به هم بهر ته نهٔ وځی۔ او د بهر نه به رنړا هم پرے بنده شی۔
یا معنیٰ دا ده چه دا اُور به په دوی باندے جوخت کړے شی، د بدنونو پورے به ئے انښتے وی، لږ ساعت دپاره به هم ترے نهٔ جدا کیږی۔
فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ : ١- د پخوانئ زمانے طریقه دا وه چه کله به ئے یوه کوټه بنده کړه نو هغے ته به ئے وولان کیخودل (یعنی اُوږدے اُوږدے ستنے او لرګی کیخودل) نو هغه به دومره مضبوطه بنده شوه چه هیچا به نشوه کولاوولے تردے چه هغه به ئے د لاندے نه ماته کړه۔ نو دلته هم الله تعالیٰ دغه اصطلاح ذکر کړیده چه د جهنم دروازو ته به دغه شان ستنے ووهلے شی چه د هیچا د کولاوولو طاقت به نهٔ وی۔
پدے توجیه سره به فِيْ په معنیٰ د باء سره وی، او متعلق به وی د مُّؤْصَدَةٌ پورے، اَیْ مُؤْصَدَةٌ بِعَمَدٍ۔ یعنی بند کړے شوی به وی په ستنو سره۔
٢- یا ددے ستنو نه مراد دا چه دا به ډېرے ستنے وی، او پدے کښې به دننه د اُور لمبے وی لکه د پائپونو د بټئ د اُور په شان۔ او اُوږدے به وی چه دوی به ئے د هر طرف نه راګیر کړی وی۔ پدے توجیه سره فِيْ په خپله معنیٰ سره دے۔
٣- دریمه توجیه دا ده چه دوی به په جهنم کښې دننه د اُوږدو ستنو پورے وتړلے شی۔ لکه سپی چه خلق د ستنے پورے تړی۔ دا د دوی ذلت هم دے او عذاب هم۔
عمد اسم جمع ده۔ یا جمع د عِمَاد ده۔ ستنے ته وائی۔ اللهم انا نسئلك العفو والعافية۔
ختم شو تفسیر د سورة الهمزه په مهربانئ د قهار او جبار سره۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٥)	(١٠٥) سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة الفیل مکی دے، په دے کښې پنځه آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الفیل

نوم : په اولنی آیت کښې [الْفِيْل] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویہؒ د ابن عباس رضی اللہ عنہ نه نقل کړی چه ﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيْلِ ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

١- مخکښې زجر او تخویف اخروی وو مخالفینو دپاره۔ نو دلته تخویف دنیوی دے۔

٢- مخکښې سورت کښې مخالفت د حق نه په سبب د دنیا پرستئ سره ذکر شو نو دلته مخالفت د حق نه په وجه د دنیوی اقتدار سره ذکر کوی۔

٣- مخکښې سورت کښې د حق والو سره دشمنی ذکر شوه نو دلته د حق د مرکز سره د دشمنی ذکر کوی۔

د سورت مقصد

ددے سورت او د روستو سورت قریش دواړو یو مقصد دے۔ او هغه : حِفْظُ مَرَاكِزِ التَّوْحِيْدِ۔ (یعنی د توحید د مرکزونو حفاظت پکار دے) او دا ئے وړاندے مقصد دے۔

یعنی قریشو د بیت الله حفاظت ونکړو نو الله تعالیٰ په ابابیلو وکړو، پکار دا وه چه دوی حفاظت کړیدے او جنګ ئے د ابرهه سره کړے وے۔ او په روستو سورت کښې وائی چه الله ورله د کعبے حفاظت وکړو نو دوی له دلته د الله تعالیٰ بندګی پکار وه، نو دوی ترے

وتبنتیـدل، یـو خوا بل خوا، نو دواړو کښې د مراکزو د توحید حفاظت دے ظاهراً هم او په عبادت سره هم۔

نـو په اول سورت کـښې تخویف او تهدید (رټنه) هم ده هغه چا ته چه څوك د مراکزو د ایمان او د اسلام بے عـزتي او بے ادبي کوي۔ لکه د کعبے بے عزتي چا کوله نو الله ورسره څـنګـه کار وکړو نو دغه شان چه څوك د مساجدو او مدارسو بے عزتي کوي نو الله به ئے دغسے کـړي۔ ضـمـناً پدے کښې د رسول الله ﷺ شرافت هـم ذکـر دے، ځـکه چه د کعبے حفاظت الله تعالىٰ ولے وکړو؟ وجه دا وه چه الله تعالىٰ دے ته دا آخري رسول رالیږلو، دا ددهٔ مرکز وو، نو الله ورته باقي پریخودو۔

د هاتیانو والو واقعه

په دے سـورت کـښې الله تـعـالـىٰ نبي کریم ﷺ تـه خـطـاب کـړے او د اصـحـاب الفیـل د هـلاکـت واقـعـه ئے وریاده کړے، چه هغویٔ د خپل قوت او لویئ په نشه کښې د یمن نه د خانه کعبے نړولو دپاره راغلي وو، او وئیلي ئے دي چه الله تعالىٰ دغسے د قریشو د ظالمانو او سـرکشـانو په هلاکولو هم قادر دے۔ دے وجے نه اے زما نبي ! تهٔ د صبر نه کار اخله، او زمونږ د فیصلے انتظار کوه۔

د هـاتیـانـو والـو واقـعـه پـه متواترو روایتونو سره ثابته ده۔ ددے د شهرت او اهمیت له مـخے مـکے والو ددے نه خپل تاریخ شروع کړے وو۔ ابن هشامؒ او نورو تاریخ پوهانو او د سیرت عالمانو چه ددے واقعے کوم تفصیل بیان کړے، د هغے خلاصه داده :

چه ابرهه حبشي چه د نجاشي بادشاه له طرفه د یمن ګورنر وو، دے نصراني وو، په یمن ئے حـمـلـه کـړے وه نو دے ئے قبضه کړے وو، نو یوه ورځ ئے خپل بادشاه نجاشي ته وویل چـه زهٔ په صنعاء الیمن کښې یوه ګیرجه جوړوم دے دپاره چه د عربو خلق او د هغوی حج د خـانـه کـعبے په ځای دے علاقے طرفته راواوړي، او ددے نه طواف وکړي، او ددے زیارت وکـړي۔ (دا ډیر لـوی جاهل وو چه کومے کوټے ته الله تعالىٰ عزت ورکړے وو او د خلقو په زړونـو کـښې ئے ورله عزت ایخودے وو، اودے یو کافر انسان دے او یوه کوټه جوړه وي او د الله د کوټے مقابله پرے کوی، دا چرته برابریدے شي)

دهٔ کـوټـه جـوړه کـړه نـو هغے ته به هیڅوك نهٔ ورتلل نو پدے کښې د قریشو یو سړي (د بـنـو کـنـانـه نـه) چه دا واوریدهٔ ډیر متاثره شو، او د شپے په وخت دغه ګیرجے ته ننواتهٔ او

هلته ئې گندګی وکړه او د هغې په دیوالونو پورې ئې راښکله. او د هغه ځای نه راوتښتیدو، ابرهه چه دا واوریدهٔ ډیر سخت غصه شو، او دا ئې وویل چه دا کار چا کړیدې؟ نو هغه ته وویل چه شو دا د عربو قریشو نه یو سړے دے. نو هغه قسم وکړو چه زهٔ به نهٔ منع کیږم ترڅو چه ما د دوئ کعبه ورانه کړې نهٔ وی.

نجاشی ته ئې خبر ورلیږو چه زهٔ داسے کوم نو هغه اجازه ورکړه (دے وخت کښې دا بل نجاشی دے او هغه مسلمان بادشاه نهٔ دے) یو لوی فوج ئې واخستهٔ (چه په شپیته زره کسانو او په دیارلس هاتیانو مشتمل وو، یو پکښې د محمود په نوم یو فیل (هاتی) وو چه په طاقت کښې ډیر زیات مشهور وو) د خانهٔ کعبے د ورانولو دپاره روان شو.

په لاره کښې ورته یو قوم راووتو او خپل مینځ کښې ئې وویل چه ددے فوج مقابله پکار ده چه د الله تعالیٰ د کوټے ورانولو دپاره راروان شویدے، نو هغوی ورسره جګړه شروع کړه تردے چه ابرهه پرے غالب شو. د هغوی مشر ذو نَفَر وو هغه ئې ونیولو او د ځان سره ئې روان کړو. بل قوم مخے ته راغے، چه هغه خثعم قبیله وه، هغه ئې هم مغلوبه کړل او مشر ئې ورله ونیولو چه د هغه نوم نُفَیل بن حبیب خثعمی وو، او راروان ئې کړو، طائف ته چه کله ورسیدل نو ثقیف قبیله وراُووته او اکرام ئې ورله وکړو او دا ئې ورته وویل چه زمونږ دلته یو لات بت دے، هغه مهٔ خرابوئ او کعبه به مونږ در وښایو هغې پسے ورشئ، نو دوی ورسره ابورُغال په نوم یو کافر ولیږلو، روان شو چه مُغَمَّس علاقے ته نزدے راورسیدل چه دا د عرفات نه اخوا علاقه ده، نو پدے کښې الله تعالیٰ په دغه ابورغال باندے مرګ راوستو او دلته خښ شو.

(بیا به د عربو خلق په لاره راتیریدل او د ابورغال قبر به ئې په کاڼو ویشتو چه دا هغه ظالم دے چه د کعبے د ورانولو دپاره ئې ابرهه سره مدد کړیدے)

پدے کښې ابرهه مِنیٰ ته رارورسیده او دلته ئې پړاؤ واچولو، ترتیب جوړه وی چه څه طریقے سره حمله وکړی، پدے کښې عبد المطلب او نور قریش خبر شو او مشوره ئې وکړه چه غرونو ته وتښتئ ددے فوج مقابله مونږ نشو کولے، ځکه چه دوی طاقتور دی او مونږ سره دغه شان طاقت نشته، بیا عبد المطلب خلقو ته اووئیل چه مونږ ټول به غرونو ته اوخیژو او د کوم الله چه کور دے هغه به د خپل کور حفاظت کوی.

بیا دے خلقو د عبد المطلب اُوښان ونیول نو هغه ورپسے ورغلو او ابرهه ته ئې وویل

چه ستا فوج زما اُوښان نيولي دي، هغهٔ ورته ووېل چه تهٔ خو ما ته ډېر هوښيار سړے ښکاره کېدے، تهٔ خو ډېر کم عقل ئے، تهٔ د خپلو اُوښانو غم کوے او مونږ ستا کعبه ورانول غواړو او د هغے غم نهٔ کوے۔ هغهٔ ورته ووېل چه ددے کور مالك شته، هغه به ئے حفاظت کوی۔ (پدے ئے ايمان وو چه الله تعالىٰ پدے قادر دے چه د خپلے کوټے حفاظت به کوی) بيا راغے او کعبه کښ ئے دعاګانے وکړے، او بيا يو غر ته طرفته وتښتيدو۔

کله چه ابرهه د خپل طاقت په نشه کښ مست را وړاندے شو، او حکم ئے وکړو چه هاتی پاڅوئ نو څه ګوری چه هغه نهٔ پاڅيږی، الله تعالىٰ بند کړو، چه د کعبے په طرف ئے روانوی نو نهٔ ځی او چه بل طرفته ئے روانوی، منډه کوی، په جَبلونو او وسپنو باندے ئے ووهلو ليکن هغه نهٔ پاڅيدو، ډېر وخت پدے تير شو پريشانه وو چه څه وکړی،

کله چه دوی اراده وکړه چه هاتی مکے طرفته روان کړی نو دے وخت کښ نفيل بن حبيب راغلو او د هاتی په غوږ کښ ئے ووېل : اے محموده ! ځمله او د کوم ځای نه چه راغلے ئے هلته په ښه شان واپس شه ځکه چه تهٔ د الله په حرم کښ ئے۔ بيا ئے د هاتی غوږ پريخودو او خپله د دغه ځای نه ووتو او غر طرفته ئے منډه کړه،

نو دوئ پدے هنګامه او کشمکش کښ مصروف وو چه سمدست الله تعالىٰ د درياب د غاړے نه ابابيل (واړه واړه مارغان د توته کرکو په شکل) راوليږل چه د هغوی سره درے قسمه بمونه وو، يو يو په پنجو کښ او يو په مکوخه کښ او په دوی باندے ئے راګوزار کړل، نو د هر چا په سر چه به ولګيدو هغه به ئے داسے ذره ذره کړل لکه بوس چه خوړلے شوی وی۔ ګنده بوئيونه ترے روان وو۔ فوج ئے دلته ختم شو۔

په روايتونو کښ راځی چه ددے تيکرکو په زخم سره د هغوئ په جسمونو کښ دانے را اوختے او دانے راختو سره د دوئ د جسمونو غوښے غورزيدلے او تول په وادئ محسر او ددے خوا او شا کښ هلاك شول۔

او ابرهه باندے هم دغه کانړی راپريوتل ليکن پدے ځای کښ مړ نشو بلکه الله تعالىٰ ورله لړ عذاب ورکولو، ددے په وجه ئے په پرے داسے بيماری راوسته چه ګوتے به ئے پريوتے او په لاره روان وو، همداسے به کمزورے کيدو تردے چه سينه ئے وچاوده او چه کلی ته رسيدو نو اندام اندام شوے وو، او پدے ذلت کښ الله تعالىٰ مردار کړو۔

يو تن د نجاشی بادشاه ملاقات ته ددے خبر ورکولو دپاره روان وو ، چه کله ئے هغهٔ ته

خبر ورکړونو مارغه وریسے ورغلو او د هغهٔ په سرئے هم کانړے ګوزار کړو او په همغه ځای ئے مردار کړو، څوك چه د کعبے د ورانولو په نیت راغلي وو هغه ټول ئے تباه کړل۔

او دا واقعه د رسول الله ﷺ د پیدائش نه پنځوس ورځے مخکښ یا د اکثرو په نیز پنځه پنځوس ورځے مخکښ راغلے وه، د محرم میاشت وه۔ د فروری میاشتے آخر، یا د مارچ میاشتے د اول سره سنه (۵۷۱) م سره مطابق وه۔ (الرحيق المختوم)

او دغه فيل او ابابيل مارغان حكيم بن حزام ﷺ او حاطب بن عبد العزى او نوفل بن معاويه ليدلي وو څكه چه د دوى عمر (۱۲۰) كاله وو شپيته كاله ئے په جاهليت او شپيته كاله ئے په اسلام كښ تير كړي وو۔ (اعلام النبوة لابي الحسن الماوردى ۱/ ۲٤۰)

او پدے باره كښ نفيل بن حبيب به وئيل :

حَمِدْتُ اللّٰهَ اِذْ اَبْصَرْتُ طَيْرًا ❁	وَخِفْتُ حِجَارَةً تُلْقِي عَلَيْنَا
وَكُلُّ الْقَوْمِ يَسْئَلُ عَنْ نُفَيْلٍ ❁	كَاَنَّ عَلَيَّ لِلْحُبْشَانِ دَيْنَا

(الروض الانف)

(ما د الله حمد ووئيلو كله چه ما مارغان وليدل، د هغه كانړو نه وبريدم چه په مونږ باندے راغورزولے شول۔ او ټول قوم نُفيل ته آوازونه كول ګويا كښ په ما باندے د حبشيانو قرض وو)۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی : [لَقَدْ رَاَيْتُ سَائِقَ الْفِيْلِ وَسَائِسَهُ اَعْمَيَيْنِ مُقْعَدَيْنِ يَسْتَطْعِمَانِ بِمَكَّةَ] ما په مكه كښ د دغه هاتى راخكونكے او څرونكے وليدل چه دواړه ړاندهٔ او شل شوى وو او د خلكو نه به ئے طعام غوښتلو۔ (مسند البزار : ۳۰۰)

دلته وګوره ابرهه اهل كتاب دے او عبد المطلب او دهٔ ملګرى مشركان دى، الله تعالىٰ اهل كتاب د مشرك په مقابله كښ ووهل، وجه دا ده چه دلته مشركان په حقه وو، او ابرهه ظالم وو، لكه څنګه چه الله تعالىٰ د رسول الله ﷺ په مقابله كښ دغه مشركان ووهل څكه چه رسول الله ﷺ په حقه وو۔ نو دلته الله تعالىٰ مشركانو ته اشاره وركوى چه تاسوددے كعبے حفاظت نهٔ كولو، الله تعالىٰ ئے حفاظت وكړو ددے نبى د خاطره۔ نو بيا تاسو ولے ددے رسول تابعدارى نهٔ كوئ۔

په دے طريقه الله تعالىٰ خانه كعبه او اهلِ مكه خلاص كړل، او دا واقعه د آينده دنيا

والـو دپاره د عبرت چابك جوړ شو۔ ددے نه پس اوسه پورے بیا چا د ابرهه پشان زړورتیا ونۀ کړه، او د هغه ځی په امن او سکون کښې هیڅوك خلل واقع نشو۔ ولله الحمد۔

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ﴿١﴾
آیا تۀ نۀ ګورے چه څنګه کار اُوکړو رب ستا د هاتیانو والو سره۔
أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ
آیا وے نۀ ګرځولو چل ول د هغوی په بربادئ کښې۔ او را وے لیږل په هغوی باندے
طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾
مارغان ډلے ډلے۔ ویشتل ئے هغوی لره په کانړو د پاخه شوو نه۔
فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾
نو وے ګرځول دوی پشانته د بوسو خوړلے شوو۔

تفسیر: دلته الله تعالیٰ قریشو خلقو باندے احسان یادوی نبی کریم ﷺ ته فرمائی :

آیا تـا د الله تـعالیٰ د قدرت، د هغۀ د عظمتِ شان، په بندګانو باندے د هغۀ رحمت، او د هغۀ د توحید او د هغۀ د رسول د رشتین والی دلائل د اصحاب الفیل په واقعه کښې ونۀ کتل، چه هغۀ د خانه کعبے په خِلاف د اصحاب الفیل سازش څنګه ناکام جوړ کړو، او د دوئ د هـلاکولو او بربادولو دپاره ئے ډلے ډلے مرغئ را اولیږلے چه هغوئ د سمندر له خوا راغلے،

مـکے والـو (چه د غـرونـو څـوکو ته ختلی وو) هغوئ خپلو سترګو سره اولیدل چه د ابرهـه د فـوج دپاسـه راغلے او په خپلو پنجو او مښوکو کښې نیولی تیکرکی ئے په دوئ بـانـدے را اُوورل، او پـه لیـدو لیـدو سره د هـغوئ د لاشونو ډهیرے اولګیدۀ، او هغوئ د خوړلے شوو بهوسو غونته شو۔

أَلَمْ تَرَ: دا لـفظ د سترګـو لیـدو او رؤیتِ عـلمی دواړو تـه شامل دے۔ او پدے کښې تعجُیب مقصد دے۔

كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ : کَیْفَ کـښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ د قدرت او د هغۀ د علم کمال او

د بیت الله شرافت ته پدے وجه ئے اول دا فعل اجمالی ذکر کړو۔

بِاَصْحَابِ الْفِيْلِ : د دوئ نه مراد اَبْرَهه او د هغهٔ فوج دے چه ځان سره ئے مشهور فیل راوستے وو۔ نو ځکه ئے فیل مفرد ذکر کړو یا فیل اسم جنس دے مراد ترے نه ډیر هاتیان دي۔

اَلَمْ يَجْعَلْ : پدے کښ تفصیل د دغه فعل دے۔ اَلَمْ يَجْعَلْ دا استفهام د تقریر او تاکید دپاره دے۔

كَيْدَهُمْ : یعنی د دوئ تدبیر او کوشش د کعبے د نړولو او د مکے والو د ذلیله کولو دپاره۔

فِيْ تَضْلِيْلٍ : اَیْ فِیْ ضِیَاعٍ وَبُطْلَانٍ وَخَسَارَةٍ وَهَلَاكٍ۔ یعنی په بربادئ او تاوان او هلاکت کښ۔

وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ : دا د تضلیل بیان دے۔ او دا لفظ اشاره ورکوی چه دا عذاب د بره نه راغلے وو، او د دوئ نه ئے ګیره اچولے وه، او ډیر راغلی وو۔

طَيْرًا : دا اسم جنس دے مذکر هم استعمالیږی او مؤنث هم۔ او نکره ئے راوړه اشاره ده چه دا ناشنا قسم مارغان وو او اشاره ده ډیروالی د هغوی ته۔

أَبَابِيْلَ : دا اسم جمع ده، او مفرد مِنْ لفظه ئے نشته۔ او دا صفت د طیرًا دے۔

بعض وائی : دا جمع د اِبُّوْلٌ ده لکه د عِجُّوْلٌ په شان، (تاج العروس۸/۲۴٤)

او بعض وائی : جمع د اِبِیل ده۔ او رُؤَاسِیّ ددے مفرد د عربو نه اِبَّالَةٌ آوریدلے دے۔

او فراءَ وائی اِبَالَةٌ په تخفیف سره هم صحیح دے۔

اَیْ جَمَاعَاتٍ فِیْ تَفْرِقَةٍ۔ (ابوعبیدهؒ) یعنی ډلے ډلے د یو بل نه جدا۔ یعنی یو بل پسے به ډله ډله راتلل۔ او د هر طرف نه به راتلل۔ او ددے معنیٰ د ډیر او د پرله پسے هم ده۔

بِحِجَارَةٍ : تنکیر کښ کثرت او ناشنا والی ته اشاره ده۔ یعنی په ناشنا کاڼړو سره۔

مِنْ سِجِّيْلٍ : ۱- یعنی هغه ګټے چه د ختو نه په اُور کښ پخے شوے وی،

۲- زجاج وائی : مِمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْعَذَابُ بِهٖ مُشْتَقًّا مِنَ السِّجِلِّ۔

یعنی د هغه کتاب نه چه د دوی عذاب پکښ لیکلے شوے وو۔ مشتق دے د سجل نه لیکلو ته وئیلے شی۔

كَعَصْفٍ : ۱- عصف د فصل هغه پاڼړے چه څاروی ئے خوری۔

۲- یا بوسو ته وئیلے شی (ابن عباس ﷺ)۔
مأكُولٍ: یعنی هغه بوس چه وخوړلے شی او بیا د څاروی نه د خوشیانو او خاشنو په شکل کښې راوځی نو دا ډیر بدبویه وی، او د یو بل نه ئے اجزاء جدا جدا وی۔
نو دغه شان د دوی بدنونه هم ټکړے ټکړے شول او بدبویه مردار جدا جدا پراته وو۔

الحمد لله ختم شو تفسیر د سورة الفیل په رحمت د ارحم الراحمین سره په (۲۹) رمضان قبیل الافطار۔



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (٤)	(١٠٦) سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورۂ قریش مکی دے، په دے کښ څلور آیتونه او یوه رکوع ده۔

تفسير سورة قريش

نوم : په اولنی آیت کښ [قُرَيْش] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔

د نازلیدو زمانه : د جمهورو په نیز دا سورت مکی دے۔ او ضحاکؒ او کلبیؒ وئیلی دی چه دا مدنی دے۔ ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷺ نه نقل کړی چه سورۂ [لِإِيْلَافِ] په مکه کښ نازل شوے۔

مناسبت

١- مخکښ د بیت الله دشمنانو ته تخویف دنیوی ذکر شو نو دلته د توحید دعوت ورکوی هغه چا ته چه د بیت الله مجاورین دی۔

٢- مخکښ تخویف دنیوی وو نو دلته زجر دے۔

٣- مخکښ یو نعمت ذکر چه حفاظت د بیت الله دے نو دلته نور دوه نعمتونه ذکر کوی چه اطعام او امن دے۔

د سورت مقصد

د مراکزو د توحید حفاظت پکار دے په عبادت سره۔ او پدے کښ الله تعالیٰ په قریشو رد کوی چه تاسو اُوړی ژمی سفرونه کوئ او په کعبه کښ عبادت نهٔ کوئ، لکه د هغوی عادت دا وو چه په ژمی کښ به یمن ته او په اُوړی کښ به شام ته تلل، موسمونه به ئے هم بدلول او تجارتونه به ئے هم کول۔ او کعبه به ئے د بندګئ نه خالي پریخودے وه، نو الله تعالیٰ وفرمایل چه ما خو تاسو ته فراخي درکړیده، څو مره رزقونه مکے ته راروان دی،

دغه خورئ او بندگي کوئ۔
ددے نه دا معلومیږی چه الله تعالیٰ چا ته فراخي ورکړې وي او بیا هم هغه په دکانونو کښې ناست وي، او د الله تعالیٰ بندګئ ته ځان نهٔ وزګاروي نو دا غټ بد بخته دے۔

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ
تعجب دے په مینه د قریشو (د دنیا سره)۔ مینه د هغوی د سفر د ژمي سره
وَالصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾ الَّذِىٓ أَطْعَمَهُمْ
او د اوړي سره۔ نو بندګي دې وکړي د رب ددے کور۔ هغه ذات چه خوراك ئے ورکړیدے
مِّنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾
دوی ته (چه بچ شي) د لوږے نه او امن ئے ورکړے دوی ته د یرے نه۔

تفسیر: لِإِيلَافِ : ایلاف په لغت کښې یو شي سره مانوس کیدل او عادت کیدل، او د هغے سره مینه کول دي۔
او پدے لام کښې د مفسرینو درے اقوال دي: (۱) یو دا چه دا متعلق دے د مخکښې سورت آخر پورے یعنی فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ) پورے۔
او مطلب دا دے چه مونږ د هاتیانو والو سره چه څهٔ وکړل، دے دپاره مو وکړل چه د قریشو خلق د یمن او د شام سفر عادي پاتے شي، اوبے خوف او خطر سفر کوي، قریشو باندے زمونږ دا احسان وو۔ ځکه چه د قریشو خلق به چه کله تجارت دپاره د مکے نه بهر تلل نو هیڅ یوے قبیلے به په دویٔ باندے حمله نهٔ کوله، د عربو قبیلو به وئیلے چه دا خلق د الله تعالیٰ د کور والا دي۔ د دویٔ په چیرلو سره دِے ځوك د الله سره دشمني نهٔ کوي۔
او د دویٔ ددے عقیدے مضبوطوالے الله تعالیٰ د هاتیانو والو واقعے سره وکړو چه کله ابرهه حبشي د خانه کعبے نړولو دپاره راغے نو الله تعالیٰ هغه هلاك کړو۔
الله تعالیٰ په دے سورت کښې قریشو ته دغه نعمتونه ورياد کړي او وئیلي ئے دي چه مونږ ابرهه او د هغهٔ د فوج سره دا کار ځکه اوکړو چه د قریشو خلق د تجارت دپاره بے خوف او خطر د شام او یمن سفر کوي او هیڅوك په دویٔ حمله ونهٔ کړي۔

نو هركله چه په قريشو الله تعالىٰ دا احسان وكړو نو دوى له اُوس د الله تعالىٰ بندګى پكار ده، نۀ شرك او كفر.

دا قول د علماؤ يو جماعت رد كړيدے، ځكه چه بيا به دا سورت بعض حصه وے د مخكنى سورت، او په اجماع سره دا دواړه جدا سورتونه دى. (البحر المحيط)

(۲) دويم قول د خليل بن احمدؒ او زمخشرى دے چه لام د روستو (فَلْيَعْبُدُوْا) پورے متعلق دے، او پدے كښې هم همغه زوړ نعمت وريادول مقصد دے، او مقصد به دا وى كه دوى د نورو نعمتونو د وجه نه د الله تعالىٰ عبادت نۀ كوى نو ددے لوى نعمت د وجه نه خو د الله تعالىٰ بندګى خامخا وكړى چه دوى ته ئے د رزق دپاره د فراخئ لارے كولاوے كړيدى.

(۳) كسائىؒ او اخفشؒ وائى چه دا لام د تعجب دپاره دے. او متعلق دے د تَعَجَّبُوْا پورے. يعنى تعجب پكار دے، يا تعجب وكړئ په مينه د قريشو. همغه مينه د څه سره ده؟ نو دويم اِيْلَافِهِمْ بدل دے د مخكښې اِيْلَاف نه. يعنى مينه د دوئ د سفرونو د اُوړى او ژمى دپاره د طلب كولو د رزق. يعنى په دوئ باندے تعجب دے چه دوئ د رزق دپاره بهر ملكونو ته سفرے كوى، او حال دا چه الله تعالىٰ دوئ له رزقونه د دوئ كلى ته راولى. لكه الله تعالىٰ دا نعمت په سورة القصص آيت (۵۷) كښې دوى ته ياد كړيدے:

﴿اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُّجْبٰى اِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَايَعْلَمُوْنَ﴾

(آيا ما دوى له حرم امن والا نۀ دے جوړ كړے چه راخكلے شى دے ته ميوے د هر شى، دپاره د خوراك د دوئ زمونږ د طرفنه، ليكن اكثر خلق نۀ پو هيږى).

نو دوئ له اُوس پكار ده چه ددے كعبے د رب عبادت وكړى. او همدا قول غوره دے.

قريش: دا قبيله اولاد د نضر بن كنانه بن خزيمه بن مدركه بن الياس بن مضر وو، نو څوك چه د نضر د اولادو نه وى همغه به قريشى وى، او كه د نضر اولادو نه نۀ وى، نو همغه به قريشى نۀ وى. او بعضو وئيلى دى چه قريش د فِهر بن مالك بن النضر اولاد دى.

ليكن اول قول ډير صحيح دے.

رسول الله ﷺ هم دے نسب ته اشاره كړيده. په روايت د مسلم كښې دى:

[اِنَّ اللّٰهَ اِصْطَفٰى كِنَانَةَ مِنْ وُّلْدِ اِسْمَاعِيْلَ وَاصْطَفٰى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفٰى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِىْ هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِىْ مِنْ بَنِىْ هَاشِمٍ].

الله تعالیٰ د اسماعیل علیه السلام د اولادو نه کنانه غوره کړو او د کنانه د اولادو نه ئے قریش غوره کړل او د قریشو نه بنی هاشم غوره کړم او د بنو هاشمو نه ئے زهٔ غوره کړم (او د ټول عالَم دپاره ئے نبی جوړ کړم) (مسلم: ۶۰۷۷)

ددے نه معلومه شوه چه قریش نسب د ټولو دنیا د نسبونو نه اشرف او افضل نسب دے لیکن ایمان ورسره شرط دے۔

د قریش په وجه د تسمیه کښې ډیر اقوال دی (۱) یو قول دا دے چه قریش په سمندر کښې یو دابّه (حیوان) دے چه په ټولو حیواناتو د دریاب باندے غالب دے، هغه خوری او دے څوك نشی خوړلے لکه دا خبره ابن عباس رضی الله عنه کړیده په جواب د معاویه رضی الله عنه کښې چه هغه ترے تپوس وکړو چه قریش ته قریش ولے وائی؟ - او قریش هم دغه شان اُوچت صفات لری چه دوی به په ټول امت باندے مشری کوی، او دوی باندے مشری نهٔ کیږی۔ دارنګه دا د نسب په اعتبار سره په ټولو نسبونو باندے اُوچت او غالبه دی، او تصغیر پکښې د تعظیم دپاره دے۔

(۲) قول: دا د تَقَرُّش نه دے او تَقَرُّش تَجَمُّع (راجمع کیدو) ته وائی۔ او دوی هم په مختلفو علاقو کښې متفرق (خوارهٔ وارهٔ) وو، بیا قُصی بن کلاب حرم مکی ته راغونډ کړل، او همدا د دوی مسکن (وطن) شو۔ ددے وجه نه قصی ته به ئے مُجَمِّع وئیلو۔

یو شاعر وائی:

اَبُوْكُمْ قُصَیٌّ كَانَ یُدْعٰی مُجَمِّعًا	❁	بِهٖ جَمَعَ اللّٰهُ الْقَبَائِلَ مِنْ فِهْرٍ

(۳) یا قریش د تقرش او قرش نه دے، په معنیٰ د کسب او تجارت سره۔ او قریشو به هم کسبونه او تجارتونه کول۔

(٤) بعض وائی: قرش تفتیش (تالاش کولو) ته وئیلے شی۔ او قریشو به هم د محتاجو حاجیانو تالاش کولو او د هغوی ضرورتونه به ئے پوره کول۔ (مفاتیح الغیب)

دویم قول غوره دے، کما فی الروض الانف (۱/۱۸۵)

رِحْلَةَ الشِّتَآءِ: دوی به په ژمی کښې یمن ته تلل ځکه چه هغه ګرم وطن وو او په اوړی کښې به شام ته تلل چه هغه یخن وطن وو۔

او پدے سفرونو کښې یو مقصد دا وو چه خلقو به د دوئ احترامِ او اکرام کولو چه د الله

تعالیٰ د کور مُجاورین (گاونډیان) او لوی نسب والا دی. نو ډیرے هدیی او نذرانے به ئے ورکولے. او دویم غرض تجارت کول وو. دریم غرض: د گرمئ او یخنئ نه بچ کیدل او په دنیاوی ژوند کښ لذتونه او مزے اخستل وو. او دا درے واړه سفرونه اگرکه مباح دی لیکن عیب پکښ دا وو چه د بیت الله په نوم به ئے هدایا او نذرونه ټولول او د الله تعالیٰ د توحید نه ئے مخ اړولے وو. دارنګه د تجارت سفر جائز دے لیکن پدے کښ دومره ډیر والے کول چه د دین کارونه خراب شي، د الله بندګی پاتے شي، یا نقصانی شي نو نهٔ دے پکار.

فَلْيَعْبُدُوا : قریشو به عبادتونه کول لیکن ورسره مشرکان وو، بتانو ته به ئے سجدے کولے نو دلته د عبادت نه مراد خالص په توحید سره عبادت دے.

رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ : د رب نسبت ئے بیت ته وکړو، یو پدے کښ دوی ته نعمت وریادول مقصد دے چه الله تعالیٰ دا بیت ستاسو دپاره محفوظ ساتلے دے دے دپاره چه تاسو د هغهٔ یواځے بندګی وکړئ. دویم: کله نا کله به دوئ د رب اطلاق په خپلو بتانو هم کولو، لیکن رَبَّ هٰذَا الْبَيْت او رَبُّ الْكَعْبَه به ئے صرف الله تعالیٰ ته وئیلو. نو ددے وَهُم د ختمولو دپاره ئے اضافت بیت الله ته وکړو.

أَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ : یعنی د ابراهیم علیه السلام د دعاء په برکت سره دلته مکے ته خوراکونه راروان دی لکه مخکښ آیت د سورة القصص ذکر شو.

وَآمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ : ابن زیدؒ وائی چه د عربو خلقو به په یو بل باندے چهاپه غورزوله، او یو بل به ئے قید کول. خو د حرم د خلقو سره به دا کار نهٔ کیدهٔ. د خلقو په زړونو کښ د حرم عزت به په دوئ باندے د حملے کولو نه منع کول.

لکه د سورهٔ عنکبوت (٦٧) آیت ئے اولوستلو :

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾

(آیا دوئ نه ګوری چه مونږ حرم امن والا جوړ کړے دے حالانکه ددے نه ګیر چاپیره خلق تښتولے کیږی). او لوړه ختمول او امن ورکول په دنیاوی ژوند کښ ډیر لوی نعمتونه دی.

نو دا نعمتونه د دوئ نه غوښتنه کوی چه ددے کعبے د رب بندګی دِے وکړی.

الحمد لله ختم شو تفسیر د سورة قریش په نعمت د رب العالمین سره.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آیاتها (۷)	(۱۰۷) سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الماعون مکی دے، په دے کښې اووه آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الماعون

نوم : په آخری آیت کښې [الْمَاعُوْنَ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم کیښودل شوے۔ ددے دوه نور نومونه دی : (۲) سورة الدین (۳) او سورة الیتیم۔

د نازلیدو زمانه: د عطآء او جابر رضی الله عنه په نیز دا سورت مکی دے، او همدا د ابن عباس رضی الله عنه یو قول هم دے۔ او د قتادهؒ او نورو علماؤ په نیز مدنی دے۔

ابن مردویهؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه ﴿أَرَأَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

۱- مخکښې سورت کښې دعوت د عبادت ذکر شو نو دلته جواب د وَهم د مشرکانو دے چه مونږ عبادت کوو (مونځونه، خیراتونه) جواب دا دے چه د دین د تکذیب د وجه نه د دوی دغه عبادات برباد دی۔

۲- مخکښې سورت کښې په محبت د دنیا سره زجر وو نو دلته په بدو صفاتو سره زجر ورکوی چه هغه د دنیا د محبت نه پیدا کیږی۔

۳- مخکښې خاص صفت والا دشمنانو د دین ته زجر وو نو دلته عامو مکذبینو دشمنانو ته زجر دے۔

د سورت مقصد

اَلزَّجْرُ بِالْاَوْصَافِ الْقَبِيْحَةِ ۔ (یعنی په ناکاره صفتونو باندے زجر او رټنه ورکوی) دا د

منافقانو په باره کښې نازل دي چه په مکه کښې هم دا منافقان موجود وو.

اول قبیح صفت دا دے چه سزا او جزاء نۂ منل،

دویم: په یتیم باندے ظلم کول،

دریم: مسکین باندے شفقت نۂ کول، هغه له طعام نۂ ورکول.

څلورم: مونځ غلط کول،

او پنځم: د مونځ نه غفلت کول.

شپږم: ریاء کول.

اوم: معمولي څیزونه منع کول.

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ﴿١﴾ فَذٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ
آیا خبرئے تۂ په هغه کس چه دروغژن ګڼړی دین لره. نو دا هغه دے چه دیکے ورکوی
الْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿٣﴾ فَوَيْلٌ
یتیم لره. او تیزی نۂ ورکوی په خوراك د مسکین باندے. نو هلاکت دے
لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ الَّذِينَ
مونځ کونکو لره. هغه کسان چه دوی د مونځونو خپلو نه ناخبره دی. هغه کسان
هُمْ يُرَاءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ﴿٧﴾
دی چه دوی خودنه کوی (په خپلو عملونو سره). او منع کوی معمولي څیز لره.

تفسیر: په دے آیتونو کښې الله تعالیٰ د مکے د کافرانو او منافقانو په سلوك باندے رد کړے، او دوئ له ئے د قیامت په ورځ د عذاب دهمکی ورکړے.

أَرَأَيْتَ : دا استفهام دے پدے کښې معنیٰ د تعجب پرته ده په طریقه د مبالغے سره، یعنی سره د ښکاره دلیلونو نه تکذیب کول خو ډیره عجیبه ده.

یا ارأیت په معنیٰ د هَلْ عَرَفْتَ سره دے. یعنی آیا تۂ پو هه ئے، خبرئے. او مقصد پدے کښې متوجه کول د مخاطب دی. چه څوك د سزا او جزاء عقیده نۂ لری نو هغه کښې به دغه عیبونه راجمع کیږی. یعنی که دغه مکذب بالدین نۂ پیژنے نو راشه دغه ئے

صفات دي.

الَّذِیْ : د مقاتلؒ او کلبیؒ وینا ده چه دا سورت د عاص بن وائل سهمي په باره کښې نازل شوے وو. او د سُدیؒ وینا ده چه د ولید بن مغیره په باره کښې نازل شوے وو. او ضحاكؒ وائي چه د عمرو بن عائذ په باره کښې نازل شوے وو.

فَذٰلِكَ الَّذِیْ : دا فاء جزاء د شرط محذوف ده. اَیْ اِنْ تَـأَمَّلْتَهٗ فَذٰلِكَ الَّذِیْ ـ یعنی که چرې تا د هغه په حالت سوچ وکړو نو هغه به دغه شے وي.

یَدُعّ : یعنی دا انسان سخت زړے او بے رحمه دے، یتیمان په خرابه طریقه رټي، هغوئ له دیکے ورکوي او شړي ئے، او د هغوئ حق هضم کوي. او دا قانون دے چه څوك آخرت نۀ مني نو هغه به پردي مالونه خوري.

دعّ : دیکے ورکول او په زور سره دفع کول دي، او ددے نه مراد منع کول دي حق د یتیم لره، د هغۀ مال په ناروا طریقه باندے خوړل، په هغۀ باندے ظلم کول او هغۀ له میراث کښې حصه نۀ ورکول، او دا ټول د جاهلیت والو عادت وو. یعنی دے لوی ظالم دے.

وَلَا یَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ الْمِسْکِیْنِ : او چونکه دے په آخرت او په جزاء او سزا ایمان نۀ لري، دے وجے نۀ خپله مسکینانو له خوراك ورکوي، نۀ نورو ته ددے ترغیب ورکوي. نو د الله حق ئے هم برباد کړیدے او د بندګانو هم.

فَوَیْلٌ لِّلْمُصَلِّیْنَ : **سوال** پیدا شو چه دا خلق څنګه د آخرت تکذیب کوي، دوی خو مونځونه کوي؟ **جواب** وشو چه ددۀ مونځ خو سبب د وَیل (هلاکت) دے، دا د فسادونو نه ډك مونځ دے، ریا کار، غیر مُخلص دے.

دا وجه ده چه یو مُقِیْمِیْنَ الصَّلَاة دے دا د مؤمنانو صفت دے، او بل مُصَلین دے (چه نفس مونځ قدرے کوي) دا غالباً د منافقانو په صفت کښې ذکر کیږي. یعنی مونځ نه صرف ځان خلاصوي او خکته پورتئ کوي، یعنی غلط مونځ کوي. د مانځه اهتمام نۀ کوي کوم چه په اقامة الصلاة کښې دے.

یا مطلب دا دے چه د مانځه د مقصد نه غافله او ناخبره وي، چه مونځ خو د الله د توحید دپاره کیږي او دوی د مونځونو کولو سره د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوي.

ابن عباس ﷺ وائي چه ددے نه مراد هغه منافقان دي چه هغوئ د خلقو مخامخ خو مونځ کوي، او په تنهایئ کښې ئے نۀ کوي. او د مسروقؒ وغیره خیال دے چه دا خلق خو

مونځ کوی لکه څنګه چه د [لِلْمُصَلِّيْنَ] لفظ نه معلومیږی، لیکن دوئ په خپل خپل وختونو باندے مونځونه نهٔ کوی۔ (یعنی د مونځ اوقات ئے برباد کړیدی)
او د عطاء بن دینارؒ وینا ده چه دا خلق په اول وختونو کښ مونځونه نهٔ کوی بلکه همیشه یا زیاتره ئے په آخری وخت کښ کوی، یا د مونځ کولو په وخت ددے د شرائطو او ارکانو لحاظ نهٔ ساتی، یا په دے کښ د خشوع او خضوع خیال نهٔ ساتی۔
﴿عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ﴾ الفاظ دے ټولو صورتونو ته شامل دی۔ نو په کوم کس کښ چه ددے نه یو صفت وموندے شی، په هغهٔ کښ به دننه په همدے حساب سره د مونځ نه غفلت موندلے کیږی، او په چا کښ چه پورتنی تمام صفتونه وموندے شی، هغه به په پوره توګه په عملی منافقت کښ مبتلا وی۔
لکه څنګه چه د مسلمؒ په روایت کښ دی، رسول الله ﷺ وفرمایل :
[تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتّٰى اِذَا كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللّٰهَ فِيْهَا اِلَّا قَلِيْلًا]
دا د منافق مونځ دے، ناست وی نمر ته ګوری، تردے چه کله هغه د شیطان د دوو ښکرونو ترمینځه اُورسی نو څلور ځله ټونګے اووهی، الله په دے کښ ډیر کم یادوی)۔
(مسلم : ۱٤٤۳)
عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ : نخعیؒ وائی : هُوَ الَّذِیْ اِذَا سَجَدَ قَالَ بِرَأْسِهٖ هٰكَذَا وَهٰكَذَا مُلْتَفِتًا۔
دا هغه کس دے چه کله سجده کوی نو سر یو طرف او بل طرفته تاووی۔
مصعب بن سعدؒ د اُبیّ بن کعب رضی الله عنه نه ددے آیت په باره کښ پوښتنه وکړه چه (اَيُّنَا لَا يَسْهُوْ، اَيُّنَا لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهٗ) چه په مونږ کښ کوم یو نه سهوه نهٔ کیږی، او د کوم یو توجه نهٔ خرابیږی) نو هغه وفرمایل :
(اِنَّهٗ لَيْسَ كَذٰلِكَ، اِنَّهٗ اِضَاعَةُ الْوَقْتِ يَلْهُوْ حَتّٰى يَضِيْعَ الْوَقْتُ)
ددے نه مطلب دا نهٔ دے بلکه ددے نه مراد وخت ضائع کول دی۔ یعنی د مانځه نه غافل وی، تردے چه وخت ترے فوت شی، د وخت فکر ئے نهٔ کوی چه هرکله ئے وکړو، ځکه چه د الله دپاره نهٔ وی، بلکه پرے بوج وی۔ (مسند ابی یعلی رقم : ۷۰٤) سند حسن والطبری)
دا وجه ده چه عطاء بن دینارؒ وئیلی دی چه الله تعالیٰ لره حمدونه دی چه دلته ئے داسے نهٔ دی وئیلی چه [فِیْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ] (په مانځه کښ سهوه کیږی) ځکه چه داسے

سهوهِ خو د انبیاء علیهم السلام نه هم راځي بلکه د مانځه نه سهوه کېدل مراد دي. اَیُ تَـاخِیُـرُهَـا وَتَرُکُهَا وَالتَّهَاوُنُ بِهَا. یعنې د مونځ روستو کول، او پرېښودل او مونځ کښې سستي کول او دا سپك ګڼړل او دا خوئي د منافقانو دے.

(الاساس فی التفسیر وابن کثیر وابن جریرؒ)

او په حاشیة د کشاف کښې علامه طیبيؒ دا قول انس بن مالك رضی الله عنه ته منسوب کړېدے.

یُرَاؤُوْنَ: یعنې مونځ د ریاء دپاره کوي. چونکه دوئ په آخرت باندے ایمان نۀ لري، دے وجے نه دوئ د خپل دے مونځونو نۀ د ثواب امید لري او نۀ د عذاب او سزا وېره لري.

❁ یا ټول نیك اعمال چه کوي نو مقصد ئے ریاء کاري وي چه خلق ئے صفت وکړي. لکه د ابن عباس ﷺ قول تیر شو چه دا د منافقانو حال دے.

مفسر خازنؒ وائي: څوك چه نوافل ښکاره کوي دے دپاره چه خلق ئے اقتداء وکړي او په خپل نفس باندے د ریاء نه په امن کښې وي نو هغه جائز دي او دغه شخص به ریاکار نۀ ګڼړلے کیږي.

اَلۡمَاعُوۡنَ: د مَعۡن نه دے، لږ معمولي څیز ته وئیلے شي. (قُطربؒ)

❁ یا د عَوۡن نه دے، اسبابو د مدد ته وئیلے شي. نو پدے کښې هغه څیزونه داخل دي چه په روزمره زندګئ کښې ئے خلق یو بل ته په غیر د تکلیف نه ورکوي.

یعنې هغه شے چه دے سره د ورکونکي څۀ نقصان نۀ وي او د غوښتونکي عارضي ضرورت پوره کیږي. لکه اُوبه، اُور، مالګه، تبرګے، بوقه، ګلاس، کاسه، پیاله، کټوئ، څمڅئ، جارو، د حق دعوت کول، د قرآن بیانول چه پدے باندے ئے څه خرچه نۀ کیږي.

❁ او زجاجؒ، ابوعبیدؒ او مبردؒ وائي: چه ماعون به جاهلیت والو د هر هغه شي دپاره استعمالولو چه په هغے کښې به منفعت (فائده) وه. لږ شے وي که ډیر.

❁ مفسرینو وئیلي دي چه ماعون په اسلام کښې طاعت او زکاة دے.

❁ علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي: دوی مونځونو کښې ریاکاري کوي او زکاة منع کوي.

❁ او بعض وائي: په بنده باندے چه کوم عمومي حقونه دي هغے ته ماعون وائي.

ابن مسعود ﷺ وائی : مسلمانانو به د منافقانو نه کتهوئ، تبرگے، او ددے په شان نور خیزونه غوښتل نو هغوی به ترے منع کول نو دا آیت نازل شو ۔ ﴿وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ﴾

(فتح البیان)

نو دوئ د مسلمانانو سره د حسد د وجے نه انکار کوی، نۀ غواړی چه مومنانو ته د دوئ د یو خیز نه نفع اورسی۔ او چونکه په آخرت باندے د دوئ ایمان نشته، دے وجے نه د ثواب لالچ هم د دوئ نۀ وی۔

او دا صفت په زنانو کښې ډیر وی چه په معمولی خیز باندے غصه کیږی او جګړے کوی۔

مسلمانان به په ژوند کښې د خیر کارونه کوی، او خپلو گاونډیانو او مسلمانانو ورونو ته به په خپلو وړو وړو خیزونو سره فائده رسوی، ځکه چه الله تعالیٰ ددے کار نۀ کونکو بدی بیان کړے۔ او کله چه انسان دا معمولی خیزونه منع کوی نو ددے انسان د الله په بندګانو باندے شفقت نشته نو پدے وجه ورته هلاکت ملاویږی، لهذا کوم ناپوهه چه دا خبره کوی چه د ماعون نه مراد صرف زکاة یا فرضی کارونه دی، او معمولی خیزونو معنیٰ اخستو باندے رد کوی او دا تعجب کوی چه پدے معمولی کارونو پریخودو باندے انسان ته څنګه هلاکت ملاؤ شی، نو هغه خطاء وائی، ځکه چه دلته الله تعالیٰ ددے باطل پرست انسان دوه قسمه بدی بیان کړیده، یو دا چه د الله تعالیٰ حقوق بربادوی، د الله د امر تعظیم پکښې نشته، (یکذب بالدین -فویل للمصلین)

او بل د الله تعالیٰ په بندګانو په کښې شفقت نشته، (ولا یحض علی طعام المسکین) ﴿ویمنعون الماعون﴾ د هغوی نه معمولی خیزونه هم منع کوی۔

وبالله التوفیق والحمد لله رب العالمین۔

ختم شو تفسیر د سورة الماعون په مدد د رب العزت سره۔ ۳۰ رمضان۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (۳)	(۱۰۸) سُوۡرَةُ الۡکَوۡثَرِ مَکِّیَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة الکوثر مکی دے، په دے کښې درے آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الکوثر

نوم : په اولنی آیت کښې [اَلۡکَوۡثَر] لفظ راغلے، همدا ددے نوم کیښودل شوے۔ بل نوم ئے سورة النحر دے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ابن عباس ﷺ، کلبیؒ او مقاتلؒ په نیز مکی دے، او د حسنؒ، عکرمهؒ، مجاهدؒ او قتادهؒ په نیز مدنی دے۔

ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷺ، ابن الزبیر ﷺ او عائشے رضی الله عنها نه نقل کړی چه سورة الکوثر په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

۱- په مخکښې سورت کښې مکذب بالدین ذکر شو او هغه د نبی کریم ﷺ دشمن دے، نو دلته د هغهٔ د ابتر کولو دپاره امور ذکر کوی۔

۲- په مخکښې سورت کښې چه په کومو صفاتو زجر وو نو دلته د هغے په ضد صفاتو باندے امر کوی۔

۳- مخکښې سورتونو کښې د قرآن کریم مخالفت کونکی ذکر شول نو اُوس تیزی ورکوی په دعوت د قرآن کریم باندے دے دپاره چه اهل قرآن غالب شی او دشمنان مغلوب شی۔

د سورت مقصد

پدے سورت کښې د رسول الله ﷺ دپاره دوه زیری او د هغهٔ دوه عملونه ذکر دی۔ گویا که

شان د رسول الله ﷺ پکښې دے په دوه طريقو سره، دوه زيری او ددے په مقابله کښې دوه عملونه کول.

زيری دا دی: ﴿اَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾ دويم ﴿شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ﴾ او عملونه ﴿فَصَلِّ﴾ او ﴿وَانْحَرْ﴾ دی.

شان نزول

د رسول الله ﷺ به نارينه بچی نهٔ پاتے کيدل، مشر ځوی قاسِمؔ ئے په وړوکوالی کښې مړ شو، بيا څه وخت پس عبد الله مړ شو نو مشرکانو يو بل ته زيرے ورکړو چه محمد ابتر دے. يعنی ددهٔ نسل به نهٔ وی. يعنی يوه ورځ به مړ شی او نسل ئے نشته نو ټول پروګرامونه به ئے ختم شی. نو الله تعالیٰ پدے سورت کښې په دغه کافرانو رد وکړو چه تاسو محمد رسول الله ﷺ پسے داسے خبرے کوئ، الله تعالیٰ خو دهٔ له کوثر ورکړيدے او ددهٔ دشمنان به الله تعالیٰ نامراده کړی او هرڅه به ئے ختم کړی.

نو په دے سورت کښې الله تعالیٰ نبی کريم ﷺ ته د کفارو د بدسلوکئ او بد اخلاقئ په باره کښې تسلی او د ډير خير زيرے ورکړے.

محمد بن اسحاقؒ د يزيد بن رومانؒ نه روايت کړی دی چه د عاص بن وائل مخے ته به چه کله د رسول الله ﷺ ذکر کيدهٔ نو وئيل به ئے: (دَعُوْهُ فَاِنَّهٗ رَجُلٌ اُبْتَرُ لَا عَقِبَ لَهٗ فَاِذَا هَلَكَ اِنْقَطَعَ ذِكْرُهٗ، فَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ السُّوْرَةَ) ددهٔ خبره مهٔ کوئ، هغه خو داسے سړے دے چه د هغهٔ جرړه پريکړے شوے ده، د هغهٔ هيڅ نارينه اولاد نشته دے، کله چه مړ شی نو د هغهٔ نوم به ختم شی، نو الله تعالیٰ دا سورت نازل کړو.

(سيرة ابن اسحاق بلاغا: ١/٣٩٣) والطبری (٣٠/٣٢٩) وابن کثير (٤/٥٦٠) والبغوی (٨/٥٦٠)

عطاءؒ وائی: دا سورت د ابو لهب په باره کښې نازل شوے. د نبی کريم ﷺ يو ځوئے وفات شو (قاسِم) نو مشرکانو ووئيل چه د شپے د محمد (ﷺ) جرړه پريکړے شوه، نو الله تعالیٰ دا سورت نازل کړو.

د شمر بن عطيهؒ وينا ده چه دا سورت د عقبه بن ابی معيط په باره کښې نازل شوے.

د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چه کعب بن اشرف (يهودی) مکے ته راغلو، نو قريشو ورته ووئيل چه تهٔ د مدينے والو نه غوره سړے ئے او د هغوی سردار ئے، تهٔ دے صابی ته نهٔ

ګورے چه د خپل قوم نه پریکړے شویدے، دے خیال کوی چه دے زمونږ نه غوره دے، (نَحْنُ اَهْلُ السِّقَايَةِ وَالسِّدَانَةِ) حال دا چه مونږ د حاجیانو خدمتونه کوو، هغوی ته اوبۀ او خوراکونه ورکوو او مونږ منجوران یو۔ (فَنَحْنُ خَيْرٌ اَمْ هٰذَا الصُّنْبُوْرُ الْمُنْبَتِرُ مِنْ قَوْمِهٖ؟) نو مونږ غوره یو او که دا شخص چه د خپل قوم نه جدا شویدے،

نو کعب وویل: (بَلْ اَنْتُمْ خَيْرٌ مِنْهُ) بلکه تاسو د هغۀ نه ډیر غوره یئ۔ نو دا آیت ﴿اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ﴾ نازل شو۔ او دارنګه ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِنَ الْكِتَابِ﴾ نه تر ﴿فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا﴾ (النساء : ۵۲) پورے نازل شو۔

النسائی فی التفسیر ۲/۵۶۰) والطبری ۳۰/۳۳۰) وصححه ابن حبان برقم (۱۷۳۱) من موارد الظمآن والبغوی ۸/۵۶۰، وذکره ابن کثیر من روایة البزار ولیس عنده ذکر آیة سورة النساء وصحح اسناده) ابن کثیرؒ وائی : اسناد ئے صحیح دے۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی چه ﴿اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ﴾ هغه تمامو کافرانو ته شامل دے چه هغوئ د رسول الله ﷺ په باره کښ داسے خبره کړے وه۔ اهـ

او ترخو پورے چه دنیا آباده وی د رسول الله ﷺ په شان کښ ګستاخی او بے ادبی کونکے به ددے آیت په حکم کښ داخل وی۔

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿۱﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ
یقیناً مونږ درکړیدے تا لره کوثر (ډیر خیر) نو مونځ کوه د رب خپل دپاره
وَانْحَرْ ﴿۲﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿۳﴾
او قربانی کوه۔ یقیناً دشمن ستا خاص هغه بے خیره دے۔

تفسیر : په عربئ ژبه کښ [كَوْثَر] د هر یو شئ ډیر والی دپاره استعمالیږی، برابره خبره ده چه دا ډیروالے په شماره کښ وی، یا په قدر او مرتبه کښ، یا په بل کوم اعتبار سره۔ دلته ددے نه مراد خیرِ کثیر دے،

او ددے ګڼړ مصداقات دی (۱) الله تعالیٰ نبی ﷺ ته قرآن او حکمت، (حسنؒ)

(۲) [مَا اُعْطِيَ النَّبِيُّ ﷺ مِنَ الْخَيْرِ وَالنُّبُوَّةِ وَالْقُرْآنِ وَالْحِكْمَةِ] هغه چه نبی کریم ﷺ ته کوم خیر (اسلام) او نبوت او قرآن او حکمة ورکړے شوے وو۔ (قاله عکرمةؒ) (ابن جریر)

(۳) حق دین،　　(٤) او دَ رُشد او هدایت پوره برخه ورکړے ده۔

(٥) تَفسِیرَ الْقُرْآنِ وَتَخْفِيفَ الشَّرَائِعِ۔

د قرآن کریم تفسیر او وضاحت او آسان احکام ئے ورکړیدی۔ (حسن بن الفضلؒ)

(٦) واحدیؒ د مفسرینو وینا نقل کړے چه کوثر په جنت کښ د یو نهر نوم دے۔

(۷) عطاءؒ وئیلی دی چه کوثر د نبی کریم ﷺ د حوض نوم دے چه هغه به د محشر په میدان کښ هغهٔ ته ملاویږی۔ نو دواړه حوضونه شو، یو په محشر کښ او یو په جنت کښ۔

امام مسلمؒ، احمدؒ، ابوداودؒ او نسائیؒ اونورو د انس ﷛ نه روایت کړی دی چه د رسول الله ﷺ سترگے پټے شوے، نو بیا هغویٔ مُسکی کیدو سره سر راپورته کړو او وے فرمایل : په ما باندے اوس یو سورت نازل شو۔

بیا هغویٔ سورة الکوثر آخره پوره اولوستلو او وے وئیل :

[أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ ؟ فَقُلْنَا : اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ، قَالَ : فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيْهِ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ عليه خَيْرٌ كَثِيْرٌ هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ نُجُوْمِ السَّمَاءِ فَيُخْتَلَجُ الْعَبْدُ مِنْهُمْ فَأَقُوْلُ رَبِّ إِنَّهُ مِنْ أُمَّتِيْ، فَيَقُوْلُ مَا تَدْرِيْ مَا أَحْدَثَ بَعْدَكَ]

آیا تاسو پیژنئ چه کوثر څهٔ شے دے ؟ صحابو ووئیل : الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی۔ نو هغویٔ وفرمایل : دا په جنت کښ یو نهر دے چه ما سره زما رب د هغے وعده کړیده، په هغے کښ ډیر لوی خیر دے، دا هغه حوض دے چه ما ته به زما امت په هغے باندے د قیامت په ورځ راځی، د هغے لوښی د ستورو په شمار دی، نو یو تن به د هغے نه ایسار کړے شی نو زهٔ به وایم چه اے ربه ! دا زما د امت نه دے، نو الله به وفرمائی : تهٔ څه پوهه وے چه دهٔ ستا نه روستو څه پیدا کړیدی۔ (مسلم : ۹۲۱)

ابن جریرؒ د ابو بشرؒ نه روایت کړی دی، هغه وائی : ما د سعید بن جبیرؒ نه د [کوثر] په باره کښ تپوس وکړو نو وے وئیل چه ددے نه مراد (خیرِ کثیر) دے، کوم چه الله تعالیٰ نبی ﷺ له ورکړے وو، نو ما ووئیل : مونږ خو آورو چه دا د جنت یو نهر دے ؟ نو سعید ووئیل : دا نهر هم په هغه خیرِ کثیر کښ داخل دے کوم چه الله نبی ﷺ له ورکړے۔ او همدا قول د مجاهد، قتاده او حسن بصری هم دے۔ (الطبری : ٦٨٤/٢٤)

(۸) كَثْرَةُ الْأَصْحَابِ وَالْأُمَّةِ۔ (ابوبکر بن عیاشؒ) ډیر ملگری او لوی امت۔

او د ابوجهل او نورو کافرانو نوم او نشان او ملګری ختم شو اُوس ئې کافران هم ښۀ نۀ یادوی۔

(۹) الشَّفَاعَةُ۔ (ددے امت د ګناهګارو مؤمنانو دپاره سفارش کول)

(۱۰) اسلام،

(۱۱) رِفْعَةُ الذِّکْرِ۔ (اُوچت شان او ذکر او فضیلت)۔

(۱۲) اَلْمُعْجِزَاتُ۔ (د رسول الله ﷺ ډیر معجزات وو)۔

(۱۳) اِجَابَةُ الدَّعْوَة (دعاګانے قبلیدل)۔

(۱٤) لا اله الا الله۔

(۱۵) اَلْفِقْهُ فِي الدِّيْن۔ (په دین کښ پوهه)۔

(۱٦) اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ۔ (پنځه مونځونه د ډیرو خیرونو نه ډک دی)۔

دا لفظ په اعتبار د لغوی معنیٰ سره ددے ټولو ته شاملیږی لیکن ډیره غوره مصداق پکښ دا دے چه ددے نه حوض کوثر په محشر کښ مراد دے، او په جنت کښ نهر مراد دے، او دا په مرفوع صحیح روایاتو کښ راغلے دے۔

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ : هرکله چه په تا باندے د الله تعالیٰ دا احسان وشو چه کوثر ئے درکړو نو تۀ هم د شکر ادا کولو دپاره دوه کارونه کوه، یو د الله د خوشحالئ او د هغه د رضا حاصلولو دپاره مونځ کوه، او بل صرف د هغۀ په نوم باندے قربانی کوه۔

او مونځ او قربانی ئې خاص طور سره ددے دواړو د اهمیت له خاطره ذکر کړی دی۔یو عبادتِ بدنی او بل عبادت مالی دے۔ په دواړو استعمالولو سره انسان کمال ته رسیږی۔

رسول الله ﷺ پدے دواړو حکمونو باندے ډیر په اعلیٰ پیمانه عمل کړے وو۔ په حج کښ ئې سل اوښان ذبح کړی وو، درے شپیته ئې په خپل لاس او باقی ئې علی بن ابی طالب ﷺ ته وسپارل۔ نو وینه تویه کول د الله تعالیٰ لویه بندګی ده۔

لِرَبِّكَ : دلته ئې انتقال د تکلم نه خطاب ته وکړو په طریقه د التفات سره پدے کښ عظمت او هیبت ته اشاره ده۔ یعنی د هغه ذات دپاره مونځ کوه چه رب دے، او ستا تربیت ئې کړیدے، او کوی ئې۔

وَانْحَرْ : نحر دا د بُدْنُو (اُوښانو) د ذبح دپاره استعمالیږی۔ او چونکه د عربو په نیز اُوښان بهترین مال وو نو ځکه ئې هغه ذکر کړو نو پدے کښ باقی څاروی د الله دپاره ذبح

کول هم داخل دی۔

او محمد بن کعبؒ وائی چه پدے کښې رد دے په مشرکانو چه بعض خلقو به د غیر الله دپاره مونځونه کول، او د غیر الله دپاره به ئے قربانیانے کولے، نو الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته حکم وکړو چه د هغهٔ مونځ او د هغهٔ قربانی دِے صرف د الله دپاره وی۔

بعضو د فَصَلِّ او وَانْحَرْ خاص مصداقات ذکر کړیدی، چه ددے نه مراد د اختر مونځ او د اختر قربانی ده۔ (قتادهؒ، عطاءؒ، عکرمهؒ)

او سعید بن جبیرؒ وائی: په مزدلفه کښې سهار فرضی مونځ وکړه، او په منیٰ کښې قربانی وکړه۔ دا هم په کښې داخلیږی۔

او بعضو پکښې دا وئیلی دی چه مونځ کوه او لاسونه د مرئ په خوا کښې په سینه باندے کیږده۔ لیکن دا مصداق کمزورے دے۔

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ : په دے آیتِ کریمه کښې الله تعالیٰ خبر ورکړے چه د نبی کریم ﷺ په شان کښې گستاخی او بے ادبی کونکے به په هر دور او په هر ځائے کښې ذلیله او خوار وی، د هغهٔ نسل به باقی نهٔ پاتے کیږی، او د هغهٔ نوم او نشان به ختمیږی۔

او نبی کریم ﷺ خو د تمامو صفتونو او کمالونو هغه حدودو پورے رسیدلے وو کوم چه د خاتم النبیین دپاره الله مقرر کړی وو، د دوئ ذکرِ جمیل ټول جهان ډک کړے وو او د هغهٔ انصار او مددگار او د هغهٔ تابعدار په ټوله دنیا کښې خوارهٔ شوی وو۔

الْأَبْتَر : ۱- اَيِ الْمُنْقَطِعُ عَنِ الْخَيْرِ الدُّنْيَوِيِّ وَالْأُخْرَوِيِّ ۔ یعنی ستا دشمن به د دنیاوی او اُخروی خیرونو نه پریکړے شوے وی۔

۲- یا د هغه به نسل پاتے نهٔ وی۔

۳- اَلَّذِيْ لَا يَبْقٰى ذِكْرُهٗ بَعْدَ مَوْتِهٖ۔ یعنی د مرگ نه روستو به د هغهٔ هیڅ د خیر تذکره پاتے نهٔ وی۔ لفظ عام دے، دے ټولو معانیو ته شامل دے۔

شانئ: مُبْغِضْ (بغض کونکی) ته وائی۔ د شنآن نه دے۔ بغض ته وائی۔

حکمة : دا انعام د مخکښې انعام سره یو ځای ئے وو، یعنی اول دوه انعامونه بیا دوه کارونه دی۔ مگر په ترتیب کښې ئے روستو کړو،

پدے کښې (والله اعلم) اشاره ده چه په دغه دوه عبادتونو سره به تا ته دویم نعمت ملاویږی هغه دا چه دشمنان به دِے وهلے کیږی او هغوی به ذلیله کیږی، ځکه چه

داعی کله د الله بندګی زیاته کوی او د الله تعالیٰ سره ئې تعلق وی، نو الله تعالیٰ ورله دشمنان ذلیله کوی۔

حکمة : د ان شانئك هو الابتر نه معلومه شوه چه کوم انسان د حق د داعی سره حسد کوی، یا د هغه سره دشمنی کوی، د هغهٔ پسې خبرې کوی او پدې سره خپل شهرت غواړی نو الله تعالیٰ به هغهٔ لره ذلیله کوی، هغه به په خلقو کښ په خیر سره نهٔ ذکر کیږی او بل طرفته الله تعالیٰ د حق داعی ته ترقی ورکوی۔ نو دا قانون یاد لره چه کله تا سره حسد کیدونو تا ته به الله تعالیٰ ترقی درکوی او حسد ګر به الله ذلیله کوی۔

وبالله التوفیق

الحمد لله ختم شو تفسیر د سورة الکوثر په فضل د رب العالمین سره۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (٦)	(١٠٩) سُوۡرَةُ الۡكَافِرُوۡنَ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة الکافرون مکی دے، په دے کښې شپږ آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الکافرون

نوم : (١) ددے یو نوم [اَلۡكَافِرُوۡنَ] دے، (٢) دویم نوم ئے سورة المقشقشة (براء ة کونکے د شرك نه) (٣) او سورة العبادة (٤) او سورة الاخلاص هم۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ابن مسعود ﷛، حسنؒ او عکرمهؒ په نیز مکی دے، او د قتادهؒ او ضحاكؒ په نیز مدنی دے، او همدا د ابن عباس ﷛ هم یو قول دے۔ ابن مردویهؒ د ابن عباس ﷛ نه روایت کړی دی چه سورۀ ﴿ قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا الۡكَافِرُوۡنَ ﴾ په مکه کښې نازل شوے، او د ابن الزبیر ﷛ نه ئے نقل کړی دی چه دا سورت په مدینه کښې نازل شوے۔

مناسبت :

١ - مخکښې د دشمن حال ذکر شو نو دلته د هغۀ نه براء ت ذکر کوی۔

٢ - مخکښې ذکر شو چه فصل لربك وانحر (مونځ او قربانی صرف د رب کوه) نو دلته د شرك نه براء ت ذکر کوی دپاره د تکمیل د توحید۔

٣ - مخکښې ئے د دشمن ابتر کیدل ذکر کړل نو دلته د دشمنئ د ښکاره کولو طریقه ذکر کوی۔

فضیلت

صحیح مسلم کښې د جابر ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دا سورت او ﴿ قُلۡ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ﴾ د طواف په دوه رکعتو کښې ولوستلو۔ مسلم : (٣٠٠٩)

رسول الله ﷺ به د ماښام د سنتو او د سهار د سنتو په اول رکعت کښې دا لوستلو او په

دویم دویم رکعت کښې ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ﴾ لوستلو۔ (مسلم : ۱۷۲۳) ترمذی (۴۳۱)
او د وترو په دویم رکعت کښې به ئې لوستلو۔ (ترمذی : ۴۶۲) باسناد صحیح)
او د ابو هریره ﷺ نه ئې روایت کړې دی چه دا سورت د قرآن د څلورمې برخې سره برابر دې۔ (ترمذی : ۲۸۹۴) واسناده صحیح)
او احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ او نسائیؒ وغیره د نوفل بن معاویه اشجعی ﷺ نه روایت کړې دی چه رسول الله ﷺ دۀ ته اُوښودل چه کله تۀ بسترې ته راشې نو ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴾ لوله او اودۀ کیږه، په دې سورت کښې د شرك نه بیزاری ده۔
(ابوداود. ۵۰۵۷) والترمذی (۳۶۴۳) واساده صحیح) صححه الحاکم والذهبی وابن حبان)

د سورت مقصد

تَوْحِيْدُ الْأُلُوْهِيَّةِ (الْعِبَادَةِ) مَعَ الْبَرَاءَ ةِ عَنْ اَعْدَاءِ اللّٰهِ۔ پدې سورت کښې توحید اُلوهیت یعنی توحید عبادت ذکر دې سره د بیزارئ نه د الله د دشمنانو نه۔ یعنی د کافر او مشرك نه جدا شه او بندګی یواځې الله لره وکړه۔ او د هغوی معبودان هرڅه پریده۔

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴿١﴾ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢﴾ وَلَا أَنْتُمْ
تۀ اُووایه اے کافرانو۔ بندګی نۀ کوم د هغې چه تاسو ئې بندګی کوئ۔ او نۀ تاسو
عَابِدُوْنَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَا أَنَا عَابِدٌ
بندګی کونکی یئ د هغې چه زۀ ئې بندګی کوم۔ او نۀ زۀ بندګی کونکے یم
مَّا عَبَدْتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا
د هغې چه بندګی ئې کوئ تاسو۔ او نۀ تاسو بندګی کونکی یئ د هغې
أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴿٦﴾
چه زۀ ئې بندګی کوم۔ ستاسو دپاره دین ستاسو دې او زما دپاره دین زما دې۔

تفسیر : قُلْ : پدې امر کښې اشاره ده چه د کافرانو نه براءت د نبی کریم ﷺ او د هغۀ د تابعدارو فریضه ده۔

یَا أَیُّهَا الْکَافِرُونَ : داسے خطاب هم کله نا کله جائز وی چه کله مخالف کافر سخت عنادی وی۔ او الکافرون عام دے ټولو اقسامو د کافرانو ته شامل دے، یهود، نصاریٰ، مجوس، مشرکان، منکرین د قیامت، منکرین د سنت او منکرین د قرآن ته۔ او تعبیر ئے په کافرون سره وکړو نۀ په المشرکون سره۔ یو خو د تعمیم دپاره، دویم : پدے سره مشرکان ډیر غصه کیدل او په مشرکین لفظ سره دومره نۀ غصه کیدل۔

شان نزول

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : قریشو رسول الله ﷺ ته دعوت ورکړو چه مونږ به تا ته مال درکړو نو تۀ به په مکه کښ د ټولو نه زیات مالداره سړے شے، او تۀ چه کومه زنانه غواړے هغه به تا ته په نکاح درکړو، دا هر څه به وکړو خو زمونږ د آلهه (باطلو معبودانو) د کنځلو (ردو بدو) نه بند شه۔ او دا په بدئ سره مۀ ذکر کوه۔ که دا کار نۀ کوے نو مونږ په تا یوه خبره پیش کوو چه په هغے کښ ستا بنیګړه ده، نبی کریم ﷺ وفرمایل : هغه څه ده؟ ورے وئیل : تۀ زمونږ د معبودانو یو کال عبادت کوه، او مونږ به ستا د اِله یو کال عبادت وکړو۔ نبی کریم وفرمایل : (ما ته انتظار وکړئ) تردے چه زۀ وګورم چه ما ته زما د رب له طرف نه څه خبره راځي نو د الله د طرف نه وحی راغله چه ﴿ قُلْ یَا أَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴾ تر آخره پورے۔

او بل دا آیت ﴿ قُلْ أَفَغَیْرَ اللهِ تَأْمُرُوْنِّیْ أَعْبُدُ أَیُّهَا الْجَاهِلُوْنَ وَلَقَدْ أُوْحِیَ إِلَیْكَ وَإِلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَکْتَ لَیَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَکُوْنَنَّ مِنَ الْخَاسِرِیْنَ بَلِ اللهَ فَاعْبُدْ وَکُنْ مِّنَ الشَّاکِرِیْنَ ﴾ (الزمر : ٦٦) پورے نازل شو۔ (ابن جریرؒ، ابن ابی حاتمؒ والطبرانیؒ)

محمد بن اسحاقؒ او طبریؒ د سعید بن میناؒ (مولی البختری) نه روایت کړی دی چه ولید بن مغیره، عاص بن وائل، اسود بن المطلب او امیه بن خلف د رسول الله ﷺ سره ملاقات وکړو او وے وئیل : [یَا مُحَمَّدُ ! هَلُمَّ فَلْنَعْبُدْ مَا تَعْبُدُ، وَتَعْبُدُ مَا نَعْبُدُ، وَنُشْرِکُكَ فِیْ أَمْرِنَا کُلِّهِ...... فَأَنْزَلَ اللهُ قُلْ یَا أَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ] اے محمد ! راشه، مونږ به ستا د معبود عبادت کوو او تۀ به زمونږ د معبودانو عبادت کوے، او پدے طریقه به شریك ژوند تیره وو۔ نو الله تعالیٰ سورة ﴿ قُلْ یَا أَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ ﴾ نازل کړو۔ (ابن جریر الطبری ٢٤/٧٩٣)

په یو روایت کښ دی چه دا سورت او د سورة الزمر (٦٤/٦٥/٦٦) آیتونه ﴿ قُلْ أَفَغَیْرَ اللهِ

تَأْمُرُوْنِّیْ أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُوْنَ وَلَقَدْ أُوْحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ بَلِ اللهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشَّاكِرِيْنَ ﴾ نازل شول۔

لَا أَعْبُدُ : ددے نه ټول اقسام د عبادت مراد دی، یعنی بدنی، مالی او قلبی۔

مَا تَعْبُدُوْنَ : مخکښې مونږ وئیلی وو چه د سیبویهؒ نه نقل دی چه (ما) لفظ مشترك دے په ذوی العقول او غیر ذوی العقول دواړو کښې۔ نو دلته ئے تعبیر په (مَنْ) سره ونکړو ځکه چه د مشرکانو باطل معبودان ډیر وو او اکثر غیر ذوی العقول وو۔

او بعض ذوی العقول وو نو مشترك لفظ ورسره مناسب دے۔ او د عامو نحویانو په نیز تغلیب ئے ورکړیدے غیر ذوی العقول لره په ذوی العقولو باندے۔ دپاره د کمزورتیا د معبودانو د دوی۔ یعنی تاسو چه د چا عبادت کوئ نو هغه خو غیر ذوی العقول دی، او کوم چه ذوی العقول دی نو هغه هم په کمزورتیا کښې د غیر ذوی العقول په شان کمزوری دی، څه مړهٔ دی۔

مَا أَعْبُدُ : د (مَا) نه مراد الله تعالیٰ دے۔ او ددے نه ئے تعبیر په (مَا) سره وکړو۔ حافظ ابن القیمؒ ددے راز دا ذکر کړیدے چه کافرانو د الله د ذات نه انکار نهٔ کولو چه دلته ئے مَنْ ذکر کړے وے بلکه هغوی د الله تعالیٰ د وصف د معبودیت نه په خصوصیت سره انکار کونکی وو۔ یعنی ددے نه منکر وو چه یواځے الله تعالیٰ دِے معبود وی، او د دوئ معبودان دِے مستحق د عبادت نهٔ وی۔ (بدائع الفوائد)

ځکه چه مَنْ د ذات دپاره استعمالیږی او ما د ذات او صفات دواړو دپاره۔

وَلَا أَنَا عَابِدٌ : دلته الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د طرفنه دوه کرته د معبودانو د عبادت نفی وکړه، یو په صیغه د مضارع (لَا أَعْبُدُ) او دویم په صیغه د اسم فاعل (عَابِدٌ) سره، دے کښې بعض مفسرینو (اخفشؒ، فراءؒ، زجاجؒ) وئیلی دی چه اول فی الحال مراد دے، او دویم په مستقبل کښې۔ یعنی زهٔ فی الحال هم ستاسو د معبودانو عبادت نهٔ کوم او نهٔ په آینده زمانه کښې زما اراده شته۔

حافظ ابن القیمؒ وئیلی دی چه د تکرار د فعلونو فائده دا ده چه (لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ) کښې نفی د حال او استقبال دے، او دا قول چه (وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا أَعْبُدُ) ددے مقابل دے، یعنی پدے کښې هم نفی د حال او استقبال ده۔ یعنی تاسو هم دا کار نهٔ کوئ۔ نهٔ اُوس او نهٔ آینده کښې۔ او دا قول چه ﴿ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُّمْ ﴾ دے، نو ددے معنیٰ ده چه د وحی د

زمانے د نازلیدو نه مخکښې هم ما نه ستاسو د معبودانو عبادت نۀ دے صادر شوے ددے وجه نه ئے دلته (عَبَدْتُّمْ) ماضي راوړه۔ یعنی ما هیڅکله ستاسو د معبودانو عبادت نۀ دے کړے نۀ مخکښې د نبوت نه او نۀ به ئے روستو کوم۔ او دا قول چه ﴿ وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ ﴾ ددے مقابل دے۔ یعني تاسو هم په تیره شوے زمانه کښې د هغه الله عبادت همیشه نۀ دے کړے د کوم چه زۀ عبادت کوم۔ نو بناء پدے باندے په آیت کښې هیڅ تکرار نشته، نو دا په مختصرو الفاظو کښې نفي د عبادت د آلهو نه راغله په ماضي او حال او استقبال درے واړو کښې۔ او ان شاء الله چه دا د ټولو اقوالو نه ډیر ښکلے قول دے۔

فائده ۲: یو فعل (لَا اَعْبُدُ) ئے په لفظ د مستقبل راوړو او د هغوی د طرفنه په اخبار کښې ئے (عَبَدْتُّمْ) ماضي راوړه، نو دے کښې یو راز ته اشاره ده، او هغه دا چه الله تعالیٰ خپل رسول د الله تعالیٰ د عبادت نه د بل چا عبادت ته د کړیدو او اوړیدو نه محفوظ ساتلے دے، او دا اشاره ده چه زما معبود په ټولو حالاتو کښې همیشه دپاره یو دے، زۀ ددۀ په بدل کښې بل معبود نۀ خوښوم او ددۀ نه اوړیدل نۀ طلب کوم، په خلاف د کافرانو نه چه دوی د خپلو خواهشاتو عبادت کوی او د خپلو شهواتو پسے په دین کښې روان دی، نو دوی نن ډ یو معبود عبادت کوی او صبا له د بل۔

نو وے وئیل (لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ) یعنی الآنَ) یعنی زۀ عبادت د هغه معبودانو نۀ کوم چه تاسو ئے اُوس عبادت کوئ۔ (وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ اَنَا الآنَ اَيْضًا) او تاسو هم عبادت نۀ کوئ د هغه الله چه زۀ ئے اُوس عبادت کوم۔ بیا ئے وفرمایل : (وَلَا اَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُّمْ يَعْنِيُ وَلَا اَنَا فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ يَصْدُرُ مِنِّيْ عِبَادَةٌ لِمَا عَبَدْتُّمْ اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) یعنی زۀ په آینده کښې د هغه بتانو عبادت نۀ کوم چه تاسو ئے مخکښې عبادت کړیدے)۔

انتهیٰ ترجمة قول الحافظ ابن القیمؒ، بدائع الفوائد (۱/۱٤۲)

بعض مفسرینو وئیلی دی چه په دے آیتونو کښې د تکرار نه مقصد تاکید دے، دے دپاره چه کومو کافرانو نبی ﷺ له د بتانو د عبادت مشوره ورکړے وه هغوئ په قطعي توګه ددے خبرے نه نا امیده شي چه نبی کریم ﷺ دے د هغوئ د معبودانو عبادت وکړي۔

حافظ ابن کثیرؒ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وینا نقل کړے چه د ﴿ لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴾ نه مراد د فعل نفي ده، ځکه چه دا جمله فعلیه ده، او د ﴿ وَلَا اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ﴾

نه مراد د بتانو د عبادت قبلولو قطعي نفي ده، ځکه چه د جمله اسميه په ذريعه نفي زياته قوي او مضبوطه وي، ګويا کښې نبي ﷺ د بتانو د عبادت واقع کيدو نفي اوکړه او په هر صورت کښې ئے ددے د امکان هم نفي اوکړه۔

او ابو مسلم اصفهاني وئيلي دي چه په اولنو دواړو جملو کښې مَا په معنیٰ د ذات سره ده، نو نفي د معبوديت مراد ده، او په روستنو دواړو جملو کښې ما مصدريه وصفيه ده، نو نفي د کيفيت د عبادت مراد ده، او مطلب دا دے چه تميز د دواړو ډلو (مؤمنانو او کافرانو) اول په اعتبار د معبود سره دے چه د موحدينو معبود صرف يو الله دے، او د مشرکانو معبود غير الله دے۔ او دويم په اعتبار د کيفيت او طريقے د عبادت سره دے، يعني طريقه د عبادت د موحدينو شرعي ده، او په وحي بنَاء ده

او طريقه د عبادت د مشرکانو په اتباع د هوئ او ظن او اتباع الآباء باندے بناء ده۔ نو د اولے جملے مطلب دا دے : (اَیْ لَا اَعْبُدُ مَعْبُوْدًا تَعْبُدُوْنَهٗ) (زهٔ د هغه معبود عبادت نهٔ کوم چه تاسو ئے عبادت کوئ)

او د دويمے جملے مطلب دا دے : (وَلَا اَنَا عَابِدٌ كَعِبَادَتِكُمْ۔ وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ كَعِبَادَتِیْ)۔ (او زهٔ عبادت کونکے نهٔ يم ستاسو د عبادت په شان او تاسو عبادت کونکي نهٔ يئ زما د عبادت په شان)

سوال : مشرکانو خو د الله تعالیٰ بعض عبادت کولو نو بيا څنګه ورته وائي چه ﴿وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ﴾ نفي د مطلق عبادت ترے کوی؟

جواب دا دے چه دے کښې راز دا دے چه (كُلُّ مَنْ اَشْرَكَ بِاللّٰهِ فَلَيْسَ بِعَابِدٍ لَّهٗ)۔

ځکه چه د الله تعالیٰ سره په عبادت کښې برخه داران جوړ کړي نو هغه د الله تعالیٰ عبادت کونکے نهٔ دے، بلکه د الله دشمن دے۔ چه د هغهٔ حق ئے بل ته ورکړو۔

﴿لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ﴾ پدے جمله کښې الله تعالیٰ نبي کريم ﷺ د هغه کافرانو د ايمان راوړو نه قطعي طور سره نا اميده کړے چه نبي کريم ﷺ د هغوئ د ايمان راوړو خواهش لرلو، او هغه کافران چه هغوئ نبي ﷺ له د بتانو د بندګئ مشوره ورکړے وه، هغوئ ئے ددے خبرے نه قطعي طور سره نا اميده جوړ کړي دي چه نبي ﷺ د هغوئ فاسده او باطله رائے ومني، او کله هم د هغوئ د بتانو عبادت وکړي. دے وجے نه هغه مشرکان چه هغوئ نبي ﷺ له د بتانو د عبادت مشوره ورکړے وه، ټول په کفر باندے مړهٔ شول.

خوك د بدر په میدان کښ اُووژلے شول، او خوك په مکه کښ د کفر په حالت کښ هلاك شول، او د الله تعالىٰ خبره د دوئ په باره کښ رشتینے شوه چه دوئ ایمان نهٔ راوړی۔

فائده : حافظ ابن القیمؒ وئیلی دی چه بعض مفسرینو وئیلی دی چه ﴿ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴾ په آیتونو د قتال سره منسوخ دے۔ لیکن دا قول غلط دے، وجه دا ده چه پدے آیت کښ دا مراد نهٔ دے چه مشرکان دِے په خپل دین باندے باقی او ثابت پاتے شی بلکه مراد دادے چه زهٔ ستاسو د دین سره هیچرے موافقت نهٔ کوم، نو هغه دین په تاسو پورے خاص دے، لکه چه زمونږ دین په مونږ پورے خاص دے، او تاسو مونږ سره موافقت نهٔ کوئ او دا د برائت طریقه۔

او حافظ ابن القیمؒ دا هم وئیلی دی چه داسے کلمات د برائت په مینځ د تابعدارو د سنت د نبی ﷺ او په مینځ د بدعتیانو کښ هم وئیلے کیدے شی اگرکه اقرار د بدعت د هغوی مراد نهٔ دے۔ وبالله التوفیق۔

نو پدے سورت کښ دا خبره راغله چه د الله تعالىٰ په بندگئ کښ شریکان مهٔ جوړه وئ او د توحید او عبادت حقدار صرف یو الله ومنئ، نو گویا کښ توحید العمل او توحید اُلوهیت پکښ ثابت شو۔ او دے ته توحید طلبی هم وائی۔

ختم شو تفسیر د سورة الکافرون په رحم د رب العالمین سره ولله الحمد علی ذلك۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (۳)	(۱۱۰) سُوۡرَةُ النَّصۡرِ مَدَنِيَّةٌ	رکوعاتها (۱)

سورة النصر مدنی دے، په دے کښې درے آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة النصر

نوم : سورة النصر (۲) او بل نوم ئے سورة التَّوۡدِيۡع (۳) او سورة اِذَا جَاءَ هم دے.

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مدنی دے. ابن مردویهؒ د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه دا سورت په مدینه کښې نازل شوے. او ابن ابی شیبهؒ، بزارؒ، ابویعلیٰؒ او بیهقیؒ وغیره د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کړی دی چه دا سورت په حجة الوداع کښې، د ایام تشریق په مینځ کښې په مِنیٰ کښې نازل شو، نو نبی ﷺ ته پته اولګیده چه اوس د دنیا نه د رخصتیدو وخت نزدے راغلے دے.

مناسبت

۱- مخکښې ئے د مشرکانو نه په برائت امر وکړو نو دلته دغه براءت کونکو ته بشارت ورکوی.

۲- مخکښې د توحید یو جانب ذکر شو چه هغه د شرك او مشرکانو نه براءت دے نو دلته بل جانب ذکر کوی چه هغه د هغۀ بندګی او تسبیح او تحمید وئیل دی.

۳- مخکښې سورت کښې د براءت حکم وو نو دلته د هغے علت ذکر کوی چه هغه مغلوبیت د دین د مشرکانو او غلبه د دین د مؤحدینو ده.

د سورت مقصد

امام بخاریؒ وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے چه امیر المؤمنین عمر بن

الخطاب ﷺ به عبد الله بن عباس ﷺ خپل ځان ته نزدې کولو (مشاورتي مجلسونو کښې به ئې حاضرولو) نو عبد الرحمن بن عوف ﷺ وویل (اِنَّ لَنَا اَبْنَاءً مِثْلَهٗ) چه زمونږ هم دده په عمر بچي شته، نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل : (اِنَّهٗ مِنْ حَیْثُ تَعْلَمُ) دده علم تاسو ته معلوم دے۔ نو (په یوه موقعه ئې) د ملګرو نه ددے آیت (اذا جاء نصر الله والفتح) په باره کښې تپوس وکړو (چه ددے سورت څه مقصد دے؟) چا یو مقصد بیان کړو او چا بل، د ابن عباس ﷺ نه ئې تپوس وکړو نو هغه وفرمایل : (هُوَ اَجَلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ أَعْلَمَهٗ اِیَّاهُ) پدے کښې د رسول الله ﷺ نیتهه د مرګ ذکر ده چه الله ورته خبر ورکړیدے (چه ستا مرګ رانزدے شویدے) نو عمر فاروق وفرمایل: (مَا اَعْلَمُ مِنْهَا اِلَّا مَا تَعْلَمُ] ـ ما ته هم صرف هم دغه مقصد معلوم دے۔ (بخاری : ۳٦۲۷)

او دا ډیر پټ مقصد دے، ظاهری مقصد خو دا دے چه کله د الله تعالیٰ مدد او فتح راشی، او خلق په دین کښې ډلے ډلے ننوزی، نو ته تسبیحات او ذکر او د الله تعالیٰ عبادت زیات کړه۔

لیکن په حقیقت کښې دلته (فَسَبِّحْهُ) د اِذَا جَاءَ سره نۀ لګیږی بلکه دلته د (اِذَا) جزاء پټه ده، او هغه دا چه الله تعالیٰ خپل نبی ته فرمائی چه ته مرے، ستا وخت د مرګ رانزدے شویدے۔ اَیْ فَذٰلِکَ عَلَامَةُ اَجَلِکَ۔ یعنی دا نخه ده ستا د اجل (نیتیے د مرګ)۔

او پدے (اِخْبَار بِمَوْتِ الرَّسُوْل) خبر د مرګ د رسول الله ﷺ کښې ډیرے فائدے دی :

(۱) یو اظهار د محبت، چه اے نبی ته وفات کیدو والا ئے، زۀ دِے خپل ځان ته راغواړم۔

(۲) کثرتِ عبادت ته اشاره ده، یعنی عمر دِے کم پاتے دے، نو بندګی زیاته کړه۔

(۳) صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته دعوت دے چه دا نبی درنه وفات کیږی، جلتی وکړئ دین ترے یاد کړئ صبا به وفات وی، بیا به دین د چا نه یادوئ۔

(٤) بله دا چه د الله نبی به په دنیا کښې همیشه وسیدونکے نۀ وی، هغه انسان دے، مرګ به پرے راځی۔

(٥) پدے کښې دا نصیحت پروت دے چه خومره دِے زندګی کمیده نو عبادت به زیاتوے، داسے نۀ چه د انسان عمر کمیږی او هغه نه دنیا پرست جوړیږی۔ او دا سورت د قرآن کریم آخری (١١٤) سورت دے چه تول نازل شویدے۔

فائده : په دے سورت کښې نبی کریم ﷺ دپاره زیرے دے، او کله چه دا زیرے رابنکاره

شي نو رسول الله ﷺ دپاره د هغهٔ د رب لـه طرفه یو حکم دے، یو ے خبرے طرفته اشاره ده، او یو خبردارے دے۔

زیرے دادے چه الله به د خپل رسول سره مدد کوی، مکه مکرمه به فتح کیږی، او خلق بـه ډلے ډلے په اسلام کښ داخلیږی۔ حکم دادے چه ته په پورتنو نعمتونو باندے د خپل رب شکر اداء کړه، د هغهٔ پاکی او حمد او ثناء بیان کړه او د هغهٔ نه بښنه طلب کړه۔

پـه دے کـښ دوه اشارے دی: یو دا چه الله به همیشه د اسلامي دین مدد کوی، او د هغهٔ پـه شـکـر اداء کولو او د هغهٔ په حمد او ثناء کښ د مشغولیدو سره به د هغهٔ په نصرت او تائید کښ اضافه کیږی۔

او تـاریـخ گـواه دے چـه څـو پـورے مسلمان د قرآن او سنت په لاره روان وی، هغوئ ته هـمیشـه دپاره د الله نـصرت او تائید حاصل شوے، تردے چه اسلام د دنیا گوټ گوټ ته اورسیدهٔ۔ دویمه اشاره داده چه د نبی کریم ﷺ د وفات کیدو وخت نزدے راغلے دے۔

او تـنبیه داده چه د دنیا نه د نبی ﷺ د رخصت کیدو وخت نزدے راغلے دے، دے وجے نه هغوئ (ﷺ) لـه پـکـار دی چـه خپل زیات نه زیات وخت د هغهٔ په یاد کښ اُولګوی، دے دپاره چه د عمر آخری برخه د هغهٔ په یاد کښ تیره شی۔

امـام بـخـاریؒ د عـائشے رضي الله عنها نه روایت کړے (مَـا صَـلَّى النَّبِيُّ ﷺ صَلَاةً بَعْدَ أَنْ نَـزَلَـتْ عَـلَيْـهِ ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ إِلَّا يَقُوْلُ فِيْهَا سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) چـه د سورة النصر نازلیدو نه پس به رسول الله ﷺ پـه هر مونځ کښ [سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ] لوستلو۔ (بخاری: ٤٩٦٧)

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ﴿۱﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
کله چه راغے مدد د الله تعالیٰ او فتح۔ او وینے ته خلقو لره چه داخلیږی په دین
اللّٰهِ أَفْوَاجًا ﴿۲﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
د الله تعالیٰ کښ ډلے ډلے۔ نو پاکی بیانوه سره د ستائینے د رب ستا نه
وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ﴿۳﴾
او بخنه غواړه د هغهٔ نه یقیناً هغهٔ توبه قبلونکے دے۔

تفسیر : الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمائی : اے زما نبی ! اُوس چه هر کله تهٔ د خپلو دشمنانو په خِلاف په هره معرکه کښ غالب راغلے ئے، او مکه دِے فتح کړه، او هغه د دار الکفر نه دار الاسلام جوړ شو، او د عربو قبیلے ډلے ډلے د الله په دین کښ داخلیږی، د اسلام د شروع پشان به نهٔ وی چه هغه وخت به خلق د کافرانو د ویرے نه ایکی یواځے او په پټه باندے په اسلام کښ داخلیدل، هر کله چه دا ټول نعمتونه حاصل شول، نو تهٔ د خپل رب شکر اداء کولو دپاره د هغهٔ پاکی او د هغهٔ حمد او ثناء بیانوه، اوٗ د هغهٔ نه مغفرت غواړه، د بعضِ هغه کوتاهیو دپاره چه د هغے احساس تاته خپله د غوره کار پریښودلو په سبب کیږی۔ الله تعالیٰ د توبه کونکو بندګانو توبه ډیره زر قبلوی، د هغوئ ګناهونه معاف کوی، او د هغوئ په حال رحم کوی۔

إِذَا : دا د مستقبل زمانے دپاره استعمالیږی، نو جَاءَ به په معنیٰ د یَجِیُٔ سره وی۔ او اِذَا په هغه امورو کښ استعمالیږی چه د هغے واقع کیدل یقینی وی، نو ګویا که اشاره شوه چه د الله تعالیٰ مدد او فتح راتلل تا ته یقینی دی۔ په آینده کښ به هم تا سره مدد کوی لکه چه مخکښ ئے هم درسره کړیدے۔

او آلوسیؒ وئیلی دی چه اِذَا په معنیٰ د اِذْ سره دے، او اِذْ د ماضی دپاره استعمالیږی نو جَاءَ په خپله معنیٰ باندے دے۔

نَصْرُ اللهِ وَ الْفَتْحُ : دواړو کښ فرق دا دے چه نصر نه مراد اسباب نیارول دی چه هغه مکان، ملګری او وسله او نور ضروری سامان د ژوند تیرولو او د جهاد کولو دپاره۔

او فتح غلبه ده په دشمنانو باندے، او د دعوت او د جهاد دپاره بندے دروازے کولاویدل دی۔

بعض مفسرینو دلته د فتح نه د مکے فتح مراد کړیده، او ځینو د نورو ښارونو فتح مراد کړیده، او ځینی وائی : د علومو فتح (راکولاوول) مراد دی۔ اول قول اَظْهَر دے، او دویم اَنْسَب دے او دریم اَبْعَد دے۔

که ددے نه د مکے فتح مراد شی نو بیا **سوال** دا دے چه دا سورت خو په قول د ابن عباس رضی الله عنه سره (لکه په صحیح مسلم کښ دی) د فتح د مکے نه روستو نازل دے؟

نو **جواب** دا دے چه اِذَا په معنیٰ د اِذْ دے لکه چه مخکښ ذکر شو۔

یا په معنیٰ د قَدْ سره دے۔

دویم جواب دا دے چه دلته دویم قول مراد دے، یعنی مطلق فتح د علاقو او د ښارونو ده چه مکه هم پکښې داخلیږي او باقي هم۔ او اِذَا په خپله معنیٰ سره ده۔

وَرَأَیْتَ النَّاسَ : دا دویم بشارت دے چه خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخل شي لکه د مکے د فتح نه روستو خلق په ډلو ډلو او د وفدونو په شکل راتلل او په اسلام به مشرف کیدل۔

اَفْوَاجاً : ددے نه معلومه شوه چه صحابه کرامؓ صرف څلور پنځه نۀ دی لکه چه شیعه ګان ئے وائی بلکه یو لاکھ څلویښت زره کسانو ته رسیدلی وو۔

امام بخاریؒ د عمر فاروق ؓ نه روایت راوړیدے چه دۀ یوه ورځ د ملګرو نه تپوس وکړو چه ددے سورت څه مطلب دے؟ نو بعضو وویل چه پدے کښې مونږ ته امر دے په تسبیح او استغفار روستو د نصرت او فتح نه، او بعض پکښې چُپ شول۔ نو ابن عباسؓ چه کشر وو دۀ ته ئے وویل چه تۀ پکښې څه وائے ؟ هغه وویل چه پدے سورت کښې اَجَل د رسول الله ﷺ ذکر دے۔ نو عمر فاروق ؓ وفرمایل چه زما په علم کښې هم دا خبره وه۔

پدے وجه دے سورت ته سورةُ التَّوْدِیْع وئیلے شویدے، یعنی د رسول الله ﷺ د دنیا نه رخصتیدو ته پکښې اشاره ده۔

فَسَبِّحْ : دا تفریع ده په پټه جزاء د اِذَا باندے چه هغه جزاء دا ده : (فَذٰلِكَ عَلَامَةُ اَجَلِكَ فَسَبِّحْهُ) نو دا علامه ده ستا د اجل، نو تسبیحات وایه۔

یا جزاء داسے ده (فَاِنَّكَ لَاحِقٌ بِرَبِّكَ) تۀ به د خپل رب سره ملاویدونکے ئے، نو تسبیحات وایه۔

او بعض مفسرین وائی چه دا جزاء د اِذَا ده، یعنی ذدغه نعمتونو په شکر کولو کښې تسبیح او استغفار کوه۔

دلته د تسبیح نه مراد په زړۀ او په ژبه او په بدن سره د الله تعالیٰ پاکی بیانول دی، او د هغۀ عبادت کول دی۔

بِحَمْدِ رَبِّكَ : باء د ملابست ده، یعنی تسبیح د حمد سره یو ځای کوه۔ او پدے کښې یو اشاره ده چه د الله تعالیٰ دپاره سلبی صفتونه هم شته چه هغه په تسبیح کښې مراد دی، او ثبوتی صفات هم شته چه هغه هم ډیر زیات دی۔

نو پدې کښې رد دے په معتزله او جهميه وغيره ؤ باندے چه د الله تعالىٰ دپاره سلبي صفتونه وائي او نور د كمال صفتونه ورله نۀ ثابتوي۔

دارنګه اشاره ده چه انسان باندے دوه حالتونه راځي، يو د مرض او د كمزورئ وغيره حالات نو په هغه وخت كښې تسبيح پكار ده، او دويم حال د نعمت او د ترقئ دے، نو پدے وخت كښې د الله تعالىٰ حمد وئيل پكار دی، نو هركله چه انسان ددے دواړو حالتونو نه نۀ خالي كيږي نو پدے وجه به هر وخت په تسبيح او په حمد سره مشغول وی، او د بے پرواهئ نه به بچ وی۔

وَاسْتَغْفِرْهُ : استغفار ئے په آخر كښې ځكه راوړو چه د هر عمل په آخر كښې استغفار پكار وی، رسول الله ﷺ د خپل نبوت ذمه واری سرته ورسوله نو اُوس استغفار كوی۔ او مخكښې مونږ وئيلي وو چه استغفار د الله تعالىٰ حق دے، او دا ګناه لره مستلزم نۀ وی۔

بلكه پدے كښې بنده خپله عاجزي ښكاره كوی چه اے الله ! مونږ ستا پوره حق نشو ادا كولے، كه مونږ نه كومه كوتاهي شوی وی مونږ ته ئے معاف كړه۔ او د آسانئ معامله راسره وكړه۔

حسن بصریؒ به فرمايل : [اِخْتِمُوْا اَعْمَالَكُمْ بِخَيْرٍ فَاِنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمَّا قَرُبَ اَجَلُهٗ اُمِرَ بِكَثْرَةِ التَّسْبِيْحِ وَالْاِسْتِغْفَارِ] خپل عملونه په خير ختم كړئ ځكه چه نبی كريم ﷺ چه كله مرګ رانزدے شو، نو د ډيرے تسبيح او استغفار حكم ورته شوے وو۔

(تفسير القرآن العظيم للطبراني)

امام مسلم د عائشه رضى الله عنها نه نقل كړيدی چه رسول الله ﷺ به (په آخر د عمر كښې) سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ، اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ زيات وئيل، نو ما ورته ووئيل اے د الله رسوله ! زۀ تا وينم چه دا كلمات ډير وائے ؟ هغه وفرمايل :

[خَبَّرَنِيْ رَبِّيْ اَنِّيْ سَاَرٰى عَلَامَةً فِيْ اُمَّتِيْ فَاِذَا رَاَيْتُهَا اَكْثَرْتُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ، فَقَدْ رَاَيْتُهَا (اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ) فَتْحُ مَكَّةَ] (مسلم : ١١١٦)

ما ته زما رب خبر راكړيدے چه زۀ به په امت كښې يوه نښه وينم نو كله چه زۀ هغه وينم نو زۀ به دا كلمات زيات وايم سبحان الله ..... الخ نو هغه ما ولېده چه (كله د الله مدد راشي او فتح) يعنى فتح د مكه۔

ام سلمه رضى الله عنها به فرمايل : [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَقُوْمُ وَلَا يَقْعُدُ وَلَا يَذْهَبُ

وَلَا يَجِيءُ إِلَّا قَالَ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ] نبی کریم ﷺ به په آخر د عمر کښې نۀ کیناستو، نۀ پاڅیدو، نۀ به تلو او نۀ به راتللو مګر سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ. أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ به ئې وئیلو۔

(ابن جریر : ۳۸۵۹۳) وابن مردویه،- الدر المنثور)

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : [اِجْتَهَدَ النَّبِيُّ ﷺ بَعْدَ نُزُوْلِهَا، حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ وَنَحَلَ جِسْمُهٗ وَقَلَّ تَبَسُّمُهٗ، وَكَثُرَ بُكَاؤُهٗ] رسول الله ﷺ ددې سورت د نازلیدو نه روستو په عبادت کښې ډیر کوشش کولو تردې چه د هغۀ خپې به اُوپړسیدې او جسم ئې کمزورې شو، او خندا ئې کمه شوه، او ژړا ئې زیاته شوه۔ (قرطبیؒ)

او مقاتلؒ وائی چه ددې سورت نه روستو رسول الله ﷺ شپیته ورځې ژوندې وو۔ او ددې نه روستو هغه په خندا او خوشحالئ باندې نۀ وو لیدلې شوې۔ (قرطبیؒ)

امام قرطبیؒ د ابن عمر رضی الله عنه نه نقل کړیدی چه دا سورت په منیٰ کښې نازل شوې وو او ددې نه روستو ﴿ اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ ﴾ آیت نازل شو او ددې نه روستو رسول الله ﷺ اتیا ورځو پورې ژوندې وو۔ او ددې نه روستو آیة الکلالة نازل شو نو د هغې نه روستو پنځوس ورځې ژوندې وو، او بیا ﴿ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ﴾ نازل شو د هغې نه روستو (۳۵) ورځې ژوندې وو۔ بیا ﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ إِلَى اللّٰهِ﴾ نازل شو او ددې نه روستو یویشت ورځې او مقاتلؒ وائی چه اُوه (۷) ورځې ژوندې وو۔ او بعضو ددې نه علاوه اقوال هم کړیدی۔ (قرطبیؒ)

ابن عاشورؒ لیکی : دلته د ظاهر تقاضا دا ده چه د (وَاسْتَغْفِرْهُ) سره ئې (إِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا) وئیلې لکه په آیت ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا﴾ (نوح : ۱۰) لیکن ددې نه ئې عدول تواب ته وکړو پدې کښې د نبی کریم ﷺ سره تلطف مقصود دې، یعنی هغۀ ته دا خبره ښکاره کوی چه استغفار غوښتل د ګناه تقاضا نۀ کوی ځکه چه تواب هغه ذات ته وائی چه هغه توفیق د توبې ورکوی، نو د استغفار حکم کول د الله تعالیٰ سره د ادب کولو د مقام سره مناسب دی۔

دارنګه په تواب کښې اشاره ده د مغفرت نه علاوه بار بار مهربانی کولو ته۔

وبالله التوفیق۔

ختم شو تفسیر د سورة النصر په مدد رب العالمین سره۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (٥)	(١١١) سُوۡرَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة اللهب مکی دے، په دے کښې پنځه آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة اللهب

نوم : ددے سورت نوم (اللهب) دے، او دیته سورة الْمَسَد هم وائی۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ټولو په نیز مکی دے۔ ابن مردویهٔ د ابن عباس، ابن زبیر او عائشے رضی الله عنهم اجمعین نه روایت کړی دی چه ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَّتَبَّ﴾ په مکه کښې نازل شوے۔

مناسبت

١ - مخکښې سورت کښې بشارتونه ذکر شول نو سوال راغے چه په مقابله کښې سخت دشمن شته چه هغه د دین نه منع کول کوی، نو دغه بشارتونه پوره فائده نهٔ ورکوی۔ نو پدے سورت کښې بشارت دے په هلاکولو د داسے دشمن سره دپاره ددے چه رکاوټ د مخے نه لرے شی نو خلق به د الله تعالیٰ په دین کښې هله داخلیږی۔

٢ - دا تخویف دے روستو د بشارت نه لکه چه دا د قرآن طریقه ده۔

٣ - مخکښې سورت کښې ئے په تسبیح او حمد او استغفار باندے امر وکړو نو پدے سورت کښې د هغے نتیجه ذکر کوی چه پدے سره به دشمن هلاك شی۔

د سورت مقصد

١ - اَلْبِشَارَةُ بِهَلَاكِ عَدُوِّ اللّٰهِ ۔ (الله خپل پیغمبر ته زیرے ورکوی چه ستا دشمن هلاکیدونکے دے، چه هغه ابو لهب دے)۔

٢ - اَلتَّخْوِيفُ الدُّنْيَوِيُّ وَالْأُخْرَوِيُّ لِمَنْ يُّؤْذِى الرَّسُوْلَ ﷺ ۔ د دنیا او د آخرت یره او

عذاب هغه چا ته چه رسول الله ﷺ ته ضرر ورکوی۔

شان نزول د سورت

بخاریؒ او مسلمؒ او نورو محدثینو د ابن عباس ﷺ نه روایت کړی دی چه کله د سورة الشعراء (٢١٤) آیت ﴿ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴾ (اے زما نبی! ته خپل ډیر نزدے رشته داران اُویروه) نازل شو، نو نبی کریم ﷺ د کور نه اووتلو او په صفا غونډئ اوختلو او د قریشو خاندانونو ته ئے آواز اوکړو: اے بنی فهر! اے بنی عدی! تردے چه ټول جمع شو۔ بعضِ خلق چه خپله نهٔ وو راغلی، هغوئ خپل نماینده را اولیږلو، دے دپاره چه معلومه کړی چه څهٔ قیصه ده؟ چنانچه ابو لهب او د قریشو خلق راغلهٔ۔ نبی ﷺ وفرمایل: ستاسو څهٔ خیال دے، که چرے زهٔ تاسو له خبر درکړم چه په میدان کښ یو لښکر دے چه هغه تاسو باندے حمله کول غواړی، نو آیا تاسو به ما رشتینے اوګڼړئ؟ خلقو ووئیل: [نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا] هاؤ، مونږ په تا همدا تجربه کړے ده چه تهٔ رشتیا وائے۔ نبی ﷺ وفرمایل: [فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ] نو زهٔ تاسو د یو سخت عذاب نه یروم۔ ابو لهب ووئیل: [تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا] تهٔ دے ټوله ورځ تاوان پورته کړے، آیا تا مونږ دے خبرے له راجمع کړی یو؟ نو دا سورت نازل شو۔

(بخاری: ١٣٩٤ ومسلم: ٥٢٩)

تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَّتَبَّ ﴿١﴾ مَا أَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ
هلاك دے شی دواړه لاسونه د ابولهب او هلاك شو۔ فائده ورنکړه دهٔ ته مال دهٔ
وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾ وَّامْرَأَتُهٗ
او هغه څه چه دهٔ ګټلی وو۔ زردے چه ورننوځی به اُور لمبو والا ته۔ او ښځه دهٔ
حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ﴿٥﴾
را اُوچتونکے د لرګو ده۔ په څټ د هغے کښ رسئ ده د پوستکی د کجورو نه۔

تفسیر: د ابو لهب نوم: عبد العُزیٰ وو، د عبد المطلب بن هاشم ځوئے او د نبی کریم

ﷺ تره وو، د هغهٔ سره او د هغهٔ د دعوت سره به ئے سختهٔ دشمنی ساتله۔
د بدر په جنگ کښې شریك نشو، سخت بیمار وو نو په خپله بدله کښې ئے بل څوك را اولیږهٔ لیکن کله چه هغهٔ ته د قریشو د خراب شکست حال معلوم شو نو سخت خفه شو او غم ئے برداشت نهٔ کړو او د یو څو ورځو نه پس هلاك شو۔
عَدَسَه بیماری پرے راغلے وه، (دانے پرے راوختلے) چه د عربو د عقیدے مطابق چه په چا به دا بیماری راغله نو هغه به بل ته لګیده نو خلقو به د هغهٔ نه نفرت کولو او ځان به ئے جدا ساتلو، پدے وجه خپلو بچو هم نهٔ پورته کولو بلکه اعراب ئے پسے راوستل او هغوی په لرګو کښې وتړلو او یوے کندے ته ئے بوتلو او کاڼی ئے پرے راواړول او چا سم خخ هم نکړو۔ دا هم د اسلام ډیر لوی دشمن وو او ددهٔ ښځه هم دغه شان وه۔
د هغهٔ د ښځے ام جمیل نوم: اروی وو، دا د حرب بن امیه لور، د ابو سفیان ﷺ خور او د معاویه ﷺ ترور وه۔ رسول الله ﷺ سره ئے زبردسته دشمنی لرله، د نبی ﷺ په لاره کښې به ئے ازغی اچول، کنځل او رد بد به ئے هم وئیل، او په کفر او عناد او د رسول الله ﷺ سره په دشمنئ کښې د خپل خاوند ابو لهب سره ملګرے وه۔
او یوه قِلاده (امیل) ورسره وو نو دا به ئے وئیل: (لَأُنفِقَنَّهَا فِي عَدَاوَةِ مُحَمَّدٍ) قسم په الله چه دا به زهٔ د محمد (ﷺ) په دشمنئ کښې خرچ کوم۔ نو ځکه ورته الله تعالیٰ په غاړه کښې د پړی اچولو دهمکی ورکړے ده ځکه چه جزاء د جنس د عمل نه وی۔
الله تعالیٰ په خپل نبی باندے ډیر لوی شفقت لری پدے وجه څوك چه د هغهٔ سره دشمنی کوی نو هغه دپاره ډیر سخت وعیدونه او عذابونه بیانوی۔
الله تعالیٰ دا سورت د همدے ابو لهب او د هغهٔ د ښځے ام جمیل په باره کښې نازل کړو، دے دپاره چه راتلونکے دنیا پورے د هغه خلقو مثال قائم شی چه هغوئ د شیطان او د نفس د خواهش په تابعدارئ کښې د الله او د هغهٔ د رسول سره دشمنی کوی۔
تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ : لاسونه ئے ذکر کړل ځکه چه ده ناولی لاسونه ئے د الله د حبیب پسے راپورته کړی وو۔ نو الله وفرمایل: د ابو لهب لاسونه هلاك او برباد شو، او دے خپله هم تباه شو۔ بعض وائی: ذکر د لاسونو دے او مراد ترے ټول نفس دے۔ لکه د ﴿بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ﴾ په شان دے۔
تَبَّتْ : د تباب نه دے په معنیٰ د قطع او هلاکت او همیشه تاوان سره۔

أَبِیْ لَهَبٍ : ابولهب یعنی لمبو والا۔ دهٔ ته ئے دا نوم پدے وجه وئیلو چه ډیر زیات ښائسته وو، او مخ به ئے د زیات حسن په وجه لمبے وهلے۔

دلته الله تعالیٰ په نوم سره ذکر نکړو (عبد العزی) ځکه چه هغه شرکی نوم دے، یا په دے کنیه سره زیات مشهور وو۔ یا پدے نوم کښ اشاره ده چه دے به د اُور سره ملابس (انښتے) وی۔ ځکه چه اَبُو لفظ کښ معنیٰ د لزوم ده نو پدے لفظ کښ په طریقه د کنایه سره اشاره ده چه دا شخص جهنمی دے۔

قرطبیؒ وائی : بله وجه دا ده چه الله تعالیٰ غوښتله چه ددهٔ نسبت رشتینی کړی پدے طریقه چه اُور ته به ئے داخل کړی نو دے به د لمبو والا وګرځی، نو پدے کښ به ددهٔ نسبت هم رشتینی شی او دهٔ چه کوم نیك فالی ځان دپاره نیولے ده، هغه به ورله بد فالی وګرځی۔

او الله تعالیٰ خاص د ابولهب نوم په قرآن کښ ذکر کړو ځکه چه دے د رسول الله ﷺ انتهائی تریخ دشمن وو، او په هر ځای او موقعه او پړاؤ کښ به ورته د دعوت په لاره کښ رکاوټ جوړیدو۔

وَتَبَّ : فراءؒ وائی اوله جمله دعائیه ده۔ یعنی ښیرے دی۔ او دویمه جمله خبر دے، او معنیٰ دا ده چه دهٔ باندے دغه ښیرے واقع شوے، او د الله خبر رشتینی وی۔ او دا د قرآن اخبار دے چه ابو لهب به ایمان نهٔ راوړی، او همداسے به بے ایمانه د دنیا نه ځی، او همداسے وشوه چه دهٔ د منافقت په طریقه هم ایمان رانهٔ وړو۔ دا د قرآن کریم اعجاز او د رشتینوالی لوی ثبوت دے۔

مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ : د مَا کَسَبَ نه مراد بچی دی۔ لکه په حدیث کښ دی : [اِنَّ اَوْلَادَکُمْ مِنْ کَسْبِکُمْ)۔ ستاسو اولاد ستاسو کسب دے۔ (ترمذی : ۱۳۵۸ صحیح)

دارنګه مَا کَسَبَ هغه جاه او جلال او مرتبے او دولت ته وائی چه دهٔ ګټلے وی۔ یعنی هغهٔ چه کوم مال جمع کړو او کوم اولاد او جاه او دولت ئے چه حاصل کړو، هغه به د هغهٔ نه هغه عذاب لرے نهٔ کړے شی کوم چه د الله له خوا دهٔ ته رسیږی۔ او هغه به د اسلام او د رسول د دشمنئ په وجه ډیر زر به لمبو وهونکی اُور کښ داخل شی۔

وَامْرَأَتُهُ : دا عطف دے په هغه ضمیر باندے چه په سَیَصْلٰی کښ دے۔ اَیْ سَیَصْلٰی هُوَ وَامْرَأَتُهٗ۔ اُور ته به داخل شی دے او ددهٔ ښځه هم۔

حَمَّالَةَ الْحَطَبِ : ١- دا منصوب دے په (اَعْنِيْ) مقدر سره۔

٢- يا منصوب دے په ذم سره، اَیْ اَخُصُّ بِالذَّمِّ ۔ يعنى زۀ خاص كوم په بدئ سره هغه زنانه چه لرګو لره بار كونكے ده۔ يا منصوب بنا بر حاليت دے۔ بيا ددے ډير مطلبونه دى۔ (١) حَمَّالَةَ الْحَطَبِ لِبُخْلِهَا ۔ يعنى بخيله وه ځكه به ئے د غرونو نه خپله لرګى او خشاك راوړل سره د مالدارئ ددے نه۔

(٢) لِنَمِيْمَتِهَا۔ چغلخوره وه، د خلقو ترمينځ به ئے اُورونه بلول۔ او عرب حَمْلُ الْحَطَب كنايه ګرځوى د چغلخورئ نۀ۔ (مجاهدؒ، عكرمهؒ او قتادهؒ) اَیْ نَقَّالَةُ الْحَدِيْثِ ۔ (ډيره خبره وړونكے ده)۔

او په حديث كښ دى : (لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ) جنت ته به چغلخور نشى داخليدے۔ (بخارى : ٦٠٥٦) ومسلم (٣٠٤)

نو حطب استعاره شويدے دپاره د چغلخورئ ځكه چه په چغلئ سره هم اُور د جګړے بليږى۔ (حاشية الشهاب الخفاجى على تفسير البيضاوى)

(٣) حَمَّالَةَ الْحَطَبِ لِذُنُوْبِهَا ۔ يعنى ګناهونه ئے ځانله دومره ډير كړى وو چه د هغے بار ئے په ځان پورته كړے وو۔ لكه د نبى كريم ﷺ بدى به ئے بيانوله او هغۀ ته به ئے مذمم وئيلو۔ او پدے كښ يوه لطيفه استعاره ده چه لكه څنګه په لرګو سره اُور بليږى نو دے به د اُور د بلولو دپاره خپل ګناهونه په شا باندے راروان كړى وى۔

ابن ابى حاتمؒ او ابوزرعهؒ او حُميدىؒ د اسماء بنت ابى بكر رضى الله عنها نه روايت راوړيدے چه كله ﴿تَبَّتْ يَدَا اَبِیْ لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ نازل شو، نو شيرئ ام جميل بنت حرب راروانه شوه او ډيره غصه وه او د هغے په لاس كښ فهر (ګټك) وو۔ او هغے داسے وئيل :

مُـذَمَّـمًـا اَبَيْـنَـا وَدِيْـنَـهٗ قَلَيْـنَـا	❁	وَاَمْــــرَهٗ عَـــصَيْـــنَـــا

(ددۀ يعنى محمد ﷺ) بد وئيلے شوى نه مونږ انكار كوو، او ددۀ دين مو بدى شى، او ددۀ حكمونه نۀ منو۔

او رسول الله ﷺ په مسجد كښ ناست وو او د هغه سره ابوبكر ؓ هم وو، نو كله چه ابوبكر ؓ دا وليدۀ نو وے فرمايل : اے د الله رسوله ! دا ام جميل راروانه ده او زۀ يريږم چه تا به وينى، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ما نشى ليدلے۔ (او څه قرآن ئے ولوستلو د دم په

طريقه، بيا ئے وفرمايل: الله تعالىٰ فرمائيلي دي: ﴿ وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُورًا ﴾ (اسراء: ٤٥) نو دا راغله تردے چه د ابو بكر رضی الله عنه خوا كښې ودريده، او رسول الله ﷺ ئے ونۀ ليدو، نو وے وئيل: اے ابوبكره! زۀ خبر شوے يم چه ستا ملګرى زما بدى وئيلے ده. هغه وويل، نۀ، قسم په رب د كعبے چه ستا بدى ئے نۀ ده وئيلے. نو هغه روانه شوه او دا ئے وئيل:

[قَدْ عَلِمَتْ قُرَيْشٌ اَنِّيْ بِنْتُ سَيِّدِهَا] قريشو ته معلومه ده چه زۀ د دوئ د سردار لور يم.

او په يو روايت كښې دي: چه (يوه ورځ) ام جميل په حالت د طواف كښې په خپل لوى څادر كښې راوخوئيده نو داسے ئے وويل: (تَعِسَ مُذَمَّمٌ) مذمم (بد وئيلے شوے) دِے هلاك شي. (او ددے مقصد رسول الله ﷺ وو، لعنها الله تعالىٰ)

(الحميدى رقم: ٣٢٣) المطالب العالية للحافظ ابن حجر ٣٨٨٥)

(٤) لِإِيذَائِهَا النَّبِيَّ وَالْمُؤْمِنِيْنَ. ابن زيدؒ وائى چه دے ښځے به ازغى دار لرګى راوړل او د شپے به ئے د نبى كريم ﷺ او د صحابه كرامؓ په لارو كښې اچول دے دپاره چه دوئ مسجد حرام ته راځى چه تكليف ورته ورسيږى او دا هم ددے ډير لوى خسيس عمل وو.

حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ: مَسَد د كجورو د پوستكو او پټونو نه كلكه اُودلے شوے (جوړه شوے) رسئ ته وئيلے شى. ددے بيا دوه مطلبه دى:

(١) يو دا چه دا په آخرت كښې مراد دے، يعنى الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ د هغے په څټ كښې د كهجورو د څانګو رسئ تړلے وى چه دِدے په ذريعه به هغه جهنم كښې راښكلے كيږى، او دا به ډير زيږ پړے وى.

وجه دا وه چه دے وئيلى وو چه زۀ به دا اميل د محمد (ﷺ) په دشمنئ كښې لګوم. نو ځكه ورله الله تعالىٰ په جهنم كښې غاړے ته د اُور نه اميل وراچوى.

مجاهدؒ او عروه بن زبيرؓ وائى چه دا به د اُور يو زنځير وى چه هغه به د قيامت په ورځ د هغے په خُله كښې داخليږى او د هغے دَ كُناتى نه به اوځى.

سعيد بن المسيبؒ وائى چه امّ جميل سره يو قيمتى هار وو، هغے وويل چه په لات او عُزى باندے قسَم دے! زۀ به دا خامخا د محمدؐ په دشمنئ باندے خرچ كوم. د قيامت په ورځ به ددے هار په ذريعه دے له عذاب وركړے كيږى.

(٢) يا دا په دنيا كښې مراد دے. لكه ضحاكؒ وئيلى دى چه ام جميل به نبى كريم ﷺ ته

د غریبۍ او محتاجۍ پیغور ورکولو او خپله به ئې په خپل څټ کښې رسۍ وا چوله او لرګی به ئې راوړل (چه دا ددې بخل وو) او ددې په ذریعه الله تعالیٰ د هغې مرئ خفه کړه او هغه ئې تباه کړه۔

جِيۡدِهَا : جید څټ وائي، بیا ئې اکثر استعمال د زنانه د غاړې دپاره کیږي۔ او کوم ځای ته چه امیل اچولې شي۔ او دارنګه هغه څټ ته وائي چه هغه په امیل وغیره سره ښائسته شوې وي۔ نو دلته خو به د ګانړې امیل نۀ وي نو ددې سره حَبۡلٌ مِّنۡ مَّسَدٍ ذکر شو۔ او دا بلاغت دې۔ (ابن عاشور فی التحریر والتنویر)

(یعنې پدې خکلې څټ کښې به ئې ګانړه نۀ بلکۀ د کجورو د پوستکو زیړۀ رسۍ وي چه هغه به د اُور نه جوړه وي)۔

او ابن عاشورؒ وائي : ددې مطلب دا دې چه په جهنم کښې به ددې په څټ کښې رسۍ وي چه په هغې به لرګی راباروي دې دپاره چه په خپل خاوند باندې اُور نور هم ګرم کړي لکه څنګه چه به دې په دنیا کښې د خپل خاوند سره تعاون کولو په ضرر ورکولو کښې کوم باندې چه الله تعالیٰ دې ته غصه شوېدې۔ (التحریر)

علامه شهاب خفاجيؒ لیکي : دلته ئې د عنق په ځای جید لفظ راوړو پدې کښې ددې تهکم (سپکاوې) دې، لکه د (فبشرهم بعذاب الیم) او مطلب دا دې چه [لَا جِيۡدَ لَهَا فَيُحَلّٰى، وَلَوۡ كَانَ لَكَانَتۡ حِلۡيَتُهٗ هٰذِهٖ] ددې به ښائسته څټ نۀ وي چه هغې ته ګانړه وا چولې شي، او که بالفرض ددې څټ وي نو د هغې ګانړه به همدا ګنده خیز وي)۔

(حاشیة الشهاب)

حافظ ابن کثیرؒ لیکي چه علماؤ وئیلي دي چه کله دا سورت نازل شو، دې وخت کښې ابو لهب او د هغۀ ښځه دواړه ژوندي وو۔ او الله تعالیٰ ددې په باره کښې خبر ورکړو چه دې له به خامخا په جهنم کښې عذاب ورکړې شي، یعنې دوئ به اسلام نۀ راوړي او دوئ به په کفر باندې مري۔ نو هم دغسې اوشوه، دواړه د کفر په حالت کښې مړۀ شول۔ دا خبره د الله تعالیٰ د نبوت نه یوه لویه نښه ده چه علام الغیوب په دې سورت کښې ددې په باره کښې څنګه خبر ورکړې هم هغه شان اوشوه۔ آه۔

ختم شو تفسیر د سورة المسد په توفیق د رب العالمین د عید الفطر د مانځه نه روستو ۰۰: ۱۱ بجه۔ اول شوال المکرم۔ ۱۴۳۷ھ موافق : ۶/۷/۲۰۱۶ء اسریت کالام۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

آیاتها (٤)	(١١٢) سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاصِ مَکِّیَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة الاخلاص مکی دے، په دے کښې څلور آیتونه او یوه رکوع ده

تفسیر سورة الاخلاص

نوم : خطیب شربینیؒ او آلوسیؒ او سیوطیؒ په اتقان کښې او ابن عاشورؒ او فخر الدین الرازیؒ په التفسیر الکبیر کښې او نورو مفسرینو ددے تقریباً دوه ویشت (٢٢) نومونه لیکلی دی، (١) سورة الاخلاص، چونکه په دے سورت کښې الله تعالیٰ خالص توحید بیان کړے، دے وجے نه ددے نوم [الإخلاص] کیښودل شوے۔

(٢) سُوۡرَةُ التَّجۡرِیۡد، (٣) سُوۡرَةُ التَّفۡرِیۡد (٤) سورة التوحید، (٥) سورة النجاة (٦) سورة الولایة (٧) سورة النسبة (٨) سورة المعرفة (٩) سورة الجمال (١٠) سورة الۡمُقَشۡقِشَة۔ (یعنی د شرك او نفاق نه بیزاری کونکے) (١١) سورة الۡمُعَوِّذَة (١٢) سورة الصَّمَد

(١٣) سُوۡرَةُ الۡاَسَاس۔ (ځکه چه ددے بنیاد د الله په توحید دے) (اتقان)

(١٤) سورة الۡمَانِعَة (١٥) سورة الۡمُحۡتَضَر۔ (ځکه چه ملائك ددے د لوستو په وخت کښې غوږ اږدی)۔ (١٦) سُوۡرَةُ الۡمَغۡفِرَة، (١٧) سُوۡرَةُ الۡبَرَاءَة (١٨) سُوۡرَةُ الۡمُذَکِّرَة

(١٩) سورة النور (٢٠) سورة الانسان (٢١) سورة الایمان (٢٢) سورة قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ۔

(٢٣) سُوۡرَةُ الۡمُنَفِّرَة (ځکه چه شیطان ددے د لوستلو په وخت تښتی)۔

ابن عاشورئ وجے د تسمیی ئے هم ذکر کړیدی۔

(٢٤) او فیروز آبادیؒ په بصائر التمییز کښې ددے نوم (اَلشَّافِیَة) هم ذکر کړیدے۔

د نازلیدو زمانه : دا سورت د ابن مسعود ﷛، حسنؒ، عطاءؒ، عکرمهؒ او جابرؓ په نیز مکی دے۔ او قتادهؒ او ضحاكؒ او سُدیؒ او د یو قول مطابق د ابن عباس ﷛ په نیز مدنی

دے۔ ابن عاشورؒ لیکی : صحیح خبره دا ده چه دا سورت مکی دے، ځکه چه پدے کښ اصل د توحید ذکر دے، او هغه په مکی سورتونو کښ زیات ذکر کیږی، او چا چه دا وئیلی دی چه دا د اَربد او عامر بن الطفیل د سوال په جواب کښ نازل شویدے او د یهودیانو د احبارو د سوال په جواب کښ نازل شویدے نو پدے وجه دائے مدنی شمارلے دے، لیکن ددے تاویل دا دے چه په دوی باندے رسول الله ﷺ دا سورت لوستلے دے، نو د انصارو نه راوی دا گمان کړیدے چه دا په دغه وخت کښ نازل شویدے، یا نورو راویانو د هغوی نه پوره عبارت نۀ دے حفظ کړے۔

او سیوطیؒ په اتقان کښ وائی چه بعض علماؤ د دواړو روایتونو تطبیق دا کړیدے چه دا سورت دوه کرته نازل دے، لیکن ما ته ددے سورت د مدنی کیدو ترجیح ښکاره کیږی لکه ما په اسباب النزول کتاب کښ ذکر کړیده۔

مناسبت

١- مخکښ دنیوی او اُخروی عذاب ذکر شو نو دلته د هغے نه د بچ کیدو دپاره سبب ذکر کوی چه هغه خالص توحید دے۔

٢- په مخکښ سورت کښ په مؤمنانو باندے لوی انعام ذکر شو چه هغه هلاکول د لوی دشمن وو او د رکاوټ زائل کول وو نو دلته د هغه انعام شکریه ذکر کوی چه هغه خالص توحید ته دعوت ورکول دی۔

٣- مخکښ د ابولهب او د هغۀ د ښځے هلاکت ذکر شو نو دلته د هغے سبب ذکر کوی چه هغه انکار وو د الله تعالیٰ د توحید نه۔

٤- په مخکنو سورتونو کښ بیشماره علوم او الهیٰ احکام ذکر شول نو دلته د هغے ټولو خلاصه او بنیاد ذکر کوی چه هغۀ د الله تعالیٰ یواځے توحید دے۔

شان نزول

(١) احمدؒ، بخاریؒ (په تاریخ کښ) او ترمذیؒ او نورو د اُبی بن کعب ﷺ نه روایت کړے، مشرکانو نبی کریم ﷺ ته اووئیل : اے محمد ! (اُنْسُبْ لَنَا رَبَّكَ) تۀ د خپل رب نسب بیان کړه۔ نو الله تعالیٰ سورۀ ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ نازل کړو۔ (ترمذی : ٣٣٦٤ باسناد حسن)

(۲) او ابـن ابـی حـاتمؒ او بیهـقیؒ پـه (کتاب الاسماء والصفات) کښ د ابن عباس ﷺ نه روایت کړے دے چه د یهودو احبار (یعنی علماء) د کعب بن اشرف او حُیی بن اخطب سره نبی کریم ﷺ خواته راغلهٔ، او وے وئیل : اے محمد !

(صِفُ لَنَا رَبَّكَ لَعَلَّنَا نُؤْمِنُ بِكَ، فَنَزَلَتُ)

تـهٔ د خپـل هغـه رب صفـت بیان کړه چه هغهٔ تهٔ رالیږلے ئے، کیدے شی چه مونږ په تا باندے ایمان راوړو۔ نو ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴾ نازل شو۔ (الواحدیؒ- ابن عاشور والخازن)

(۳) ابو صالحؒ د ابن عباس ﷺ نـه روایت کړیدے چه عامر بن الطفیل او ارېد بن ربیعه (چه د لبید بن ربیعه ﷺ ورور وو) دواړه نبی کریم ﷺ ته راغلل نو عامر ورته ووېل : [اِلَامَ تَدْعُوْنَا؟] تهٔ مونږ چا ته رابلے؟۔ هغه وفرمایل: [اِلَی اللّٰهِ وَحْدَهٗ] یواځے یو الله تعالیٰ ته۔

نو هغه ووېل : [صِفْهُ لَنَا اَمِنُ ذَهَبٍ هُوَ، اَمُ مِنُ فِضَّةٍ، اَمُ مِنُ حَدِیْدٍ اَمُ مِنُ خَشَبٍ؟]

(مـونږ ته بیان کړه چه ستا رب د سرو زرو نه جوړ دے، یا د سپینو زرو نه، یا د وسپنے نه یا د لـرګـی نـه؟) دهٔ د خپـل جهالت د وجه نه دا ګمان وکړو (العیاذ بالله) چه اِلٰه به یو صنم (بـت) وی د دویٔ د بتـانـو پـه شان چه د مَعْدِن، یا د لرګی یا د کاڼړی نه به جوړ وی۔ نو دا سورت نازل شو۔ (بغوی، زاد المسیر والخازن)

پـدے اعتبار سره دا سورت مدنی دے۔ (بیا الله تعالیٰ ارېد په صاعقه سره هلاك كړو او عامر بن طفیل ئے په طاعون سره)۔

مـګـر ددے دواړو مختلفو روایتونو ترمینځ جمع والے دا دے چه دا سورت په اول ځل په مـکه مکرمه کښ نازل شو، بیا مدینے ته د نبی کریم ﷺ د راتګ نه پس چه کله هم چا د الله د صـفـت بیـانـولـو سـوال کـړے دے نو الله تعالیٰ دا دوباره نازل کړو، او نبی ﷺ تـه ئے حکم اوکړو چه سوال کونکی ته دا سورت واوروه۔

لکه دا خبره سیوطیؒ هم په «اتقان» کښ ذکر کړیده لیکن بیا ئے وئیلی دی چه ما ته دا خبره غوره ښکاره کیږی چه دا سورت په مدینه کښ نازل دے۔ لکه دا خبره ما په اسباب النزول کښ بیان کړیده انتهی۔

شیخ الاسلام ابـن تیـمیـةؒ وائـی چه دا سورت دوه ځل نازل دے، اول ځل په مکه کښ نـازل شـوے، دے نه پس په مدینه منوره کښ چه کله هم کوم یهودی یا نصرانی د مکے د مشرکانو غوښتنه سوال کړے نو الله تعالیٰ دا سورت د نوی سره نازل کړے۔

فضائل :

ددے سورت په احادیثو کښې ډیر فضائل راغلي دي.

❁ امام بخاريّ د عائشې رضي الله عنها نه روایت کړے چه نبي کریم ﷺ یو سړے د یو فوجي دستې امیر جوړ کړو او وې لیږلو. دغه کس به چه کله هم مونځ کولو نو خپل قراءت به ئې په ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَد﴾ سره ختمولو. واپسئ نه پس صحابو دا خبره رسول الله ﷺ ته بیان کړه نو هغهٔ وفرمایل : [سَلُوْهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ] تاسو ددهٔ نه تپوس وکړئ چه دهٔ دا کار ولې کولو؟. خلقو تپوس وکړو نو هغهٔ ووئیل : [لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ، وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا] په دے سورت کښې د رحمٰن صفت بیان شوے، دے وجې نه زهٔ دا لوستل خوښوم. نبي کریم ﷺ وفرمایل : [أَخْبِرُوْهُ أَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يُحِبُّهُ] (تاسو دهٔ ته اووایئ چه الله تعالیٰ دهٔ سره محبت کوي). (بخاري : ۷۳۷۵) مسلم (۱۹۲۶)

❁ ابوسعید خدري ﷛ فرمائي : یو سړي د بل سړي نه واوریدل چه ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ ئې بار بار لوستلو. نو کله چه صبا شو نبي کریم ﷺ خوا ته راغے او دهٔ ته ئې دا خبره ذکر کړه، ګویا کښې دے سړي دا سورت کم (معمولي) وګڼړلو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : [وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ] قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښې دے، یقیناً چه دا سورت د دریمې حصې د قرآن سره برابر دے. (بخاري : ۷۳۷٤)

ځکه چه په دے کښې د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو توحید بیان شوے.

❁ او په روایت د مسلم کښې دي : (آیا یو تن ستاسو ددے نه کمزورے دے چه په شپه کښې دریمه حصه د قرآن ولولي؟. صحابه کرامو ﷢ تپوس وکړو چه دریمه حصه قرآن به څنګه ولولي؟ وې فرمایل : (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) د دریمې حصې د قرآن سره برابر دے. (مسلم : ۱۹۲۲)

❁ ابو هریره ﷛ فرمائي : زهٔ د رسول الله ﷺ سره روان وم چه د یو سړي نه ئې ددے سورت لوستل واوریدل (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) نو رسول الله ﷺ وفرمایل : (وَجَبَتْ) واجب شو. نو ما تپوس وکړو چه اے د الله رسوله څه شے ؟ (واجب شو) وې فرمایل : جنت.

(السنن الکبری للنسائي : ۱۰۶۸) (۱۸/۲)

په روایت د موطأ کښې دي : ما اراده کړه چه زهٔ لاړ شم او دغه سړي ته زیرے ورکړم، بیا

ویریدم چه ما نه به د رسول الله ﷺ سره ناشته فوت شي، نو ما د رسول الله ﷺ سره ناشته غوره کړه، بیا د هغه سړي خوا ته لاړم نو هغه ما وموندو چه تلے وو. (موطأ : ٤٨٦)

❁ انس بن مالك ﷜ فرمائي : د انصارو نه یو سړي په مسجد قباء کښ امامت کولو، هرکله چه به هغه یو سورت شروع کړو چه په هغے به ئے قراء ت کولو نو اول به ئے قُلْ هُوَ اللهُ اَحَد ولوستلو بیا به ئے بل سورت لوستلو، او دغه شان کار به ئے په هر رکعت کښ کولو، نو ملګرو ورته ووېل چه دا ته ځه کوے یا صرف سورت اخلاص لوله یا بل سورت (یعني دا دواړه ولے جمع کوے؟) هغه ورته ووېل :

[مَا اَنَا بِتَارِكِهَا اِنْ اَحْبَبْتُمْ اَنْ اَؤُمَّكُمْ بِذٰلِكَ فَعَلْتُ وَاِنْ كَرِهْتُمْ تَرَكْتُكُمْ]

زۀ دا کار نۀ پریدم، که ستا خوښه وي نو زۀ به درته په همدغه طریقه باندے امامت کوم او که دا نۀ خوښوئ نو امامت به درته پریدم.

او ملګرو دا په خپل ځان کښ غوره ګڼړلو او دائے هم بده ګڼړله چه ددۀ نه سویٰ بل څوك امامت وکړي. نو کله چه نبي کریم ﷺ خوا ته راغلل هغۀ ته ئے خبر ورکړو نو وے فرمایل : اے فلانیه ! د خپلو ملګرو خبره ولے نۀ منے او د څه وجے نه دا سورت په هر رکعت کښ خامخا لولے؟ هغه ووېل : زۀ ددے سره مینه لرم.

نبي کریم ﷺ وفرمایل : [حُبُّكَ اِيَّاهَا اَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ]. ددے سورت محبت تۀ جنت ته داخل کړے. (بخاري : ٧٧٤)

د سورت مقصد

١ - مَعْرِفَةُ اللّٰهِ بِاَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ. د الله تعالیٰ پیژندل په اسماء او صفاتو د هغۀ سره.

٢ - اَلتَّوْحِيْد. او توحید په دوه قسمه دے، یو توحید العبادة، دویم توحید المعرفة. نو مخکښ سورة کښ توحید العبادة وو او دلته توحید المعرفة دے. اول ته توحید طلبي او دویم ته توحید خبري هم وائي.

توحید طلبي دے ته وائي چه الله تعالیٰ د بندګانو نه مطالبه کوي چه داسے وکړئ، او توحید خبري دے ته وائي چه الله خبر ورکوي چه هغه پدے طریقه باندے دے.

او چونکه دا ډیر جامع سورت دے نو پدے وجه مخکنو علماؤ عوامو ته خودلے دے چه دا په مونځونو کښ وائي. او ددے مطلب دا نۀ دے چه بس انسان به نور سورتونه نۀ

وائي او تول عمر به په همدے يو سورت باندے مونځونه كوي.

قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾
تهٔ اُووايه هغه الله تعالىٰ ايكى يو دے. الله بے حاجته دے. نهٔ ئے اولاد راوړے او نهٔ پيدا
وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾
كړے شويدے. او نشته دهٔ لره هَم صفت هيڅوك. (نشته دهٔ لره برابر هيڅوك).

تفسير : الله تعالىٰ وفرمايل : اے زما نبى ! كوم خلق چه ستا نه د الله په باره كښې تپوس كوى نو هغوى ته ووايه چه زما ربْ همغه ايكى يو ذات دے، په تمامو كمالاتو كښې يواځے دے، تمام ښهٔ او محبوب نومونه، كامل او اعلىٰ صفتونهٔ، او پاكيزه افعال هغهٔ دپاره دى، او هغه بے مثله بے مثاله دے.

قُلْ : دا كلمه دليل دے چه ددے سورت بيانول په نبى كريم ﷺ باندے فرض وو، نو چا چه زده كړو نو په هغه باندے ددے دعوت كول فرض دى.

حافظ ابن قيمؒ فرمائى : دا اخبار د الله تعالىٰ دے د خپل توحيد نه، يعنى الله فرمائى چه زما توحيد په دے طريقه سره بيان كړئ.

هُوَ : دے كښې دوه قوله دى ١- دا ضمير دے او راجع دے الله تعالىٰ ته د كوم په باره كښې چه مشركانو تپوس كړے وو. ٢- بصريينْ وائى چه دا ضمير شان دے، او ضمير شان هر هغه ځاى كښې راځى چه كله روستو كلامِ مُفَخَّم (عظيم الشان) وى، (يعنى غټه خبره درته كوم ورته غوږ شئ). يا يو شے ددے دپاره اول مُبهم ذكر شى بيا ئے تفصيل وشى چه په ذهن كښې ښهٔ واقع شى ځكه چه يو شے اول مبهم ذكر شى او بيا د هغے تفصيل راشى نو هغے ته مخاطب ښهٔ متوجه وى نو ذهن كښې ښهٔ واقع كيږى.

اَللّٰهُ : د الله معنىٰ ده : حق معبود، لكه تفصيل ئے سورة الفاتحه كښې ذكر شويدے. او په لفظ د الله كښې اشاره شوه چه لائق د عبادت او حقدار د بندگئ بل څوك نهٔ شته سوىٰ د الله تعالىٰ نه، نو ددهٔ بندگى پكار ده، او دا د هغهٔ حق دے، كله يو تن د عبادت (او خدمت) حقدار وى ليكن لائق ئے نهٔ وى، لكه يو غلام چه د كافر مالك خدمت كوى، په هغه ئے حق شته ليكن لائق ورسره نهٔ دے، او الله تعالىٰ سره بندگى لائقه هم ده او هغه ئے حقدار

هم دے۔

بیا لفظ د الله د الله تعالیٰ ذاتي نوم دے (یعنی عَلَم) دے، او په مقام د تعریف او تعارف کښې عَلَم محض ذکر کیږي نو پدے وجه دلته د الله تعالیٰ همدغه نوم ذکر شو۔

او پدے عَلَم کښې معنیٰ صفتي هم شته لکه چه مخکښې بیان شو۔ او دا نوم د الله تعالیٰ پورے خاص دے، د هغهٔ نه علاوه بل چا ته کیخودل، یا وئیل حرام دي۔ او دا هم معلومه شوه چه الله تعالیٰ ته د (الله) په ځای نور نومونه په خپلو خپلو ژبو کښې کیخودل صحیح نهٔ دي۔ لکه خدائے، خلائے، خدا، خداوند تعالیٰ، گاډ، تغرن، تکری، یزدِ متعال وغیره۔ ځکه نوم په هیڅ ژبه کښې نهٔ بدلیږي۔

أَحَدٌ : ۱- لَا شَرِيْكَ لَهٗ۔ یو دے یعنې هیڅ شریکان نهٔ لري۔ ۲- لَا ثَانِيَ مَعَهٗ۔ دویم ورسره نشته۔ ۳- لَا يَتَبَعَّضُ۔ هغه اجزاء او ټوټے کیږي نهٔ۔

ترکیب : ۱- هُوَ مبتداء ده، او (الله) ئے اول خبر، او (اَحَدٌ) ئے دویم خبر دے۔

۲- هُوَ مبتداء، الله دویمه مبتداء او احد خبر۔ دویمه مبتداء سره د خبر نه خبر شو د اولے مبتداء دپاره۔

حکمة : دلته ئے اَحَد وویلو، نهٔ واحد۔ ددے حکمة دا دے چه احد په عدد کښې نهٔ داخلیږي، او واحد په عدد کښې راځي، او مطلب دا دے چه احد هغه دے چه د هغه پسے ثاني نهٔ راځي، او واحد هغه دے چه د هغه پسے ثاني راځي۔ نو مخلوق اَحَد نشي کیدے، په وخت د وصفیتِ مطلقه کښې ځکه چه ددهٔ په شان نور ډیر خلق شته او الله تعالیٰ صرف احد دے ځکه چه د هغه سره دویم څوك نشته۔ نو داسے نهٔ وئیلے کیږي (رَجَلٌ اَحَدٌ او دِرْهَمٌ اَحَدٌ) بلکه (واحد) به وئیلے کیږي۔

بعض داسے تعبیر کوي چه په اَحَد کښې واحد داخل دے لیکن په واحد کښې احد نهٔ دے داخل۔ نو کله چه تهٔ ووائے (لَايُقَاوِمُهٗ وَاحِدٌ) ددے فلاني مقابله یو تن نشي کولے۔ نو جائز ده چه داسے ووئیلے شي (لٰكِنَّهٗ يُقَاوِمُهٗ اِثْنَانِ) لیکن دوه کسان ئے مقابله کولے شي۔

په خلاف د (لَا يُقَاوِمُهٗ اَحَدٌ) نه۔ ځکه چه ددے معنیٰ ده مقابله نشي کولے ددهٔ هیڅوك۔ یو وي او که دوه وي او که ډیر وي۔

علامه خطابیؒ وائي : احدیت دپاره د تفرد د ذات دے، او واحدیت دپاره د تفرد د صفاتو دے۔ ددے وجه نه (الواحد) هم د الله تعالیٰ په صفاتو کښې شته۔ نو ددے نه معلومه شوه

چه په لفظ د احد کښې لکه څنګه چه یو والے د ذات دے، نو په دے کښې نفی د شریك هم ده په ذات کښې. او دارنګه په خالقیت، ربوبیت او الو هیت او صفاتو کښې.

اَللّٰهُ الصَّمَدُ : یعنی همدغه یو الله بے نیازه او بے حاجته دے، او هم هغه د هر چا حاجتونه پوره کوی، د هغهٔ نه سوی د بل هیچا در نشته، تول هغهٔ ته محتاج دی، هغه هیچا ته محتاج نهٔ دے. ځکه چه دغه ذات په خپلو تولو صفاتو کښې کامل دے لکه روستو په معنیٰ د الصمد کښې ذکر کیږی.

د عربئ ژبے قانون دا دے چه کله یو شے په اسم ظاهر سره ذکر شی نو دویم ځلی په اسم ضمیر سره ذکر کول پکار دی. اَیْ هُوَ الصَّمَدُ. او دلته ئے دوباره هم (الله) لفظ راوړو، په دے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ د نوم او د مخلوق د نومونو ترمینځ فرق دے، د انسان نوم چه بار بار ذکر کوے نو شنیع (قبیح) وی، انسان پرے تنګیږی، او د الله په بار بار نوم اخستو کښې خوند او مزه ده. په یو ځل سبحان الله کښې یو خوند او سل ځله وئیلو کښې سل خوندونه دی.

او بل ددے دپاره چه د خلقو په ذهن کښې د الله تعالیٰ الو هیت بار بار واقع شی.

صمد او صمود په اصل کښې هغه شی دپاره استعمالیږی چه هغه ډډك نهٔ وی بلکه کلك وی. ددے ډیر تفسیرونه دی :

(۱) اَلَّذِیْ لَاجَوْفَ لَهٗ. هغه ذات چه جوف (خیټه/ ډډ) نهٔ لری.

(۲) اَلَّذِیْ یُصْمَدُ اِلَیْهِ فِی الْحَوَائِجِ ۔ چه په حاجاتو کښې هغهٔ ته التجاء کیږی. نو صمد په معنیٰ د مَصْمُوْدٌ اِلَیْهِ سره، اَیْ مَقْصُوْدٌ اِلَیْهِ. یعنی چه هغهٔ ته قصد د حاجاتو کیږی. لکه قبض په معنیٰ د مقبوض سره استعمالیږی.

(۳) حافظ ابن کثیرؒ د ابن عباس ﷺ نه جامع تفسیر نقل کړیدے : اَلسَّیِّدُ الَّذِیْ کَمُلَ سُؤْدَدُهٗ، وَالشَّرِیْفُ الَّذِیْ قَدْ کَمُلَ فِیْ شَرَفِهٖ وَالْعَظِیْمُ الَّذِیْ کَمُلَتْ عَظْمَتُهٗ وَالْعَلِیْمُ الَّذِیْ کَمُلَ عِلْمُهٗ وَالْحَلِیْمُ الَّذِیْ کَمُلَ حِلْمُهٗ، وَالْحَکِیْمُ الَّذِیْ کَمُلَتْ حِکْمَتُهٗ.

دا هغه سردار ته وائی چه د هغهٔ سرداری کامله وی، او هغه شریف چه په هغه شرافت کښې کامل وی، او هغه عظیم چه په عظمت کښې کامل وی، او هغه حلیم دے چه په حلم کښې کامل وی، او هغه علیم چه په علم کښې کامل وی او هغه حکیم دے چه په حکمت کښې کامل وی. لنډه دا چه هغه په ټولو صفاتو کښې کامل دے.

(٤) اَلْمُسْتَغْنِیُ عَنْ کُلٍّ وَالْمُحْتَاجُ اِلَیْهِ کُلُّ اَحَدٍ۔ هغه ذات چه د هر چا نه بے پرواه او بے حاجته وی او هر څوك هغهٔ ته محتاج وی، د هغهٔ هر کار د مخلوق نه بغیر کیږی، او د مخلوق هیڅ کار بغیر د هغه نه نهٔ کیږی۔

ددے وجه نه د صمد نوم د الله تعالیٰ د خصوصیاتو نه دے، نو پدے کښ رد د شرك دے، چه هیڅ بت، هیڅ قبر او هیڅ پیر او بابا د هیچا حاجتونه نشی پوره کولے۔

(٥) بعض وائی : اَلصَّمَدُ الدَّائِمُ الْبَاقِیُ الَّذِیْ لَمْ یَزَلْ وَلَا یَزُوْلُ۔ صمد هغه همیشه باقی پاتے کیدونکی ذات ته وائی چه همیشه دے او همیشه به پاتے وی۔

(٦) مجاهدؒ وائی : دا هغه ذات دے چه خوراك څکاك ته حاجت نهٔ لری۔ دا مخکنی تفسیرونه باقی ټول تفسیرونه راګیروی۔

نو ددے نوم سره تعلق ولره عجیب توکل به درکښ پیدا شی۔

لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ : دا د بعضو په نیز تفسیر د اَلصَّمَد دے۔ یعنی د هغهٔ د صمدیت نښه دا ده چه هغه نهٔ اولاد ته حاجت لری او نهٔ ئے والد شته۔ چه په ولادت کښ هغهٔ ته محتاج وی۔

لم یلد : یعنی الله تعالیٰ اولاد نهٔ دی راوړی، د هغهٔ ولد ته حاجت نشته، وجه دا ده چه ولادت د بچی مستلزم وی دے لره چه د والد نه څه ماده راجدا شی، نو دا به محتاج وی دے مادے راجدا کولو ته او دا د صمدیت منافی کار دے۔

دارنګه خلق ولد دے دپاره غواړی چه د هغهٔ سره تعاون وکړی، او د هغهٔ د مرګ نه پس د هغهٔ نائب او وارث جوړ شی، او الله تعالیٰ خو همیشه باقی دے هیڅ مخلوق ته ئے حاجت نشته۔

او پدے کښ نفی د ولد حقیقی هم ده، او نفی د ولدِ حکمی (نازولی) هم ده۔ نو پدے کښ رد دے په ټولو مشرکانو، یهود، نصاریٰ وغیره کفارو باندے۔ چه د الله تعالیٰ حقیقی اولاد هم نشته لکه مشرکان وائی ملائك د الله لونړه دی، او یهود وائی چه عزیز علیه السلام د الله ځوی دے او نصاریٰ وائی چه مسیح علیه السلام د الله ځوی دے۔

دارنګه رد دے په هغه مشرکانو چه باباګان د الله نازولی ګنړی لکه چه یو پلار د نازولی بچی نه مجبوره وی او پلار ئے هره خبره منی، نو دغه شان باباګان (قبرونو والا) په الله باندے (العیاذ بالله) په زوره خبره مناووی۔ نو الله ددے ټولو نفی وکړه۔

ولـم یولد : یعني الله تعالیٰ د چا نه پیدا شوے نهٔ دے۔ پلار ئے نشته، ځکه چه الله تعالیٰ صمد دے، او دا کار د صمدیت منافي دے۔

بلـه دا چه بچے د خپل پلار نه مجبوره وي، پلار پرے زور کولے شي، او په الله تعالیٰ بانـدے زور آور نشته، نو پدے کښ رد دے په مشرکانو چه شیخ عبد القادر جیلانیؒ ته دستگیر وائي۔ دوي وائي : د الله تعالیٰ سره ئے مدد کړیدے، د خوئیدلو نه ئے بچ کړیدے (عیاذا بالله العظیم) داسے کفریات الوزوي۔

كُفُواً : کفوء مساوي، مُمَاثِل، مُجَانِس، مُعَادِلْ، نَظِير، مشابه ټولو ته شامل دے۔ نو د الله تعالیٰ سره په شکل، او صورت، او جنس او نوع او فصل او هیڅ صفت کښ د هیچا کفاء ت (برابروالے، سیالي) نشته۔

أَحَدٌ : ذوي العقولو دپاره استعمالیږي نو پدے کښ ډیر عموم دے، هیڅ نبي او ولي او ملائك او جني او بشر د الله تعالیٰ دپاره کفو نشي کیدے، نو بتان او غیر ذوي الروح خو په طریقه اولیٰ سره کفو نشي کیدے۔

بیا دلته د درے قسمه شریکانو نفي ته اشاره ده، شریك ادنیٰ، شریكُ اعلیٰ او شریك مساوي۔ کله د یو تن سره مال زیات وي نو ادنیٰ شخص ځان سره شریك کړي، کله ددهٔ سره مال کم وي نو دے لاړ شي د بل سره ملګرے شي، هغه اعلیٰ شریك وي او دے اذنیٰ وي او کله دواړه په مال کښ مساوي وي۔ نو لَمْ يَلِدْ کښ معنیٰ دا ده چه ادنیٰ شریك ئے هم نشته، او لَمْ يُوْلَدْ بره شریك ئے هم نشته، او لَمْ يَكُنْ لَهٗ كُفُوًا اَحَدٌ کښ نفي د مُساوي شریك ده۔

له : لفظ ئے د اهمیت د وجه نه مخکښ ذکر کړیدے۔

هر کله چه زمونږ په رب کښ داسے ښکلے صفات موجود دي او د هر قسم نقص او عیب نه پاك دے نو ددے وجے نه صرف هغه د عبادت حقدار دے، د هغهٔ نه سوئ هیڅوك هم د عبادت لائق نشته۔

ختم شو تفسیر د سورة الاخلاص په مدد د اله العالمین سره۔ دویمه ورځ د ورُوکي اخترَ بجه : ۱۰:۵۰ ۔ یوم الخمیس۔

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آياتها (٥)	(١١٣) سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَدَنِيَّةٌ	ركوعاتها (١)

سورة الفلق مدنى دے، په دے كښ پنځه آيتونه، او يوه ركوع ده

تفسير سورة الفلق

نوم : په اولنى آيت كښ [الْفَلَقِ] لفظ راغلے، همدا ددے سورت نوم كيښنودل شوے. او دے او راتلونكى سورت ته مُعَوذتين او مُقَشْقِشَتَيْن هم وائى، يعنى د دمونو او د برائت سورتونه دى.

د نازليدو زمانه : دا سورت د حسنؒ، عكرمهؒ، عطاءؒ او جابر په نيز مكى دے، او د عبد الله بن زبير ﷺ او قتادهؒ په نيز او د ابن عباس ﷺ د يو قول مطابق مدنى دے، او همدا دويم قول غوره دے، ځكه چه مسلمؒ، ترمذىؒ او نسائىؒ وغيره د عقبه بن عامر ﷺ نه روايت كړے چه رسول الله ﷺ يوه ورځ ماته وفرمايل :

[أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آيَاتٌ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ الْمُعَوِّذَتَيْنِ]

(په ما باندے نن شپه داسے آيتونه نازل شوى دى، چه د هغے پشان ما هيڅ كله نۀ دى ليدلى : ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ (مسلم : ١٩٢٨)

او عقبه بنؓ عامر ﷺ په مدينه منوره كښ اسلام راوړے وو.

فضائل

ددے دواړو سورتونو د فضيلت په باره كښ ګڼ صحيح حديثونه راغلى دى.

د هغے نه دا راتلونكى حديثونه اوګورئ :

١ - رسول الله ﷺ دا درے واړه سورتونه سره د (قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ) نه سهار او ښام درے درے كرته خودلى دى.

۲- د اُودهٔ كيدو په وخت كښ دا درے سورتونه صرف درے كرته لوستل او بيا تُف تف كول او په ټول بدن باندے لاس راخكل- بخارى : (۵۰۱۷)

۳- احمدؒ، نسائیؒ، بغویؒ او بیهقیؒ د ابن عابس جهنی ﷜ نه روایت کړے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [يَا ابْنَ عَابِسٍ أَلَا أَدُلُّكَ اَوْ قَالَ : أَلَا أُخْبِرُكَ بِأَفْضَلِ مَا يَتَعَوَّذُ بِهِ الْمُتَعَوِّذُوْنَ ؟ قَالَ : بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، قَالَ : قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ، هَاتَانِ السُّوْرَتَانِ]۔

(اے ابن عابس ! آیا زهٔ تاته د ټولو نه ښهٔ شے او نهٔ ښایم چه د هغے په ذریعه خلق پناه غواړی؟ هغهٔ وئیلے : ولے نهٔ، یا رسول الله ! نو نبی ﷺ وفرمایل : ﴿قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ دا دواړه معوّذتین دی- (النسائی : ۷۷۹۲) (احمد: ۱۵۵۲۷)

٤- او ترمذیؒ او بیهقیؒ وغیره د ابو سعید خدری ﷜ نه روایت کړی دی

[كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ وَعَيْنِ الْإِنْسَانِ حَتّٰى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ فَلَمَّا نَزَلَتَا أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا] چه رسول الله ﷺ به د جناتو نه او د انسانانو د نظر نه پناه غوښتله- کله چه دا دواړه معوذتین سورتونه یعنی سورة الفلق او سورة الناس نازل شول، نو هغوئ دا دواړه خپل کړل، او ددے نه سوئ باقی کلمات ئے پریښودل-

(ترمذی : ۲۰۵۸) والنسائی : ۵٤۹٤) وابن ماجه : ۳۵۱۱) باسناد صحیح)

۵ - امام بخاریؒ او امام مالكؒ په موطأ کښ د ابن شهابؒ په واسطه د عروهؒ نه او هغهٔ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کوی [كَانَ اِذَا اشْتَكٰى يَقْرَأُ عَلٰى نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَيَنْفُثُ فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجَعُهٗ كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَيْهِ وَأَمْسَحُ بِيَدِهٖ رَجَاءَ بَرَكَتِهَا]

چه رسول الله ﷺ ته به چه کله څهٔ تکلیف وو نو معوذتین به ئے ولوستل او په خپل بدن به ئے چُف کړل- عائشه رضی الله عنها وائی چه کله به د هغهٔ تکلیف زیات شو نو ما به د هغهٔ په بدن باندے دا دواړه سورتونه اولوستل او چُف به مے کړل او د نبی ﷺ لاس به مے د برکت حاصلولو دپاره د هغهٔ په بدن باندے راښکلو- (بخاری : ۵۰۱٦)

دا حدیث بخاریؒ او مسلمؒ په صحیحینو کښ د امام مالكؒ په مذکوره سند سره روایت کړے-

٦- او امام بخاریؒ په کتاب الطب، باب السحر کښ او امام مسلمؒ په کتاب السلام، باب السحر کښ د عائشے رضی الله عنها نه، او امام احمدؒ په مسند کښ د زید بن ارقم﷜ نه روایت کړی دی چه کله لبید بن اعصم منافق (چه د بنی زُریق قبیلے نه وو او د

یهودو سره ئے دوستانه تعلقات وو) په رسول الله ﷺ باندے جادو وکړو، نو جبریل ؑ نبی ﷺ ته همدا دوه سورتونه راوړل، او هغهٔ ته ئے خبر ورکړو چه لبید بن اعصم د نبی ﷺ په ګومنزه او د ګومنزے په غابښونو کښ جادو کړے او په یو کوهی کښ ئے د اوبو لاندے ایښے دے۔ (كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَاءِ) ګویا کښ د هغے اُوبه د نکریزو د اُوبو په شان وے۔ (بخاری : ۵۷۶۳)

نبی ﷺ د ملګرو سره د هغے خوا ته ورغلو او هغه ئے راویستلو نو الله ورته شفاء ورکړه۔

امام احمد او نسائی نقل کړیدی چه نبی کریم ﷺ علی، زبیر او عمار بن یاسر ؓ اولیږل، [فَاسْتَخْرَجَهَا فَجَاءَ بِهَا فَجَعَلَ كُلَّمَا حَلَّ عُقْدَةً وَجَدَ لِذَلِكَ خِفَّةً، فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ كَأَنَّمَا نَشِطَ مِنْ عِقَالٍ] ۔ هغهٔ هغه را اوخکلو او رائے وړو، او رسول الله ﷺ یو یو آیت لوستلو او غوټه به کهلاویدله، تردے چه آخری غوټه هم کهلاؤ شوه، او هغهٔ داسے تازګی محسوس کړه لکه چه د هغهٔ بند شوے بند پرانستے شوے وی۔

سنن النسائی : ۴۰۸۰ صحیح الاسناد، احمد : (۱۹۲۸۶) (الطبرانی الکبیر ۴۸۷۶)

بیا جبریل ؑ هم نبی ﷺ دَم کړو چه د هغهٔ کلمات دا وو :

[بِاسْمِ اللّٰهِ أُرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ حَاسِدٍ وَعَيْنٍ، اَللّٰهُ يَشْفِيكَ].

(په نوم د الله ډِے دموم د هر ضرر ورکونکی شی نه، د حسد ګر او د سترګو نه، الله به تا ته شفاء درکوی) (تفسیر ابن کثیر)

دا دوه سورتونه اګرکه په مکه مکرمه کښ نازل دی لیکن کیدے شی چه په مدینه کښ بیا نازل شوی وی ددے د اهمیت دپاره۔

مناسبت

دا دوه سورتونه ئے په آخر کښ ولے راوړل ؟ پدے کښ حکمة دا دے چه قرآن انسان ووائی نو دهٔ ته دوه خزانے ملاؤ شی، یو د قرآن پوهه او بل ایمان۔

او قانون دا دے چه ددے دواړو خزانو دشمنان زیات وی، تهٔ چه مؤمن شے او قرآن والا شوے نو دشمنان به درته ډیر زیات متوجه وی، شیطانان به متوجه وی، ابلیس به وائی چه دا څه مصیبت پیدا شو، نو ستا په تکلیف او شرونو پیدا کولو کښ به کوشش کوی نو الله تعالیٰ دا سورتونه راولیږل چه دا سورتونه وایه نو الله تعالیٰ به دِے د ابلیس د فتنو نه بچ ساتی۔ دا ډیر فائده من سورتونه دی، حافظ ابن القیمؒ لیکلی دی چه یو

مؤمن ته د خوراك څکاك نه دے سورتونو ته ضرورت زيات دے۔
۲- په سورة اخلاص کښې د الله تعالیٰ شان ذکر شو نو پدے سورتونو کښې اشاره کوی چه دغه ذات د هر شر او تکليف نه د پناهئ ورکولو دپاره کافی دے، بل هیڅوك د هر مصيبت نه پناهی نشی ورکولے۔ (احسن الکلام)

دے دواړو سورتونو کښې مقصد :

اَلتَّعَوُّذُ مِنْ جَمِيْعِ الشُّرُوْرِ۔
الله تعالیٰ پورے پناهی طلب کول د ټولو شرونو نه۔
شرونه دوه قسمه دی (۱) يو د مكلف مخلوق (۲) او بل د غیر مکلف۔ مکلف مخلوق په دوه قسمه دے (۱) یو هغه دے چه په سترګو ښکاری۔
(۲) بل هغه دے چه په سترګو نۀ ښکاری۔ چه ښکاری دا انسان دے، او چه نۀ ښکاری نو هغه پیریان او شیطانان دی۔
او غير مكلف مخلوق شپه ده، ماران، لړمانان، شرمخان، او نور حیوانات دی۔ نو دلته پدے دواړو سورتونو کښې ددے ټولو مخلوقاتو د شر نه پناهی طلب شوے ده۔
حکمة : په اول سورت کښې شرونه زيات او د الله تعالیٰ يو نوم ذکر دے، او په روستو سورت کښې يو شر او نومونه د الله تعالیٰ درے ذکر دی۔
ددے راز دا دے چه پدے سورت کښې بدنی او نفسی شرونه دی، نو د الله تعالیٰ يو نوم کافی دے، چه اے زما ربه ! په تا پورے پناهی غواړم چه د دغه شرونو نه مے وساته، ځکه چه دا شر دومره قوی نۀ دے۔
او په دويم سورت کښې ئے د الله تعالیٰ ډير نومونه ځکه راوړيدی چه هلته دينی شر دے، ابليس ستا دين تباه کوی، او د دين تباهی ډير لوی شر وی، نو الله تعالیٰ ته ډيرے زاريانے وکړه۔ ددے نه معلومه شوه چه د دين په باره کښې به د الله تعالیٰ نه ډير سوالونه کوے او مبالغے سره به ئے کوے، او د دنيا په باره کښې به دومره مبالغے سره سوال نۀ کوے۔

قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ
تهٔ اُووایه پناه غواړم په رب د صبا۔ د شر د هغه څه نه چه پیدا کړیدی هغه۔ او د شر
غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ
د تیرے والا نه هرکله چه تیرے را اُوغوړوی۔ او د شر د پوکو کونکو نه
فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾
په غوټو کښ۔ او د شر د حسد کونکی نه کله چه حسد ښکاره کړی۔

تفسیر : الله تعالیٰ نبی کریم ﷺ ته وفرمایل : اے زما نبی ! تهٔ اووایه چه زهٔ د صبا د رب په دربار کښ پناه اخلم، یا زهٔ د تمامو مخلوقاتو په رب پورے پناه غواړم، د پیریانو او انسانانو او د نورو تمامو مخلوقاتو د شر نه، که هغه حیوانات وی یا جمادات یا د الله بل کوم مخلوق وی۔

قُلْ : سوال دا دے چه قُلْ لفظ ئے ولے راوړو؟ حال دا چه رسول الله ﷺ خو بل چا ته نهٔ وئیل چه تهٔ ووایه بلکه خپله ئے لوستل۔ او دا سوال اُبی بن کعب ﷺ د رسول الله ﷺ نه کړے وو چه اے د الله رسوله ! دا قُلْ پکښ مونږ ولے وایو؟ نو هغهٔ جواب ورکړو۔

(قِيْلَ لِيْ فَقُلْتُ)

مطلب دا دے چه ما ته په وحی سره همداسے وئیلے شویدی نو زهٔ به همغسے وایم څنګه چه ما ته په وحی کښ وئیلے شوی وی، زهٔ وحی نشم بدلولے، ددے وجه نه به رسول الله ﷺ چه کله مشرکانو ته دعوت ورکولو نو داسے به ئے نهٔ وئیل (يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) بلکه ﴿ قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴾ به ئے وئیلو۔

پدے کښ به اشاره وه چه زهٔ د خپل طرف نه نهٔ یم لګیا بلکه دا وحی ده، دا نهٔ بدلیږی۔

اَعُوْذُ : دا دلیل دے چه په قرآنی کلماتو او شرعی الفاظو سره دمونه په ځان او په نورو باندے اچول جائز بلکه بهتر عمل دے، لکه رسول الله ﷺ به په دے سورتونو خپل ځان هم دمولو او نور هم۔

او په احادیثو کښ راغلی دی چه څوک نظر وهلے دے، یا لړم چیچلے یا ننکئ او

زخمونه پرے راغلي دی، یائے دردونه دی، نو د هغے دپاره په کښې دمونه راغلي دی۔
او حافظ ابن القیم په زاد المعاد (۱٦٢/٤) کښې هغه دمونه راغونډ کړیدی۔
او په غیر شرعي کلماتو یا شرکي کلماتو سره دمونه اچول، یا مُهمل الفاظو سره دمونه اچول منع دی۔
او دے ته په احادیثو کښې شرك وئیل شویدے لکه ملاعلی القاریؒ په مرقات شرح مشکاة المصابیح کښې په [اِنَّ الرُّقٰى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ] الحدیث) کښې دغه دمونه داخل کړیدی۔ دارنګه پدے کښې شرکي تعویذونه هم داخل دی۔
نسفي وائی :
[جُوِّزَ الْاِسْتِرْقَاءُ بِمَا كَانَ مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ وَكَلَامِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَا بِمَا كَانَ بِالسُّرْيَانِيَّةِ وَالْعِبْرَانِيَّةِ وَالْهِنْدِيَّةِ فَاِنَّهٗ لَايَحِلُّ اعْتِقَادُهٗ وَلَا اعْتِمَادَ عَلَيْهِ]۔
(کوم الفاظ چه د کتاب الله یا د کلام د رسول الله ﷺ نه ثابت وی په هغے سره دمونه اچول جائز دی، نۀ په هغه الفاظو چه په سریانئ یا عبرانئ یا هندئ سره ثابت وی ځکه چه د هغے عقیده ساتل حلال نۀ دی او نۀ په هغے باندے اعتماد شته)۔
او کوم تعویذونو کښې چه شرعي الفاظ لیکلے شوی وی هغه هم د رسول الله ﷺ او د سلفو صالحینو نه په صحیح اسانیدو سره نۀ دی نقل نو مکروه دی، ځکه چه یو خو پدے کښې بے عزتي د قرآن او د حدیث راځي د هغے په زوړندولو سره۔
(قرآن او حدیث د زوړندولو دپاره نۀ دی راغلي بلکه د وئیلو او عمل کولو دپاره دی)۔
دویم په حدیث کښې عام الفاظ راغلي دی :
[مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِّلَ اِلَيْهِ] (احمد، ترمذی : ۲۰۷۲) واسناده حسن)
چا چه څه شے زوړند کړو هغے ته به وسپارلے شي۔ (یعنی الله تعالیٰ به ترے خپل مدد واخلي) پدے کښې باریکه اشاره ده چه دا کار صحیح نۀ دے۔ لهذا د نهي عموم دے ته هم شاملیږی۔
دریم د سد الذریعه په طور ددے نه ځان ساتل پکار دی، ځکه چه عام خلق د شرعي او غیر شرعي لیکلو فرق نشي کولے نو بیا به هر تعویذ اچوی۔
(فتح المجید شرح کتاب التوحید : ۱/۱٤۱)
بِرَبِّ الْفَلَقِ: فلق په اصل کښې چاودل، څیری کول، شلول او راویستل او ښکاره کولو

ته وئیلے کیږی۔ او ددے نه مراد صبا دے، (لِاَنَّ اللَّيۡلَ يَنۡفَلِقُ عَنۡهُ)
ځکه چه شپه ددے نه چوی او دا پکښې راوځی۔ او فلق د دانو او اَړوکو چول او د هغے نه تیغونه راویستل دی۔
نو معنیٰ دا ده چه زهٔ پناه غواړم په رب د چولو د رنړا د صبا او په رب د چولو د اړوکو او د هغے نه د تیغونو په راویستو۔
او پدے لفظ ذکر کولو کښې یوه اشاره ده، او هغه دا چه لکه څنګه چه شپه وُچوی او صبا ترے رنړا والا راوځی او دانه او اړوکے وچوی او تیغونه ترے راوځی نو دغه شان ما هم ددے شرونو نه صفا او تازه راویاسه چه هیڅ ضرر راته ونهٔ رسی او په ما رنړائی راوله۔
او رب لفظ ئے راوړو اشاره ده چه رب تربیت کونکے ذات دے، نو اے الله ! لکه څنګه چه تا زما تربیت کړیدے په ظاهری او روحانی څیزونو نو دغه شان زما تربیت وکړه په بچ ساتلو سره د ضرری څیزونو نه۔ نو په ژوند کښې به الله تعالیٰ ته التجاء کوے۔
مِنۡ شَرِّ مَا خَلَقَ : (یعنی د شر د هغه مخلوق نه چه الله پیدا کړیدے) پدے کښې اشاره ده چه د الله تعالیٰ ټول صفتونه او کارونه د خیر دی، لیکن شر چه پیدا کیږی هغه مخلوق ته منسوب کیږی۔ او مَا خَلَقَ عام دے چه هغه نفوس او ذوات وی او که اوصاف یا اخلاق وی، اعمال وی یا احوال وی۔
او احادیثو کښې هغه څیزونه ذکر دی چه په هغے کښې شر او ضرر دے، او رسول الله ﷺ د هغے نه پناهی طلب کړیده لکه فرمایلی ئے دی :
(اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوۡءِ الۡاَخۡلَاقِ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الشَّكِّ وَالشِّرۡكِ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡخِيَانَةِ وَالۡجُوۡعِ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡهَدۡمِ، وَالتَّرَدِّیۡ وَالۡغَرَقِ، وَالۡحَرَقِ) (وَالۡجُنُوۡنِ وَالۡبَرَصِ وَالۡجُذَامِ وَسَيِّءِ الۡاَسۡقَامِ) (مِنۡ جَهۡدِ الۡبَلَاءِ وَدَرَكِ الشَّقَاءِ وَسُوۡءِ الۡقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الۡاَعۡدَاءِ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ زَوَالِ نِعۡمَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نَقۡمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَجَمِيۡعِ سَخَطِكَ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ شَرِّ مَا عَمِلۡتُ وَمِنۡ شَرِّ مَا لَمۡ اَعۡمَلۡ)۔ (اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡهَمِّ وَالۡحُزۡنِ وَالۡجُبۡنِ وَالۡبُخۡلِ، وَغَلَبَةِ الدَّيۡنِ وَقَهۡرِ الرِّجَالِ) (مِنَ الۡعَجۡزِ وَالۡكَسَلِ) (وَاَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ اَنۡ اُرَدَّ اِلٰی اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ) (مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَحۡيَا وَفِتۡنَةِ الۡمَمَاتِ) (مِنۡ فِتۡنَةِ الۡمَسِيۡحِ الدَّجَّالِ)
(اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ عِلۡمٍ لَا يَنۡفَعُ وَمِنۡ قَلۡبٍ لَا يَخۡشَعُ، وَنَفۡسٍ لَا تَشۡبَعُ وَعَيۡنٍ لَا تَدۡمَعُ،

وَدَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ)(اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَمُوْتَ لَدِيْغًا) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِیْ وَشَرِّ مَنِیِّیْ) (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الصَّمَمِ وَالْبَكَمِ) (وَاَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَمُوْتَ مُدْبِرًا فِیْ سَبِيْلِكَ)

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ : د غسق نه دے، ظلمت او تیارے او پتوالی ته وائی۔ نو غاسق شپے ته وئیلے کیږی۔

ترمذیؒ او نسائیؒ د عائشے رضی الله عنها نه روایت کړے چه نبی کریم ﷺ سپوږمۍ طرفته اوکتل او وے وئیل :

[يَا عَائِشَةُ اِسْتَعِيْذِیْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا، فَاِنَّ هٰذَا الْغَاسِقُ اِذَا وَقَبَ]

(اے عائشے ! په الله پورے ددے د شر نه پناه غواړه، همدا غاسق دے هر کله چه ددے رڼړا کمزورے شی)۔ (ترمذی : ٣٣٦٦) نسائی : ١٠٠٦٤) باسناد صحیح)

بعض علماؤ ددے روایت په بنیاد وئیلی دی چه غاسق سپوږمۍ ته وائی۔

لیکن دوئ د وقوب معنیٰ ته کتلی دی، او د غاسق معنیٰ ته ئے نهٔ دی کتلی۔ دا د وجه د ملابست د سپوږمۍ نه د شپے سره وئیلے شویدے۔

او بله دا چه پدے حدیث کښې (هٰذَا) اشاره ده شپے ته چه په هغے کښې سپوږمۍ راخیژی او بیا پریوزی۔

إِذَا وَقَبَ : وقوب د شپے تیارے راداخلیدل دی، او وقوب په معنی د ننوتو او غائبیدو سره دے، نو وقوب د شپے دا دے چه ددے تیارے په هر شی کښې ننوځی نو مراد ددے نه مینځ د شپے دے، یا اول ښام دے۔

او د شپے د شر نه ئے پناهي پدے وجه طلب کړه چه د شپے په وخت د پیریانو او انسانانو شیطانان خلورو واړو طرفونو ته خوریږی، او په دے وخت کښې کفر او فسق، شر او فساد، غلا، خیانت او نور گناهونه ډیر کیږی۔

دغه شان مشرکان، نجومیان او جادوگر د سپوږمۍ عبادت کوی، هغه وسیله جوړوی، او د جادو او د زیاتو کفریه خبرو تعلق د سپوږمۍ سره جوړوی۔

دارنگه زهریلی حیوانات، ماران، لړمانان، شرمخان د خپلو سوړو او غارونو نه راوځی۔

ددے وجه نه صحیح حدیث کښې دی :

[فَكُفُّوْا صِبْيَانَكُمْ فَاِنَّ الشَّيَاطِيْنَ تَنْتَشِرُ حِيْنَئِذٍ فَاِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَحُلُّوْهُمْ]

چه کله نمر غائب شی نو پیریان راخوارهٔ شی او تبنستول کوی، نو تاسو خپل بچی د ځان سره یو ځای کړئ او ځاروی هم راجمع کړئ تردے پورے چه اوله حصه د ماسخوتن تیره شی۔ (بخاری : ۳۲۸۰) و مسلم : (۵۳۶۸)

او په یو بل روایت د بخاری کښې دی : [وَاكْفِتُوا صِبْيَانَكُمْ عِنْدَ الْعِشَاءِ فَإِنَّ لِلْجِنِّ انْتِشَارًا وَخَطْفَةً] بخاری (۳۳۱۶) خپل ماشومان بند کړئ د ماښام په وخت ځکه چه جنات راخوريږی او تبنستول کوی۔ (دلته د عشاء اطلاق په مغرب شویدے)

او کله چه قرآن والا داعی ته ددے ځیزونو ضرر او تکلیف ورسیږی نو هغه د مقصد نه خراب شی ددے وجه نه ددے ځیزونو نه تعوذ ضروری دے۔

بیا الله تعالیٰ دا ځیزونه ولے د ضرر دپاره مقرر کړیدی، الله تعالیٰ داسے هم کولے شو چه دا ټول ضرری ځیزونه ئے تربے بند کړی وے،

نو ددے حکمة دا دے چه الله تعالیٰ ته د خپل بنده زاری او التجاء ډیره خوښه ده، که په مونږ باندې ابلیس نهٔ وے مقرر، او هیڅ ضرر او مصیبت او بیماری نهٔ وے، نو مونږ به د الله تعالیٰ نه یو وخت کښې هم سوال نهٔ کولے۔ نو زمونږ او د الله تعالیٰ به هیڅ تعلق نهٔ وے۔

او غاسق کښې اشاره ده معنوی تیارے ته هم چه هغه جهل د جاهل دے، ځکه چه جاهل انسان چه د جهالت په تیارو کښې ډوب وی، او هیڅ انابت پکښې نهٔ وی نو د هغه د شر نه اهل حقو ته ډیره خطره وی۔

وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ : پدے کښې پناهی طلب کړے شویده د شر د جادو او کوډو منترو او تعویذونو نه۔ چه دا هم یوه تیارهٔ ده چه اثرئے په دماغو باندے پریوزی۔

اشاره ده چه اهل حقو باندے به جادوگر خلق جادو کوی۔ نو ددے د حفاظت دپاره پدے سورتونو سره پناهی طلب کړه۔

النَّفَّاثَاتِ: ددے نه مراد هغه نفوس خبیثه دی چه پوکی کوی په غوټو کښې، او په هغے سره په خلقو جادو کوی۔ دا دلیل دے چه جادو اثر لری، او څوك چه ددے نه انکار کوی نو هغه د قرآن خلاف کوی۔

او د اثر نه مراد دا دے چه گنده اثر کوی لکه څنگه چه قرآن او حدیث نیك اثر کوی۔

الْعُقَدِ : جمعه د عُقْدَةٌ ده، غوټے ته وائی۔

یعنی : او زهٔ د هغه جادوگرو ښځو نه پناه غواړم چه هغوئ په تارونو باندے جادو

اولولی او چُف چُف کوی، او هغے ته غوټے اچوی۔

نسائیؒ او ابن مردویهؒ د ابو هریره ﷺ نه روایت کړے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل :

[مَنْ عَقَدَ عُقْدَةً ثُمَّ نَفَثَ فِيْهَا فَقَدْ سَحَرَ، وَمَنْ سَحَرَ فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِّلَ إِلَيْهِ]۔

(چا چه غوټه وا چوله او په هغے کښ ئے پُوکے وکړو، هغهٔ جادو وکړو، او چا چه جادو وکړو هغهٔ شرك وکړو، او چا چه يو څيز سره (د الله نه سویٰ) خپل تعلق جوړ کړو، هغه همغه شی ته اوسپارلے شو)۔ (سنن النسائی : ٤٠٧٩، وَفِيْ إِسْنَادِهٖ عَبَّادُ بْنُ مَيْسَرَةَ الْمَنْقَرِى لَيِّنُ الْحَدِيْثِ وَكَانَ عَابِدًا وَقَالَ الذَّهَبِيُّ : لَيْسَ بِالْقَوِيِّ، ضَعَّفَهُ أَحْمَدُ)

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ :

او زهٔ پناه غواړم د حسدګر د حسَد نه، هر کله چه هغه خپل حسد راښکاره کړی، دے دپاره چه حسد کړے شوی کس ته نقصان اورسوی۔ اِذَا حَسَدَ ځکه وائی چه کله ئے حسد نهٔ وی راښکاره کړے نو مؤمن اهل قرآن ته ددے هیڅ ضرر نشته۔

حسد هغه ګناه ده چه په آسمان کښ ابلیس د آدم علیه السلام سره کړے وو او په زمکه کښ قابیل د خپل ورور هابیل سره کړے وو۔

او عام ګناهونه ددے نه پیدا کیږی، حرص، کبر او بخل ددے نه پیدا کیږی۔ حسد هغه ګناه ده چه نیکیانے داسے خوری لکه اُور چه لرګی خوری۔ او ددے بیا علاجونه شته۔

حسد معنیٰ ده : [تَمَنِّىْ زَوَالِ نِعْمَةِ الْغَيْرِ سَوَاءٌ حَصَلَتْ لَهٗ اَوْلَا]

د چا په باره کښ دا ارمان کول اوغوښتل چه فلانی باندے کوم نعمت شویدے چه الله تعالیٰ ترے واخلی، برابره ده چه دهٔ ته ملاو شی یا نهٔ۔

بعضِ مفسرینو لیکلی دی چه د حسدګر په معنیٰ کښ هغه انسان هم داخل دے چه د هغهٔ نظر لګیږی، ځکه چه کوم انسان حسدګر، بد مزاجه او خبیث النفس وی د هغهٔ نظر بد وی۔ د عمر بن عبد العزیز رحمه الله وینا ده :

[مَا رَأَيْتُ ظَالِمًا أَشْبَهَ بِمَظْلُوْمٍ مِنَ الْحَاسِدِ، نَفَسٌ مُتَتَابِعٌ وَحُزْنٌ لَازِمٌ]


ما د حسد ګر نه زیات ظالم څوك د مظلوم سره مشابه نهٔ دے لیدلے۔ نفس ئے د بل د ضرر پسے لګیدلے وی او همیشه غمجن وی۔

یعنی د حسد په سبب ظالم کیږی، لیکن د نعمت نه د محرومتیا په وجه مظلوم معلومیږی۔ او دا قول قرطبیؒ د حسنؒ نه او زاد المسیر کښ اصمعیؒ د یو اعرابی نه نقل

کړيدې۔

شوکانیؒ ليکي : الله تعالیٰ په دې سورت کښې نبي کريم ﷺ ته په عامه توګه د تمامو مخلوقاتو د شر نه د پناه غوښتلو تعليم ورکړې، ددې نه پس ئې د درې شرونو نه خاصکر د پناه غوښتلو نصيحت کړې، ځکه چه دا شرونه ډير زيات خطرناك دي، او ددې نقصان ډير لوی دې۔

ختم شو تفسير د سورة الفلق په مدد د رب العالمين سره۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

آیاتها (٦)	(١١٤) سُوۡرَةُ النَّاسِ مَدَنِيَّةٌ	رکوعاتها (١)

سورة الناس مدنی دے، په دے کښې شپږ آیتونه او یوه رکوع ده۔

تفسیر سورة الناس

ربط :

(١) مخکښې سورت کښې د سحر او حسد نه پناهی ذکر شوه نو اُوس د هغه دواړو منشأ ذکر کوی چه هغه وسواس دے چه ددۀ په وجه دا دواړه کارونه پیدا کیږی۔

(٢) دا تخصیص بعد التعمیم دے، ځکه چه مخکښې په فَلَق لفظ سره عام مخلوق ذکر شو نو اُوس اشرف مخلوق ذکر کوی چه هغه انسانان دی۔

(٣) مخکښې سورت کښې د خارجی مصائبو د شر نه تعوذ وو او دلته د داخلی مصائبو د شر نه تعوذ شوید ے۔

مقصد د سورت

پدے سورت کښې هم موضوع ده، پناهی طلب کول د شر د ابلیس نه چه هغه دینی شر دے۔

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلٰهِ
تهٔ اُووایه پناه غوارم په رب د انسانانو۔ بادشاه د انسانانو۔ حقدار د بندګئ د
النَّاسِ ﴿٣﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ
انسانانو۔ د شر د وسوسو اچونکی نه چه پټیدونکے دے۔ هغه چه وسوسے اچوی
فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ﴿٦﴾
په سینو د انسانانو کښ د پیریانو او د انسانانو نه دی۔

تفسیر : په دے سورت کښ الله تعالیٰ د خلقو په سینو کښ د وسوسه پیدا کونکی شیطان د شر نه د پناه غوښتلو ښودنه کړے ده۔ او دا ځکه چه شیطان (که هغه د پیریانو شیطان وی یا د انسانانو) د تمامو بدیو جرړه او د هغے سرچشمه ده۔ ځکه چه هغه د خلقو په زړونو کښ وسوسه پیدا کوی، د هغوئ په نظرونو کښ بدی ښائسته جوړوی، او د نیکئ کارونه د هغوئ په نظرونو کښ بد شکله پیش کوی۔

او شیطان په خپل دے کار کښ هر وخت لګیدلے وی، هر وخت وسوسے پیدا کوي، او کله چه مومن بنده خپل رب یادوی او د هغهٔ په ذریعه د شیطان د شر نه پناه غواړی، نو شیطان فورًا زوستو کیږی۔ دے وجے نه انسان له پکار دی چه هغه د الله تعالیٰ نه مدد او د شیطان د وسوسے نه هغهٔ پورے پناه وغواړی، چه هغه د تمامو انسانان رب دے، د هغوئ حقیقی بادشاه دے، او د هغوئ یواځینے معبود دے۔ د هغهٔ نه سویٰ بل هیڅوك رب نشته، او نهٔ د هغهٔ نه سویٰ بل څوك بادشاه شته او نهٔ کوم حقیقی معبود۔

برب الناس : رب ئے ذکر کړو ځکه چه پناهی او حفاظت ورکول تربیت دے نو د الله تعالیٰ صفت د ربوبیت ذکر کول ورسره مناسب دی۔ یعنی اے الله ! تهٔ د ټولو انسانانو رب ئے او د هغوی تربیت کوے نو زمونږ تربیت هم وکړه پدے طریقه چه د شیطان د شرونو نه مو بچ وساته۔

النَّاسِ : دا لفظ ئے پنځه کرته راوړے دے، ددے حکمة دا دے چه په اول الناس کښ د وړوکوالی حالت ته اشاره ده، او په دغه حالت کښ بنده تربیت ته محتاج دے، نو ځکه

ورسره رب لفظ مناسب ذکر کړو۔ او په دویم الناس کښې د ځوانئ او پوخ عمر ته اشاره ده چه په دغه عمر کښې بنده انتظام او سیاست ته محتاج دے، نو هغه سره ئے مَلِكِ النَّاس ووئیلو۔ او دریم الناس کښې بوډا والی ته اشاره ده چه په دغه وخت کښې بنده له د الله بندګئ ته زیات متوجه کیدل پکار دی۔

او څلورم الناس کښې مؤمنانو ته اشاره ده چه هغوی ته وسوسے اچولے کیږی، او پنځم الناس کښې وسوسے اچونکی کافران او مبتدعین او فاسقان مراد دی چه خلقو ته د غلطے عقیدے او د ګناهونو دعوت ورکوی۔

بیا ئے الناس ذکر کړو سره ددے نه چه الله تعالیٰ خو رب العالمین دے ددے حکمة دا دے چه د قرآن مخاطبین اول انسانان دی او جنات تابع دی او نور مخلوق خو مکلف نهٔ دے۔

دویم دا چه: وسوسه صرف انسان ته کیدے شی او روستو ذکر د شر د وسواس دے۔

مَلِكِ: بادشاه او اختیار مند ته وئیلے شی چه هغه د امر او د نهی او د حل او د حرمت اختیار لری۔ نو هرکله چه الله تعالیٰ ملك دے نو په رعیت باندے د ملك خبره منل واجب وی۔ او دا صفت ئے د رب نه روستو ذکر کړو پدے کښې اشاره ده چه توحید ربوبیت مستلزم دے توحید د طاعت لره او هغه دواړه مستلزم دی توحید د اُلوهیت لره پدے وجه روستو (اله الناس) صفت ذکر کوی۔

إِلٰهِ النَّاسِ: یعنی حقدار د عبادت، نو په بندګانو باندے د هغهٔ عبادت فرض دے۔

اَلْوَسْوَاسِ: دا صیغه د صفت ده، مصدر نهٔ دے۔ یعنی (مُوَسْوِسُ) وسوسه اچونکے۔ دا د وَسْوَسَةٌ نه دے، په معنی د بار بار وسوسے اچونکے سره۔ اصل کښې د وَسٌّ نه دے، په معنیٰ د پټ آواز سره۔ او تکرار د سین دپاره د تکرار د معنیٰ دے۔

اَلْخَنَّاسِ: د خنس نه دے په شا باندے تلل او پټیدل دی روستو د ښکاره کیدو نه۔

یعنی ددے شیطان صفت دادے چه انسان چه کله د خپل رب د یاد نه غافله شی، نو هغه ددهٔ په زړهٔ کښې وسوسے پیدا کوی، او کله چه د غفلت نه رابیدار شی او خپل رب یادوی، نو دغه شیطان سمدس روستو کیږی او پټیږی۔ او دا شیطان د پیریانو نه هم وی او د انسانانو نه هم۔

او په الخناس کښې اشاره ده چه د شیطان جنی د وسوسے نه خلاصیدل ډیر آسان دی ځکه چه انسان اعوذ بالله وئیلو سره هغه تښتولے شی۔ ځکه چه هغه د الله ذکر ته نشی

تېښنګېدې، پټېږي، او تښتي. مګر کله چه انسان غافل وي نو په دغه وخت کښې ورته دومره وسوسې واچوي چه د خلقو سره ورله دشمني پيدا کړي. غلط سوچونه ورنصيب کړي، او بغير د څه سبب نه ئې دومره وېرسوي چه شکل ئې بدل شي، خبرې ئې ګډې وډې شي او چه کله انسان ذکر کوي، نو بيا د هغه وسوسه کار نهٔ ورکوي. والحمد لله على ذلك.

د صحيح مسلم روايت دے چه نبي کريم ﷺ وفرمايل: [مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهٖ قَرِيْنُهٗ مِنَ الْجِنِّ] (تاسو کښې يو هر کس سره د هغه شيطان ملګرې لګيدلے وي). صحابو تپوس اوکړو: اے د الله رسوله! آيا تاسو سره وي؟ وې فرمايل: [وَاِيَّایَ اِلَّا اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى اَعَانَنِيْ عَلَيْهِ فَاَسْلَمَ فَلَا يَأْمُرُنِيْ اِلَّا بِخَيْرٍ] هاؤ، ليکن الله تعالىٰ زما مدد کړے دے او هغه مسلمان شوے دے، دے وجے نه هغه ماته صرف د نيکئ حکم کوي).

(مسلم: ۷۲۸۶)

او په صحيح بخاري کښې د انس ﷺ نه روايت دے چه ام المؤمنين صفيه رضی الله عنها د نبي کريم ﷺ سره د هغهٔ د اعتکاف په ځی کښې ملاقات وکړو. نبي ﷺ د هغې سره د شپې په وخت را اووتلو دے دپاره چه هغه د هغې کور ته اورسوي. په لاره کښې د دوه انصاري صحابوٌ سره مخامخ شو. دواړو رسول الله ﷺ اوليدلو او تيز مزل ئې شروع کړو، نو نبي ﷺ اووئيل: [عَلٰى رِسْلِكُمَا! اِنَّهَا صَفِيَّةُ] (ايسار شئ! دا صفيه بنت حُيي ده). دواړو اووئيل: سبحان الله! يا رسول الله! نو نبي ﷺ ووئيل: [اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ، وَاِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ يَّقْذِفَ فِيْ قُلُوْبِكُمَا سُوْءً اَوْ قَالَ - شَيْئًا]

(شيطان د انسان د وينے سره ددهٔ په رګونو کښې منډې وهي، او ماسره ويره شوه چه هسې نهٔ هغه ستاسو د دواړو په زړونو کښې څهٔ خرابي وانهٔ چوي).

(بخاري: ۳۲۸۱) مسلم (۵۸۰۸)

او د حسن بصريؒ وينا ده: د پيريانو شيطان د خلقو په سينو کښې وسوسه پيدا کوي، ليکن د انسانانو شيطان خو ښکاره مخامخ راځي.

او قتادهٔ وائي چه شيطانان په پيريانو کښې هم وي، او په انسانانو کښې هم، نو تاسو د پيريانو او انسانانو د شيطانانو نه په الله تعالىٰ پورے پناه غواړئ.

او انسي شيطانان کله د ګمراه کُن مليانو او پيرانو په شکل کښې وي چه عوام خلق په

هغوی باندے ښۀ گمان لری، چه دا زمونږ خیر خواه دی، او مونږ ته سمه لاره ښائی او هغوی باندے خرچے هم کوی، لیکن په حقیقت کښې د هغوی د ایمان او د دین ډاکوان وی، آخرت ورله تباه کوی۔ ددے وجه نه د خپلو علماؤ او پیرانو تحقیق پکار دے، چه دوی مونږ کوم خوا راکاږی. آیا د الله تعالی او د رسول نه مو اړوی او که الله او رسول طرفته مو راکاږی۔

وبالله التوفیق۔

ختم شو تفسیر د سورة الناس په حمد د رب العالمین سره۔
والحمد لله رب العالمین أولا وآخرا وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه اجمعین ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین.

الحمد رب العالمین۔ الله تعالیٰ لره بیحده شکر دے چه هغۀ مونږ ته د خپل کتاب د ترجمے او د تفسیر او د هغۀ د کلام د تشریحاتو توفیق رانصیب کړو، اے الله ارحم الراحمین ! لکه څنگه چه تا مونږ سره ددے تفسیر په مکمل کولو کښې مدد او احسان وکړو او ددے د لیکلو توفیق دِے راکړو نو اے الله رحمن او رحیم ! دا زمونږ نه قبول هم کړه او زمونږ دپاره ئے د آخرت بهترینه ذخیره وگرځوه، او زمونږ دپاره ئے ښکلے صدقه جاریه وگرځوه او زیات ثوابونه او بدلے راکړه،

او ددے په لیکلو چه مونږ کوم وخت لگولے دے نو تۀ د هیچا سعی او کوشش نۀ بربادوے، لکه چه تا فرمایلی دی : ﴿ اَنِّیۡ لَاۤ اُضِیۡعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنۡكُمۡ ﴾ ددے په عوض کښې اے الله ! مونږ په دنیا او آخرت کښې خپل مقبول بندگان جوړ کړه او زمونږ نه راضی شه. او دے تفسیر او زمونږ نورو کتابونو ته قبولیتِ عامه ورکړه، او زمونږ دپاره ئے صدقه جاریه جوړه کړه، او ددے په وجه کاږه زړونه سم کړه او بند غوږونه کولاو کړه او مونږ ټولو ته پرے کامل هدایت وکړه، او زمونږ اولاد او اقرباء، شاگردان او احباب او ملگری دوستان او زنانه او کوم خلق چه زمونږ نه روستو تر قیامته پورے راروان دی هغوی ته پرے کامله فائده ورکړه، او د هغوی د هدایت ذریعه ئے وگرزوه،

او مونږ د قیامت په ورځ ستا د کتاب په رشتینی مخلصینو مفسرینو کښې راجمع کړه۔ فانك ولی ذلك والقادر علیه۔

اې الله ! مـونږ پـدې تـفسیـر کښې ستا د اصلي مقصد بیانولو او ښکاره کولو کوشش کړیدې، اې الله ! کـه مـونـږ هـغـې ته رسیدلي یو نو دا ستا د طرف نه دي، او که مونږ په بـعـض مـرادونو او مطالبو کښې خطاء شوي یو نو اې الله ! مونږ د هغې په باره کښې ستا نه بـخـنـه غـواړو، مونږ بندګان یو، زمونږ ډیاره خطاء او رسا شته۔ او مونږ د هغې نه په ژوند کښې او پس د مرګ نه بیزاره یو۔

پـه آخـر کښې دا وایم چه که پدې کتاب او نورو کتابونو کښې کومه غلطي چا ته په نظر ورشي نو د اصلاح او خیرخواهۍ په نیت دې مونږ ته خبر راکړي، الله تعالیٰ دې ورته ډیر اجر ورکړي او د هغۀ شکریه به کولې شي۔

وبالله التوفیق۔

ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك التواب الرحیم وبالاجابة جدیر۔ وصـلـی الله وسـلـم علی نبینا محمد وآله وصحبه اجمعین وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك۔ وکتبه ابو زهیر سیف الله۔

خـتـم شـو دا تـفـسـیـر پـه (۲شـوال الـمـکرم سنه ۱٤۳۷ هـ) د ورو کې اختر دویمه ورځ د هـاسپښین نه پس: ۲۰:۳ بجې۔ موافق د (۲۰۱٦ / اوم (۷) جولائی / ۷ء۔ د هاړ میاشتې ۲۳ تاریخ۔ اسریت کالام روډ سوات۔

او تـصـحـیـح او نـظـر ثـانـي ئـې پـه (۱٤۳۷ هــ) ذي الـحـجـه (۲٦) لیلة الثلاثاء موافق (۲۷/۹/۲۰۱٦)۔

ووفق لاخراجه الی عالم الطباعة (۱٤۳۸ هـ) یوم الخمیس رجب ۱۸ موافق: ۱۳/٤/۲۰۱۷



فهرست تفسیر حکمة القرآن جلد (۱۳)

وقت الاخراج: ١٤٣٨رجب١٩، الموافق: ٢٠١٧/٤/١٤صباح یوم الجمعة